پوهندوی آصف بهاند

# د کوچنيانو ادبيات

(د کوچنيانو ادبيات، تاريخي پس منظر، اوسنی حالت)

Download from:aghalibrary.com

دويم ټوک

د کتاب ځانګړنې:
د کوچنیانو ادبیات، دویم ټوک
لیکوال: پوهندوی آصف بهاند
د لیکلو نیټه: ۲۰۱۵ــــ۲۰۱۷
د خپریدو ځای: افغان جرمن آنلاین پورتال

# د مطالبو فهرست


| | |
|---|---|
| لومړنۍ خبرې | ۵ |
| مقدمه | ۷ |
| په فولکلور کې د کوچنيانو د ادبياتو ځرک | ۱۱ |
| د ادبيانو تاريخ په اوږدو کې د کوچنيانو د ادبياتو بهير | ۱۹ |
| د افغانستان په مطبوعاتو کې د کوچنيانو ادبياتو ته يوه لنډه کتنه | ۲۷ |
| له ۱۳۵۷ کال نه پخوا د تر سره شوو کارونو بيلګې | ۲۹ |
| له ۱۳۵۷ کال نه وروسته تر جهادي واکدارۍ پورې د تر سره شوو کارونو بيلګې | ۳۰ |
| د تنظيمي انرشۍ راتګ او د کوچنيانو د ادبياتو برخليک | ۳۵ |
| په نويو چاپي خپرونو کې د کوچنيانو له پاره ځانګړې پاڼې | ۳۹ |
| د کوچنيانو له پاره ليکل شوي کتابونه | ۴۷ |
| لومړی چاپ شوي کتابونه | ۴۷ |
| دويم هغه کتابونه چې په ويبپاڼو کې اپلوډل شوي دي | ۵۰ |
| په فيسبوک کې ماشومانو او کوچنيانو ته پاملرنه | ۵۸ |
| پـــل، د افغانانو ميډيا په آسمان کې نوی ستوری<br>(د کوچنيانو د ادبياتو نوی او ډاډمن آدرس) | ۶۱ |
| د اجمل تورمان ليک او د کوچنيانو ادبيات | ۶۴ |
| «د ماشوم د ادبياتو کور» | ۷۱ |

رياضي او د ماشوم ادب اجمل تورمان ۹۳

محمود مرهون او د کوچنيانو ادبيات ۹۸

احمد ولي اڅکزی او د کوچنيانو ادب ۱۱۰

د احمد ولي اڅکزي کوچنی ټکی کام او د کوچنيانو له پاره دوه سوه نکلونه ۱۲۶

له ماشومانو او کوچنيانو سره د تاوتريخوالی ستونزه ۱۳۵

د ماشوم عاطفي وده او د کوچنيانو ادبيات ۱۶۲

د ليکوال بيوګرافي ۱۶۶

# لومړنی خبرې

د شپېتمې لسيزې په پيل کې مې دا کمبود احساس کړ چې د کوچنيانو ادبيات يوه له نظره لويدلې او هېره موضوع ده. په لومړنيو هڅو کې مې خپله مطالعه پيل کړه او له مطالعې سره سم مې ياداشتونه را ټولول. درې کاله پرله پسې مطالعه او د موادو را ټولنه پسې روانه وه. هر څومره مې چې مطالعه کوله، د موضوع مهم والی نور هم را ته څرګندېده.

وروسته له دريو کلونو مې د خپلو را ټولو کړو معلوماتو، سترګو ليدلي حال او تجاربو په ليکلو پيل وکړ او پايله يې د همدې کتاب لومړی ټوک (د کوچنيانو ادبيات، ۱۳۶۶کال چاپ) و او په ۱۳۶۶ کال په کابل کې خپور شو.

د دې خبرې يادول اړين ګڼم چې د مقالو دغه سلسله (د کوچنيانو ادبيات، تاريخي پس منظر، اوسنی حالت) چې ما (آصف بهاند) پيل کړې ده، زما د پاسني ياد کتاب (دکوچنيانو ادبيات، لومړی ټوک) بيا ځلي خپرول نه دي، بلکې په دې مقالو کې زما موخه او هڅه دا ده چې د کوچنيانو دادبياتو د تاريخ په رڼا کې اوسنی حالت وڅيړم، شوي کارونه معرفي کړم، امکانات يې وپلټم او شته ستونزې په نښه کړم، د حل لارې ورته پيدا کړم.

بيا د جګړو د اور له توديدو سره په وطن کې د ژوند دايره نوره هم پسې تنګه شوه، وطن را نه پاتې شو او حالاتو لومړی شرقي اروپا او بيا غربي اروپا ته پسې ورسولم.

هر ځای او هر هيواد ته چې ورسيدم، خپل وطن، د خپل وطن خلک، په تيره کوچنيان مې هير نه وو. د همدې نه هير په سلسله مې بيا د کوچنيانو د ادبياتو خوار حالت ته په پام سره خورې ورې ځيرنيزې مقالې خپرولې او وروسته مې د خپلو مقالو لړۍ ته «د کوچنيانو ادبيات، تاريخي پس منظر، اوسنی حالت» سر ليک و ټاکه او هر چيرې به مې چې د کوجنيانو ادبياتو اړند مطالب، کتابونه او ستونزو ته پام کيده، د هغو په باب به مې تحليلي او ځيرنيزې مقالې ليکلې او

یا به مې هغو شاعرانو او لیکوالو ته چې د کوچنیانو له پاره کار کوي او څه لیکي او خپروي يې، هغوی او د هغوي کارونه معرفي کول او د کوچنیانو د ادبیاتو د اړتیاو له مخې به مې تبصرې او لیکنې کولې.

اوسنی کتاب زما د همدغو څیړنیزو او تحلیلي مقالو ټولګه ده چې د یوه کتاب په بڼه يې درنو لوستونکو ته وړاندې کوم. زه په راتلونکې کې هم د همدې اړتیا پر بنا د کوچنیانو د ادبیاتو په باب خپلو څیړنیزو او تحلیلي لیکنو ته دوام ور کوم که يې اړتیاوه، نو به يې د همدې لړۍ د دریم ټوک په چوکاټ کې خپره کړم.

## مقدمه

له جګړي نه د رازیږیدلو نا خوالو په اړخ کي زموږ د ټولني تر ټولو ستره غمیزه دا ده چي د پرمختګ او تکنالوژۍ په دې عصر کي موږ د خپلي ټولني تر ټولو اساسي برخه (کوچنیان) هیر کړي دي او زموږ په وطن کي د ټولني تر ټولو له پامه لویدلي برخه همدا کوچنیان جوړوي. البته دا خبره یوازې په خوارو او نیستمنو کورنیو باندې صدق نه کوي، بلکي په عام ډول په ډیری افغان کورنیو باندې یې د یوې تورې بلا په څیر سیوری غوړولی دی.

جګړه، کرکه او نا باوري د ټولني د اکثریت په ذهن او ضمیر باندې داسي حکومت کوي چي هر څه مو په جګړې پیل کیږي او په جګړې پای ته رسیږي. هر څه ته په کرکه او بې باورۍ ګورو. همدا دلیل دی چي د ټولني اکثریت له کتاب او قلم نه ټوپک او وهلو ټکولو سره عادت شوي دي او له نا چاره یې لکه سیوری ځان سره ګرځوي. د ګران دوست احسان آرینزي د سترګو لیدلی حال دی چي:

«... په هغه شیبو کې چي زه د دې خان صیب له کوره وتلم، له دوی څخه مي هیله وکړه چي یو قلم او کاغذ راوړي چي زه خپلي پتې او تلیفون نمرې ورته ولیکم؛ خو تاسو بناغلي لوستونکي باور وکړي په هغه کور کي یو قلم ونه موندل شو چي یوازې د مېلمنو په حجره کي یې دیارلس کلاشینکوفونه او ماشینونه ځوړند وو او کتار وزمي دومره پریمانه وي لکه د عبادت تسبیح!»

د ټولني لوستي مو د علم، ادب او هنر مطالعي ته دومره لیواله نه دي، لکه د نظامي ماتو او بریو لوستلو او د سیاسي غولونکو کتابونو، مقالو او شعرونوته چي لیواله دي. که یې نه منئ، د مثال له پاره په تاند کې یو غولونکی، تیر ایستونکی سیاسي نظامي مطلب او یو ښکلی شعر او یا طنز په نښه کړئ، وروسته له څو ساعتونو او یا دوه درې ورځو یې بیا لاندنی برخې ته مراجعه وکړئ چي کوم مطلب ډیر لو ستل شوی دی.
دا اوس په عام ډول یو منل شوی حقیقت دی چي «کلتور دیوه جامع (هر اړخیز) مفهوم په توګه د مادي او معنوي ارزښتونو ګډه ټولګه ده ...»( ب. ی. کانونیکه اوم، ګ بلدریوا، کلتور پوهنه، ژباړن: دوکتور لطیف بهاند، ناشر: د افغانستان علمي تحقیقاتي مرکز، ماسکو، ۲۰۰۰م کال، ص ۵۸)

د نړۍ او د انسانانو د پیدایښت له پیل نه بیا تر نن پورې، له ټولو مادي او معنوي لاس ته راوړنو او تجربو نه دا پایله تر لاسه شوې ده چي د یوې ټولني راتلونکې آبادي، ښیرازي او پرمختګ د هغه د نوي نسل په ښه روزنه او دغه نوي نسل ته جدي پاملرني پورې اړه لري. داسي پاملرنه چي نوی نسل د وخت له ټولو علمي غوښتنو سره سم له نوي تکنالوژۍ سره اوږه په اوږه د

خپلو ملي ارزښتنو، ملي کټو او تاريخ په رڼا کې داسي وروزل شي چې نه يوازې په راتلونکې کې هغه د مور پلار، کورنۍ او ټولنې پر اوږو بار نه وي، بلکې هغه يو پوه، زدکړی، مولد او داسي انسان وي چې د خپلې ټولنې او خلکو لارښوونه هم وکړای شي.

دې ته مو پام وي چې رهبران نه شنه کيږي او نه هم له آسمانه رالويږي، بلکې همدغه د نن ورځې ماشومان دسبا مور پلار هم دي، رهبران هم دي، مخترعين هم دي، خاينين هم دي، جګړه مار هم دي، سوله خوښونکي هم دي او په پای کې د دې دنيا ورانونکي او جوړونکي هم دي. که سم وروزل شي، د خلکو او وطن مينه، د انسان مينه او عاطفه ور زده کړای شي، نو بيا به يو ښه او مثبت انسان وي او که برعکس وي نو بيا ګورئ يې چې زموږ په ټولنه کې يې بيلګې څومره ډيرې دي.

او دا دنده د يوې ټولنې په ښوونه اوروزنه، د سواد د زدکړې او عاميدو په کچې او علمي مسايلو ته ارزښت ورکولو په څرنګوالي پورې اړه لري. زموږ په ټولنه کې د سواد سطحه ډيره ټيټه ده. د ښووني او روزني څرنګوالی هغسي چې د يويشتمي پيړی غوښتنه ده، د قناعت وړ نه ده. تر اوسه هم ښوونځي ورانول کيږي، سوځول کيږي او د ښوونکو او زده کوونکو د وژلو کلتور حاکم دی. ښوونځي ته تک ګناه ګڼل کيږي او ښوونځی د بدو کارونو ځای معرفي کيږي.

نو په دغسي يو حالت کې او په دغسي ټولنه او چاپيريال کې به ادبيات څه حال ولري، کوچنيان به څه حال ولري او «د کو چنيانو ادبيات» به څه حال ولري؟

په پرمخ تللو ټولنو کې کله چې ماشوم وزيږي، يو کال يې مور او پلار په کور کې پالنه کوي، بيا تر درې کلنۍ داسي ځای ته ليږل کيږي چې پالنه اوتغذيه کيږي، بيا تر شپږ کلنۍ پورې په وړکتون کې وي او په وړکتون کې لومړي ټولګي ته د شامليدو مقدماتي ټولګی هم ورباندې وايي. يعنې ماشوم مخکې له دې چې لومړي ټولګي کې کيني، ابتدايي لوست ليک يې زده وي. تر نهم ټولګي پورې ښوونځی جبري دی، بيا ليسه ده او زده کونکی د ليسې د اخستو نمرو په حساب کولای شي د خپلو لوړو زدکړو له پاره پوهنځی يا د زدکړو ځانګه خوښه کړي. دلته ليدل کيږي چې د يو نوي زيږيدلي ماشوم ټول پروګرام مالوم دی.
خو زما په پلرني وطن کې...

**ماشوم څه ډول دنيا ته راځي؟**

**څه ډول غتيږي؟**

**کورنۍ چاپيريال؟**

**وړکتون؟؟؟**

**ښوونځی؟؟**

**پوهنځی؟**

## ژوند ؟؟؟

دلته ګورو چې هر څه ګونګ او مبهم دي. مور پلار؟ کورنۍ؟ کلی کور؟ ټولنه؟ طرز تفکر، فکري دايره او ...؟

ګوره چې څوک په کومه کورنۍ، کوم ولايت، د کومې فکري دايرې په کړۍ کې، په کوم جنسيت دنيا ته راځي او...

په داسې ګونګه فضا او نا مالومو حالاتو کې به يو څېرونکی څه ډول وکولای شي چې د دغسې يوې ټولنې د ښوونې روزنې او يا کوچنيانو ته د هغوی په ادبياتو او يا هم رواني حالت او يا زدکړو په څرنګوالي او... باندې وغږيږي، قضاوت پرې وکړي او د کومې پايلې يا وړاند وينې له پاره کوم وړانديز وکړي.

ډېری افغانانو ته خپله د زېږېدو نېټه نه ده مالومه. مور او پلار نه چې د زېږدو د نېټې پوښتنه کوي، اکثراً ورته ويل کيږي:

ـ ته په هغه کال پيدا شوې چې ډېره واوره شوې وه،
ـ ته په هغه کال دنيا ته راغلې چې کلک سيلاوونه راغلل.
ـ ته د کرزي په کال وزيږيدې او...

بيا څومره په تعليمي ادارو ښوونځيو او پوهنتونونو کې ستونزې، واسطې او د فساد نور ډولونه دي، هغه خو بايد په يوه فاسده ټولنه او فاسده اداره کې وي چې د دې پاليسی پر اساس ډېری خلک له زدکړو نه پاتې کيږي. اقتصادي ستونزې تر ټولو ستر عامل دی چې ماشومان ښوونځي ته له تګ نه پاتې کيږي.

که زه دلته په افغانستان کې د ښوونې او روزنې په تاريخ او څرنګوالي باندې وغږيږم، خبره اوږديږي، دا موضوع به بل وخت ته پريږدم، اوس به يوازې د کوچنيانو د ادبياتو په خوار او هير شوي حالت باندې بحث وکړم او مخکې تر هغه چې د کوچنيانو د ادبياتو پر پس منظر خبرې وکړم، مقدمتاً بايد و وايم چې:

له هغې ورځې چې د کوچنيانو د ادبياتو مسأله په پښتو ادب يا پښتنو قلموالو کې رامنځ ته شوې ده، له نامه سره يې څو ډوله بر خورد شوی دی. څوک يې د ماشوم ادبيات بولي، څوک يې د کو شنيانو ادبيات يادوي ،څوک بيا د وړو ادب ورته وايي او ځينې يې د کوچنيانو ادبيات وايي او ليکي.

**د شپيتمې لسيزې په پيل کې د افغانستان د ليکوالو ټولنې له خوا «د کوچنيانو ادبيات» تر سر ليک لاندې د کابل په آريانا هوټل کې د ګڼ شمير کورنيو او بهرنيو ليکوالو، فرهنګيانو او سياسي شخصيتونو په ګډون يو سمينار جوړ شوی و. په دې سيمينار کې په پښتو او دري ژبو ګڼ شمير ليکل شوې مقالې واورول شوې او علمي بحثونه ورباندې وشول. ما(آصف بهاند) «د ماشوم ادبيات» تر سرليک لاندې مقاله ورته ليکلې وه. هلته په دې دوو نومونو(د ماشوم ادبيات او د کوچنيانوادبيات) مفصل بحث وشو او ګران دوست زرين انځور وړانديز وکړ:**

**څنګه چې ماشوم د هغه سن واړه ته ويل کيږي چې لا د ليک لوست نه وي او چې لږ راولوی شي بيا ليک لوست کولای شي او هغه ته کوچنی ويل کيږي؛ نو ښه به دا وي چې موږ څه چې**

**ورو ته ليکو، هغو تـه «د کوچنيانو ادبيات» اصطلاح وکاروو. دا وړانديز په هغه وخت کې د سيمينار د ټولو ګډون کونکو له خوا ومنل شو. او وروسته بيا ما هم د خپل ليکلي کتاب نوم «د کوچنيانو ادبيات» کيښود.**

زه په دغو اوسنيو مقالو(کتاب) او بحث کې هم د هماغه منل شوي اصل له مخې «د کوچنيانو ادبيات» نوموونه کاروم. بل چا سره کار نه لرم. نورو ښاغلو ليکوالو چې کومې نوموونې کارولي دي، زه يې په خپله ځيرنه کې په ډير درناوي سره په هماغي بڼي را اخلم، خو زه خپله د کوچنيانو له پاره ټولو تخليق شوو، ليکل شوو ځيرنيزو او تخليقي آثارو ته د کوچنيانو ادبيات نوموونه کاروم.

د کوچنيانو د ادبياتو له پاره تر اوسه داسې تعريف چې ډيرى ورباندې سلا وي، زما له نظره نه دى تير شوى. ديرش کاله مخکې د کوچنيانو د ادبياتو يو تعريف چې ما د ښاغلي سيال کاکړ په حـوالـه په خپـل کتاب( د کوچنيانو ادبيات) کې را اخيستى و، د هغه لنډيز داسې دى:

«ښاغلي پروفيسر سيال کاکړ د خپل اثر(د کوشنيانو ادب) کې د کوچنيانو ادب د يوه غربي نقاد( هنري ستيل کوميکن) په حواله داسې تعريفوي: کوشنيان د خپل ادب تعريف تر هر چا په خپله ښه کولاى شي. ښه او بد معيار په خپله دوى ټاکي. کوم شى چې تر نظر ښه ورشي، هغه د کوشنيانو د ادب تعريف کې راځي او په ادبياتو کې چې کوم شى تر نظر ښه ور نه شي، هغه د پوهانو په عقيده د کمکيانو د ادب له تعريف ځخه د باندې وزي.» (بهاند آصف، دکوچنيانو ادبيات، د چاپ او خپرونو دولتي کوميټه، کابل، ۱۳۶۶ کال،۳۹ مخ.)

د هنري ستيل کوميکن او سيال کاکړ ځرګندونډونې يو مفهوم را پوهوي، يعنې هر هغه څه چې کوچنيان خوښوي، هغه د دوى په ادب کې راځي او هغه څه چې کوچنيان نه خوښوي، د دوى له ادب نه د باندې دي.
د هنري ستيل کوميکن او سيال کاکړ د خبرو او تعريفونو ګډه ځانګړتيا دا ده چې په قاطع ډول د کوچنيانو د ادب تعريف په باب څه نه وايي، بلکې په ضمني ډول وايي چې هر هغه څه چې د کوچنيانو خوش شول، هغه د دوى ادب دى، هغه څه چې د کوچنيانو له پاره په زړه پورې وي، ښه وي، سمه لار ورته ښيي، د هغوي هنري تنده او ذوق ارضا کړاى شي او په راتلونکي ژوند باندې د دوى باور حاصل کړي، هغه د دوى ادب بلل کيږي.

د دې تعريف يا نورو نظرياتو په رڼا کې چې که په کوم کتاب، شعر يا نثر کې د کوچنيانو په باب څه ويل شوي وي يا د کوچنيانو په ذوق او خوښه برابر وي، نو هغه ته بايد د کوچنيانو د ادبياتو نوم ورکړو، نو په پښتې فولکلوراو مذهبي زدکړو کې يې ريښه پخوانيو وختونو ته رسيږي، خو په پښتو ادب کې بيا موضوع بل ډول ده.

# په فولکلور کې د کوچنیانو د ادبیاتو څرک

که د فولکلور په باب له اوږدو بحثونو تیر شو او په لنډ ډول ووایو چې پښتني فولکلور څه بډای فولکلور دی، نو په دې بډای فولکلور کې د کوچنیانو له پاره څه شته که نه؟ او که وي نو څومره به وي؟
هوکې، په پښتني فولکلور کې دکوچنیانو له پاره ډیر څه شته چې دوی ته څه ورزده کوي، په دوی کې هنري ذوق او عاطفه روزي او تولنیزو فعالیتونو ته یې هڅوي. د پښتو ادبیاتو په شفاهي برخه کې د کوچنیانو له پاره یو لړ سندرې، شعرونه، کیسې او متلونه شته چې یا په خپله د دوی له خوا ویل کیږي او جوړیږي، یا د لویانو له خوا د دوی د سویې، طرز تفکر او غوښتنو په نظر کې نیولو سره، د دوی له پاره ویل کیږي او جوړیږي. لکه د مینډو سندرې چې د پښتنو په بیلابیلو سیمو کې د کوچنیاو له پاره د مینډو له خوا ویل کیږي. یوه ښه بیلګه یې د آللو فولکلوریکه سندره ده. دا سندره مور د ماشوم د ویده کولو په وخت کې په داسې حال کې وایي چې په یوه لاس ماشوم ټپوي، نو په ډیر خوږه آهنګ سره دا سندره وایي:

**آللو، للو زویه**
**سر د شا زلمو زویه**
**آللو، للو پیشو**
**پیشو مه راځه له غرو**
**اڅک جان داسې ویده دی**
**لکه ګوډی د رنجو.**

(بهاند آصف، د کوچنیانو ادبیات، د چاپ او خپرونو دولتي کومیته، کابل، دولتي مطبعه، ۱۳۶۶ ل کال، ۲۸مخ)

په پښتني فولکلور کي کومي برخي چي د کوچنیانو په فولکلوري ادب کي راوستل کیږي، په هغه باندي ښاغلي استاد حبیب الله رفیع په خپل ارزښتمند اثر«دخلکو سندرې» کي ښه اوږد علمي بحث کړی دی. دموضوع د اوږد والي د مخنیوي له پاره یې یوازي نومونه را اخلم:
د میندو سندرې، د وړو سندرې، د کوچنیانو سوال ځواب، کیسی، د وړو مشاعرې، کوچنی نکل، بلندره، د پک غندنه، د کیکړ راوړل، فولکلوریکه غندنه، نکلي لندۍ، فولکلوریکه ستاینه، د ماشوم کراړول، د شنو سترګو فولکلوریکه غـند نه، فـولکوري ستایـنه، د بیـکاری او لـتی غـندنه، د ښکلا یــا ښایست یــادونه، او نــور. (رفیع حبیب الله، د خلکو سندرې، ۱۳۴۹ ل کال، ۴ مخ)

د غه راز استاد حبیب الله رفیع د ولسي سندرو د ارزښت په لړ کي د هغو سندرو په تعلیمي ارزښت ټینګار کوي چي د کوچنیانو د روزلو له پاره د دوی دراتلونکي ژوند سره اړوند درسونه په کي ورکول کیږي. رفیع صاحب وایي :
« د پښتنو اولسي سندرو په اوږده لړۍ کي ډېره زړه کړی د میندو سندرې دي چي د ویدي سندرو په څیر ماشوم (هلکانو او نجونو) ته د دوی له راتلونکي ژوند سره اړوند درسونه په کي ورکول کیږي او د دوی ټولنیز مسؤولیتونه په کي ورښودل کیږي، د همدې لړۍ بله زړه کړی د ماشومانو سندرې دي چي د خپلو میندو له سندرو نه ادبي درس او د ژوند پند اخلي او د چاپیراو طبیعت ساده ارزښتونه په کي رانغاړي او خپلي لوبي اوساتیری پري تودوي، تر دی راوروسته یي نیم بیت یو ماشوم او بله مسره یي بل ماشوم وایي چي دا د شعر جوړولو او د هغه په چل پوهیدلو ښه تمرین دی او کیسی یا چیستانونه هم بیا د ذهني آزمویني او د معلوماتو د ارزوني له پاره دي چي د ماشومانو ځیرکي په کي زیاتیږي او زباتیږي . ورپسي لویان هم د ژوند په بیلابیلو وختونو او ځایونو کي د سندرو دا لړی پالي او ادبي تجربه د ژوند له تجربو سره تسلسل مــومي.»

د کوچنیانو له پاره په پښتني فولکلور کي د ځانګړو شو برخو نه یو څو بیلګي:

**ـ سوال ځواب:**

غنم ـ خبرې دې منم،
اوربشي ـ خبرې دې خوشي،
جوار ـ خبرې دې په وار،

**ـ کیسی:**

پورې خوا کوړک ـ له سپینو مرو ډک،
تور دی کارغه نه دی ـ الوزي مارغه نه دی،

**ـ د میندو سندرې:**

آللو، للو زویه،
سر د شازلمو زویه،

یا:
آللو، للو، للو
پیشو مه راځه له غرو،
ملوک جان داسي ویده دی لکه ګودی د رنجو.

**ـ د ماشومانو سندرې:**

کله چې ماشومان لږ را لوی شي، یعنې خبرې پيل کړي، نو په منځو کې يې د لوبو په وخت کې زمزمه کوي:

**شین يې کـې، زرغون يې کې**
**د شنه غـوايي لړمون يې کې**
**د اوسپنې تـلـبـر يـې کـې**
**د پـک سرې پـه سر يـې کې**
**زمـوږ جـونـه پې پنــډې کې**
**د نــورو جـونــه کونــډې کې**

(پټنګ عبدالکريم، ګړنی ادب، د عرفان مجلې خپرونه، ۱۳۵۷ ل کال، ۲۴ مخ)

یا:

**ډم، ډم د چـــرګ واده دی**
**چرګ په لاره کې ويده دی**

د کوچنيانو د سندرو يوه بله بیلګه چې په خوست کې په دې ډول ويل کيږي:

**اکو، بکو**
**دنبالکو**
**سيپه لاړه په تبی**
**ما و ويشته په ډبلی**
**نه يې سر و نه لکی**
**پيشو پرنګ**

(ګړنی ادب، ۲۶ مخ)

**ـ سندريزې کيسې:**

په پښتني فولکلور کې منظومې کيسې ډيرې دي او دا د کوچنيانو له پاره ښه ادبي سر ګرمي ګڼل کيږي، هغه داسې چې يو ماشوم کيسې وايي او بل يې بايد ځواب و وايي:

**لـښته ده، زر لـښته ده**
**نه ماتـيږي سخــتـه ده**

ځــواب يـــې دی: اوبه

کیسې منثورې او منظومې برخې لري. منظومې کیسې په اصل کې يو ساده او روان شعر دی چې مطلب په کنايو او اشارو په کې بيانيږي. دمسرو شمير يې يو ډول نه وي. کله دوه مسرسيز بيت وي، کله درې مسرۍ او کله بيا څلور مسرۍ وي. دا يې څو بيلګې دي:

**تر پاڼ لاندې خونه**
**په کې ناسته ده زیتونه (ژبه)**
**زما یو ورور دی**
**پر هر بازار یې کور دی (لمر)**
**بریبنې کمکی دی**
**یو سر یې سوری دی**
**بل سر یې نری دی**
**جوړونکی د کالی دی**
**ملګری یې سپنسی دی**
**و وایه کوم شی دی؟ (ستن)**

(منګل علي محمد(سرمحقق)، د نویو ځوانانو له پاره پوهه او معلومات ، خپرونکی: د اریک د ګرځنده کتابتونونو اداره، ۲۰۰۴ کال، ۷۲ مخ.)

د اکو، بکو سندره په ځینو پښتني سیمو کې په دې بڼه هم ویل کیږي:

**اکو، بکو،**
**دنبالکو،**
**سر سیندکو،**
**غوا مې لاړه په ترپکو،**
**اکو بکو،**
**دنبالکو،**
**سیيه لاړه په ترپکو،**
**ما ویشته په ډبلی،**
**نه یې سر و، نه لکی،**
**پیشو پرنګ.**

**ـ د وړو مشاعرې:**

د وړو مشاعرې د ماشومانو په منځ د مسابقې په بڼه ویل کیږي. استا حبیب الله رفیع د وړو د مشاعرو په باب داسې ویلي دي:
«دا د ماشومانو یو ډول مسابقوي سندرې دي چې خپل ذهنونه د ادبي پانګې د خوندي کولو له پاره پرې روزي. یوه مسرۍ یې یو او بله یې بل وایي. که د دویم ماشوم دویمه مسرۍ یاده نه وه، مسابقه بایلي. دغه راز که د لومړي ماشوم د مسابقې بله سندره یاده نه وه، ماتیږي.»
(لونګ(مجله)، له غزني څخه خپریدونکي خپلواکه، ناپیلي، پوهنیزه دوه میاشتنۍ خپرونه، لومړی کال، دویمه ګڼه، د غویي او غبرګولي ګڼه، ۱۳۸۶ کال، ۲۲ مخ)

**لومړۍ مسرۍ:**
**ډېو تر غزني،**
**دویــمه مسرۍ:**
**ووړکی پروت دی بې سیزني.**

په پښتني فولکلور کې کومې برخې چې فولکلوریستانو او لویو استادانو د کوچنیانو په ادب کې شمیرلي، د دغو ټولو یادو شوو سندرو،کیسو، نکلونو، او نورو برخو څخه چې د کوچنیانو له پاره د ژوند په بیلابیلو وختونو کې، په خپله د دوی له خوا او یا د مور، پلار، ښوونکي، او همځولو له خوا ویل شوي دي؛ د دوی په ماشوم ذهن تاثیر کوي، حواس یې پاروي، یو څه ور زده کوي، هنري ذوق په کې روزي، عاطفه په کې ژوندۍ کوي او یوه ټولنیز فعالیت ته یې هڅوي؛ نو د دغو دلایلو له مخې ځینې د نظر خاوندان، د فولکلور دې برخې ته د کوچنیانو فولکولوریک ادب وایي.

د ماشومانو او کوچنیانو د فولکلوریکو ادبیاتو له لارې هغوی ته ډیر ستر فرهنګي میراث ور ښودل کیږي او ور لیږدول کیږي. ماشومان او کوچنیان بې له دې چې په کوم ټولګي یا ښوونځي کې کیني، د فولکلوریکو کیسو او شعرونو له لارې، له ټولنیزو ارزښتونو او سترې فرهنګي شتمنۍ سره آشنا کیږي او همدغه فرهنګي شتمني د ژوند په پیژندلو کې مرسته ور سره کوي. له تیر تاریخ سره آشنا کیږي، د تیرو انسانانو د ژوند څرنګوالی پیژني او د هغوی له طرز تفکر نه خبریږي.

دا یو ښکاره حقیقت دی چې د هنري لیکلي ادب تومنه په فولکلور کې نغښتې ده، د همدې اصل له مخې دا ویلای شو چې د کوچنیانو د ادب د پیل ټکی هم په فولکلور یا ګړني ادب پورې اړه لري. په شرق اوغرب دواړو کې د کوچنیانو د ادب د پیل ټکی همدا اولسي نکلونه ګڼل شوي دي چې یا هماغه اولسي نکلونه کټ مټ د ورو له پاره په لیکلي بڼه وړاندې شوي دي او یا له هغو نه په استفادې سره د وخت د ټولنیزو شرایطو په پام کې نیولو سره ورته لږ په ساده ژبه برابر شوي دي.

یو ځل بیا په فولکلور کې د کوچنیانو ادبیات او په دې باب د آرش ننګیال نوي خبرې:

په فولکلور کې د کوچنیانو د ادبیاتو موضوع یو ځل بیا ما څکه را تازه کړه چې د ښاغلي آرش ننګیال په یوه نوې خپره شوې مقاله کې دې موضوع ته ډیره نوې، ښه او جدي پاملرنه شوې ده.

ما د کوچنیانو ادبیاتو د همدې سلسلې په دویمه مقاله کې د «په فولکلور کې د کوچنیانو ادبیاتو څرک» تر سر لیک یوه مقاله ولیکله چې د ۲۰۱۵ کال د فبرورۍ د میاشتې په څلورمه نیټه په ځینو ویبپاڼو ویبپاڼو کې خپره شوه:

http://www.afghan-german.net/upload/Tahlilha_PDF/bahand_a_kochnian2.pdf

http://www.nahimi.dk/web/index.php/ps/2012-08-11-17-36-49/11332-2015-02-04-18-42-04

http://tolafghan.com/posts/30520

http://www.taand.com/archives/40346

په یاده مقاله کې ما په خپل یو پخوا نشر شوي کتاب(د کوچنیانو ادبیات، د چاپ او خپرونو دولتي کومیته، کابل، ۱۳۶۶ کال) کې د فولکولوریکو ترانو په رڼا کې، په فولکلور کې د کوچنیانو

ادبيات ځيرلي و. له هغو ليکلو مطالبو او نويو تر لاسه کړو شيانو نه په استفادې سره مې په فولکلور کې د کوچنيانو ادبياتو څرک لګولی و چې لنډيز يې دا دی:

«که د فولکلور په باب له اوږدو بحثونونه تير شو او په لنډ ډول ووايو چې پښتني فولکلور ښه بډای فولکلور دی، نو په دې بډای فولکلور کې د کوچنيانو له پاره څه شته که نه؟ او که وي نو څومره به وي؟
هوکې، په پښتني فولکلور کې د کوچنيانو له پاره ډير څه شته چې دوی ته څه ورزده کوي، په دوی کې هنري ذوق او عاطفه روزي او ټولنيزو فعاليتونو ته يې هڅوي. د پښتو ادبياتو په شفاهي برخه کې د کوچنيانو له پاره يو لړ سندرې، شعرونه، کيسې او متلونه شته چې يا په خپله د دوی له خوا ويل کيږي او جوړيږي، يا د لويانو له خوا د دوی د سويې، طرز تفکر او غوښتنو په نظر کې نيولو سره، د دوی له پاره ويل کيږي او جوړيږي. لکه د ميندو سندرې چې د پښتنو په بيلابيلو سيمو کې د کوچنياو له پاره د ميندو له خوا ويل کيږي. يوه ښه بيلګه يې د آللو فولکلوريکه سندره ده. دا سندره مور د ماشوم د ويده کولو په وخت کې په داسې حال کې وايي چې په يوه لاس ماشوم ټپوي، نو په ډير خواږه آهنګ سره دا سندره وايي:
آللو، للو زويه
سر د شا زلمو زويه
آللو، للو پيشو
پيشو مه راځه له غرو
اځک جان داسې ويده دی...»

د ماشومانو له پاره د ميندو همدا سندره په لړ بدلون سره ښاغلي آرش ننګيال هم را اخيستې ده، خو دې سندرې ته ده د کوچنيانو ادبياتو له کړکۍ نه په داسې عاطفي نظر کتلي دي چې په رښتيا يې په علمي ډول د مور او ماشوم تر منځ د يوه عاطفي تړون په ډول ځيرلی دی او د مور له خوا ماشوم ته د خوب په وخت کې د دې سندرې ويل يې ځيرلي دي چې د ماشوم پر ذهن ، روزنې او راتلونکې باندې څه ډول او څومره ښه اثر درلودلای شي. آرش ننګيال ليکي:

«زه داسې فکر کوم چې له مورږ نه زموږ تيرو نسلونو خپلو اولادونو سره ډيره مينه درلوده او له مورږ نه ډير هنرمند او ژمن خلک وو. پښتو فولکلور کې د ماشومانو برخه خورا پياوړې ده، پوره کار ورته شوی.

**آللو، للو للو للوووو**
**زوی مې سر د شا زلمو**
**آللو، للو...**
**پيشو مه راځه له غرو**
**غاټول جان داسې ويده دی**
**لکه ګوډی د رنجو**
**اللو للو**

شايد دې ته ورته يا هم په لږ تفاوت داسې په لسګونه شعرونه ولرو.
که د پورتني اللو متحوا ته زير شو، داسې خواږه الفاظ پکې کارول شوي دي که يې له مينې پرته د ويلو کوښښ هم وکړې نه ويل کيږي.
شارون بيدالف په خپل کتاب (د ماشومانو او تنکيو ځوانانو ګټوره روزنه) کې وايي چې که خپلو ماشومانو ته احمق ووايئ، نو سبا ترې احمق جوړيږي او که يې وستايې او د هوښيار ماشوم په نظر دې ور وکتل، نو هماغه څه به ترې جوړ شي چې ته يې ورته وايې.

نو دا مور او پلار پورې اړه لري چې د خپل ماشوم راتلونکي څه ډول غواړي.
- په اللو کې مور خپل زوی ته وايي (زوی مې سر د شازلمو) دا غوره ستاينه ده، جرات ورکول، په خپل نفس اعتماد، په ښه نظر ورکتل، شخصيت ورکول، او يا هم تر ټولو د غوره شخصيت په نظر ورکتل دي چې دا د ماشوم په غوره روزنه کې خوار مثبت رول لري.
کله چې ته خپله خپل اولاد ته شخصيت ور نه کړې نور خلک يې نه ورکوي.»

د ده د مقالې په يوه بله برخه کې داسې راغلي دي:

«ايا تيرو نسلونو به د اروايوهني پوهنځی لوستي وې؟

لکه څنګه چې ماشوم، خوړو او جامو ته اړتيا لري په همدې کچې لوبو ته هم اړتيا لري، نو زموږ په غني فولکلور کې داسې لوبې ايجادې شوي چې که د ګټې په هکله يې څه وليکو نو شايد کتابونه پرې وليکل شي.
تيرو نسلونو د ماشومانو ټولنيز ژوند ته هم ځانګړې پاملرنه کړې ده، ځکه ټولنه لکه ښوونځي او پوهنتون د زده کړې ځای دی. دوی خپلو ماشومانو ته داسې ټولنيزې لوبې جوړې کړې چې هم لوبه ده او هم زده کړه.
داسې لوبې چې ګڼه ماشومان پکې برخه اخلي، په داسې لوبو کې ماشومان ډېر څه زده کوي، برياليتوب، ناکامي، درنښت، احترام، قانون، مقررات، ټولنيز نزاکتونه او په لسګونه نور پيغامونه او ښوونيز مسايل له ځانه سره لري.
اکو، بکو سرسندکو ، غوا مې لاړه په ترپکو، اباسين څپې څپې، درخانۍ خورې راووځه له کرکۍ، پلو کې دې څه دي؟ الوچې دي که منې؟ ورور مې ناست دی په دوکان، غشې ولي په ميدان، دا ميدان داسې ځليږي لکه ستوری د اسمان.

لوبې د ماشومان جمسي توازن او همغږي کې مرسته کوي، سندرې او وزن لرونکي لغاتونه، يا کلمې په بيلا بيلو شکلونو ويل او ترې استفاده، د ماشومانو ژبه پياوړې کوي او د تلفظ او خبرو پر مهال ور سره مرسته کوي. همدا رنګه د معما، کيسی ( چيستان) حلول د ماشومان ذهن پيا وړی کوي»

تر هغه ځايه چې زه د کوچنيانو ادبياتو په باب مالومات ، مطالعه او تجربه لرم، د هغو له مخې دا ويلای شم چې: په فولکلور کې د کوچنيانو د ادبياتو څرک آرش ننګيال ډير ښه لګولی او په علمي ډول يې څيړلي دي.
ده په خپله دې ليکنه کې په علمي ډول د مور او ماشومانو رابطه څيړلې ده. د مور يا نورو مشرانو له خوا ماشوم ته داسې ترانې ويل له روانې پلوه څومره د ماشوم په شخصيت جوړونه کې مثبت رول لرلای شي او ده ډيره ښه په مثالونو سره روښانه کړې دي.
ده ډيره ښه اشاره کړې ده چې په دې ترانو کې د ماشوم شخصيت جوړونه څومره ښه په نظر کې نيول شوې ده:

آللو للو زويه
سر د شا زلمو زويه او...

په دې ترانه کې د ترانې ويونکي يا جوړونکي سر له اوسه ماشوم ته داسې شخصيت ورکوي چې په مثبتې خوا ته يې تشويقوي او په سمه لاره يې سيخوي، شخصيت ورکوي او د کار او ښه عمل د سر ته رسولو له پاره يې هڅوي، خو کله مې چې د ښاغلي آرش ننګيال مقاله(پښتو

فولکلور کې د ماشومانو برخه) ولوستله، نو ومې ليدل چې ده په فولکلور کې د کوچنيانو ادبيات ښه څيړلي دي، عاطفي او رواني اړيکې يې ورته په نښه کړي دي.
په روهي وېبپاڼه کې مې هم د آرش ننګيال يوه بله ليکنه هم تر سترګو شوه چې د ۲۰۱۵ کال د جون په پنځه لسمه خپره شوې وه.

هلته يې د ماشوانو په باب خپل نظريات د«خپل ماشومان پېژنئ؟» تر سر ليک لاندې بيان کړي وو. د ده له دې ورستيو ليکنو دا سې ښکاري چې دى له نوي نسلو، د وى له ادبياتو او روزلو سره پوره ليوالتيا لري.
**زه فکر کوم چې زما په ګډون د هغو قلموالو فرهنګيانو هلو ځلو نتيجه ورکړه چې د مطالعې، زدکړې او نوي نسل د روزنې پلويان وو او دي، يو نيالګى او يو ثمر يې همدا آرش ننګيال دى.**
د ماشومانو اوکوچنيانو په باب د ده د نظرياتو په ليدلو او لوستلو سره مې باور نور هم قوي شو او اميد مې نور هم زيات شو چې نوي قلموال به په راتلونکو کې نور ډېر داسې ګټور څه وليکي، چې ور ته اړتيا ده. زه د آرش ننګيال دا مقاله د کوچنيانو د ادبياتو په برخه کې ډېره مثبته ارزوم او هيله مې دا ده چې ښاغلى آرش د خپلو دغو علمي مطالعاتو او څېړنو لمن نوره هم وغوړوي.

# د ادبیانو تاریخ په اوږدو کې د کوچنیانو د ادبیاتو بهیر

له فولکلور نه وروسته، که د ادبیانو تاریخ ته سر ور ښکاره شي او د کوچنیانو د ښوونې روزنې او ادب لټه په کې وشي، لیدل کیږي چې مخکې له دې چې د واکدارانو له خوا په رسمي تشکیلاتو کې دې موضوع ته ځای ورکړل شي او پام ورته وشي، د دیني لارښوونو اومذهبي ارشاداتو له لارې د کوچنیانو ښوونې روزنې ته پاملرنه کیده.
د ادیانو په تاریخ کې لیدل کیږي چې مذهبي پیشوایانو دغه کار په ابتدایي بڼه سر ته رساوه. زموږ په ټولنه کې یې له هماغه پیل نه تر نن پورې بڼه او غوره مثال همدا دی چې کوچنیان وروسته له څلور پنځه کلنۍ نه له یوې سیپارې (بغدادي قواعد) سره جومات ته لیږل کیږي او یا په کورونو کې مشران، ورو ته مخکې له ښوونځي تګ نه د سواد زدکړې هڅه کوي. ډیرې خلک یې پیل په همدې بغدادي قاعدې باندې کوي او د عامو خلکو په اصطلاح په همدې بغدادي قاعدې باندې یې ژبه ښه ماتیږي.

**ا، ب، ت، ث، ج، ح، خ، ...**
**آ. بَ، تَ، ثَ، جَ، حَ، خَ ...**
**اً، بً، تً، ثً، جً، حً، خً...**
**اِ، بِ، تِ، ثِ، جِ، حِ، خِ ...**

د عربي همدا ګردان و چې وروسته یې د کوچنیانو د سواد او پوهیدنې سطحه ټاکله او آن تر دې چې د پښتو ژبې د ستر شاعر او نثر لیکونکي سلیمان لایق په آثارو کې یې په ډیره هنري بڼه سر را اوچت کړ او د عربي همدا ګردان یې د خپل یوه هنري نثر په پیل کې په هنرمندانه ډول له داسې تل پاتې طبعي هنري انځورونو سره غوټه کړی دی چې له دوه درې جملو نه یې د دې لومړنۍ زدکړې آثار له وریه ښکاري. څو جملې یې دا دي:
«د شیر میرګن د جومات په برنډه کې مې کرۍ ورځ د عربي صرف ګردا نونه یادول:
ضربَ،
ضربا،
ضربو ...
ماغزه مې سترې شوې وو او سر مې کلک خوږیده.
هالته پورته د چونغر د زمان ځپلې غره پر پستو ډډو باندې د رنګینو وریځو یو ښایسته کاروان را کوز شوی و...»
(لایق سلیمان، د اباسین سپیدې، د افغانستان د علومو اکاډیمي، د پښتو څیړنو بین المللي مرکز، ۱۳۶۲ کال، ۸۶ مخ.)

د وخت په تيريدو سره په پرمخ تللو ټولنو کې رسمي ښووني روزني ډير ارزښت وموند، دولتونو د منظمي ښووني روزني له پاره ښوونځي پرانستل او منظمو زکړو رواج وموند. په دې ډول کوچنيانو ته، د هغوی ښووني روزني ته او د دوی ادب ته ورځ تر بلې پاملرنه په ډيريدو شوه. د کوچنيانو د ادبياتو تاريخ که لړ. په ځير سره ولوستل شي، پخوانو زمانو کې عامه عقيده داسي وه چې د کوچنيانو او لويانو کتابونه او ادب د معنی او مفهوم له مخې کوم توپير نه سره درلود، نو ځکه يې د کوچنيانو له پاره د هر ډول کتاب لوستل جايز او ګټور کار باله. که څه هم د دوی له سويې جګ، له واړه فکر څخه يې لوړ او د فکر له دايرې نه د باندې وو.
په هغه وخت کې داسې انګيرل کيدل چې له همدغو آثارو نه چې لويان استفاده کوي، لولي يې او خوند ورنه اخلي، کوچنيان هم کولای شي استفاده ورنه وکړي او خپله هنري تنده او ذوق ورباندې خړوب کړي. په داسې حال کې چې موضوع داسې نه ده. فرضاً که دا ومنل شي چې د لويانو او وړوو ادب يو شی دی، ژبه خو به يې توپير سره لري. د دغو عواملو له مخې ويل کيږي چې په هغه وخت کې د کوچنيانو د ادب په نامه کومه جلا ځانګه نه وه موجوده.
دغه عمل همداسې پرله پسې ادامه درلوده، تر څو تجربو وښودله چې د کوچنيانو غوښتني، هنري ذوق، حوصله او د فکر وړه دنياګۍ له لويانو سره جوت توپير لري، بايد ادبيات او د لوستلو له پاره کتابونه يې هم توپير سره ولري.
په لومړي ګام کې کله چې د کوچنيانو ادب د لويانو له ادب نه جلا شو، ډيره ابتدايي او تش په نامه بڼه يې درلوده. هغه په دې ډول چې لوی کتابونه چې ډير پنډ وو او اوږده موضوعات په کې ځيرل شوي وو، د کوچنيانو له پاره يې نه ټاکل، بلکې ډير واړه کتابونه او وړې رسالې به يې د کوچنيانو د لوستلو له پاره انتخابولې. په ديني تعليماتو کې اوس هم همدا لړۍ روانه ده. د قرآن کريم په زده کولو کې د کوچنيانو له پاره لنډ آيتونونه او واړه صورتونه ټاکل شوي دي.
په دې کار کې يوازې د جملاتو لنډ والی او اعجاز په نظر کې نيول کيده. په داسې حال کې چې د همدې لنډو آيتونو جملات او توري دومره ثقيل او درانه دي چې د لويانو له پاره هم ډير فکر، کار، تمرين او تشريح کول غواړي.
د کوچنيانو علمي روزني ته او د دوی ادبياتو ته ډيره لږه موده کيږي چې پاملرنه شوې ده. «... کوچنيانو ته پاملرنه او د هغوی شخصيت ته اهميت ورکول د نولسمې پيړۍ په لومړنيو کلونو کې د متمدن عالم د پوهانو او متفکرينو توجه ځان ته واړوله. د کوچنيانو روان پيژندنه او د هغوی د ښووني روزني اصول هم د پوهانو توجه ځانته جلب کړه او په دې ډله کې د کوچنياتو ادبياتو هم، د هغه تاثير له کبله چې د کوچني په شخصيت کې يې په نيغه توګه لري، د پوهانو پاملرنه ځانته واړوله او د څيړني کار يې پيل شو.
پرمخ تللو هيوادونو هر يو په خپل وار سره په دې لار کې ګامونه اوچت کړي دي او ډيرې ښې او مثبتې پايلې يې تر لاسه کړې هم دي.» (جعفر حسني رخ، ادبيات کودکان، ۱۳۴۳، ص ۶)

په پرمخ تللو هيوادونو او مرفع ټولنو کې د کوچنيانو له پاره ځانګړي کتابتونونه او لوستځايونه شته دي. په يادو ټولنو کې د کوچنيانو ښوونځيو ته او مينډو پلرونو ته يې هغه کتابونه چمتو کوي او په اختيار کې يې ږدي چې کوچنيان مينه ورسره ښيي او مسولين او لويان داسې کتابونه ورته برابروي چې د دوی په فکري او عاطفي روزنه کې رول ولري.
د کوچنيانو له پاره د کتابتونونو او لوست ځايونو د جوړولو لومړنی فکر په همدې هيوادونو کې رامنځ ته شو او په عملي ډول يې پيل هم کړ. په امريکا کې د لومړي ځل له پاره په اتلس سوه دريم (۱۸۰۳) ميلادي کال کې د کوچنيانو له پاره کتابتون او لوست ځای تاسيس شو او له هغه سره سم په ښوونځيو کې کوچنيانو ته دا ښودل کيدل چې څنګه له کتابونو او کتابتون څخه استفاده وکړي.

په فرانسه کې د اول ځل له پاره ناپليون فرمان صادر کړ چې د کوچنيانو له پاره دې ځانګړي کتابونه وليکل شي او په اتلس سوه دري ديرش(۱۸۳۳) ميلادي کال کې په فرانسه کې مسولينو د کوچنيانو له پاره همداسې کتابونه برابر کړل.
په انګلستان کې د کوچنيانو له پاره لومړنی لوست ځای په اتلس سوه يوشپيتم(۱۸۶۱) ميلادي کال د منچستر په ښار کې جوړ شو

(بهاند آصف، د کوچنيانو ادبيات، د چاپ او خپرونو دولتي کوميټه، کابل، دولتي مطبعه، ۱۳۶۶ ل کال،۵ـ۶مخونه)

په دې ډول ليدل کيږي چې د نولسمې پيړۍ په پای او د شلمې پيړۍ په پيل کې د نړۍ په ډيرو هيوادونو کې
دې مسالې ته ښه پاملرنه شوې ده چې له هغې ډلې نه د جرمني، هندوستان او استراليا هيوادونو نومونه د يادولو وړ دي او په ځانګړي ډول پخوانی شوروي اتحاد.
د کوچنيانو ادبياتو د ساحې يو څيړونکی په دې باب داسې وايي:

«په شوروي اتحاد کې تر ټولو هيوادونو زيات د کوچنيانو ادب ته پاملرنه کيږي. تر ۱۹۲۸ ميلادي کال پورې د کوچنيانو له پاره شپږ سوه لوستځايونه جوړ شول او د کوچنيانو د کتابونو د ليکلو، جوړولو او ټاکلو له پاره ځانګړی قانون رامنځ ته شو ... د دې قانون په يوه برخه کې راغلي دي چې د کتابونو په ليکلو کې دې دغه ټکي په پام کې ونيول شي:
د ژوند دحس بيدارول، له ټولنيز چاپيريال سره بلديت، له طبيعي ژوند سره آشنايي، د انسانانو په منځ کې د اړيکو پيژندنه او د ټولنيز حس بيدارول.
د پاريس د کوچنيانو د مجلې د رپوټ په اساس په ۱۹۵۴ ميلادي کال کې په شوروي اتحاد کې يوسلو شل زره(۱۲۰ زره) تازه کتابونه د کوچنيانو له پاره چاپ شوي دي.» (جعفر حسنی رخ، ادبيات کودکان، ۱۳۴۳، ص ۶)

وروسته بيا د کوچنيانو د روزلو او ادب په برخه کې نورو هيوادونو، د پاسنيو يادو هيوادونو تجربه پسې تعقيب کړې. او اوس اوس د هر هيواد د ټولنيز، فرهنګي او اقتصادي ژوند د پرمختيا او وروسته پاتې والي او نورو ستونزو د شته والي او نه شته والي پر بنا د کوچنيانو روزلو او ادب ته د پاملرنې او نه پاملرنې اندازه ټاکل کيدای شي.
دغسې ليدل کيږي چې د کوچنيانو د ادبياتو تاريخ په نړيواله کچه هم ډيره مخينه نه لري او دې موضوع ته ډير وروسته د پوهانو پام اوښتی دی. نو په دې اساس ويلای شو چې د کوچنيانو ادب په نړيواله کچه هم يوه نوې پديده ګڼل کيږي.

په پښتو ادب او پښتني ټولنه کې کوچنيان داسې بې برخې دي لکه د الفت صاحب په «خيرات» نومي نثر کې چې ړوند او شل بې برخې وو. که پښتو ادب له هماغه لومړني لاس ته راغلي شعر نه را پيل کړو، کوچنيانو ته په ټاکلي ډول هيڅ داسې څه چې د هغه د هڅونې او پوهونې تکل دې په کې شوی وي، نه تر سترګو کيږي.
که د کوچنيانو د ادب دا تعريف چې: هغه څه چې د کوچنيانو له پاره په زړه پورې وي، ښه وي، سمه لار ورته وښيي، د هغوی هنري تنده او ذوق ارضا کړای شي او په راتلونکي ژوند باندې د دوی باور حاصل کړي، هغه د دوی ادب بلل کيږي، د منل شوي تعريف د نه شتون په صورت کې عجالتاً په نظر کې ولرو، د پښتو ادب له هماغه پيل نه تر لسمې هجري پيړۍ پورې يوازې څو اخلاقي نصايح ليدلای شو او بس. د زرغوني له بوستان څخه را پاتې يوازينی حکايت يوازې يو اخلاقي نصيحت ګڼل کيږي. دغه شعر د پټې خزانې له برکته تر موږ پورې را رسيدلای دی. څو بيتونه يې دا دي:

هــو پــوهانــو ځان ایري کړ
لــه لـویني یي ځان پري کړ
څوک چي ځان ته ګوري تل
خدای تـه نـه شي کـړای کتل
لــويي تــل پــه ګفتار نـــه ده
لــو خــبره پـــه كــار نــــه ده
تــواضع بـــه دي سر لوړ کا
تکبر بـــه دي تل ځـوړ کـا
(پټه خزانه، د محمد بن داود،دویم چاپ، د پوهني وزارت خپرونه،۱۳۳۹ کال، ۱۹۴مخ)

دا او دي ته ورته نصایح په هغه وخت کي ځکه د کوچنیانو په روزنه کي دومره اثر نه درلود چي سواد ډیر عام نه و چي د کوچنیانو روزلو ته دي د ادبیاتو له لاري پاملرنه وشي.
بیا د روښانیانو په دوره کي هم پرته له نصیحتونو، د پام وړ کوم شی نه تر ستر ګو کیږي. له دي را وروسته بیا د ملا الف هوتک «نصیحت نامه او بحر الایمان» ځکه د پام وړ ده چي له «بحرالایمان» نومي اثر څخه چي کوم یوازیني شعر د پښتانه شعرا لیکوال علامه حبیبي را نقل کړی دی، فرزند(زوی یا لور) ته په خطاب کي ویل شوی دی. په دي ترتیب:

راشه واوره ای فرزنده
تـا تـه وایـم ارجمـنـده
(حبیبي عبدالحی، پښتانه شعرا، لومړی ټوک، پښتو ټولنه، ۱۳۲۰ کال، ص ۷۶)

له دي دورو نه چي لږ وړاندي قدم کیږدو، د خوشال زماني ته رسیږو او د چا خبره لږي لاږي مو تیریږي.ځکه چي د خوشال په منظومو او منثورو آثارو کي د ماشوم څیره ګورو. هلته ګورو چي څنګه د ده په آثارو کي د ماشومانو ژوند اوروزلو ته پام شوی دی.
خوشال په خپلو آثارو کي ځای، ځای د کوچنیانو د زوکړې، ښووني روزني، لویدو او په راتلونکي ټولنه کي د هغو د سیاسي او ټولنیز دریځ په باب بحثونه او خبرې کړې دي چي ځیني یي لکه د تیرو شاعرانو په شان اخلاقي نصایح دي او ځیني یي په ربښتیا دهغه وخت د شرایطو او غوښتنو له مخي د کوچنیانو د روزلو له پاره اړیني خبرې دي.
که د خوشال د لاس ته راغلو او چاپ شوو آثارو له لوستلو وروسته د هغه د ښووني روزني فلسفي ته ځیر شو، هلته لیدل کیږي چي خوشال د کوچني د زیږیدو، لویدو، خوراک، څښاک، پوشاک، ښووني روزني او د ماشوم ژوند او په پای کي د هغه لیک لوست او ادب ته په خپل وار سره اشاري کړې دي.
د خوشال په آثارو کي تر ټولو د پام وړ اثر چي د کوچنیانو په باب بحث او خبرې په کي راغلي دي، هغه دستار نامه ده. زه د خوشال دستار نامي ته د هغه وخت د پښتنو اساسي قانون وایم.
خوشال په دستار نامه کي د یو مشر له پاره هغه ځانګړني په نښه کړي دي چي د هغو په لرلو سره یو شخص کولای شي د قوم، اولس او یا ټولني مشري وکړي. خوشال د مشرۍ ټولي ځانګړني په دستار نامه کي را ټولي کړې دي.
په دستار نامه کي د نثر په ژبه یوه مقدمه، شل هنرونه، شل خصلتونه او یو خاتمه راغلي ده چي د هغه وخت د ټولني او حکومتدارۍ ښه هنداره یي ګڼلای شو. خوشال د نوي نسل او په راتلونکي ټولنه کي د هغو د رول د مهموالي په خاطر د دستار نامي په شلو هنرونو کي یو هنر(دولسم هنر د اولاد دتربیت) د ماشومانو له پاره ځانګړی کړی دی.

خوشال په علمي ډول د کوچنیانو روزلو ته له هماغه لومړني پړاو نه چي حتی د اوسني وخت غوښتنه هم ده، د پام کولو غوښتنه کوي. خوشال وايي له هغه وخت نه چي د ماشوم وجود د مور په نس کي د جوړیدو په مرحله کي وي، باید روزلو ته یې پام وشي:
«اولاد یا زوی وي یا لور، خو چي عورتینه په فرزند ډکه شي، نور یې تربیت لازم شي.»
(خټک خوشالخان، دستارنامه، پښتو ټولنه، ۱۳۴۵ل کال، ۶۵ـ ۶۶ مخونه)

خوشال په دستار نامه کي د همدې دولسم هنر په ترڅ کي د ماشوم د لیک لوست د پیل کیدو توصیه داسي کوي:«... چي د څلورو کالونو شي، څلور میاشتي څلور ورځي، په لوستن دي کینوي ...»

(خټک خوشالخان، دستار نامه، د پیښور چاپ، ۱۹۹۱ م کال، ص ۱۲۵)

خوشال لا هغه وخت د کوچنیانو د لیک لوست په برخه کي لکه د اوسنیو غوښتنو پر اساس ټینګار کوي چي د لیک لوست په برخه کي دي کوچني سره زور زیاتی نه کیږي:
«... چي اوستاد لره ورشي، په اول سبق یې مور پلار وبښل شي. معلم دي ورسره هنر کا چي آزار یې نه کا، د ده په زړه دي ور سره چلیږي. که هلک عالي فطرت وی، تر اوه کاله پوري سواد خوان شي ... تمام عمر که د تحصیل په کار کي تیریږي، سعادت دی او که نه دا هومره چي وکښل شول، دا خو دې وي»

(دستار نامه، د پیښور چاپ، ۱۲۵ـ ۲۶ مخونه)

خوشالخان د دستار نامي د همدې هنر په بل ځای کي د کوچني په روزنه باندې د ټولني د اثراتو په باب داسي فرمايي:

«د هلک زړه لکه سپین کوره کاغذ هسي دی. هر چي پرې وکښي، هغه حرف پرې پریوزي. د اشرارو د صحبت اثر پرې وشي، اشرار شي، چي د اخیارو د صحبت اثر پرې وشي، اخیار شي.»

(دستارنامه، د پیښور چاپ، ۱۲۷مخ)

خوشال په دستار نامه کي د ټولو مروجه علومو د زدکړې سپارښتنه کوي او په ټینګار سره وايي:«... تمام عمر که د تحصیل په کار کي تیریږي، سعادت دی او که نه دا هومره چي وکښل شول، دا خو دې وي ...»

(دستار نامه، کابل چاپ ۶۶ـ ۶۷مخونه)

له دستار نامي نه علاوه د خوشال په منظومورو آثارو کي هم د کوچنیانو یادونه شوې ده او دهغوی له پاره څه اخلاقي، تربیتي، لاربښووني شته. دغه رباعي یې ښه نمونه کیدای شي:

**چي علم وکړې، عزیزه زویه**
**فهم پـه علم، په عمل بـویـه**
**کـمکه ونـه، بـار داره ښه ده**
**نـه پلنه ونـه، بې بـاره لـویه**

د خوشال په آثارو کې د هغه وخت او چاپيريال له غوښتنو او شرايطو سره سم ماشومانو او کوچنيانو ته پاملرنه شوې ده او حتی ويلای شو چې لا ډير. هغومره چې خوشال ماشوم او کوچني ته ، دهغه روزلو اوسواد زدکړې ته، د هغه غوښتنو او پوښتنو ته پاملرنه کړې ده، د ده هيڅ هم مهالي شاعر او ليکوال نه ده کړې او حتی له ده نه ډيره موده وروسته هم د ده په اندازه پاملرنه هيڅ شاعر او ليکوال نه ده ورته کړې.
له خوشال نه وروسته د لويو شاعرانو لکه رحمان بابا او حميد مومند په شعرونو او آثارو کې يوازې د اولاد، فرزند يا زوی نومونه ياد شوي دي او يوازې په نصيحتونو يې بسنه کړې ده.
له هماغه پيل نه بيا تر معاصرې دورې پورې موږ نه شو کولای چې دا ډول نصايح د کوچنيانو د ادبياتو تر سر ليک لاندې فهرست کړو. د دې نصيحتونو ډيره سلنه د کوچنيانو ميندو او پلرونو ته يو لړ نيمګړې لارښوونې دي چې کوچنيان له هغو څخه په نيغه ګټه نه شي پورته کولای، هيڅ ډول هڅې ته يې نه شي چمتو کولای، نوځکه ورته په زغرده د کوچنيانو ادبيات نه شو ويلای.
په دې ډول د کوچنيانو د روزنې او ادب په باب خبره را رسيږي معاصرې دورې ته، يعنې د چاپ د صنعت د رامنځ ته کيدو دوران ته او له چاپ سره سم د ماشومانو له پاره د ځانګړو خيرونو رامنځ ته کيدو ته، چې په معاصره دوره کې د اخبارونو له چاپ سره په ريښتيني توګه د کوچنياو ادبياتو خپل لومړني ګامونه پيل کړل.
په افغانستان کې د کوچنيانو ادبيات هيڅکله د يوې جدي او د پام وړ موضوع په ډول مطرح نه وه او نه ده. که په افغانستان کې د مطبوعاتو د رامنځ ته کيدو له وخت نه بيا تر نن پورې چې د کو چنيانو ادبيات وڅيړل شي، يا به هيڅ نه وي، که وي هم ډيره ډير لږ او په نشت به حساب وي.
د کوچنيانو د ادبياتو په باب څه باندې ديرش کاله پخوا ما کار پيل کړ. د شپيتمې لسيزې په پيل کې دغې تشې ته زما پام شو. متې مې بډ وهلې او کار مې پيل کړ. په خپله کورنۍ کې دننه او د باندې له کورنۍ نه مې موضوع له ځينو قلموالو، مشرانو او استادانو سره شريکه کړه. ځينو زړه سواندو و هڅولم چې ډيره په زړه پورې، نوې او اړينه موضوع ده، کار او څيړنه بايد پيل کړم.
هماغه و چې کار مې پيل کړ. نه مې رسمي دولتي کتابتونونه پريښودل او نه شخصي، چيرې مې چې د کوچنيانو د ادب په باب د موادو او آثارو پته لګوله ورتلم به، ياد داشتونه به مې اخستل او خپل نظر او تبصرې به مې ور باندې ليکلې. ۱۳۶۵ کال کې مې د هغه وخت د امکاناتو او لاس لرلو موادو په رڼا کې خپل کار بشپړ کړ. څو رسمي موسسو ته مې کتاب د چاپ له پار ور وړ. چا نيغ په نيغه د «نه» ځواب راکاوه او چا په نن سبا غولولم.
کتاب اصلا بايد د افغانستان د ليکوالو ټولنې د کوچنيانو ادبياتو څانګې چاپ کړی وای، خو د هغې اداري مسولينو را ته و ويل چې د اوس له پاره د دې موادو چاپ ته موږ اړتيا نه لرو. په پای کې د ځينو دوستانو په څو ځلې هيلې او ټينګار سره او د ښاغلي اکبرکرګر په خاصه پاملرنه چې هغه وخت د چاپ او خپرونو د دولتي کوميټې رييس و، د همدې کوميټې له خوا په ۱۳۶۶ کال کې چاپ اوخپورشو.

زه دا دعوا نه لرم چې دا کتاب به هيڅ ډول نقيصه ونه لري او بشپړ به وي. د دې اصل پر بنا چې:«چيرته چې کار شته، هلته تير وتنه هم شته»، خامخا به زما په اثر(د کوچنيانو ادبيات) کې هم تير وتنې وي، خو دا په جرآت او مسوليت سره ويلای شم چې د هغه وخت د شته موادو او امکاناتو په چو کاټ کې ما خپله خواري تر وروستۍ پولې پورې، تر هغه ځايه چې زه پوهيدم، تر سره کړه.
کله چې کتاب له چاپه راووت، ما د هماغه کال مطبوعاتي جايزې ته هم کانديد کړ او داډه وم چې ډيره نوې موضوع مې را سپړلې، څيړلې او نوې مواد مې د څيړنې او تحقيق ډګر ته را ايستلي دي او د دولت او فرهنګيانو پام مې داسې يوې موضوع ته اړولی دی چې ډيره اړينه او

ضروري ده، نو خامخا به لومړۍ درجه مطبوعاتي جایزه ګټم، خو د جوایزو په کومیټه کې ناستو ښاغلو د هغه وخت د ځینو شاید سلیقوي یا سیاسي ملحوظاتو په نظر کې نیولو سره ماته دویمه درجه مطبوعاتي جایزه و ټاکله، خو زما پام دومره جایزې ته نه و، لکه د کتاب خپریدو ته چې و.




**د دې خبرې یادول اړین ګڼم چې د مقالو دغه سلسله (د کوچنیانو ادبیات، تاریخي پس منظر، اوسنی حالت) چې ما (آصف بهاند) پیل کړې ده، زما د پاسني یاد کتاب (دکوچنیانو ادبیات، لومړی ټوک) بیا ځلي خپرول نه دي، بلکې په دې مقالو کې زما موخه او هڅه دا ده چې د کوچنیانو دادبیاتو د تاریخ په رڼا کې اوسنی حالت وڅیړم، شوي کارونه معرفي کړم، امکانات یې وپلټم او شته ستونزې په نښه کړم، د حل لارې ورته پیدا کړم.**

د مقالو په دې سلسله کې زه له خپل کتاب نه چيرې چې لازمه وه، نقل قول به کوم، او ځينې مواد به د استناد په ډول ورنه را اخلم، خو دا د دې مانا نه رسوي چې زه د کوچنيانو د ادبياتو په باب د خپلو هغو تيرو خپرو شوو موادو د بيا خپرولو هڅه کوم.

# د افغانستان په مطبوعاتو کې
# د کوچنيانو ادبياتو ته يوه لنډه کتنه

اوس راغلو د کوچنيانو ادبياتو ته او په اوسني وخت کې د کو چنيانو خوار حالت ته چې څومره د دولت اوحتی قلموالو له پامه لويدلي دي.
که د افغانستان د مطبوعاتو تاريخ ته سر ور ښکاره کړو، هلته ليدل کيږي چې په رسمي خپرونو کې د کوچنيانو له پاره د دوی د ادب په نامه لومړنی نښي نښاني په ۱۲۹۷ کال کې د سراج الاخبار په پاڼو کې د «سراج اطفال» په نامه را څرګنديږي.
محمود طرزي د نورو ډيرو نوښتونو تر څنګه دا نوښت هم وکړ چې آن په هغه وخت کې يې په خپرونو کې کوچنيانو ته او د کوچنيانو ادب ته پاملرنه وکړه او د هغه وخت په خپرونو کې يې ځای ورکړ. محمود طرزي له يوې خوا د سراج الاخبار تر څنګه کتابونه خپرول، له بلې خوا يي د دې جريدې په څنګ کې «سراج اطفال» ته هم د چاپ او خپريدو زمينه برابره کړه. «سراج اطفال» په هرو پنځلسو ورځو کې يو وار د سراج الاخبار تر څنګه خپريده. مطالب يې ټول د محمود طرزي له نظره تيريدل او بيا چاپ ته ليږل کيدل. محمود طرزي د «سراج اطفال» د يوه مضمون په ترځ کې، د کوچنيانو د دې خپروني هدف داسې په ښه کړی دی:«... سراج اطفال تاسو له نويو علومو او فنونو څخه په روزنه او ادابو کې، په عاقلانه ډول خبروي. د درس زده کوونکو ټکو او ګټورو حکايتونو په وسيله ستاسې دماغونه روښانه کو... سراج اطفال د ښوونځي په درسونو کې تاسې سره مرسته کوي ...» (آصف بهاند، د کوچنيانو ادبيات،۴۱ مخ)

هغه څه چې په هغه وخت کې د کوچنيانو په ژبه او د دوی له ذوق او سويې سره برابر خپريدل، اوس يې هم موږ نه لرو. د سراج اطفال په لومړی ګڼه کې ليکوال ښه هنرمند او بر لاسی ښکاري، د سراج اطفال له خولې غږ را باسي او سراج اطفال په خپله له کوچنيانو سره خپله خبرې کوي. په هغه وخت کې چې زه د خپل کتاب (د کوچنيانو ادبيات) په ليکلو بوخت وم، ما وکولای شول چې د سراج اطفال کليکسيون پيدا کړم. د سراج اطفال په لومړی ګڼه کې، سراج اطفال له کوچنيانو سره د زړه خواله کړې ده، دا خبرې لږې اوږدې دي، خو د کوچنيانو د ادبياتو په تړاو ډيرې په زړه پورې دي او لوستل يې ګټور. سراج اطفال خپلې خبرې داسې پيل کوي:
«سراج اطفال را په خواننده ګانش کې شناسايي خواهد داد، مګر خودش. برادران! من يک نهالک نو نشانده باغبان معرفتم، مرا دريابيد، ميوه های شيرين علم ومعرفت را ربابيد.
اولاد وطن! من يک چراغک نو روشن شده «عصر سراجيه» ام، روغنم انوار حکمت است، مرا در هر جايکه بيابيد، بګيريد، روشني فکر پيدا کنيد.
شاګردان عزتمند! من يک ذره ام که آفتاب حقيقت در من جلوه نموده است. از من نور ربابيد، تا به آفتاب حقيقت رسيد. اطفال نونهال! استقبال آمال وطن نماييد ... برای رهنمايي شما به علم وحکمت افروخته است، من از شمايم، شما هم از من شويد. يعني از من رو متابيد، مرا بخوانيد. به زبان ساده طفلانه ی شما، با شما سخن می ګويم. تا ميتوانم در آساني آموزش شما کوشش می ورزم. چنانچه آقای کلانم (سراج الاخبار افغانيه) در راه روشني افکار پدران عرض معلومات می کند، سراج اطفال عاجز نيز در راه خدمت و دانايي شما اطفال می کوشد.

از علم ها و فن های نو، از تربیه و اداب عاقل شنو، به نکته های درس آموز و حکایت های فایده اندوز و دماغک های کله کک های کوچک شما را نوازش و دلاسا کرده؛ تازه ګي،نوي، خرمي، شادابي میدهد. شما را در یک زنده ګاني علمي و به یک غذای فني عادت میدهد.» (تیر اثر، ۴۱ – ۴۲ مخونه)

استاد عبدالهادي داوي په قول، سراج اطفال تر شپاړسمي ګڼي پوري خپلو خپرونو ته دوام ورکړ او بیا یې د ځینو خاصو شرایطو له کبله خپریدل وځنډیدل. (تیر اثر، ص ۴۳)

په دې ډول ګورو چې چې سراج اطفال په هغه وخت او هغو شرایطو کې زموږ د هیواد د کوچنیانو په روزنه کې د قدر وړ برخه اخیستې ده او په خپلو همغو لومړنیو موادو سره یې د کوچنیانو ادب لومړنۍ زمینې برابرې کړې دي.
د طلوع افغان په پاڼو کې هم دې ته ورته مطالب تر سترګو کیږي. د طلوع افغان د ۱۳۱۶ کال د دلوې د میاشتې د دوه ویشتمې نیټې په ګڼه کې د «اوسني هلکان، وروستني پلرونه دي» تر سر لیک لاندې، یوه مضمون سره مخامخ کیږو چې د کوچنیانو روزنه د ترقي او پرمختګ د عیني شرایطو په نظر کې نیولو سره څیړل شوې ده. د دې مضمون په یوه برخه کې راغلي دي:
«... ځینې سړي تل زیار کاږي چې خپل کوچني زامن او هلکان سم پر خپل فکر او خپله غوښتنه وروزي، مګر دا فکر ډیر بې اساسه او غلط دی. نن ورځ زموږ په لاس کې ده چې لویان یو، سبا ورځ پر نن نه قیاسیږي، هر وخت بیل مقتضیات، بیل کارونه او جلا جلا لوازم لري ... نو زموږ هلکان هم بنایي د نوې زماني له پاره سړي(لویان) سي ...» (تیر اثر ،ص ۴۵)

د طلوع افغان ډیرې مضامینو تربیتي بڼه درلوده.
په دې ډول د هغه وخت په چاپي خپرونو کې د کوچنیانو روزنې ته په عام ډول او د کوچنیانو ادب ته په ځنګځنې ډول کار پیل شوی و.
بیا وروسته له څو کلونو د همغو هڅو نه د تومنې اخیستو په ډول د ۱۳۳۹ کال په حمل میاشت کې د انیس نشراتي موسسې له خوا «د وړو انیس» په نامه جلا خپرونه راووته چې مسول مدیر یې عظیم رعد و. د شپیتمې لسیزې په پیل کلونو کې چې کله ما «دکوچنیانو ادبیات» نومې اثر له پاره د کابل د کتابتونونو ګرد وهلې کلکسیونونه لټول، ما ونه شو کړای چې «د وړو انیس» کومه ګڼه پیدا کړم. یادونه یې د انیس په ورځپانه کې شوې ده.
دا دې یاده وې چې د زیري په جریده کې هم د کوچنیانو له پاره یو ځای ځانګړی شوی و چې «د وړو ادب» نومیده. د زیري په جریده کې «دوړو دنیا» لړۍ د کوچنیانو د ادب د یوې پاڼې په توګه، د کوچنیانو د ادب په تاریخ کې د خاص ارزښت درلودونکی ده.
د کوچنیانو د ادب په تاریخ کې له زیري جریدې نه وروسته «د کوچنیانو غږ» میاشتنۍ را ووته. دغه مجله چې د هغه وخت د پوهنې وزارت له خوا چاپیدله، د کوچنیانو له پاره یې جالب ذوقي، سپورتي، تربیتي، معلوماتي او ادبي مطالب خپرول او تر ټولو جالبه برخه یې دا وه چې د کوچنیانو په خپل قلم لیکلي مطالب یې هم خپرول او د هغو د تشویق له پاره به یې د کوچنیو لیکوالو عکسونه هم خپرول. د بنه والي دلیل یې دا ګڼلی شو چې تیرو تجربو ته یې په پام سره، نوې غوښتنې په نظر کې نیولې.
له دې نه وروسته بیا د انیس نشراتي موسسې «د کوچنیانو انیس» په نامه بله مجله را ویسته چې د تیرو خپرونو په څیر ماشومانو ته مطالب په کې خپریدل. په دې پسې بیا «دکمکیانوانیس» را ووت چې هماغه د کوچنیانو انیس لار یې تعقیبوله. په دې دوو ورستیو خپرونو(د کوچنیانو انیس، دکمکیانو انیس) کې د ادبي مطالبو تر څنګ ساینسي مضامین هم خپریدل.
دغه راز ځینو نورو خپرونو هم په خپلو پاڼوکې د کوچنیانو له پاره پاڼې ځانګړې کړې وې چې د هرې یوې څیړل جلا وخت ، جلا مقالو او آن د کتابونو لیکلو ته اړتیا لري.

# له ۱۳۵۷ کال نه پخوا

## د تر سره شوو کارونو بیلګې

د همدې مودې په اوږدو کې د کوچنیانو له پاره په آسانه او ساده ژبه ځینې کتابونه هم چاپ او خپاره شوي دي. دلته یې د نمونې له پاره د څو کتابونو نومونه یادوم:

ــ د همیش خلیل «آدم خان او درخانۍ» چې د آدم درخو مشهوره کیسه یې د کوچنیانو له پاره را لنډه کړې او په آسانه ژبه یې کوچنیانو ته برابره کړې ده چې په ۱۹۶۰ عیسوی کې دوه ځلې چاپ شوی دی.

ــ «اسلامي قصې» د حافظ محمد ادریس له خوا.

ــ پښتنی فولکلور، لیکوال یې سیال کاکړ دی.

ــ تربیتي کیسې، لیکوال: عبدالحمید مموزی.

ــ تعلیمي قصې، لیکوال: حافظ محمد ادریس،

ــ تنکی هیلې، درسي مرستندوی کتاب دی چې استاد خدمتګار بختاني د کوچنیانو په ژبه لیکلی دی.

ــ د کوچنیانو کتاب، لیکوال محمد حفیظ صحرایي. په ۱۳۳۹ کې د پوهنې وزارت خپور کړی دی.

ــ د لمر ترانې ، د افغانستان د لیکوالو ټولنې له خوا د کو چنیانو له پاره لومړنی شعري ټولګه چې په ۱۳۶۳ کې چاپ او خپره شوه. په دې کتاب کې د کوچنیانو له پاره د بیلابیلو شاعرانو شعرونه خوندي شوي دي.

ــ د وړکتوب دنیا ګۍ، د کوچنیانو له پاره د ښاغلي عثمان نژند د شعرونو ټولګه ده، په۱۳۶۳ کې خپره شوې ده.

ــ کاشکي زه کوتره واى، د کوچنيانو له پاره فولکلوريکي ترانې، د ليکوالو ټولنې له خوا چاپ او خپور شو. (بهاند، آصف، د کوچنيانو ادبيات، له ۱۳۵ ــ ۱۹۹ مخ پورې)

دغه راز دشوروي اتحاد د ځانګړو نشراتي موسسو له خوا هم په پښتو ژبه د کوچنيانو له پاره ډير کتابونه چاپ او خپاره شوي دي چې د څو نومونه يې د نمونې په ډول دلته يادوم:

## له ۱۳۵۷ کال نه وروسته تر جهادي واکدارۍ پورې

## د تر سره شوو کارونو بيلګې

په ۱۳۵۷ کال کې د رژيم او حکومت له بدليدو سره، او په ځانګړې ډول د ۱۳۵۸ کال په جدي کې د شوروي نظامي قواوو په راتګ سره، په بيلابيلو برخو کې، په شوروي اتحاد کې د چاپ شوو کتابونو ژباړې او زموږ هيواد ته يې د راوړلو او ويشلو پروسه هم ګړندۍ شوه. په دې کتابونو کې، هغه شمير کتابونه چې د کو چنيانو په ادبياتو پورې اړه درلوده، د ځانګړې پاملرنې وړ وو.
دا کتابونه يوازې د ښارونو په مرکزونو کې په وړيا ډول ويشل کيدل. کلو او باندو ته او د کلو ماشومانو ته د بيلابيلو دلايلو له مخې نه رسيدل او نه هم چا مينه ورسره درلوده. آن تر دې چې د در ګران او سون له پاره کارول کيدل. په هغه وخت کې چې ما «دکوچنيانو ادبيات» کتاب باندې کار کاوه، په کابل کې د دې کتابونو بازار ښه تود و. ما ته چې څومره په مخه راغلي دي، په خپل کتاب کې مې په لنډ ډول معرفي کړي دي، چې د يو څو نومونه يې دا دي:

ــ افسانوي آس، د پرو ګرس نشراتي موسسې په ۱۹۸۱ کال کې په پښتو ژبه خپور کړى دى.

ــ پيل، د رادو ګا نشراتي موسسې په ۱۹۸۴ کال په پښتو ژبه خپور کړى دى.

ــ د پرانګ خورځه، په ۱۹۸۱ کال خپور شوى دى.

ــ د دآنکو سوځيدونکى زړه، دا د ماکسم ګورکي اثر دى او د رادوګا نشراتي موسسې په ۱۹۸۳ کال خپور کړى دى.

ــ رسم شوې قصې، دا کتاب په ۱۹۸۱ کال د پروګرس نشراتي موسسې خپور کړى دى.

ــ سور چور ګوړى، په ۱۹۸۱ کال کې خپور شوى دى.

(بهاند، آصف، د کوچنيانو ادبيات، له ۱۳۵ ــ ۱۹۹ مخ پورې)

کله چې د کوچنيانو پر ادبياتو مې څيړنه کوله، ډيرو شخصي او رسمي کتابتونونو ته مې سر ور ښکاره کړ، ډيرو څيړنکو او د کوچنيانو د ادبياتو د برخې فعالينو سره مې ليده کاته وکړه. چا به سمه لارښوونه راته کوله ، ماخذونه به يې راته ښودل او د کتابونو او کلکسيونونو آدرسونه

به يې راته را کول او چا به په ډيرې بې تفاوتۍ را ته ويل: « بله موضوع نه وه چې کار دې پرې کړې واى چې له ځان نه دې ماشوم جوړ کړى دى او د ماشومانو په ترانو پسې ګرځې»

خو ما په حوصلې سره خپل کار تعقيباوه، تر څو مې د هغه وخت د امکاناتو په چو کاټ کې دا کار بشپړ کړ. ما د خپل کار په موده کې د کوچنيانو ادبياتو له پاره قلموال په دوو برخو وويشل:

١ــ د کوچنيانو د ادبياتو مسلکي ليکوالان،
٢ــ د کوچنيانو ادبياتو غير مسلکي ليکوالان.

البته په هغه وخت کې له مسلکي او غير مسلکي نه موخه دا نه وه چې مسلکي دې هغه چا ته ووايم چې د کوچنيانو د ښوونې روزنې، يا د هغو له پاره د څه ليکلو په برخې دې زدکړې کړې وي او يا له کوچنيانو سره د چلند او خبرو کولو په برخه کې د زدکړو خاوند کسان او يا د کو چنيانو د روان پيژندنې په برخه کې ماهرين، دا به مسلکي وي او پرته له دې زدکړو به غير مسلکي وي. داسې نه وه. په هغه وخت کې د مسلکي ليکوال له ليکلو نه زما هدف دا و چې مسلکي ښاغلو به په تصادفي ډول نه، بلکې په شعوري ډول کوچنيانو او د هغو ادب ته پام و او يو څه يې په عمدي يا شعوري ډول ورته کار کړى وي، چې هغه دا ښاغلي دي:

محمد عثمان نژند چې يوخوايي د مسؤليت احساس کړي او له بل پلوه يې وظيفه د ښوونې روزنې د تاليف او ترجمې يا د درسي کتابونو د ليکلو په برخه کې وه چې د وظيفې له مخې يې د ښوونځې د کتابونو له پاره د ماشومانو په ژبه ترانې ليکلې. کوچنيانو ته شعرونه، کيسې او کتابونه برابر کړي.
حبيب الله زړه سواند. چې يو نظامي صاحب منصب و، خو د خپلې شاعرۍ په څنګ کې يې په جدي پام سره د کوچنيانو له پاره هم کار کاوه.
دغه راز محمد جان فنا چې په اصل کې د نظامي برخې زدکړى و،خو د مسؤليت له مخې يې د کوچنيانو د روزنې او ادبياتو له پاره په څو برخو کې ډير مهم کارونه تر سره کړي دي. ده د ادبياتو له ساحې د باندې ډير پيچلي علمي او هنري مسايل د کوچنيانو په ژبه او د دوى له ذوق سره سم، د دوى له پاره برابر کړي دي. په هغو برخو کې چې دماشومانو له پاره محمد جان فنا کار کړى دى دا دي:
اقتصاد، رياضي، فزيک، هندسه، ارکيالوژي، الاهيات، اخلاق، پتالوژي، احصايه، بيالوژي، ارتوپيدي او نور اجتماعي او ساينسي مضامين. (د کوچنيانو ادبيات، ١٢٣ ــ ١٢٤مخونه)

څو نور ښاغلي چې ما په خپل کتاب کې د مسلکي تر سر ليک راوستي دا دي: صالح محمد کندهارى، استاد ګل پاچا الفت، شمس الدين مجروح، عبدالروف بينوا، سلطان محمد صابر، غني خان غني، سلطان فريدي، هميش خليل، احسان آرينزى او... (د کوچنيانو ادبيات، ١٠۴ ــ ١٢٠مخونه)

غير مسلکي مې هغه چا ته ويلي دي چې کله يې تصادفي د کوچنيانو له پاره کوم شعر ويلى او يا يې کوم نثر ليکلى يا يې د اماتور په ډول د کوچنيانو ادبياتو په ساحه کې کله قلم چلولى او کله غلي پاتې شوي وي. په هغه وخت کې يې ما داسې لست برابر کړى و:
سرور زى، شيوا، نجيب الله، نور الله لودين، ګرندى خوريانى، ريدى ژواک، ښادمن، ط بڼک، رحمان الدين اکبري، شير خان رښتين، ورمه رښتين، عتيق الله ولسيار، اجمل روهي، خوشال روهي، محمد آصف فهيمي، م نواب عبهر، محمد معصوم سهاک، ع حميد وردک، حميد الله اميني، تاتيوال، احمد بريڅى، محمد اسماعيل څربن، نور محمد، دوست محمد، بصير اميري، محمد ايوب علومي، وحيد، م متين، مصطفى جهاد، منت بار، عبدالغفار، زرغونه اياز ځاځى، زمرى کليوال، مهريه هوتکي، نانى، سعدالله وطن، ح ياسيني، فاطمه صيامي، غلام حضرت

همکار، رحمت، عبدالخليل سودايي، ، شاه محمود حصين، مجاور احمد زيار، حافظ محمد ادريس، سيال کاکړ، فاروق فردا، محمد نواز حقيقت، غلام حضرت روغمن شکيوال او...

(د کوچنيانو ادبيات، ۱۲۲مخ )

د کوچنيانو ادبياتو په برخه کې چې دا ليکوالان او شاعران ما په مسلکي او غير مسلکي ويشلي، ښايي ځينې ښاغلي ورسره موافق نه وي او ځينې به يې راسره ومني، چې تاييد يا ردول يې زما له پاره دومره مطرح نه دي؛ زما له پاره ډېره مهمه او د خوشالۍ خبره دا ده چې په هماغو شرايطو کې له هماغو امکاناتو نه په استفادې سره يو څوک پيدا شوي چې يا په تصادفي ډول يا په شعوري ډول يې د ماشومانو په باب فکر کړی او د کوچنيانو د ادبياتو په نامه يې يو څه د کاغذ پر مخ پياده کړي دي.
او س چې د يوويشتمې پيړۍ د دويمې لسيزې په نيمايي کې د تکنالوژۍ له دومره امکاناتو سره ژوند کوو، نولازمه ده چې هغه قلموال چې د کوچنيانو د ادبياتو په باب فکر کوي او څه تخليقوي، داسې څه دې وليکي چې هغه د کوچنيانو له پاره د درک او پوهيدو وړ وي، يعني ساده او د هغوی په ژبه ليکل ورته وکړي.
هغه ليکوال او شاعران چې کوچنيانو ته څه ليکي، بايد د کوچنيانو دنيا ته ور ننوزي، ځان هلته احساس کړي، کوچنی درک کړي او بيا د هغه له غوښتنو سره سم قلم وچلوي او داسې څه ورته وليکي چې کوچني ته د اوسنی زماني له غوښتنو او پوښتنو سره سم څه ورکړي، هغه څه ورکړي چې د کوچني په راتلونکي ژوند کې له هغه سره د لارښود په ډول مرسته وکړي.
ما ليدلي او ګورم يې، له هغې ورځې چې زه په ښه او بد پوه شوی يم، له هغې ورځې مې چې قلم چلول زده کړي دي، په تيره بيا له هغې ورځې مې چې د کوچنيانو په باب، د هغوی د روزنې په باب او د هغوی د دنيا او ادبياتو په باب فکر کړی؛ موږ ډېر وخت او امکانات له لاسه ورکړي دي چې اوس يې په ارزښت پوه خلک، حسرت او افسوس کوي، خو تش حسرت او افسوس کول څه ګټه نه کوي. موږ بايد له اوسنيو امکاناتو او ټولو تجربو څخه استفادې وکړو، په خپله کورنۍ او ټولنه کې کوچنيان وپيژنو، د هغوی روان او دنيا درک کړو او د نوي زمان له غوښتنو سره سم هغوی ته د کوچنيانو د ادبياتو په نامه داسې څه وليکو چې کوچنی د خيال او هوس له نړۍ نه ورو-ورو را وباسو او د ده په ژوند کې د راتلونکي نړۍ نه يې خبر کړو.
موږ بايد له کوچنيانو سره په خپل چلن کې ژور بدلون راولو. په ډېری افغان کورنيو کې ماشومان په ډار او تهديد ويده کولو ته اړ ايستل کيږي، چې دا د هغه په ذهن او راتلونکي ژوند باندې ژور منفي اثر برېباسي. هغه ته بايد د خوب په وخت کې کيسې و ويل شي يا ولوستل شي، خو زموږ په ټولنه کې ډېری کورنۍ د خراب اقتصاد له کبله، د سواد د نشتوالي له کبله او د نه پوهيدنې په وجه ماشوم باندې د خوب په وخت کې نه يوازې پټکي کوي، بلکې د راتلونکي ورځې د جبري فزيکي کار او نويو ستونزو يادونه هم ورته کوي او کوچنی د ستونزو له يوه درانه بار، روحي فشار، تشويش او ډار سره ويده کيږي.
په پرمخ تللو هيوادونو کې د ماشوم د پالنې، روزنې، خوب خوراک او هر څه له پاره امکانات برابر دي او له پروګرام سره سم تطبيقيږي هم. په دې دليل چې د ټولنې د پوهې کچه او د کورنيو او ميندو پلرونو د پوهې سطحه لوړه ده . کوچنی پيژني درک کوي يې او هر هغه څه چې ور ته اړين دي هغسې يې ورته برابروي او هماغسې ورسره کوي، خو زموږ په هيواد کې او زموږ په ټولنه کې په دې برخه کې يا قوانين نه شته او که کوم قانون وي هم، هغه څوک نه تطبيقوي او زموږ د ټولنې ماشوم ته او بيا زموږ د ټولنې کوچني او تنکي زلمي ته د پرمخ تللو ټولنو د امکاناتو دوه درې يا پنځه سلنه هم نه وي برابر او پر ټولنه باندې د ډېر پخوانې حاکم کلچر په دايره کې ماشوم او کوچنی د ژوند په داسې يو مجبور او تنګ چاپيريال کې را ګير کيږي چې کوچنی له فزيکي او رواني پلوه د تباهۍ کندې ته ور پورې وهل کيږي.

په دغسي یو منفي او بد چاپیریال کي د کوچني د جسمي ودي مخه نیول کیږي، د ذهني جوړښت تهداب یې خرابیږي او د هغه د راتلونکي ژوند د تباهی بنسټ ایښودل کیږي. کله چي کوچنی په دغسي یو جسمي او ذهني خراب حالت کي لوی شي چي د هغه د کوچنیتوب د حق دوه سلنه هم ور نه کړل شي، بیا نو هیڅ څوک حق نه لري چي له هغه نه د مثبت عمل او کومې ښیګڼي تمه ولري. نه مور پلار، نه کورنۍ او نه هم ټولنه.
په هغو هیوادونو کي چي د ماشومانو اوکوچنیانو په ارزښت پوهیږي، کوچني ته او د هغو ادبیاتو ته دومره پاملرنه شوې چي د نوې ټکنالوژۍ د نویو امکاناتو په چوکاټ کې، که په کمپیوټر کي یوازې ولیکل شي:«د کوچنیانو ادبیات» او کلیک شي، د کوچنیانو له پاره په سل ګونو او لا زر ګونو کیسي او شعرونه تر لاسه کیدای شي. په یادو هیوادونو کي د کوچنیانو په مورنۍ ژبه په سل ګونو کارټوني فلمونه او نور امکانات شته دي.
دا ټول د دې ګواهي ورکوي چي په هغو ټولنو کي ماشوم، کوچنی او د هغو نړۍ او روان پیژندل شوې او درناوی یې کیږي، د پالني او روزنې لازم چاپیریال ورته برابریږي، د هغوی له عمر او غوښتنو سره سم اړین کتابونه، کیسي او فلمونه ورته برابریږي. دا په حقیقت کي د هغو ټولنو هغه پانګونه ده چي راتلونکو نسلونو او راتلونکو ټولنو له پاره یې کوي. سم یې روزي چي په راتلونکي کي یو سالم او روغ کارګر، پوه انجنیر، سم ښوونکی، زیرک طبیب ... او په وطن او خلکو مین رهبر ولري.

پخوا له دې چي په افغانستان کي جګړه او له جګړي نه را زیږیدلې سونامي ګاني پیل شي، د کوچنیانو ادبیاتو ته د هغه وخت د پوهي او امکاناتو په چوکاټ کي پاملرنه شوې وه. کوچنیانو خپروني درلودې، کیسي او شعرونه ورته چاپیدل، ځانګړې مجلې یې درلودې او په راډیو افغانستان کي د کوچنیانو په نامه مطالب خپریدل او د کوچنیانو د روزلو په نامه ټاکلی وخت ورته ځانګړی شوی و.
زما د خپل تنکي زلمیتوب وخت په یاد دی چي راډیو د کوچنیانو د پروګرام نه علاوه، ماښام مهال د ماشومانو د ویده کیدو په وخت کي د ماشومانو په ژبه، په ډیر خوږ او مهربانه انداز سره د پنځو دقیقو له پاره د کوچنیانو د آرامه ویده کیدو په غرض یوه کیسه خپروله او زه خپله سره له دې چي د کوچني دوب دوره مي نوره پای ته رسیدلې وه، خو دې کیسو دومره خوند راکاوه چي ما به ټول کارونه پریښودل او دماشومانو او کوچنیانو په ډله کي به ورته ناست ومه او غوږ به مي ورته نیوه او حتی د هغو کیسو په فکو او خیال کي به ویده کیدمه، خو اوس...
د ظاهر خان او داود خان د واکمنۍ په وخت کي، په هماغه وروسته پاتي زمانه کي او د ډیرو لږو امکاناتو نه په استفادې سره د کوچنیانوغم تر یوې اندازې خوړل کیده. یعني هیر نه وو، خو د سرو، شنو، سپینو او اوس لا تورو بادونو له را الوتلو سره سم د کوچنیانو له پاره هغه پروګرامونه، فکرونه او پلانونه لاړ په اوبو لاهو شول. د کوچنیانو پروګرامونه لا څه کوې چي خپله کوچنیانو باندې څه راغلل او څه به ور باندې راشي. د ادبیاتو اوروزنې غم خو نه شته چي نه شته، د یوې مړۍ ډوډۍ او ژوندي پاتې کیدو سوال یې را مخته شوی دی.
د ظاهر شاه او دواود خان د واکدارۍ په زمانه کي د کوچنیانو له پاره ټاکلي چاپي خپروني او په راډیو کي د کوچنیانو له پاره له ټاکلی پروګرام نه علاوه، ماښامنۍ کیسي اورول کیدې. پخوا یې زما د کار کوونکو نومونه لا په یاد وو، خو اوس مي یوازې د آغلي ستاره امیني نوم په یاد ده، هغه هم بل چا را په یاد کړ.
کله مي چي د کوچنیانو د ادبیاتو د مقالو پر همدې لړۍ او همدې برخي باندې څیړنه کوله، د ستاره امیني نوم مي هم هیر شوی و، نو مي لطیف لالا(ډوکتور لطیف بهاند) ته په چټ کي ولیکل:
سلامونه،پخوا له انقلاب نه په راډیو کي یوه میرمن وه چي د ماښام له خوا به یې د پنځو د قیقو له پاره ماشو مانو ته د ماشومانو په ژبه د خوب په وخت کي کیسي کولې، هغه څه نومیده؟
هغه بیرته راته داسي ولیکل:

«سلامونه ، يوه خو ستاره اميني وه او لږ بوډۍ زليخا فخري. له هېواد دوسته هم وپوښته. هغه کله کله د ماشومانو خپروني ته ورته.»
بيا مې پر کاره فرهنګي، ښاغلي يوسف هيواد دوست سره د تيليفون له لارې دا موضوع مطرح کړه او ورياده مې کړه چې د ستاره اميني کيسه کول دې په ياد دي که نه؟
هيواد دوست صاحب لطف وکړ او له ستاره اميني نه ور وړاندې يې څه نور خلک را ياد کړل او په دې باب يې مفصل ځواب را کړ. لنډيز يې په دې ډول دی:
«په ۱۳۴۶ او ۱۳۴۷ کلونو کې د سالار زي په نامه ځوک و چې د ماشومانو له پاره به يې کيسې کولې،
بله ميرمن ظريفه نوميده چې د وړو له پاره به يې نصيحت ډوله کيسې او نکلونه برابرول او اورول،
وروسته بيا کاکا منجاني را پيدا شو چې همدا اوسنی مرزا قلم يا استاد امان اشکريز دی چې د ماشومانو په ژبه به يې دوی ته خوږې کيسې کولې،
بيا د وياند په نامه هم چا کيسې کولې،
بيا بل ځوک راغی چې طوطاخيل نوميده او همدا د کوچنيانو پروګرام يې چلاوه،
وروسته بيا صايمه مقصودي راغله او څه موده يې دا پروګرام وچلاوه،
بيا همدا ستاره اميني راغله او ښايسته ډېره موده يې په ډېره ښه وجه د ماشومانو د کيسو پروګرام پر مخ بيوه،
له ستارې نه وروسته بيا خپله ماشومانو ته وخت برابر شو او تمثيل به يې کاوه او په خپل غږ او هڅو سره يې د کوچنيانو د خوښې وړ مطالب برابرول او خپريده به.»

# د تنظیمي انارشۍ راتګ
# او
# د کوچنیانو د ادبیاتو برخلیک

د ټوپکي ناورین له پیل نه وروسته، د کوچنیانو ادبیاتو لکه نورو ټولنیزو بنسټونو داسي صدمه ولیده چي اصلاً د صحنې او میډیا له مخ نه لرې کړای شول. د کوچنیانوادبیات څه چې خپله کوچنیان د تباهۍ کندې ته ور پورې وهل شول. تر دې بریده ضربه ورکړل شوه چې ځینو څیرونکو د کوچنیانو د ادبیاتو بد حالت د انځورولو په ترڅ کې وایي چې اوس ماشومان د بزګ چیني کیسه نه پیژني. د کوم پلار یا کومې مور که په یاد پاتې وي، ښه و تر ښه که نه ... او لږ د کوم کوچني په یاد پاتې وي نو د اوسنیو جګړو او ټوپکي حاکمیت له کبله بزګ چیني د ماشومانو هیر دی یوازې یې د بزګ چیني د کیسي داړونکی لیوه په یاد دی او ...

له ۱۹۹۲ م کال نه وروسته د افغانستان په تاریخ کې د یو نوي ناورین په پیل کېدو سره، تر ۲۰۰۲ کال پورې د ننه په افغانستان کې د کوچنیانو ادبیاتو په برخه کې هیڅ هم نه دي شوي.

له ۲۰۰۲ کال له پیل سره سم کله چې دامریکایي او غربي دیموکراسۍ پیښې پیل شوې، د کوچنیانو د ادبیاتو په برخه کې یو څه شخصي او څه هم رسمي حرکتون شوي دي چې هغه هم تر ډیره له ناکامۍ سره مخ شوي دي. هغه خوب، خیال او پلان چې ځینو قلموالو او فرهنګیانو د ماشومانو او کوچنیانو د روزلو او په ځانګړې ډول د کوچنیانو د ادبیاتو د بیا رامنځ ته کولو له پاره درلود، په ټولنه کې د بد نظامي او سیاسي حالت د حاکمیدو او ټولنه باندې د فقر، بیسوادۍ او جهالت د توري پردې د غوړیدو په وجه د تطبیق وړ نه و او نه دی.

هغه شرایط چې په اروپا کې د یو ماشوم د پالنې، تغذیې، صحت او روزنې له پاره په نظر کې نیول شوی او عملاً تطبیقیږي، د هغه دوه سلنه زموږ په هیواد افغانستان کې نه شته او نه هم تطبیقیږي. دا حالت دا تریخ واقعیت باید سترګو ته ودرو چې ماشومان او کوچنیان چې له هره اړخه وکتل شي، حقونه یې نه ورکول کیږي، ظالمانه چلن ورسره کیږي، خوار او بیوزلي دي.

زموږ په ټولنه او زموږ په هیواد کې د کوچنیانو ادبیات هم داسي خوار، بیوزلي، تپي او بې ارزښته دي، لکه زموږ ماشومان او کوچنیان. نه مینډي پلرونه وربانديې لازم پام کوي، نه ټولنه، نه دولت او نه هم قلموال او فرهنګیان.

زموږ د ټولنې ډیری خلک د یو ویشتمې پیړۍ د دویمې لسیزې په نیمایي کې، د خپلو څو سو کلونو مخکې نیکونو په فکري تابوت کې تنفس کوي. جسماً په اوسنۍ زمانه کې دي او د دې خلکو روزي او امکانات مصرفوي، خو فکراً د څو سوه کاله پخوا فکري چوکاټ کې یې ځانونه بندیان کړي دي.

په دغسي يو فکري حالت کي چي زموږ د ټولني د پام وړ سلنه خلک راګير دي او ژوند په کي کوي، څنګه کولای شو چي ځان، نوی نسل او خپل کوچنيان د نوي ژوند له کاروان او غوښتنو سره همنوا او يو ځای کړو او پرمخ ولاړ شو؛ او که داسي ونه شي او يا ښه ده ووايم:

که داسي ونه کړای شو، طبعي ده چي دا خلک، دا ژبه، دا کلتور، دا نوی نسل، خاصتاً ماشومان، کوچنيان او هر څه د تباهی کندي ته ور نږدي کيدونکي دي. د همدغسي طرز فکر او په ټولنه او روان ژوند کي د همدغسي وګړو د موجوديت په سبب، همدا اوس هر څه، په تيره نوی نسل د بر بادی او يو پنا کيدو د کندي پر څنډه ولاړ دي.
دا و په تيرو وختونو کي (پخوا له ټوپکي حاکميت نه) د کوچنيانو د ادبياتو او د هغو د ژوند ته د پام کولو لنډ جاج. رابه شو اوسني وخت ته، هغه وخت ته چي رژيم په رښتيني بڼه واوښت، رښتيانی بدلون راغی، د خلکو او ټولني د ژوند په ټولو برخو کي ژور بدلون رامنځ ته شو او له دې سره سم د افغانستان په ټوله خاوره باندې ټوپکي انارشي حاکمه شوه.
کله چي د قلم په ځای د ټوپک شپيلی سُر شي، هلته به بيا نو د ژوند څه حال وي، د فرهنګ به څه حال وي، د ادبياتو او بيا د کوچنيانو او د هغوی په باب فکر کول او د هغوی روزنه او ادبيات به څه حال ولري؟
له ۱۹۹۲ کال نه تر ۲۰۰۱ پوري چي د هر ډول قانون پر ځای د ټوپک او پاټک حکم چليده او د رښتيني مشر او رښتيني سياستوال پر ځای، ټوپکوالو او پاټکوالو حکم کاوه؛ نو د ټولنيز ژوند د هيڅ برخي په باب باید د ښيګڼي فکر، د ښيګڼي ذکر او يادونه ونه شي. بس هري خوا ته چي مخ اړول کيږي وژني، اور، دود، باروت ، چاودنه ... مړي او دمړو خښنول.
په داسي حالت کي عاطفي کډه وکړه، ځای يې ظلم او نفرت ونيو، د خلکو په ذهنونو کي د ادبي هنري ذوق په ځای د جګړې د اور وړانګې، د باروتو دود او د وينو بوی ځای پر ځای شول.
خلک د ښو غږونو، ښو سندرو او موزيک پر ځای د ډول ډول وسلو له غږونو سره عادت شول او په دې ډول د نازولو پر ځای وسکوندل شول، وزوروول شول او و وژل شول او ژونديو پاتي خلکو ته داسي رواني ستونزې په ميراث پاتي شوې چي اوس يې ډيری د ليونيانو په شان دتيرو ناراوو په يادولو سره يوه ټکي ته يو يا دوه ساعته ګوري، ته وا خپله ورکه په کي لټوي.
په دې دوره کي نه يوازې د ماشوم ادبيات نه دي تخليق شوي او نه يوازې د ماشوم له پاره څه نه دي شوي، بلکي د هغو په عادي حقوقو هم تيری شوی دی. څومره ماشوم ته پاملرنه وشوه څومره پاملرنه ورنه واوښته يعني ښه هم ورته بد شول. دلته به يې لږ وشميرو چي په دې موده کي نه يوازې د کوچنيانو له پاره زموږ په ټولنه کي کوم مثبت ګام نه دی اخستل شوی، بلکي د هغوی حقوق مو د خيانت تر پولي تر پښو لاندې کړي دي. د کوچنيانو په حق کي شوي ظلمونه چي په دې موده کي په ميډيا کي ثبت شوي دي، يو څو بيلګې يې دا دي:

- **جګړو ته اړ ايستل،**
- **انتحاري ته چمتو کول،**
- **جنسي تيری**
- **شاقه کارونه او...**

د خپل کور، کلي او وطن ماشومان يا زموږ خپل خلک په بيلابيلو نومونو جګړو ته اړ باسي او يا يې بهرنيان د فقر او عقايدو تر پردې لاندې د ديني زدکړو په نامه بهرنيو مدرسو ته بيايي، وروسته له څه مودې بيا تري تم وي چي تاثيرات يې تر نن پوري هم په ميراث را پاتي دي. امنيتي مسولينو څو ځلي د کوچنيانو تښتونکي او قاچاق کوونکي نيولي دي. تير کال بي بي سي فارسي د ماشومانو د قاچاق يو راپور داسي خپور کړ:

«مسئولان پلیس در ولایت بغلان در شمال افغانستان می گویند سه نفر را به اتهام قاچاق ۲۷ کودک بازداشت کرده‌اند.این افراد، دیروز شنبه هفدهم حوت، هنگامی که کودکان را با استفاده از دو موتر مسافری به سوی کابل انتقال می دادند در یک پست بازرسی شهری بازداشت شدند.
... امین‌الله امرخیل فرمانده پلیس بغلان می‌گوید که بازداشت شده‌ها سعی داشتند این کودکان را برای فراگیری آموزش حملات انتحاری به پاکستان ببرند.
این کودکان بین ۷ تا ۱۱ سال سن دارند و هفت دختر هم در میان آنها دیده می‌شوند»

محور ورځپاني د ملي امنیت د راپور په اساس لیکلي دي چې:«د ملي امنیت وروستی راپور په ډاګه کوي، چې دامهال اتیا سلنه ځانمرګي بریدونه د ماشومانو په وسیله تر سره کېږي...»

او دا ماشومان په بیلابیلو پلمو او وسیلو د جګړې لیکو ته او د ځانمرګو بریدونو د تر سره کولو له پاره اړ ایستل کیږي، تښتول کیږي او بیا یې پته نه لګیږي چې پلرونه یې په لټه پسې سر ګردانه ګرځي:

« په تازه مهال کې په قبایلي سیمه میرامشا بازار کې ۱۰۰ افغانان له دې امله لالهانده ګرځي، چې پاکستاني مدرسو ته د استول شویو خپلو ماشومانو درک ولګوي، خو د دوی ډېر کم شمیر په دې توانیږي، چې یوازې پته یې ولګوي او بس»

په کورنیو کې د ډیرو پخوانیو وختونو د دودونو له مخې د کوچنیانو په حقونو داسې تیری هم شوی او کیږي چې پرته له خوښې او پرته له قانوني سن پوره کیدو نه ودیږي:

«د بلخ د شولګري ولسوالۍ چارواکو د هغې ۸ کلنۍ نجلۍ پلار او ۱۲ کلن هلک مور نیولي چې د تیرې جمعې په ورځ (اګست ۲۹) یې د دوی د واده مراسم ترسره کړي وو.
د بلخ څارنوالۍ د ښځو پر وړاندې د تاوتریخوالي د مخنیوي څانګه وایي د پیښې اصلي پړ هغه ملا دی چې د دغو دوو ماشومانو نکاح یې سره تړلي وه.»
بله ستره ستونزه د افغان کوچنیانو پر وړاندې، د هغو ناوړه استعمالول دي چې په افغانستان کې «بچه بازي» ورته ویل کیږي. د «بچه بازي» د ناوړه اوغیر انساني دود په باب د بي بي سي په راپور کې راغلي دي چې:

«د افغانستان په قانون کې بچه بازي جرم نه دی ګڼل شوی.
د افغانستان د بشري حقونو خپلواک کمیسیون "افغانستان کې د بچه بازۍ لاملونه" په اړه خپل دوهم څېړنیز راپور خپور کړی دی.
دغه څیړنه چې د افغانستان د ۱۴ ولایتونو ۱۹۰۰ کسانو په کې برخه اخیستې، موندلې چې شتمن او زورواکه خلک د ۱۰ نه تر ۱۸ کلونو ماشومان د "جنسي ګټو لپاره ګوماري".
په ځینو سیمو کې له دغو ماشومانو چې ښځینه کالي یې په ځان وي، په میلمستیا ګانو او د واده په محفلونو کې د ناڅګر په توګه کار اخیستل کیږي. د دغه ډول محفلونو نه وروسته، ماشومان شخصي کورونو یا هوټلونو ته وړل کیږي او هلته پرې جنسي تیری کیږي او ځینې وخت ان ډله ایز جنسي تیري هم پرې کیږي.»

یو کوچنی چې د دغسې نا وړه او غیر انساني اعمالو په دایره کې را ګیر وي او د دې اعمالو په پایله کې یې شخصیت له صفر درجې نه هم ښکته لویږي، هغه ته به ادبیات څه مانا ولري، د کوچنیانو ادبیات به هغه ته څه ګټه ورسولای شي؟
میدیا، یو وار نه، بلکې په سلګونو ځلې د کوچنیانو د ژوند د ناوړه او غیر انساني حالت په باب راپورونه ورکړي دي، مګر څوک به یې واوري او څوک به یې وګوري؟

«د جون لومړۍ نیټه د ماشومانو له نړیوالي ورځي سره سمون خوري. دا ورځ په افغانستان کي په داسي حال کي ولمانځل شوه چي افغان ماشومان له بیلابیلو ستونزو او ګواښونو لکه د تعلیم له حق څخه محرومیت، درنو کارونو، روغتیایي خدمتونو ته نه لاسرسي، په نشه یي توکو روږدېدلو، قاچاق او په جګړو کي وژل او ټپي کیدو سره مخ دي.
که څه هم افغان حکومت په تیرو لسو کلونو کي د ماشومانو د حقونو په برخه کي کوټلي ګامونه پورته کړي دي چي په ښوونځیو کي د ماشومانو زیاته شمیره او له خطر سره مخ ماشومانو تر پوښښ لاندي راوستل له دي اقدامونو څخه دي، خو لا هم زموږ د هیواد ماشومان په ډېر ناوړه وضعیت کي ژوند کوي.»

ټول هغه څه چي په یاده دوره کي له ماشومانو او کوچنیانو سره شوي او یا اوس ورسره کیږي، هغه د ماشومانو او کوچنیانو له پاره د ملګرو ملتونو«د ماشومانو د حقوقوتړون، میثاق حقوق اطفال» له قوانینو سره مغایرت لري. زه د بحث د اوږد والي د مخنیوي په خاطر د دي تړون هیڅ ماده نه را نقلوم، درانه لوستونکي کولای شي د ملګرو ملتونو «د ماشومانو د حقوقو تړون» چي څلور پنځوس مادي لري، په لاندي لینک کي په غور سره ولولي او بیا زموږ په ټولنه کي له ماشومانو او کوچنیانو سره د تر سره شوو اعمالو آیینه، د دي قانون آیینې ته مخامخ کیږدي، دواړو ته دي وګوري او بیا دي قضاوت وکړي:

ځومره ناروا او ظلم چي د افغان کوچنیانو په برخه کي شوی دی، که په تفصیل سره وڅیړل شي، کتابونه به ورنه جوړ شي، ما یي یوازي څو بیلګي دلته یادي کړې.
د طالبانو د حکومت له ړنګیدونه وروسته چي په افغانستان کي د امریکایي او اروپایي دیموکراسی ګلیم وغوړول شو، دهغي په دایره کي د مطبوعاتو د ازادۍ په نامه یو پالیسي جاري شوه چي د میډیا په سل ګونو ډولونو په فعالیت پیل وکړ. ځوک روا ځوک نا روا، ځوک خپل وطن خلکو او ملي ګټو ته وفا دار او ځوک خیانتکار، ځوک ښه او ځوک بد؛ هر چا تر خپلي وسي د خپل پلان او پروګرام له مخي د دیموکراسی نه په روا او ناروا استفادې سره خپل کار پیل کړ او اوس هم روان دی.
د دیموکراسی په دې اړو دوړ کي د میډیا په بیلابیلو برخو کي قلموالو د کوچنیانو روزني، په تیره د کوچنیانو ادب ته هغومره چي شاید او باید پاملرنه ونه کړه. زما هدف دا دی چي د کوچنیانو د ادب په برخه کي د کار او زحمت امکانات ډیر وو، خو کوچنیان د مشرانو او قلموالو هیر وو. یوازې د ګوتو په شمار لیکوالانو په دې برخه کي قلم و چلاوه، شعرونه او مقالي یي ولیکلي هغه هم بې فایدې. بې فایدې په دې چي د لوستلو یي ځوک نه و او په حاکمیت کي د ناستو کسانو په ډله کي داسي ځوک نه و چي د کوچنیانو ستونزو او سم روزلو ته هغسي چي ښایي، پاملرنه وکړي.

له ۲۰۰۱ نه بیا تر نن پورې به د میډیا په بیلابیلو برخو کي د کوچنیانو ادبیاتو د څیړني او تخلیق په برخه کي ځومره د چا له خوا کار شوی وي، مالومول یي یو څه ګران کار دی، خو هغومره چي په ویبپاڼو کي، یا په چاپي او انځوریزو رسنیو کي کار شوی دی او زما له نظره تیر شوي دي، زه یي په لنډ ډول دلته یادونه کوم:

# په نويو چاپي خپرونو کې
# د کوچنيانو له پاره ځانګړې پاڼې

په هيواد کې دننه او له هيواد نه د باندې به په دې موده کې ډيرې داسي چاپي خپروني وي چې د کوچنيانو د ادبياتو په باب به يې ځيرنزې مقالې چاپ کړې وي او يا به يې خپلې څو پاڼې کوچنيانو او د دوی ادب ته بيلې کړې وي، چې د ټولو لاس ته راوړل او بحث وربانديې کول ستونزمن کار دی. زه په دې بحث کې د نمونې په ډول هغه خپرونو بانديې بحث کوم چې يا ماته په لاس راغلي او يامې د کوم بل آدرس يا مآخذ په وسيله پيژندلي وي.
کله چې زه له خپلې کورنۍ سره د وطن پريښودلو ته اړ شوم، په پردي وطن او پردي چاپيريال کې پر ما حالات داسي راغلل چې ما ډيره موده و نه شو کړای چې د وطن او وطنوالو ديدن وکړم. وروسته له اوه لس کلونو مې د ۲۰۰۷ م کال په اوړي کې وکړای شول چې وطن ته ولاړ شم. کيسه اوږده، خو دلته لنډه. ما ۲۴ ورځې کابل کې تيرې کړي له هغې خوا مې يو څه کتابونه او داسي مجلې د نمونې په ډول راوړې چې زما له پاره بيخي نوې وې. ما وکولای شول چې له کابل څخه دا مجلې راوړم:

ـ پسرلی،دري مياشتنی،(بغلان)،

ـ بنګلا، (کندهار)،

ـ ګوربت،

ـ مينه، (ننګرهار)،

ـ ژوند (ننګرهار)،

ـ لونګ،(غزني دوه مياشتنۍ)،

ـ ګودر، (د پښتنو خويندو کولتوري ټولنې خپرونه)،

ـ ډانډس، (جلال آباد، طنزي خپرونه)،

د ميدان ځوانان،

ـ تور غر(ننګرهار)،

ـ پرخه (مزار شريف)،

ـ نړۍ (جلال کوټ)،

ـ وړانګه (میدان ښار)،

ـ آریوب (پکتیا)،

ـ وربښت (لغمان)،

ـ تلوسه(ننګرهار).

په ځینو دغو مجلو کې یا د کوچنیانو د ادب په نامه پاڼې جلا شوې دي، او یا د کوچنیانو د ادبیاتو په باب ځیرنیز بحث شوی دی چې دلته به لنډې خبرې ورباندې وکړم.
د تحقیق د هغو اصولو له مخې چې زه ځیرنه کوم او ورسره بلدتیا لرم، ټولې هغه مجلې او خپروني چې د کوچنیانو د ادبیاتو څه په کې خوندی شوي دي او یا د کو چنیانو پاڼې یې پرانیستې دي، باید هغه لومړی معرفي شي، خو زه دلته دا کار د معلوماتو او موادو د نشتوالي په دلیل نه شم کولای. له یوې خوا اوس مهال په افغانستان کې دننه او له افغانستان نه د باندې د خپرونو شمیر بیخي ډیر شوی دی، آن تر دې چې د ډیرې نوموني یې هم موږ ته مالوم نه دی، له بلې خوا هغه خپروني چې موږ ته مالومې هم دي تر موږ پورې نه را رسیږي. یا یې د نورو خپرونو او بحثونو له لارې پیژنو او یا هسې په تصادفي ډول که لاس ته راشي او چیرې په کوم شخصي یا رسمي کتابتون کې ورباندې سترګې پیښنه ور وکړي. هغه خپروني چې د اوس له پاره زه ورته لاس رسی لرم، په هغو باندې به د نمونې په ډول وغږیږم:

**ـ ګوربت:**

د قحت الکتاب په دې چاپیریال کې، د ګوربت کومه ګڼه چې تر ما پورې رارسیدلې ده (دویم کال، پنځمه ګڼه، ۲۰۰۱ م کال، جون ـ جولای، پرله پسې یولسمه ګڼه) په هغې کې ښایسته ډیرې پاڼې «د کو چنیانو ګوربت» برخې ته بیلې شوې دي. یعني د کوچنیانو له پاره مطالب نه(۹) مخونه دي(له ۴۶ مخ نه تر ۵۴ مخ پورې.
په دې نهو مخونو کې د پام وړ مطالب راوړل شوي دي. ځیني یې لکه د ډیرو پخوانو زمانو په شان وچ نصیحتونه او دیني زدکړې دي. لکه: په ۴۷ مخ کې د سهوې سجده. او ځیني یې بیا داسې مطالب دي چې په رښتیا د ماشومانو له پاره په کار دي. لکه: ماشومان دې ته هڅول چې د دې پاڼې د مطالبو په لیکولو اوبرابرولو کې برخه واخلي . دا ماشوم د یو کار د کولو له پاره هڅول دي  چې له یوې خوا ماشوم د شخصیت احساس کوي او له بلې خوا د همدې کار د تر سره کولو په لړ کې ډیر څه زده کوي. د کمکیانو قاموس، دا بله برخه ده چې د کوچنیانو په ژبه دوی ته مالومات برابریږي.
د دې پاڼو له موادو نه داسې ښکاري چې د ماشومانو له پاره د ګوربت کار په ماشوانو ښه اثر کړی دی چې مخامخ د دې پاڼو په لیکنو کې برخه اخلي. د ګوربت د کمکیانو د پاڼو په یوه مخ کې داسې راغلي دي:«
د کمکیانو له لیکنو څخه،
... زه او زما ملګري د ګربت له اداري څخه غوښتنه کوو چې د کمکیانو له پاره یوه ځانګړې مجله چاپ کړي، زموږ په وطن کې د کمکیانو له پاره مجله نه شته، موږ تلویزیون نه لرو، چې کارتونونه په کې وګورو، د مطالعې له پاره کتابونه نه لرو، زموږ همزولي له ډیرو شیانو بې برخې دي؛ نو ځکه موږ کمکیانو ته د یوې بیلې او ځانګړې مجلې ضرورت دی. لیمه، ګلالۍ اولیلما، کابل، نوی ښار»

(ګوربت، دويم کال، پنځمه ګڼه، ۲۰۰۱ م کال، جون ــ جولای، پرله پسي يولسمه ګڼه)

که دا مطلب او غوښتنه په رښتيا کوچنيانو د لويانو په مرسته ورليږلی وي، نودا د لويي خوشالی ځای دی چې زموږ د کوچنيانو د فکر دايره دومره ده چې ځانته د تلويزيون او مجلې غوښتنه کوي.
له نيکه مرغه د ګوربت په همدې ګڼې کې چې زما په واک کې ده، د ګوربت د کوچنيانو د پاڼې او د کوچنيانو د ادبياتو په باب د ښاغلي عبدالنافع همت په قلم ليکلې مقاله(له سراج اطفاله د کمکيانو تر ګوربته) هم راغلې ده، چې د کوچنيانو د ادب په باب له معلوماتو نه علاوه، په ګوربت کې د کوچنيانو د صفحې په باب يې هم ښه بحث کړی دی. د ښاغلي نافع په مقاله کې داسې راغلي دي:
«دويمه خپرونه د ګوربت دوه مياشتنی مجله ده چې له يوه کال راهيسې د کمکيانو ګوربت تر سر ليک لاندې د کوچنيانو صفحه خپروي ... دکمکيانو ګوربت په تير کال کې افغاني ماشومانو ته ډير ارزښتناک او علمي مطالب وړاندې کړي دي. ګوربت هڅه کړې ده چې د کمکيانو په ګوربت کې د ملي اوعلمي ارزښتونو په پام کې نيولو سره مطالب خپاره کړي...» (تير ياد ګوربت، ص ۶۵)

ښاغلی نافع ډير په ځای د ګوربت د کمکيانو په پاڼه باندې نيوکې هم کړې دي. نافع په خپله مقاله کې اشاره کړې ده چې ماشومان لکچر او نصيحت نه خوښوي، بايد لويان خپلې خبرې د تورو په داسې لفافه کې ورته ونغاړي چې د هغوی له پاره جالبې او د منلو وړ وي. په بل ځای کې نافع وايي:
«د کمکيانو ګوربت اکثره مطالب اداره برابروي او کوچنيان خپله ډيره لږه ونډه په کې لري، له همدې امله د مطالبو ژبه د کوچنيانو ژبه نه، بلکې رسمي او ادبي ده ...» (تير اثر، ص، ۶۵ مخ)

که د ګوربت ټولې يا څه ډيرې ګڼې مې په واک کې وای، نو مابه د ګوربت د کوچنيانو د پاڼې په باب خپل بحث غځولای وای.

**ــ ورښت:**

ورښت له لغمان نه خپريدونکې مجله ده. د امتياز خاوند يې د استاد ګل پاچا الفت تعليمي او کولتوري ټولنه ده. کومه يوازينۍ ګڼه يې چې اوس زه په واک کې لرم د لومړي نشراتي کال دريمه ګڼه ده(۱۳۸۵، منی)
په دې مجله کې د ګڼو علمي، ادبي او ټولنيزو مضامينو تر څنګ د کوچنيانو له پاره هم څو مخونه ځانګړي شوي دي او نوم يې ورته ټاکلی دی:«د کوچنيانو برخه، د بڼ ګلونه په ورښت کې».

( ورښت، له لغمان نه د استاد الفت تعليمي او کولتوري ټولنې خپرونه، لومړی کال، دريمه ګڼه، ۱۳۸۵ کال منی، ۵۰ مخ)

دوی په خپله دې ګڼه کې د هغو قلموالو مضامين را اخيستي دي چې پخوا د کوچنيانو له پاره ليکل شوي او خپاره شوي دي. لکه د حبيب الله زړه سواند شينواري «زه چې ماشوم وم ...» ور پسې عمومي معلومات راوړل شوي دي، بيا له يو تنکي ځوان سره د ورښت مرکه چاپ شوې ده، ټوکې ټکالې، د کوچنيانو شعرونه، ذهني پوښتنې او ځينې نور مضامين چاپ شوي دي.

د کوچنیانو له پاره په «وربښت» کې راغلي مواد چې په دقت سره ولوستل شي، لیدل کیږي چې په دوديز ډول د پخوانيو نشراتو پيروي ده او کوم نوښت نه شته په کې. د چلوونکو او مسولينودې کور ودان وي چې کوچنيان خو يې نه دي هير کړي.

## ـ نړۍ:

نړۍ د ننګرهار له جلا کوټ نه خپریدونکې مجله ده چې څو ځایه د مجلې تر نامه لاندې داسي ليکلي دي:«نړۍ، جلال کوټ، خپلواکه، نا پیلي،هر اړخیزه مهالنۍ خپرونه».

پر کومي ګڼې يې چې زه بحث کوم د دویم نشراتي کال، لومړۍ او دويمه ګڼه ده (غبرګولی،۱۳۸۶). نړۍ، جلال کوټ، خپلواکه، نا پیلي،هر اړخیزه مهالنۍ خپرونه دويم نشراتي کال، لومړۍ او دويمه ګڼه ده (غبرګولی،۱۳۸۶)، ۸۴ مخ

«نړۍ» هم په دوديز ډول د نورو موضوعاتو تر څنګ څو پاڼې د کوچنيانو له پاره بيلې کړې دي او نوم يې ورکړی دی: «د کوچنيانو نړۍ» کټ مټ لکه د نورو خپرونو په څیر يوه کيسه، د کوچنیانو عکسونه، عمومي معلومات، کيسۍ او په وروستۍ برخه کې د «انځوريزې پوښتنې» تر سر ليک لاندې د ذهني آزموينې په ډول څو انځورونه ايښودل شوي دي او له ماشومانو نه غوښتنه شوې ده چې ځوابونه ورولیږي او جایزه تر لاسه کړي.
په ټول کې که د کوچنيانو له پاره د «نړۍ» مطالب وارزول شي، د کوچنیانو د ذهني روزنې او په دوی کې د ادبي ذوق د روزلو يوه هڅه ليدل کيږي. که يې مسولين لږ ځان وښوروي او د خپلو مطالبو علمي تله درنه کړي، دا به د کوچنيانو له پاره ډيره ښه وي.

## ـ پرخه:

پرخه دوه مياشتنۍ ټولنيزه ـ ادبي خپرونه ده چې له مزار شريف نه خپريږي او د امتياز خاوند يې د شمال د خلکو عنعنوي اصلاحي جرګه ده.

دا ګڼه يې چې زه په واک لرم د دويمي دورې، پنځمه او شپږمه ګڼه ده، غويی ـ زمری، ۱۳۸۵ لمريز، پرله پسې اولسمه او اتلسمه ګڼه.

په دې مجله کې هم د نورو ګڼو مضامينو په څنګ کې د کو چنيانو برخې ته ځای ورکړل شوی دی. دوی د کوچنینو برخې ته داسي سر ليک ټاکلی دی:«پرېږده موسکې دا ماشومان ګلونه»

( پرخه(مجله)، دویمه دوره، پنځمه او شپږمه ګڼه (غويی ـ زمری، ۱۳۸۵ لمريز، پرله پسې اولسمه او اتلسمه ګڼه)، ۲۳ مخ.)

يوه سر مقاله ډوله يادونه، د کوچنيانو له پاره کيسه، د کوچنيانو انځورونه او دمور تر سر ليک لاندې يو مطلب، د کوچنيانو له پاره د پرخې د دې ګڼې شتمنې ده چې ورته ډالۍ کړې يې ده.
د دغې ګڼې د کوچنيانو د پاڼې په پيل کې کوچنيانو ته داسي ليکل شوي دي:

«خوږو کمکیانو!
د پرخې دا پاڼې ستاسو له پاره دي، وې لولئ او په پاملرنه يې عمل وکړئ. ګرانو ماشومانو! که غواړئ چې ستاسو پاڼې نورې هم ښکلې شي، نو له موږ سره ملګرتيا وکړئ. د پرخې راتلونکې ګڼې ته له خپل يو تصوير سره، په خپلو ګوتو يو ليکل شوی لنډ مطلب او يا يو داسي انځور چې

تاسو خپله جوړ کړی وي، له خپلي پیژندني او تصویر سره یو ځای راولیږئ. د هر چا لیکل چي ښکلي و او یا یي ښایسته انځور جوړ کړی و، ژمنه ورسره کوو چي هغه به یي له پیژندني او تصویر سره یو ځای په همدې پاڼو کې چاپوو او هو! په سوغات کې به درته یوه ګڼه پرخه سره د یو ښکلي کتاب چي له لوستلو یې خوند واخلئ، در لیږو.»

( پرخه(مجله)، دویمه دوره، پنځمه او شپږمه ګڼه (غویی ـ زمری، ۱۳۸۵ لمریز، پرله پسي اولسمه او اتلسمه ګڼه پرخه(مجله)، دویمه دوره، پنځمه او شپږمه ګڼه (غویی ـ زمری، ۱۳۸۵ لمریز، پرله پسي اولسمه او اتلسمه ګڼه، ۲۳ مخ)

دلته لیدل کیږي چي دوی د کوچنیانو په ژبه په ډیر ساده او پوهیدونکي ژبه کوچنیانو سره خبرې کوي او د کوچنیانو له پاره یي ژباړلي کیسه هم  د وروو له پاره ډیره په زړه پوري ده. نسبت نورو مجلو ته دا د دوی د مطالبو ښیګڼه ښیي. که پرخه اوس هم خپریږي، له مسولینو نه یي هیله کوم چي همدې پالیسی ته دوام ورکړي او خپلي خپریدونکي ګڼي تر ما شومانو پورې ورسوي.

**ـ پسرلی:**

پسرلی له بغلان څخه خپریدونکي درې میاشتنی مجله ده. د مجلي د نامه په شا او خوا کې لیکلي دي:

« پسرلی، بغلان، نا پیلي، ټولنیزه، او ادبي خپرونه.»

د ګڼو ټولنیزو ادبی مطالبو په څنګ کې یې ماشومان هم نه دي هیر کړي، پاڼه یې ورته ټاکلي او نوم یې ورکړی دی:

«د  ماشومانو پسرلی»

په پیل کې یې د کوچنیانو انځورونه ایښي دي او له دوی نه یې، د دوی په ژبه داسي هیله کړې ده:

«خوږو کمکیانو!
دا ستاسو پاڼې دي، یو څه تري زده کړئ، خوند تري واخلئ او په لا ښکلیتوب کې یې له موږ سره ملګرتیا وکړئ.
تاسو یو څه ولیکئ او موږ ته یې راولیږئ چي درته خپاره یې کړو.
که مو ټوکي زده وي، نو را وې لیږئ چي ستاسو پاڼې پرې ښکلي کړو.
موږ ستاسو وړاندیزونو ته اړ یو چي ستاسو پاڼې، ستاسو په خوښه خپرې کړو.»

(پسرلی(مجله)، بغلان، نا پیلي، ټولنیزه، او ادبي خپرونه، لومړی کال، پنځمه ګڼه، ۱۳۸۵ لمریز، ۳۵ مخ)

د دې مجلې(پسرلی) نوښت او ښیګڼه په دې کې ده چي د کوچنیانو برخه ډیره سلنه په خپله د کوچنیانو په قلم لیکل شوې ده. د کوچنیانو له خوا ورلیږل شوي مطالب ډیر په زړه پورې دي. یوه یولس کلن کوچني له کابل نه ورته لیکلي دي:

«زما نوم عبدالمعز دی، د استاد مزمل اسلامي زوی یم. زه یولس کلن یم او مصباح ښوونځي کې د پنځم ټولګي زده کوونکی یم. مور د لغمان یو، خو اوس په کابل کې اوسیږو.
د پسرلي چلونکوو ته سلامونه وایم. زما په ټولو مجلو کې هغه خوښي دي چې په کې د ماشومانو له پاره لارښووني، په بیلابیلو بنو لکه: ټوکي ټکالي، خونده وري کیسي، پوښتني ځوابونه او په داسي نورو بڼو خپرې شوي.
د پسرلي مجله مې ډیره خوښه ده، ځکه چې په زړه پورې مطالب او خوږې کیسي لري. هیله لرم چې په راتلونکو ګڼو کې د ماشومانو له پاره لا په زړه پورې لیکني خپرې کړئ. د الله په امان» (تیر اثر، پنځه دیرشم مخ)

بیا د ماشومانو له پاره د دوی په ژبه ټوکي او بیا د آزمویني په برخه کې پوښتني ځوابونه.
د کوچنیانو له پاره د پسرلي مجلي ځانګړې پاڼه که اوس هم روانه وي او په همدې پالیسی خپروني ولري، په رښتیا ورته د کوچنیانو پاڼه او د کوچنیانو ادب ویلای شو.
په افغانستان کې دننه او له هیواد نه دباندې به د کوچنیانو له پاره نورې خپروني هم وي چې له بده مرغه د اوس له پاره زما لاس رسی نه شته ورته، که په راتلونکو کې زما له نظره تیرې شوې او په لاس راغلي، نو خامخا به یې لوستونکو ته ور وپیژنم او په چاپ موادو باندې به یې تبصره او خبرې وکړم.
د میډیا په هره برخه کې چې د کوچنیانو له پاره خپروني او پروګرامونه وي، ډیره ښه ده. د کوچنیانو ادبیات چې د میډیا په هره برخه یا هره پاڼه کې را ښکاره شي ښه به وي، خو اصلي خبره دا ده چې دغو خبرو ته ځنګه عملي جامه ور اغوستی شو. مور ځنګه کولای شو چې د همدې خبرو د تطبیق له پاره عملي زمینه برابره کړو. که ښه غور وکړو دا په هغه صورت کې کیدای شي چې، د ماشوم او کوچني په ژوند کې، د هغه د کورنی په ژوند کې او په پای کې د هغه د ټولني په ژوند کې ژور بدلون راوستل شي، څو د دغو خیالي خبرو د عملي کیدو له پاره عملي زمینه برابره شي.
د خپرونو د معرفي په پای کې د دې خبرې یادول اړین ګڼم چې د دغو خپرونو او مجلو د کوچنیانو له پاره بیلې کړای شوې برخې که ښې وارزول شي او یا یې نیګړتیاوې وګڼو ، دا د خبرو یو اړخ دی. اصلي خبره دا ده چې د کوچنیانو له پاره دغه نشرات د افغانستان تر ټولو کوچنیانو پورې رسول کیږي که هسې مشران یې په خپرولو سره خپل شهرت ډیروي او خپل خیال پلوونه تر سره کوي. آیا د نشراتو د امتیاز خاوندانو، مسولو مدیرانو او په ځانګړې ډول د کوچنیانو له پاره مسولو قلموالو دا فکر کړی چې د دوی لیکني او نشر شوې یا نشر کیدونکي موادو د لو ستلو له پاره، څو سلنه کوچنیان سواد لري؟ او د دوی په نشر کیدونکو موادو او خبرو کې څومره سلنه عملي بڼه لري او څومره یې هسې د کاغذ تورول دي؟
دا هغه پوښتني دي، چې دې ته په پام سره باید د کوچنیانو په باب فکر وشي، کیسي او شعرونه ورته تخلیق شي، رسمونه او ځانګړې کتابونه ورته په نظر کې ونیول شي.

په هیواد کې د ننه او د باندې له هیواده، په میډیا کې د کو چنیانو پر ادبیاتو او پروګرامونو باندې د خبرو کولو په دې برخه کې اړینه ګڼم ووایم چې په تلویزوني خپرونو کې د کو چنیانو له پار جلا کړای شوې برخې د ځانګړې پاملرني وړ دی. یو خو دا برخې ډیرې له پامه لویدلي او سطحي ګڼل شوې دي او مسولین یا نه پوهیږي او یا ځانونه تیر باسي چې همدا کوچنیان د سبا لویان دي، که سم وروزل شي، خو ښه، که په همدې ډول ناسم وي، نو راتلونکی نسل او د هغوی حالت به یا همداسي وي او یا به له دې هم بد تر وي.
په تلویزیونونو کې هغومره چې پاملرنه ورته شوې ده، هغه هم خواشینونکي او د ژړا وړ ده او سړی دې ته اړ باسي چې ووایي: له دې نه چې نه وای ښه به و.
تلویزیون چې ولګوې د کو چنیانو له پاره د خپروني وخت وي چې ورته ګوري پروګرام د افغانستان او افغانانو له پاره خپریږي، مګر ژبه، کالي ، حرکات پروګرانونه او هر څه یې پردي

دي. بیا زموږ تلویزیون وال وایي چې څه فرق کوي، ژبه، کلتور، دین او هر څه مو سره یو دی. او بیا که لږ قناعت ورکړي چې د هر هیواد تاریخي او ملي ارزښتونه او ګټې توپیر سره لري، د هر هیواد د ژبو ترمینالوژي باید بیله وي او ... بیا نو ډېره وګروي او ورو و وایي: موږ د پردیو مواد ځکه خپروو چې د نویو د جوړولو له پاره بودجه نه لرو او ...
هغو خلکو ته چې په پردی ژبو خپرونې کیږي، پردي ارزښتونه، تاریخ او ترمینالوژي په کې نغښتې وي؛ له نوي زیږیدلي ماشوم نه نیولې بیا تر یو دوه دریو او لس یا له هغه نه د مشرانو او حتی د لویانو پر ذهن باندې خپل تاثیر پریږي، په تیره د نویو را لویدونکو ماشومانو په ذهن چې د هغو د ژبې د زدکړې لومړنی تهداب د اینودلو په حال کې وي . کله چې همدا د پردی ژبې تلفظ او اکسنت اوري ، د هغه په ذهن کې ثبتیږي او که وروسته یې بیا ور جوړو هم، نو ماشوم له هره اړخه له ستونزو سره مخامخ کیږي.او په خواشینی سره چې دا نا وړه کار زموږ په هیواد کې دننه او له هیواده دباندې تلویزیوني خپرونو کې روان دی.
بله ستونزه دا ده چې موږ خپل ماشوم، دهغه روان،ستونزې او غوښتنې سمې نه دي پیژندلي، د هغه له پاره کوم سم پروګرام نه ورته لرو. اوس هم په هیواد کې د ننه او له هیواد نه لا دباندې موږ له کوچنیانو او تنکیو ځوانانو سره په چلن کې د خپلو زړو دودیزو برخوردونو او هغو قوانینو نه کار اخلو چې موثر نه دي او نه یوازې کوچنیان او تنکیو ځوانانو سره مرسته نه کوي او په بله یې بیایي، بلکې ټولې کورنۍ ته داسې نورې ستونزې پیدا کوي چې بیا په خپله لویان ورته حیران وي چې څه وکړي.
زه د اوس له پاره په افغانستان کې د ننه د کوچنیانو د ادبیاتو په باب څه نه شم ویلای، هغه هم په دې دلیل چې له هغه ځای نه زه ټاکلي مواد په بشپړ ډول په واک کې نه لرم. څو تنو فرهنګیانو نه مې هیله وکړه چې حد اقل په کابل کې د کوچنیانو له پاره د خپرونو او ځانګړو مؤسسو چې د کوچنیانو روزنې او ادبیاتو پورې اړوند مواد خپروي، مالومات راکړي، خو د هر دلیل له مخې چې و، چا د یو توري په اندازه هم مالومات رانه کړل. په دې نه پوهیږم چې د نجیب د حکومت له ړنګیدو نه وروسته د نویو ادارو په تشکیل کې د کوچنیانو له پاره ځای و که نه، کومه خپرونه یې درلوده که نه او بیا هم په دې هم نه پوهیږم چې لکه د پخوا په څیر د افغانستان د لیکوالو ټولنې په چو کاټ کې د کو چنیانو ځانګه شته که نه؟ که وي څه ډول او څومره فعالیتونه یې کړي دي؟ او یا په نورو دولتي مؤسسو کې دې موضوع ته څومره پاملرنه شوې او یا څومره کار ور ته کیږي او ...
خو کرار کیناستل به هم ښه نه وي. دلته په اروپا کې ما په شخصي ډول په رسمي او شخصي کتابتونون او میډیا کې خپلې هڅې او څیړنې جاري ساتلي دي. په هر ځای کې مې چې هر کله هر څومره کتابونه شعرونه کیسې او موضوع پورې اړوند نور څه په مخه راغلي، یا مې په بیه اخیستي دي او یا مې کاپي کړي دي او له هغه نه وړاندې په ویبپاڼو کې چې موضوع پورې تړلي هر څه په مخه راغلي دي خوندي کړي مې دي او اوس مې په اختیار کې دي.
په بیلابیلو ویبپاڼو کې د کو چنیانو د ادبیاتو په باب چې په اصطلاح کومې څیړنیزې مقالې راغلي دي، هغه د ګو تو په شمار دي. تر ټولو د پام وړ او د یادونې وړ دوو لیکوالو هڅې دي. یو یې ښاغلي عبدالنافع همت دی د «له سراج اطفاله د کمکیانو تر ګوربته» مقاله یې لیکلې ده، او د ګوربت مجلې د دویم کال په پنځمه ګڼه(۱۳۸۰، غبرګولی، پر له پسې یوولسمه ګڼه) کې خپره شوې، ما یې د کوچنیانو ادبیاتو د مقالو د همدې لړۍ په اتمه برخه کې یادونه کړې ده.
بل لیکوال ښاغلي رفیع الله نیازي دی چې د کوچنیانو ادبیاتو په برخه کې یې د پاملرنې وړ هڅې کړې دي. یوه مقاله یې «په پښتو ژبه کې د ماشوم د ادبیاتو تاریخچه» تر سر لیک لاندې خپره کړې چې زما پاملرنه یې ور واړوله. دا مقاله په ټول افغان ویبپاڼه کې د ۲۰۱۲ کال په وروستیو کې(۳۰/۱۲/۲۰۱۲) خپره شوې ده.
په دې مقاله کې د ښاغلي نیازي ډیره تکیه د آصف بهاند په قلم لیکل شوي کتاب (د کوچنیانو ادبیات، ۱۳۶۶، د افغانستان د چاپ او خپرونو دولتي کومیټه) باندې ده. مطالب یې په یو څه بدلون ور نه را اخیستي دي، خو نه د څیړنې د اصولو له مخې. عادي لوستونکي داسې فکر

کوي چې دا به د همدې ښاغلي لیکوال څېړنه یا ریسرچ وي. زه سره له دې چې کوم اعتراض نه لرم، بلکې دوه ځلې مننه ورنه کوم. یو په دې چې هم په متن او هم په پای کې یې زما او زما د لیکلي کتاب یادونه کړې ده او بل په دې خاطر مننه ور نه کوم چې د کو چنیانو ادبیاتو په دې خوار حالت کې یې حد اقل دې موضوع ته هم د عامو لوستونکو او هم د قلموالو پام ور اړولی دی. زما وړوکی اعتراض دا دی چې ښاغلي رفیع الله نیازي را اخیستې مطالب باید په امانت داری سره په قوسینو کې خوندي کړي وای او بل دا چې زما د کتاب نوم یې نا سم را اخیستی دی. د کوچنیانو د ادبیاتو په برخه کې زما د څېړنیز اثر سر لیک «د کوچنیانو ادبیات» دی، نه «د ماشوم ادبیات» زما له نظره «ماشومان» او «کوچنیان» دوه جلا مفاهیم دي چې ما یې په توپیر باندې د همدې لړۍ په تیرو برخو کې خبرې کړې دي.
وروسته بیا د کوچنیانو د ادبیاتو په برخه کې د ښاغلي رفیع الله نیازي د قدر وړ تیوریکې ډوله او څېړنزو مقالو سلسله پسې وغځېده چې د ځینو سر لیکونه یې دا دي:

**ـ د ماشوم ادبیات څه ته وایي؟**
**ـ د ماشوم د ادبیاتو موخې،**
**ـ د ماشوم د ادبیاتو عامي ځانګړنې،**
**ـ د ماشوم د ادبیاتو ژبه،**
**ـ او ...**

که درانه لوستونکي د دې کرښو لوستلو ته مینه لري کولای شي په ټول افغان ویبپاڼه کې د ښاغلي رفیع الله نیازي د مقالو په ځانګړي آرشیف کې هغه ولولي.
د کوچنیانو د ادبیاتو په برخه کې ښایي ځینو نورو قلموالو څه لیکلي وي چې زما له نظره نه دي تیر شوي. البته چې دا زه خپل قصور ګنم.

# د کوچنيانو له پاره ليکل شوي کتابونه

په دې برخه کې د کوچنيانو له پاره د کيسو او شعرونو ټولګې دي چې اساسي برخه يې همدا جوړوي. کومې ټولګې چې په ويبپاڼو کې او يا په چاپي بڼه ما ليدلي او لوستلي دي، هغه به دلته تاسو درنو لوستونکو ته په لنډ ډول ور وپيژنم:

## لومړی چاپ شوي کتابونه:

### ۱ـ لاسي نجلی:

دا کتاب په دوو ژبو(پښتو او انګليسي) استاد حبيب الله رفيع برابر کړی دی او دوه زره اووم(۲۰۰۷) کال کې چاپ شوی دی.
«لاسي نجلی» په اصل کې يوه ډېره پخوانۍ پښتنۍ فولکلوريکه کيسه ده. څنګه چې موضوع يې تعليمي ارزښت لري او د کوچنيانو له پاره ډېره مهمه ده، نو استاد حبيب الله رفيع له فولکلوريکې ژبې نه، رواني او معياري ژبې ته اړولې ده. له ښکلو او موضوع پورې اړوند انځورونو سره چاپ شوی دی. استاد حبيب الله رفيع د دې کيسې په باب د کتاب په مقدمه کې داسې وايي:
«... دا کيسه هماغه زرګونه کاله پخوا د نوي او عصري تخنيک تصور لري او دا ښيي چې زموږ ټول عصري اختراعات او تخنيکي نوښتونه، لکه څنګه چې يې موږ د يوه او يا څو تنو اختراع بولو، داسې نه ده، بلکې د هيلې، آرزو، تصور، فکر او تيورۍ له مرحلې نه تر عملي تخنيکي مرحلې پورې، زر ګونه کلونه پرې تير شوي او زر ګونه مغزونه يې بوخت ساتلي ...»

(رفيع حبيب الله، لاسي نجلي، ناشر: اپ مرسي(Op- Mercy Afghanistan) افغانستان، ۲۰۰۸ کال، د يادونې الف ـ ب مخونه.)
دا فولکلوريکه کيسه استاد رفيع د کلو او باندو په ژبه او د کوچنيانو له پاره د پوهيدو وړ په داسې ژبې برابره کړې، چې هر اوريدونکی او لوستونکی جذبوي او تر پايه يې لولي. کيسه داسې پيل کوي:
«وو نه وو د خدای کړه وو، د بنده ورته کاته وو، شولې ډنډ غنم پاخه وو، څلور تنه ملګري وو، د هغو څخه يو يې ترګاڼ و، بل درزي و، دريم يې زرګر او څلورم يې يو روحاني شخصيت(ملا) و ...»
دلته د دې خبرې يادول اړينه ګڼم چې: که د کو چنيانو ادبياتو ليکوالان په خپلو ليکنو او شعرونو کې کوچنيانو ته هره موضوع همداسې په علمي بڼه تشريح کړي او موخه يې داسې انځور کړای شي چې په راتلونکي ژوند کې څنګه له خپلو مطالعاتو او زدکړو نه استفاده وکړي، دا به د نوي نسل له پاره ډېره ګټوره او په زړه پورې وي او د دوی په روزنه کې به خورا ښه رول ولوبوي.

### ۲ـ وړې کيسې (د ماشومانو له پاره د کوچنيو خوندورو کيسو ټولګه):

د کوچنیانو له پاره دا خوندورې او وړې کیسې د ښاغلي محمد حامد حیدرزي له خوا ژباړل شوې دی چې د نولس(۱۹) کیسو ټولګه ده، خو له بده مرغه چې مآخذ یا مآخذونه یې نه دي ښودل شوي او دا نه دي ویل شوي چې د دې کیسو لیکوالان څوک دي.
په پیل کې د کوچنیانو د ادبیاتو د مسلکي او حقدار لیکوال ښاغلي احسان آرینزي په قلم یوه علمي او غنیمت مقدمه راوړل شوې ده چې په خپله یې له ډیر پخوا نه په دې برخه کې قلم چلولی او د قدر وړ آثار یې یا تالیف کړي او یا یې ژباړلي دي. په دې مقدمه کې د افغان ماشوم، د کوچنیانو ادبیاتو، ژباړن او د کتاب د محتوا په باب ډیر لنډ، خو ګټور معلومات وړاندې شوی دی. د دې مقدمې په یوه برخه کې داسې راغلي دي:
«وړې کیسې د حامد حیدرزي ژباړه، د ماشومانو له پاره د هغو څو کتابونو په کتار کې راځي چې په دې پنځو کلونو کې په پښتو ژبه خپاره شوي دي. دغه کیسې په بیلابیلو قالبونو کې لیکل شوې او منځپانګې یې هم راز– راز دي.
حامد حیدرزي دا کیسې ځکه ټاکلي دي چې ژباړه یې آسانه، جملې یې لنډې او موضوعات یې د ماشومانو له پاره په زړه پورې دي. سوله، جګړه، مرګ، ژوند، ژمی، پسرلی، لمر، سپوږمۍ، عدل، انصاف، ورورې، خپلوي، مشر، کشر، ښوونه، روزنه او ... هغه مسایل دي چې زموږ د ټولنې ماشومان او تنکي ځوانان په خپل ساده ورځني ژوندانه او اند دود(طرز تفکر) کې ورسره مخامخ دي او غواړي چې هره ورځ په نویو خبرو و پوهیږي او نوې غوټۍ وسپړي ...
زه فکر کوم دغه وړې کیسې چې حامد حیدرزي ژباړلي دي، زموږ د ماشومانو له پاره په زړه پورې دي او د دوی د ماشومتوب د ژوندانه له فکري او تربیوي ودې سره مرسته کولای شي. دغه وړې کیسې بې له شکه چې د نړۍ له شهکارونو څخه نه دي؛ خو هره یوه یې ځانله خوند او رنګ لري او له ماشومانو سره مرسته کوي چې په نویو خبرو و پوهیږي او د خپلو کړو – وړو د سمون په چاره کې له هغو څخه ګټه واخلي ...»

(حیدرزی حامد(ژباړن)، وړې کیسې(د ماشومانو له پاره د کوچنیو خوندورو کیسو ټولګه)، الازهر خپرندویه ټولنه، پیښور، ۱۳۸۵ کال، د مقدمې دویم – دریم مخونه.)

د کتاب ټولې کیسې تربیوي اړخ لري چې لوستل یې په هر صورت د کوچنیانو او تنکیو زلمو له پاره اړین دي.

### ۳– د نویو ځوانانو له پاره پوهه او معلومات:

دا کتاب چې د سر محقق علي محمد منګل له خوا لیکل شوی دی د اکبر د اطلاعاتي او نشراتي منابعو مرکز(اریک) له خوا په ۱۳۸۳ لمریز کال په پیښور کې خپور شوی دی. «اریک» له څه د پاسه اوه لس(۱۷) کالو را په دې خوا د افغانستان په بیلابیلو ولایتونو کې د مطالعې له لارې د خلکو د علمي سویې د لوړولو په غرض، د ګرځنده کتابتونونو پروګرام پر مخ بیایي. زموږ تر بحث لاندې کتاب(د نویو ځوانانو له پاره پوهه او معلومات) د همدې موسسې(اریک) له خوا خپور شوی دی.
د دې کتاب په بیلا بیلو برخو کې پر ګڼو اړینو موضوعاتو او مسایلو خبرې شوې چې د کو چنیانو او ځوانانو په ژوند او ښوونه کې مهم رول لوبولای شي. په لومړۍ برخه کې یې نه(۹) انتباهي کیسې راوړل شوې دي.
په دویمه برخه کې د علم، کتاب او قلم په هکله اته (۸) ښوونیزې روزنیزې وړې کیسې راول شوې دي.

دغه راز په دريمه برخه کې نه ( ۹ ) فکاهي ټوله وړې کيسې راوړل شوي دي چې دا هم تربيتي او انتباهي بڼه لري. په څلورمه برخه کې يې د ځينو اړينو علمي، تخنيکي مفاهيمو او وسايلو پيژندنه راوړل شوې ده.
په پنځمه برخه کې يې د تاريخ په بيلابيلو وختونو کې د ګڼو پوهانو او لاربښوونکو غوره ويناوې چې د کوچنيو او تنکيو ځوانانو له پاره په راتلونکي ژوند کې ښه سر مشق کيداى شي، راوړل شوې دي.
د کتاب په شپږمه برخه کې د سپورت تاريخچه او د بيلابيلو لوبو په هکله معلومات راوړل شوى دى چې کوچنيانو او تنکيو ځوانانو له پاره اړين مالومات ګڼل کيداى شي.
په اوومه برخه کې د کوچنيانو او ځوانانو له پاره د دوى د ولسي لوبو په باب معلومات را ټول شوى دى چې دوى له خپل فولکلور سره ښه آشنا کولاى شي. په اتمه برخه کې د متلونو په باب لنډ مالومات او يو څو په زړه پورې متلونه را ټول شوي دي چې هر يو يې د کوچنيانو او تنکيو ځوانانو په ژوند کې د کاڼي کرښه ګڼل کيداى شي.
دغه راز په اتمه برخه کې لومړى د کيسى(چيستان) په باب لنډ مالومات او بيا د کوچنيانو کيسى راوړل شوي دي چې په رشتيا سره د دوى په ذهني وده کې ډير ښه رول لوبولاى شي.د همدې بحث په يوه برخه کې د کوچنيانو په بوختيدو او ذهني وده کې د کيسى د رول په باب داسي ويل شوي دي:
«کيسى او چيستانونه د ماشومانو د سر ګرمى او بوختيدو ښه وسيله ده. يو ماشوم يوه کيسى وايي او بل مجبور دى چې ځواب يې ورکړي او که نه نو لوبه او مسابقه بايلوي ...»

(منګل علي محمد(سرمحقق)، د نويو ځوانانو له پاره پوهه او معلومات ، خيرونکى: د اريک د ګرځنده کتابتونونو اداره، ۲۰۰۴ کال، ۷۲ مخ.)

په نهمه برخه کې د «آيا غواړئ چې پوه شئ؟» تر سر ليک لاندې د کوچنيانو او تنکيو ځوانانو په ژوند کې د ځينو اړينو شيانو په باب معلومات را ټول شوى دى.
د کتاب په لسمه او وروستى برخه کې ځيني شعرونه اوتراني راوړل شوي دي چې کوچنيانو ته وطني او ملي احساس ور کولاى شي.
په ټول کې که د دې کتاب مطالب د کوچنيانو او تنکيو ځوانانو د ښووني روزني له آدرسه و ارزول شي، ډير ښه او با ارزښته دي، خو که تر ټولو کو چنيانو او ځوانانو پورې ورسول شي او د مشرانو او ښوونکو له لورې يو څه ورته تشريح کړاى شي. د کتاب د منابعو په باب بايد وويل شي چې پرته له څلور پنځو مطالبو، نور د يوه مطلب مآخذ هم نه دى ښودل شوى او لوستونکو ته داسي پوهول کيږي چې دا مطالب ټول په خپله ليکوال ليکلي دي، په داسي حال کې چې داسي نه ده.

## ۴ـ خير و شر او کوچنيتوب:

د دې کتاب په پيژند پاڼه کې، دکتاب د چاپ کال نه دى مالوم، ليکوال يې ښاغلي عبدالقيوم مشواني ښودل شوى دى
په دې داستان کې خير او شر دوه کرکترونه دي چې په سفر روان شوي دي او د کيسې تر پايه د کوچنيانو په ژبه د خير او شر د کارونو او کړنو جګړه روانه ده او د کوچنيانو له پاره ښه پند آميزه پيامونه په کې شته. دا کيسه په څو برخو ويشل شوې ده چې هر سر ليک يې د جلا کيسې بڼه لري.

(مشواني عبدالقيوم، خير و شر او کوچنيتوب، دانش خپرندويه ټولنه، پيښور)

**۵ــ لوبې او پوهنه:**

دا د کوچنيانو له پاره د اجتماعي او ساينسي علومو په برخه کې د عمومي مالوماتو ټولګه ده. د کتاب په پيژند پاڼه کې داسې راغلي دي: لوبې او پوهنه(۶)، تاليف او ژباړه: عبدالرفيع کابلي، خپرونکی: ختيځ بيا رغاونې اداره(کور)، د ۲۰۰۳ کال جون.
د کتاب له سرليک سره د شپږ عدد دا ښيي چې د دې لړۍ نورې برخې هم چاپ شوې دي چې اوس زه لاس رسی نه ورته لرم. د کوچنيانو ادبياتو په برخه کې د دې کتاب ارزښت په دې کې دی چې د کوچنيانو په روزلو او د عمومي مالوماتو په لوړ والي کې ښه رول لرلای شي. ښاغلي عبدالرفيع کابلي د کوچنيانو له پاره خورا ګټور مالومات په روانه او عام فهمه ژبه برابر کړی دی.

(کابلي عبدالرفيع، لوبې او پوهنه(۶)، ختيځ بيا رغونې اداره(کور)، ۲۰۰۳ م کال جون)

دويم هغه کتابونه چې په ويبپاڼو کې اينودل شوي دي:

الف: کتابتون ټولنه(kitabtoon.com):

د نورو ويبپاڼو تر څنګه، کتابتون ټولنه نومې ويبپاڼې هم په بيلابيلو برخو کې ګڼ شمير کتابونه لوستونو ته پر ليکه کړي دي چې په هره برخه باندې يې کيدای شي جلا مقالې او کتابونه وليکل شي، خو دلته يوازې د کوچنيانو له پاره جلا برخې او کتابونو باندې يو څه رڼا اچول کيږي.
په دې ويبپاڼه کې د کوچنيانو د کتابونو له پاره جلا خونه پرانستل شوې او په کوچنيانو او تنکيو ځوانانو پورې اړوند کتابونه په کې آنلاين شوي دي. د دې ويبپاڼې د کوچنيانو برخه چې د پاڼې مسولينو ورته د «د ماشومانو کتابونه» نوم ورکړی، ښايسته ډير کتابونه خوندي کړي دي.
د دې کرښو تر ليکلو پورې دوی توانيدلي دي چې د کتابتونه ټولنې د «د ماشومانو کتابونه» نومې برخه کې د کو چنيانو له پاره نهه ويشت(۲۹) عنوانه کتابونه آنلاين کړي. دا نهه ويشت عنوانه کتابونه دا دي:

۱ــ يوه لمن کيسې:
له پښتو متن سره رسمونه، ليکوال: محب الله زغم، خپرندوی: مصور بنسټ، کابل،۱۳۹۰.

۲ــ مورک او پړانګ:
له پښتو متن سره رسمونه، له انګليسي ژبې څخه ژباړه: ډاکتره رابعه غرشين، خپرندوی: مصور بنسټ، کابل، ۱۳۹۰.

۳ــ ستورې(د ماشومانو له پاره شعرونه):
له هر شعر سره يو رسم، شاعر: علم ګل سحر، خپرندوی: مصور بنسټ، کابل، ۱۳۸۶.

۴ــ دوې ښې ملګرې:
ليکوال: جودي ديلتن، له انګليسي څخه ژباړه: روح الله نسيمي، له رسمونو سره پښتو متن، خپرندوی: مصور بنسټ، کابل، ۱۳۹۰.

۵ــ لټ سور لنډی:
ژباړه: عبدالغفار جبار خيل، رسمونه او پښتو متن، مصور بنسټ، کابل، ۱۳۹۰.

۶ـ د زړو هنداړو کور(لنډي کيسي):
له انګليسي ژبې څخه ژباړه: اسدالله غضنفر، مصور بنسټ، کابل، ۱۳۹۰.

۷ـ د شپې کيسې:
له جرمني څخه ژباړه: اناهيتا روهي، له پښتو متن سره رسمونه، مصور بنسټ، کابل، ۱۳۹۰.

۸ ـ د قاضي آزموينه:
عبدالقديم وياړ، له پښتو متن سره رسمونه، مصور بنسټ، کابل، ۱۳۹۰.

۹ـ اتل به ستوري راوړي:
ليکواله: نعيمه غني، له پښتو متن سره رسمونه، مصور بنسټ، ۱۳۹۰.

۱۰ـ فلوس:
ليکوال: کيم ليويس، له انګليسي څخه زباړن: خاطر مانيروال، له پښتو متن سره انګليسي متن او انځورونه، خپرنځای: برطانيه، ۲۰۱۲ کال.

۱۱ـ واورين ملګري:
ليکوالان: کريستيانا بوتلر او تينا مکناګتون، له انګليسي څخه ژباړن: خاطر مانيروال، له پښتو متن سره انګليسي متن او انځورونه، برطانيه، ۲۰۱۲ کال.

۱۲ـ جلۍ او دِ پلوځلې،
له انګليسي څخه ژباړن: خاطر مانيروال، له پښتو متن سره انګليسي متن او انځورونه، برطانيه،۲۰۱۲ کال.

۱۳ـ يوه واورينه شپه:
ليکوال: نِک بت رو ورت، له انګليسي څخه ژباړن: خاطر مانيروال، له پښتو متن سره انګليسي متن او انځورونه، بريطانيه، ۲۰۱۲ کال.

۱۴ـ واورينو ځناورو سترې مه شئ:
له انګليسي متن نه ژباړه: خاطر مانيروال، له پښتو متن سره انګليسي متن او انځورونه، برطانيه، ۲۰۱۲ کال.

۱۵ـ آريانا هونډه:
ليکوال: اِلين براوون، له انګليسي څخه ژباړن: خاطر مانيروال، له پښتو متن سره انګليسي متن او انځورونه، برطانيه، ۲۰۱۲ کال.

۱۶ـ اِلمير:
ليکوال: ديويد مک کي، له انګليسي څخه ژباړن: خاطر مانيروال، له پښتو متن سره انګليسي متن او انځورونه، برطانيه، ۲۰۱۲ کال.

۱۷ـ کيله:
ليکوال: جوناتن آلن، له انګليسي څخه ژباړن: خاطر مانيروال، له پښتو متن سره انګليسي متن او انځورونه، برطانيه، ۲۰۱۲ کال.

۱۸ـ د سوی غچ،
له انګليسي څخه ژباړه: خاطر مانيروال، له پښتو متن سره انګليسي متن او انځورونه، برطانيه، ۲۰۱۲ کال.

۱۹ـ د روزي قدم وهنه،
له انګليسي متن څخه ژباړه: خاطر مانيروال، له پښتو متن سره انګليسي متن او انځورونه، برطانيه، ۲۰۱۲ کال.

۲۰ـ روبي،
له انګليسي متن څخه ژباړه: خاطر مانيروال، له پښتو متن سره انګليسي متن او انځورونه، برطانيه، ۲۰۱۲ کال.

۲۱ـ زمری او موږک،
ليکوال: جان ور ميراد، له انګليسي څخه ژباړه: خاطر مانيروال، له پښتو متن سره انګليسي متن او انځورونه، برطانيه، ۲۰۱۲ کال.

۲۲ـ خواره غوا،
له انګليسي څخه ژباړه: خاطر مانيروال، له پښتو متن سره انګليسي متن او انځورونه، برطانيه، ۲۰۱۲ کال.

۲۳ـ وړکوټي سره چرګه او د غنمو داني،
له انګليسي څخه ژباړه: خاطر مانيروال،له پښتو متن سره انګليسي او انځورونه، برطانيه، ۲۰۱۲ کال.

۲۴ـ مغرور میږی(د کوچنيانو له پاره د درويشت لنډو کيسو ټولګه):
ژباړن: بارکوال ميا خيل، مصور خپرندوی بنسټ، کابل، ۲۰۱۰ کال.

۲۵ـ ولې؟ څنګه؟ چيرې؟:
له جرمني منابعو څخه د اناهيتا روهي ژباړه، مصور بنسټ،۱۳۹۰ کال.

۲۶ـ د مارغانو نومونه:
څيرنه او ليک: خاطر مانيروال، برطانيه، ۲۰۱۲ کال.

۲۷ـ رنګونه:
مرتب: خاطر مانيروال، په رنګه بڼه يوازې په پښتو او انګليسي ژبو پرته له تشريح او توضيحاتو نه د رنګونو نومونه، خپرندوی: په خپله ليکوال، برطانيه، ۲۰۱۲ کال.

۲۸ـ پښتو(پښتو د لومړي ټولګي له پاره):
درسي کتاب، ليکوال: سليم عابد، خپرندوی: په خپله ليکوال، ۱۳۸۴ کال.

۲۹ـ پښتو لوست(پښتو الف ب او د تورو ابتدايي زدکړه):
ليکوال: عبدالله هاشم خيل ځاځی، خپرندوی: په خپله ليکوال، کابل، ۱۹۹۳ کال.

دا دوه وروستي کتابونه زما له نظره د کوچنیانو په ادب کې په ټاکلي ډول نه رواوړل کیږي، دا تعلیمي بڼه لري. څنګه چې دې ویبپاڼې(کتابتون ټولنه) د کوچنیانو ادبیاتو د کتابونو په لست کې معرفي کړي او انلاین کړي وو، ځکه ما دلته د کوچنیانو ادبیاتو دنورو کتابونو په لړ کې معرفي کړل.
درانه لوستوونکي کولای شي په کتابتون ټولنه( kitabtoon.com ) کې دا انلاین کتابونه په دې پته پیدا کړي او وې لولي.

په دې ویبپاڼې (kitabtoon.com) کې به اوس د آنلاین شوو کتابونو له ډلې څخه د نمونې په توګه څو کتابونه په مفصل ډول معرفي کړم، محتویاتو ته به یې نظر وکړم چې څه په کې راغلي دي؟ څومره د کوچنیانو له پاره ګټور دي؟ مواد یې له اوسنیو شرایطو او غوښتنو سره سمون لري که نه؟

**لومړی:**
**یوه لمن کیسې:**

د کوچنیانو له پاره دا ګټور کتاب د ښاغلي محب زغم په قلم لیکل شوی دی. ښاغلی ډاکتر زغم پرته له طبي مطالبو، د ښه هنري ذوق او عالي استعداد له مخې په هنري ادبیاتو کې هم تخلیقات کړي دي. د شعر او ادب په باب نظریات، شعر، ناول، لنډې کیسې او ... یې لیکلي دي. ډاکتر زغم هم په خپل مسلک(طب) کې او هم د ادبیاتو په ډګر کې د ماشوم او کوچني ژوند او روزلو ته په بنیادي ډول پاملرنه کړې ده، چې دا د نوې ټولنې د نوي نسل درکول، ورباندې پوهیدل او دهغوپیژندل دي. د هغوی د ستونزو پیژندل او ورته د حل لارې لټول دي، ډاکتر زغم دا کار کړی او د حل د لارې په توګه یې عملي کار ورته کړی، کیسې یې ورته لیکلي دي او د راتلونکو زیږیدونکو ماشومانو اروایي ستونزو د مخنیوي له پاره یې ډیرې ګټورې ژباړې کړي چې ښه بیلګه یې همدا کتاب(یوه لمن کیسې) دی چې له اردو ژبې نه یې پښتو ته اړولی دی. د دې کتاب لوستل مشرانو او کورنیو ته لکه ډیوه لار ښود په لاس ور کوي چې د ماشوم د رواني سلامتیا له پاره له هغه سره باید څه ډول چلن وشي.
زه نه غواړم دلته د ده پرتولو علمي او هنري هڅو وغږیږم. دا یو جلا بحث، بله پانه او علیده فصل دی. که خیر و بیا به یا زه یا کوم بل څیړونکی کار پرې وکړي. دا دی له نیکه مرغه چې د خپلو تخلیقاتو په سلسله کې یې کوچنیان هم نه دي هیر کړي. د ښووني روزني او د کوچنیانو د ادبیاتو د یو ښه فعال په ډول د دې ساحې د نورو قلموالو په څنګ کې د یو زړه سواندي فعال په ډول کار کوي، قلم چلوي او د دې وطن د راتلونکي په خاطر یې د نوي نسل روزلو ته په عقیدې درلودلو سره پر له پسې هڅې کړې چې یوه ښه بیلګه یې «یوه لمن کیسې» دي.
په «یوه لمن کیسې» نومې ټولګه کې ټولې اوه(۷) کیسې راوړل شوې دي. هغه اوه کیسې دا دي:
ملګرتیا، وز وزی، ښبرک او تلویزیون، چینجی په نوکانو کې، بنجر، پاپې په څه شي پسې ګرځیده او شپه په ځنګل کې.
د ماشومانو او کوچنیانو د روزلو په برخه کې د بیلابیلو هیوادونو کارپوهان دې پایلې ته رسیدلي دي چې انځوریزې کیسې د کوچنیانو ډیرې خوښیږي او د دوی پر ماشوم ذهن باندې یې تاثیر ډیر ښه او مثبت وي. د همدې علمي منل شوي اصل له مخې په ټولګه کې له هرې یوې کیسې سره، په کیسې پورې اړوند انځورونه هم راوړل شوي دي.
د هرې کیسې په پای کې، د کیسې په متن او محتوا پورې اړوند د کوچني د آزمویلو له پاره درې پوښتنې راوړل شوي دي. دا د ښوونکو، میندو پلرونو او نورو مشرانو کار دی چې څه ډول په مطالعه کې کوچني ته لار ښوونه وکړي او د همدغو یو ښتنو په پوښتلو سره یې و آزمیي.

د دې کتاب د کیسو په ترڅ کې، کوچنیانو ته د دوی په ژبه ویل کېږي چې باید په تلویزیون کې څه وګوري، څه ونه ګوري. کوچنیان باید د لوبیانو له پاره په خپریدونکو پروګرامونو باندې خپل وخت تیر نه کړي او یوازې د دوی له پاره برابر کړي مسایل تعقیب کړي. څکه چې هر څوک له خپل عمر سره سم باید پروګرام ولري د مشرانو او یا ځینو منفي شیانو تقلید ونه کړي. لکه د همدې کتاب(یوه لمن کیسې) د «ببرک او تلویزیون» په کیسه کې.
د دې کتاب ټولې کیسې په داسې روحیه او محتوا برابرې شوې دي چې د هغو له لارې لیکوال غواړي د کوچنیانو په ذهن کې د هڅې، کار، فعالیت، دوستۍ، مرستې او متقابل درناوي حس پیاوړی کړی. خو لیکوال باید په خپلو کیسو کې ځینو داسې منفي ټکو ته پام شوی وای او په خپلو کیسو کې یې نه وای مطرح کړې چې د کوچني په راتلونکي ژوند کې د یو منفي ټکي په ډول رول لوبولای شي. لکه د سپیو جنګول او د چرګې او وینو تویلو له لارې څه لاس ته راوړل.
په کیسه کې د مرستې، دوستۍ او ملګرتیا په ټکي ټینګار شوی، خو د چرګې او د چرګې له لارې ژوند پر مخ بیول، دا به کوچني لوستونکي ته څه په لاس ورکړي. زموږ ټولنې او خلکو دا څه کم ځلوېښت کاله د جګړې په غږ او د باروتو په بوی کې ژوند کړی، قلموال باید داسې څه وکړي چې د ادب په ښکلو تورو سره دغه بوی او دود ورنه هیر کړي. همدغه ماشوم چې دا کیسې لولي، هغه په دې بوی او دود کې زیږیدلی دی. جګړې او وینې تویولو یې پر بدن او ذهن بې شمیره منفي اثرونه پریښي دي. موږ باید داسې څه وکړو او ولیکو چې هغه ورنه هیر کړو او د نوي ژوند او نوي تمدن یو ښه ځیره ورته انځور کړو څو د هغه په ذهن او ضمیر کې د باور ځلی په پاخه ډول ودان او لوړ کړو. که لیکوال په همدې کیسه کې یوازې دومره اشاره ورته کړې وای چې جنګ کول ښه نه دي او د جګړې له لارې څه لاس ته راوړل هم ښه نه دي، نو به ډیره ښه وای.
د دې خبرې کول اړین ګڼم چې له دې خبرو نه زما موخه د ښاغلي زغم او د ده د آثارو نقد نه دی، دا زما یوه دوستانه مشوره ده چې که په پام کې ونیول شي، نو ښه به وي. که د ارزونې مسأله وي، نو زما له پاره د ښاغلي زغم کار په علمي او فرهنګي دواړو برخو کې په ډیر څه ارزي او زما د امید سترګې ده ته او ده ته ورته نورو قلموالو ته ور اوړي.
په ټول کې د دې ټولګې کیسې پرته له ډیرو لږو منفي ټکو نه، نورې ټولې کیسې ګټورې او د ښې تربیوي جنبې درلودونکې کیسې دي چې په ښه ادبي بڼه لیکل شوي او د کوچنیانو ژبه او روحیه پکې په نظر کې نیول شوې ده. مینه وال کولای شي په دې لینک کې یې ولولي.

### دویم:ستورې:
### (د ماشومانو له پاره شعرونه):

دا د کوچنیانو له پاره د علم ګل سحر د شعرونو ټولګه ده چې د مصور بنسټ له لوري د نښتر د دودیزې مشاعرې په ویاړ خپره شوې ده. په دې شعري ټولګه کې د کوچنیانو له پاره د سحر صاحب دوه ویشت(۲۲) ټوټې شعرونه له انځورونو سره راوړل شوي دي چې له ډیرو اړخونو د ستاېلو وړ دي.
ښاغلی سحر مسلکي لیکوال او ښوونکی دی، دی په شعر اوادب کې مسلکي زدکړې لري، کلونه کلونه په ټولګي کې استادانو ته ناست دی او د همدې مسلک یعنې ادبیاتو زدکړې یې کړې دي د همدې له پاره او د هغې مینې په خاطر چې د وطن له نوي نسل سره یې لري له خپلې لاس لرلې خزانې(شعر اوادب) نه یې په ځای استفاده کړې او هغه یې د ادبي آثارو په بڼه د کوچنیانو مخې ته د کوچنیانو په ژبه د دوی د ادبیاتو په نامه د دوی مخې ته ایښې ده.ښاغلي سحر د ګڼو ځیرنیزواو ژباړو تر څنګه په شعر او نثر کې هم آثار لري او د کو چنیانو له پاره یې له دې اثر(ستورې) نه پرته د « چرګه او کوتره » په نامه د ماشومانو له پاره دکیسو یوه ټولګه هم چاپ کړې ده.

ښاغلی سحر د یوه مسلکي لیکوال په توګه توانیدلی چې د دې ټولګې په شعرونو کې د کوچنیانو ځانګړې ژبې او رواني حالت ته په پام سره، د هغوی غوښتنې او پوښتنې په خپلو شعرونو کې په پام کې ونیسي. څه چې اوسنی وخت ایجابوي، سحر په علمي ډول په خپلو دغو شعرونو کې په پام کې نیولي دي. دا یې بیلګې دي:

**کمپیوټر:**

**دا مې کمپیوټر دی**
**له هر ځای نه خبر دی**
**هر راز معلومات لري**
**رسمونه هم ډیر زیات لري**
**کارټمه رسمونه کې**
**ساتمه نوټونه کې**

(ستورې، ۳۴ مخ)

**چکره:**

**دا چکره کړې خدایه ورکه**
**شي مې کرکه له ټوپکه**
**موږ د سولې ژوندون غواړو**
**د الله په پراخه ځمکه**
**د انسان په نامه یاد یو**
**دښمني نه لرو کرکه**
**ټوپک ایسته کړه اورې نه**
**د خپل ورور دښمني مه کړه**
**چې د ډزو آواز ورک شي**
**بیا به خوب وکړې نانځکه**

(ستورې، ۳۵ مخ)

د کوچنیانو له پاره د ښاغلي سحر د شعرونو په دې ټولګه کې تر ټولو مهمه او جالبه خبره چې پام ورته شوی دی هغه دا ده چې د کتاب انځورونه د کوچني په هنرمندو ګوتو ایستل شوي دي او د کتاب په پای کې د کوچني یو عکس او د هغه دا جملې راوړل شوې دي:

«دوستانو سلام!

د دې کتاب د شعرونو له پاره انځورونه ما کښلي. زه روښان زرمتی، د پکتیا ولایت د زرملې ولسوالی اوسیدونکی یم. ربښتیا کله، کله کیسې هم لیکم. که تاسو هم کیسې یا شعرونه ولیکل، انځورونه به یې زه ورته وکاږم، وعده ده. روښان زرمتی»

د دې کوچني په هنرمندو ګوتو ایستل شوي دا انځورونه او له دې شعرونو سره یې چاپول، که له یوې خوا د هر شعر محتوا منعکسوي او د دې رسمونو انځورګر تشویقیږي، له بلې خوا نه

هغه کوچنیان چې دا کتاب لولي او انځورونه ګوري، هغوی هم تشویقیږي او د یو ښه ، مثبت هنري فرهنګي کار ته هڅول کیږي.

**دریم:**
**مغرور میرې:**

د کوچنیانو ادبیاتو د غوړیدنې او بډاینې په برخه کې د مصور بنسټ د فعالیتونو په لړ «مغرور میرې» بل د حساب وړ ګام دی چې اخستل شوی دی مغرور میرې(د کوچنیانو له پاره د درویشت لنډو کیسو ټولګه) ده چې له اردو ژبې څخه ښاغلي بارکوال میا خیل پښتو ته را ژباړلې دی او مصور خپرندوی بنسټ په کابل کې په ۲۰۱۰ کال د چاپ په ګاڼه سمبال کړی دی.
د دې کتاب په باب او په اوسني وخت کې د کوچنیانو د ادبیاتو د څرنګوالي په باب مې د ښاغلي صدیق الله بدر په قلم یوه ګټوره او د قدر وړ مقاله تر سترګو شوه چې په ۲۰۱۰ کال کې د کتاب له چاپ سره سم یې لیکلې او «کلید ګروپ» ویبپاڼه کې یې خپره کړې ده. اړینه یې ګڼم چې د موضوع د لا روښانتیا له پاره یې ځینې برخې را واخلم:

« په افغانستان کې د ماشوم د ادبیاتو د ودې له پاره هڅه یو اساسي ضرورت دی، خو زموږ په ټولنه کې له پرونه تر ننه په دې برخه کې هڅې خورې ورې دي او پوره انسجام نه لري. کله کله زموږ ځینې لیکوال د دغې اړتیا په پوهیدو د ماشومانو له پاره کیسې او ترانې لیکلې یا له نورو ژبو راژباړلې دي، خو ډېر ځله یې د چاپ له پاره امکانات نه دي موندلي.
په تیرو نهو کلونو کې نړیوالې ټولنې په بیلابیلو برخو کې د ودې او پرمختګ له پاره ډېرې مرستې وکړې، خو دغه مرستې په ځای ونه لګیدې او موږ لا هم له ګڼو ستونزو سره مخ یو.
ډېرې کارپوهان په دې باور دي چې د نورو ټولنو ترڅنګ د مور او ماشوم په نومونو یو شمیر ټولنې جوړې شوې، خو دا چې د دغو ټولنو په سر کې کارپوه او خواخوږي کسان نه دي راغلي، هڅې یې تر ډېره نمایشي او یوازې په زیات لګښته غونډو جوړولو متمرکزې وې. حال دا چې په کار وه، دغه ټولنې د ترلاسه شویو مرستو پر بنسټ د مور او ماشوم په برخه کې د ماشوم د ادبیاتو له پاره هم هڅې کړې وای چې یې نه دي کړې.
ډېر ځله یو شمیر مدني ټولنو د خپلو نورو کارونو ترڅنګ دغه مسئله د یوې اړتیا په توګه طرح کړې، خو په دې برخه کې یې بیا عملي اقدام ته زړه نه دی ښه کړی.
د نړی په کچه د ماشوم د روزنې له پاره په پراخه کچه د ماشوم ادبیاتو ته ډېره توجه کیږي او په دې برخه کې په زرګونه کتابونه چاپ او خپرېږي، خو د افغانستان ماشومان له دې توجه بې برخې دي، په تیره بیا د دغه هیواد د لرو پرتو سیمو ماشومان. د پایتخت په ګډون په ښارونو کې استوګن ماشومان تر ډېره بریده هم د ژوند له بیلابیلو خوندونو برخمن دي او هم کتابونو ته ښه لاسرسی لري. د لرې پرتو سیمو ماشومان نه یوازې دا چې د ژوند له لومړنیو اسانتیاوو برخمن نه دي، بلکې د ګولیو او بارتو په سیورې کې ژوند کوي، په ډېرې دغو سیمو کې حتی ماشومان ښوونځیو ته له تګ نه هم بې برخې پاتې دي، څه ورسې دې ته چې د دوی د فکري روزنې له پاره ممد کتابونه ورته ورکړل شي. دا هغه اندېښنه ده چې باید په جدي توګه ورته پاملرنه وشي.
یو شمیر افغان فرهنګیانو په دې وروستیو کې دغې اندېښنې ته په پام په یو جالب اقدام لاس پورې کړی. دغو فرهنګیانو د ماشوم د ادبیاتو د ودې او بډاینې او د افغان ماشومانو د فکري روزنې له پاره د (مصور) په نوم یو بنسټ پرانیستی چې په دې برخه کې د نورو هڅو تر څنګ ماشومانو ته کسیه بیز، انځوریز، معلوماتي او شعري کتابونه هم چاپوي. دغې ټولنې له یوه کال راهیسې ۲۲ عنوانه کتابونه چاپ کړي.
تیره اوونۍ دغه بنسټ دوه نور کتابونه هم چاپ کړل. ویل کیږي چې د دغو کتابونو ډېره برخه به لرې پرتو سیمو ته وړل کیږي او پر ماشومانو به توزیع کیږي.»

مخکې هم وويل شول په مغرور میرې کې درویشت لنډې کیسې راغلې دي او ورسره په پیل کې یو ټوټه شعر چې له جګړې او وژنو نه د یو ماشوم ډار ښيي. وروسته له هغه د کتاب د ژباړن ښاغلي بارکوال میاخیل سریزه راوړل شوې ده. په سرسزه کې د کوچنیانو د ادبیاتو پر مهم والي خبرې شوې دي او لويان يې مکلف ګڼلي چې د نوي نسل روزلو ته له کومې لارې څنګه پام وکړي. ده ټينګار کړی چې د کوچنیانو د ادب برخه خواره ده او باید پاملرنه ورته وشي. دی د خپلې مقدمې په یوه برخه کې وايي:

«... ما هم د ګلالیو کوچنیانو د ادبیاتو نیستی ته په پام سره دا خبره حس کړې ده چې موږ باید د لویانو تر ادبیاتو د کوچنیانو د ادبیاتو پیاوړي کولو ته زیات پام وکړو، خو دا کار ښايي یو څه جدي پاملرنه و غواړي، څکه کوچنیانو ته د شعر، کیسې یا کوم بل څه تر لیکلو مخکې لیکوال او شاعر باید کوچنی شي، د کوچنیانو نړۍ ته سر ور ښکاره کړي، په دې مانا چې د کوچني احساسات، طبعه، غوښتنې او هیلې په پام کې ونیسي او بیا ورته د هغوی په ژبه لیکنه وکړي ...»

کله چې د «مغرور میرې» متن ته لوستونکي ننوزي، لیدل کیږي چې ژباړن ډیر په ځای او په شعوري ډول داسې کیسې د ژباړې له پاره انتخاب کړي دي چې هلته کوچنیان او تنکي ځوانان په خپله کرکترونه دي او ځان په کې میندلای شي، د همدې له پاره ویلای شو چې د دې کیسو روزنیز اړخ قوی دی او په کوچنیانو باندې ډیر ژر او مثبت تاثیر کولای شي.

ب: کتابتون ټکی کام، ketabton.com،
(د پښتو کتابونو پر لیکه نړۍ):

په کتابتون ټکی کام وېبپاڼه کې د پښتو ژبې ګڼ شمير کتابونه پر لیکه شوي دي، خو د نورو کتابونو په پرتله د کوچنیانو برخه ډیره خواره ده.
په دې وېبپاڼه کې سره له دې چې د کوچنیانو له پاره «د ماشومانو کتابونه» په نامه څانګه پرانستل شوې ده، خو تر اوسه پورې ظاهراً پنځه کتابونه پر لیکه شوي دي چې نومونه یې په دې ډول دي:

- ستوری، د کوچنیانو له پاره د علم ګل سحر د شعرونه ټولګه،
- پښتو تصویري الفبې، د ښاغلي سلیم عابد پیمان له خوا ترتیب شوې(یوازې یوه پاڼه)،
- پښتو تصویري الفبې، د ښاغلي عبدالعلي رسولزاده له خوا ترتیب شوې(یوازې یوه پاڼه)،
- جنګي سپی، د ښاغلي محب زغم اثر،
- د زړه ور سمندري غله تقلید، د هایس روبرت اثر او د ماریا صدیقي ژباړه.

د کتابتون ټکی کام د مسولینو فعالیت ته په کتو سره د کوچنیانو له پاره یوازې پنځه کتابونه په خپل کتابتون کې درلودل، داسې توجیه کیدای شي چې دا برخه ډیره خوار ده. هیله چې د دې پاڼې مسولین په راتلونکو کې د کوچنیانو د ادبیاتو څانګې ته ځانګړې پاملرنه وکړي.

# په فيسبوک کې ماشومانو او کوچنيانو ته پاملرنه

مخکې له دې چې زه خپل بحث ته ور ننوزم، د دې خبرې سپينول غواړم چې په مخکتاب کې مې د عامو خلکو له لوري د خپلو ماشومانو د زيږدلو زيري، د بل چا د ماشومانو او کوچنيانو په ښه يا بدو يادول، عکس کيښودل او نازول د بحث وړ موضوع نه ده، بلکې د مخکتاب په پاڼو کې مې اصلي هدف هغه پاڼې دي چې په عام ډول د ماشومانو او کوچنيانو د روزنې، پالنې او د دوی ادبياتو له پاره کار کوي.
په دې کې شک نه شته چې د دولت د دريو ګونو قواوو(مقننه، اجراييه، قضايه) تر څنګ ميډيا په ټوله نړۍ کې د څلورم ځواک په صفت خپل رول ثابت کړی دی. په نويو نظرياتو کې دا هم ويل شوي دي چې د دې څلورم ځواک څو سر کښنه بچي(ټولنيزی رسنۍ) د پنځم ځواک دعوا کړې ده. يوه ورځ مې د خپلې خوښې وړ او خپل اعتبار وړ رسنۍ سره اړولې چې د ټولنيزو رسنيو په باب دا کرښې په مخه راغلې:

«... اوس د دغه څلورو قواو تر څنګ پنځمه قوه هم خپل سر را ښکاره کړ هغه ټولنيزې شبکې دي چې د نړۍ له ګوټ ګوټ څخه په ميليونونو اشخاص له مختلفو عقايدو او افکارو سره يو ځای شوي دي او خپل د خوښې وړ څه يکې خپروي او ډير ژر تقريبا کله کله له رسنيو مخکې د نړۍ له پيښو څخه خبريږي دا ټولنيزې شبکې چې ډيره وتلې او اغيزمنه يې فيسبوک ويب پاڼه ده چې له ډير ښه تسهيلاتو څخه برخمنه ده او مشترکين يې کولای شي خپل د خوښې وړ څه يکې خپاره کړي . ددې ټولنيزو شبکو فلسفې ته که فکر وشي نو ډير د نړيوال کيدو پر لور ورنيږدې کيدو ته يو ستر ګام دی او د نړۍ په يوه کلي بدليدل ورځ تر بلې په دې ډول تحولاتو سره محسوسيږی...»

د ميډيا د پاسنيو سرکښو بچيانو په ډله کې يو هم مخکتاب يا فيسبوک نوميږي. د دې ټولنيزې رسنۍ پر مخ ځينو قلموالو د نورو مسايلو تر څنګه کوچنيان هم نه دي هير کړي، يوه پاڼه يې ورته جوړه کړې ده چې« يو ماشوم يوه نړۍ» نوميږي.

د کوچنيانو د ادبياتو د څيړنې له پاره د لومړنيو موادو په را ټولولو لګيا وم، چيرې مې ولوستل چې په فيسبوک کې ښاغلي زغم د ماشوم روزنې په نامه يوه پاڼه جوړه کړې ده. ښه ورته خوشاله شوم او رخه هم راته ودريده او ځان سره مې و ويل چې:

«سرېيه خو دا پاڼه بايد تا جوړه کړي واى او د کوچنيانو د ادبياتو او روزنې په باب دې چې پخوا څه ليکلي وو او اوس يې ليکي، دا به دې په کې ايښى وو او له نورو به دې هم په دې برخه کې مرسته غوښتې وه.»
له څو شيبو لټې نه وروسته مې دا پاڼه(facebook.com/mashomrozana) پيدا کړه او کرار ور ميلمه شوم.
د فيسبوک په دې پاڼه کې په دوو ژبو(دري، پښتو) ژبو مطالب اېښودل شوي دي. ډېره سلنه اېښودل شوي مطالب د ميندو پلرونو او د کورنۍ د مشرانو له پاره د ماشومانو د خوراک، څښاک، لمبولو، جامو بدلولو، لوبولو، ساتلو، سرو تودو سره د مقابلې خوب خوراک او ... په برخه کې د لارښوونو او مالوماتو بڼه لري. د کوچنيانو د ادبياتو مسأله يا په کې نه شته او يا ځينې مطالب چې ځنګځني ارتباط ور سره لري، هغه هم په نشت حساب دي.
په دې پاڼه کې د ماشوم د ساتلو او پاللو په برخه کې داسې علمي مقالې اېښودل شوي دي چې د ماشوم روان او له هغه سره د چال چلن مسايل په کې په علمي ډول څېړل شوي دي او د اوسنيو علومو او غوښتنو په رڼا کې هر څه په نظر کې نيول شوي دي. د څو مطالبو سرليکونه او د ليکوالو او ژباړونکو نومونه يې دا دي:

- **ځورونکى ماشوم که ځوريدلى ماشوم، اناهيتا روهي.**
- **نجونې ژر په خبرو کولو پيل کوي که هلکان؟ محب الله آرمل.**
- **د ماشوم ذهن او د رنګونو اغيز.**
- **د نوزېږ خوب.**
- **د ماشوم منطق، نور ګل شفق.**
- **د ماشوم د غصې کيدو په اړه د ډاکتر جان اوې روګ سپارښتنې، ژباړه: اناهيتا روهي.**
- **له ماشوم سره د کورني کار تر سره کولو لارښوونې، ژباړه: حکمت سروش.**
- **از نوزادان چگونه مراقبت بايد کرد؟**
- **د نوزېږ تغذيه.**
- **ماشوم ته سزا ورکړئ، خو وهئ يې مه! ژباړه: نعيمه غني.**
- **چرا کودکم بد خو شده و به حرفهايم توجه نه ميکند؟**
- **«خلاص موټې» ماشوم او عدم تشد د، اناهيتا روهي.**

په مخکتاب کې د «يو ماشوم، يوه نړۍ» په نامه پاڼه کې د دې پاڼې د چلوونکو او همکارانو له خوا چې د ماشومانو او دهغوی د ميندې پلرونو او نورو مشرانو د لار ښوونې له پاره څه اېښودل کيږي، دا يوازې د ښار محدود چاپيريال سره رانغاړي. موږ بايد په کلو او باندو کې د افغانستان اکثريت کوچنيان، د هغو ژوند او د هغو له پاره لارښوونې، سواد، ښوونځى او د هغوی ادبيات او راتلونکى ژوند هير نه کړو.
البته دا يو ترېخ واقعيت دی چې زموږ په ټولنه کې اوس د ماشومانو اوکوچنيانو له پاره د پالنې او روزنې د نورو اړينو امکاناتو د نه برابرولو تر څنګه، زموږ د ټولنې د پام وړ ماشومانو ته د اړينو خوراکي توکو د نه رسيدو په وجه ډير ماشومان په خوار ځواکۍ(سؤتغذي) اخته شوي دي. د ۲۰۱۴ کال په نيمايي کې د افغانستان د روغتيا وزرارت په ارزونه او راپور کې راغلي دي چې د افغانستان يو ځلويښت کامه نهه ( ۴۰/۹) سلنه ماشومان په خوار ځواکۍ (سؤتغذي) اخته دي.

سره له دې چې د پرمخ تللي ژوند عصري وسايلو ته د اوس له پاره هغوی او دهغوی کورنۍ لاسرسى نه لري، دا د دې مانا نه لري چې هغوی دې هير کړای شي. په دې پاڼه کې د «يو ماشوم، يوه نړۍ» تر سر ليک لاندې د ماشوم پالنې او ماشوم روزنې په اړه د مقالو يوه ټولګه هم معرفي شوې چې د دغو ليکوالانو مقالې په کې راغلې دي:

اناهيتا روهي،
نعيمه غني،
او محب الله زغم.
د کتاب په وروستۍ پېنټي کې د ماشوم په باب او ماشوم د روزلو په باب جملې راوړل شوي دي:«
*درې شيان له جنته را پاتې دي:
د ورځې ګلان،
د شپې ستوري،
او د ماشومانوسترګې.(دانتې)
*هر ماشوم چې نړۍ ته راځي پاک وي، سپيځلی، مينه ناک او د ګڼو استعدادونو خاوند، خو دا موږ يو چې درواغ ور زده کوو، ګناه ته يې لمسوو، په زړه کې يې د کرکې زړی کرو، استعدادونه يې وژنو او جنتي دنيا ورته په دوزخ بدلوو؛ ځکه چې له ماشوم سره په چلند نه پوهيږو.
*هغه کس چې د اولاد په روزلو نه پوهيږي، هيڅ حق نه لري چې اولاد پيدا کړي.»

سره له دې چې د يو ماشوم يوه نړۍ پانې موادو ته موږ په نيغه د کوچنيانو ادبيات نه شو ويلای، مګر په ډېر اميد سره ويلای شم چې دا د کوچنيانو د ادبياتو د رامنځ ته کيدو او ايجاد له پاره او کوچنيانو ته د پاملرنې او د هغوی د ادبياتو د رامځ ته کيدو او ايجاد له پاره ښه زمينه او مقدمه کيدای شي.
زه دا منم چې زړه سواندي قلموال، فرهنګيان او د کوچنيانو د روزنې، پالنې او روزنه د کوچنيانو د ادبياتو په نامه د کيسو او شعرونو ليکونکي لکه: ډاکتر محب الله زغم، اناهيتا روهي، نعيمه غني، حکمت سروش، محب الله آرمل، بارکوال ميا خيل، علم ګل سحر، خاطر مانيروال، عبدالقديم وياړ، عبدالفتح جبار خيل، روح الله نسيمي، ډاکتر رابعه غرشين او ...
په وخت او په ځای خپل غږ اوچت کړی دی او د خپل توان او امکاناتو په چوکاټ کې يې، مضامين، شعرونه، کيسې او لکچرونه وړاندې کړي دي، خو خبره دا ده چې زموږ په ټولنه کې او زموږ د ټولنې په شرايطو کې د ماشوم او کوچنيانو د روزنې او ادبياتو په برخه کې څومره د دوی وړانديزونو او خبرو له پاره د عمل زمينه برابره ده؟
دغو ليکوالو، شاعرانو او ژباړونکو، د ژوند او ټولنې له ټولو ګړاوونو سره سره، د وينو له رنګ، د باروتو له بوی، د بم له غږ، لوګيو او لمبو سره او د مرګ له ويروونکې څيرې او ډار سره او ... سره، بيا هم په راتلونکې باندې اميد لري، د خپلې کورنۍ، خپلې ټولنې او نړۍ په راتلونکې باندې ايمان او باور لري او د خپلو نورو ټولو کارونو، غمونو، دردونو او ورځنيو کارونو سره سره يې د ورځنې ژوند يو څو ساعته د کوچنيانو له پاره ځانګړې کړي دي، د هغوی په باب يې فکر کړی دی او د هغوی له پاره يې قلم چلولی دی. د دغو ټولو هلو ځلو په پايله کې يې دا او دې ته ورته آثار را منځ ته کړي دي چې پاس يې يادونه وشوه او بحث پرې وشو او ښايي ځينې به يې لا پاتې هم وي.

# پـــل، د افغانانو ميډيا په آسمان کې نوی ستوری

## د کوچنيانو د ادبياتو نوی او داړمن آدرس




د افغانستان د ميډيا په آسمان کې يو نوی ستوری وځليد. دا ستوری«پل» نوميږي، چې د يو شمېر ليکوالو په نوښت د تاند ويبپاڼې له خوا يې په خپرونو پيل وکړ. د «پل» د خپريدو په باب د تاند په خبر پاڼه کې داسې راغلي دي:

«د يو شمير ليکوالو په نوښت د ماشومانو او کورنيو له پاره تاند د پل په نوم ځانګړې ويبپاڼه خپره کړه.
په دې ويبپاڼه کې د ماشومانو له پاره کيسې، شعرونه، د کورنيو له پاره د ماشوم د روزنې په اړه ليکنې او نور مطالب خپرېږي. ګوندې پل ويبپاڼه د ماشوم د روزنې په برخه کې له کورنيو سره مرسته وکړي.
تاند هيله لري چې ليکوال به هم د ماشومانو له پاره ځانګړې ليکنې او دغه راز د ماشوم د روزنې اړوند موضوعات په خپله دې ويبپاڼه کې خپاره کړي.»
http://www.taand.com/archives/42590

لومړني پل ته په کتو سره زه وينم چې دا پل ښه په ځای ايښودل شوی دی او هيله لرم چې زموږ د وطن ستونزې او تولنيز ګردونه يې بيرته تر خاورو لاندې نه کړي، اميد دی چې داسې ونه شي، ځکه چې د وخت غوښتنه همداسې ده چې دا پل د «ترکستان» پر لوري نه دی اوچت شوی، بلکې د يوې هيلې او يو اميد پر لوري جګ کړای شوی دی او دا اميد او دا هيله نوی نسل دی.
دا پل به زموږ د ټولنې په ګردجن او له واورو او ختو ډک چاپيريال کې په داسې نښې بدل شي چې اوسنيو ميندو پلرونو ته او نوي نسل ته د نوي ژوند نوي لار په نښه کړي او په چټکۍ سره به پر مخ ځي. د نوي نسل له پاره او د روښانه راتلونکي له پاره.
تر هغه ځايه چې زما خيرنې يې ښيي، د نوي «پل» قلمي همکاران، با تجربه، زړه سواندي او مسول خلک دي چې پخوا يې هم په دې برخه کې د پام وړ کارونه کړي دي.
زه په زغرده ويلای شم چې دا د تاند او د پل او د هغوی د قلمي همکارانو هغه ستره پانګونه ده چې ثمر به يې لس کاله وروسته، شل کاله وروسته او يو نسل وروسته وځکل شي.
د ماشومانو پالنه، روزنه او کوچنيانو ته د ادبياتو په نامه يو څه رامنځ ته کول او مخ کې ايښودل، له ډير پخوا نه اړينه موضوع وه، او کله چې د نوي ژوند او نوې تکنالوژۍ ګامونه ګړندي او نور هم چټک شول، دا غوښتنه لکه خواړه په ورځنۍ اړتيا بدله شوه او دا دی تاندوالو او د هغوی نورو همکارانو وکولای شول چې په دې «پل» سره دا تشه ډکه کړي.
سره له دې چې د «يو ماشوم يوه نړۍ» په نامه د مخکتاب په بڼ کې يو نيالګی د ډاکټر صاحب زغم له خوا ايښودل شوی و،
https://www.facebook.com/mashomrozana

او ښه پالنه يې هم کوله چې ما يې يادونه «د کوچنيانو ادبيات» د مقالو په سلسله کې کړې ده او تبصره مې هم ور باندې کړې ده چې د مقالو په سلسله کې به راشي، خو«پل» به د «يو ماشوم، يوه نړۍ» پر مخ تللې بڼه وي.
د ماشومانو د روزلو او د کوچنيانو د ادبياتو په برخه کې چې زه خپلو څيړنو ته ګورم، «پل» د «يو ماشوم يوه نړۍ» په لاره باندې يو بل جوړونکی قدم دی. زما هيله دا ده چې پر افغان ماشوم او افغان کوچنې او افغان ميندو او پلرونو باندې او د افغانستان په راتلونکي باندې د زړه سوي په خاطرتولو هغو فرهنګيانو چې په دې باب کار کړی او يا د کار هوډ لري، د انفرادي کار تر څنګه، خپلې هلې ځلې د «پل» په چوکاټ کې سره همغږې کړي او د «پل» پر لاره په يوه غږ وړاندې لاړ شي.
د دې نوښت تر څنګه د «پل» مسوولينو سره ښايي چې د کوچنيانو د روزنې، ساتنې، پالنې، سواد زدکړې، ليک لوست زدکړې، ښوونه روزنه او په پای کې د کوچنيانو د ادبياتو د برخې فعالين سره منسجم کړي، ويې هڅوي چې نويو کارونو او نويو مسووليتونو ته له دوی سره اوږه ورکړي او د زمان له غوښتنو سره سم خپل کار تر سره کړي.
د «پل» چلوونکو او قلمي همکارانو ته زما مصلحت دا دی چې دوی په خپل نه ستړي کيدونکي کار سره و کولای شي د پر مخ تللي ژورناليزم په چوکاټ کې د خپلو ملي، وطني کټو او کلتور

په نظر کي نيولو سره، د ماشومانو او کوچنيانو پاللو روزلو او په هغو کي د هنري ذوق د را پيدا کولو او روزلو په برخه کي او ميندو پلرونو ته د مالوماتو او لارښوونو په ورکړه کي، ورځ تر بلي مثبت ګامونه اوچت کړي.
البته چي دا کار دوی يوازې نه شي کولای. زما هيله دا ده چي درني کورنی دې هڅه وکړي چي د ماشومانو د روزلو په برخه کي له «پل» سره قدم په قدم يو ځای اوسي، پر مخ دې ولاړ شي او خپلي پوښتني، ستونزې او تجربې دې د «پل» له مسولينو سره شريکي کړي او خپلي په ځای نيوکي او لار ښووني دې نه ور نه سپموي.
له لوستونکو نه هيله دا ده چي هر «پل» ته پام وکړي، ودي ځاري او ودې لولي. که ميندې پلرونه د خپل راتلونکي نسل د ښه ژوند په خاطر، د جنګي او سياسي مسايلو له مطالعي نه، ، په لومړي ګام کي د «پل» لوستلو ته پام وکړي، ډيره به ښه وي.
ما چي د ۲۰۱۵ کال د مارچ په دويمه نيټه د «پل» لومړنی نقش د کمپيوتر پر مخ وليد، داسي مي و انګيرله چي زما ملا ترل شوې ده. ډير ورته خوشاله شوم، زړه مي قوت واخيست او د ماشومانو او کوچنيانو په باب چي ما ديرش کاله مخکي کار پيل کړی و او اوس مي هم هڅي رواني دي، پل مي د دې پروسي يو بشپړونکی ګام وباله.
ما د ماشومانو او کوچنيانو له پاره له ډير پخوا نه فکر او کار کړی دی.
ـ «د کوچنيانو ادبيات»، کتاب، د ۱۳۶۶ کال چاپ،
ـ «پردی چاپيريال او د کوچنيانو د زدکړې مسأله» زما د مقالو لړی ده چي تر اوسه يې په ويبسايټونو کي اوه که اته برخي خپري شوې دي.
ـ «د کوچنيانو ادبيات، تاريخي پس منظر او اوسنی حالت»، تر اوسه شپږ مقالي خپري شوې دي او نوري برخي يې هم چاپ ته را جوړيږي.
«پل» ته په کتو سره، د کوچنيانو د ادبياتو په باب زما څيړنه او کار که اوس رانه نيمګړې هم پاتي شي، يو ځوک شته چي دا کار پر مخ يوسي، بشپړ يې کړي او هغه به د «پل» چلوونکي او لارويان وي.
زموږ په هيواد کي:
څومره ماشومان او کوچنيان د کوڅو سر ګردان دي؟
څومره ماشومان او کوچنيان شاقه کارونه کوي؟
له څومره ماشومانو او کوچنيانو څخه جنسي استفاده کيږي؟
له څومره ماشومانو او کوچنيانو سره په هره کورنی کي هغه چلن کيږي چي بايد ونه شي،
او نورې دغسي يو ښتني او ترخه حقايق چي زموږ په ټولنه کي شته او ...
د ماشوم او کوچني په ژوند کي دا ستونزې چا رامنځ ته کړي او چا زيږولي دي؟؟؟
دا موږ لويان يو، دا موږ مشران يو چي د ستونزو غرونه د ماشومانو او کوچنيانو په مخ کي ږدو، دا زموږ مشرانو نا پوهي او بيسوادي ده چي ماشومانو او کوچنيانو ته مو دا تورې شپې جوړې کړې دي او ...
زما هيله دا ده چي پل و کولای شي چي د ميندو پلرونو او ټولني ذهن هم د ماشومانو او کوچنيانو په پالنه او روزنه کي رو ښانه کړي او له کوچني او ماشوم سره د چلن په برخه کي نوی ذهنيت ورکړي.
هيله ده چي دې ټولو ستنونزو او پو ښتنو ته «پل» لار و باسي او تياري کوڅي روښانه کړي.
زه لومړی د تاند مسوولينو ته او بيا ټولو هغو فرهنګيانو ته چي د «پل» د اوچتولو او خپرولو له پاره يې فکر کړی او عملي ګام يې اوچت کړی دی، مبارکي وايم، هيله مي دا ده چي «پل» په ښه او سم لوري اوچت کړای شي.
http://www.taand.com/pal/archives/1542

## د اجمل تورمان لیک او د کوچنیانو ادبیات



د ۲۰۱۵ کال د جون په ۲۵ نیټه مې د ډاکټر بهیج عثماني له برکته د مخکتاب پر پاڼه دا جمله تر سترګو شوه:

**«د اطلاعاتو او فرهنګ وزیر عبدالباري جهاني ته سر خلاصی لیک:»**

کابینې ته د باري جهاني غوندې یوه مسلکي شخص په نوماندېدو سره، خبرې ببرې شوې او له ډېرو بهرنیو او کورنیو مزاحمتونو او د خبرو له ځېر والي او ببر والي سره سره جهاني د اطلاعاتو او کلتور وزارت ته بریالی شو. د همدې ببرو خبرو اړو دوړ مې لا له ذهن څخه نه و پاک شوی نه و چې د جهاني په آدرس او نامه یو لیک میډیا له کړکۍ سر را ښکاره کړ.
زه تر ټولو مخکې له ډاکټر بهیج عثماني نه مننه کوم چې د ده د ښه ذوق او لوړ همت له برکته، په کابل او افغانستان کې د کوچنیانو ادبیاتو د خوار او زار وضعیت په باب، د تورمان صاحب له دې دلسوزانه، عالمانه او ښه لیک نه خبر شوم.
زه باري جهاني له نږدې پېژنم. په کابل او اروپا کې مو څو ځلې په شخصي، علمي او رسمي محافلو کې د ګډون پرمحال لیدلي دي او سره غږېدلي یو، خو اجمل تورمان یوازې د میډیا د سخي او مهربانه پانو له لارې پېژنم او په لیدلو یې خدای تر اوسه نه یم وياړ من کړی.
دغه لیک چې دلته خبرې پرې کوم، مطرح فرهنګي شخصیت ښاغلي اجمل تورمان لیکلی دی او داسې یوې موضوع ته یې د ښاغلي وزیر پام ور اړولی دی چې په عام ډول په ټول افغانستان او په ځانګړي ډول د اطلاعاتو او کلتور په وزارت کې یو له اړینو او د نوي نسل په روزلو کې تر ټولو اړینه مسأله او بنسټیزه موضوع ده.

دا دی د لیک بشپړ متن:

«د اطلاعاتو او فرهنګ وزیر عبدالباري جهاني ته سر خلاصی لیک:
جهاني صیب، سلام!
وزارت دې درته مبارک وي، په دفتر کې دې ابېنې په مبارکیو کې راغلي د ګلانو ګېډۍ ګردجنې مه شه!
جهاني صیب! دا خبرې مې له ډېرې مودې راپه دې خوا په زړه کې وې، خو اورېدو ته یې څوک نه و. ښايي د لږې ډېرې پېژندګلوی له امله چې له تاسې سره یې لرم درته به بې ارزښته نه وي.
د ماشوم ادبیات او دوی ته رسنیز کار په افغانستان کې ډېر خوار او زار دی. له کومه چې زه د ماشومانو لپاره یوه ـ نیمه لیکنه کوم او په لسګونه کلونه ورنه اوړې، د افغانستان د اطلاعاتو او فرهنګ د وزارت له ادرسه په دې برخه کې هیڅ ډول عملي کار نه دی شوی.
هو، اورېدلي مې چې د کمکیانو انیس میاشتنۍ مجلې نوم په انیس کودک واوښت، دا لوی نوښت او ابتکار د پخوانیو مسوولینو و، البته اوس خبر شوم چې دغه میاشتنۍ مهالنی شوې او چې خپګان تر منځ وتلی وي نو کله په دې او کله په هغې نوم خپرېږي.
تاسې یې یو ځل پوښتنه وکړئ، کیدای شي ماته راغلي راپورونه ناسم وي. که ناسم وي نو له مسولینو یې بخښنه غواړم.
جهاني صیب! لږې به نه څو یو ځل خو په ګوګل کې د ماشومانو د ادبیاتو په برخه کې د ګاونډ هیواد ایران کار ته تم شئ، وګورئ چې هغوی د خپلو ماشومانو لپاره څه کړي دي؟
مونږ یې ولې نشو کولای ؟
ایا اړینه نه ده چې مونږ خپلو ماشومانو ته یوه نه بلکې څو۔ څو دولتي نشریې ولرو او په خپل وخت په منظم ډول چاپ شي؟ حال دا چې انیس، هیواد ، اصلاح دا ټول تر ډېره په عین مطالبو سره په لوی تیراژ هره ورځ له چاپه راوځي.
تاسې یو ځل د ملي تلویزیون د ماشومانو خپروني خو وګورئ، ایا دغه خپروني تر کومه ماشومانو ته دي؟

کلونه وړاندې مې په همدغه تلویزیون کې د ماشومانو په خپرونه کې د ریس رشوت خور په نوم یوه تمثیلي ټوټه ولیدله، چې یو ماشوم مامور او بل ریس وي او د کار د اجرا په بدل کې ورته رشوت ورکوي، ایا د ماشومانو په خپرونو کې باید همدا مطالب خپاره شي؟
جهاني صيب! د وزارت ټول زاړه اسناد رابرسیره کړئ، وګورئ چې د ماشومانو د ادبیاتو او د دوی د رسنیز کار په برخه کې کومه لازمه هڅه شوې ده ؟
یو مهال چې ما په پوهنې وزارت کې کار کوو او تر ډېره په ښوونځیو کې د ادبي ټولنو د جوړولو دنده راتر غاړه وه، لیدل به مې چې زمونږ ماشومانو په څومره مینه له ایران نه ماشومانو ته مرسته شوې د شعرونو او کیسو کتابونه لولې.
ولې ایا مونږ ماشومانو ته لیکوال نه لرو، پروین پژواک، خالده تحسین، اناهیتا روهي، احمد تکل، اجمل اند او نور، ایا کله مو د دوی له وړتیاوو د استفادې هڅه کړې؟
څو پورې به پردیو کتابونو ته ناست او بیا کلونه ورسته به د فرهنګي یرغل خبره مطرح کوو؟
جهاني صيب! تاسې وزارت ته نوي راغلي یاست، هسې دا خبرې مې تاسې ته ولسي جرګې ته د باور رایې تر اخیستلو یوه ورځ مخکې هم کړې وې. د چاروکو کارونه ډېر او ډېرې ترینه هېر وي، نښه یې لا دا چې د شیدو پیاله هم رانه په میز واوښته.
بیا مې غاړه خلاصه کړه، مسوولیت مې و، تاسې دې راته ژوندي وئ!
زړه خو مې دا وایي چې د لیک لاندې ولیکم، کاپي : د ولسمشر فرهنګي سلاکار اسدالله غضنفر ته.
په درنښت
اجمل تورمان»

په دې کې خو شک نه شته چې په افغانستان کې د ټوپک د شپیلۍ له سُر کیدو سره او د ټوپکي شپیلۍ د خاوند له واکدار کیدو سره سم، پرته له ټوپکوال نه، هر څوک او هرڅه په بنسټیزه توګه زیانمن شول، چې په هغو کې لومړی ماشوم، کوچنی او د دوی ادبیات او نور لومړني حقونه یې وو.

ښاغلي تور مان د اطلاعاتو او کلتور وزیر ته په خپل لیک کې چې څه لیکلي دي، دا ټولې زما د زړه خبرې دي. دا خبرې باید ما لیکلي وای. خو زه هم آرامه نه یم ناست، تر خپلې وسې مې خپل کار کړی دی. ډېر لرې نه، څه لنده موده پخوا (۰۷/۰۴/۲۰۱۵) په خپلې یوې مقالې «د کوچنیانو ادبیات، تاریخي پس منظر، اوسنی حالت، نهمه برخه» کې، په افغانستان کې د ننه او د باندې له افغانستان څخه د کوچنیانو له پاره په تلویزیونو کې د خپرونو په باب ټولې ستونزې، د حل لارې او خپل نظر لیکلی او نشر کړی دی، خو څوک به یې ولولي او څوک به غوږ پرې وګروي. زه خپله همدومره کولای شم، له دې ور آخوا نه کوم ګوند لرم، نه جنګیالي اونه هم کوم قهرجن لښکر، چې پرې ور مارش یې کړم. په یوازې تن مې د قلم په توره او د لغاتو په لښکر دغومره کړې چې یاد مې کړل.
خو اوس چې ښاغلي اجمل تورمان خبره له اشارو او مقالو ور تیره کړه او مخامخ لیک کې یې د خپل زړه ویناء زما د زړه او یو شمیر نورو قلموالو د زړه خبره؛ د ټولو قلموالو او فرهنګیانو په استازیتوب وکړه، نه یوازې خپله غاړه یې خلاصه کړې ده، بلکې د یوه اړین فرهنګي مسولیت خبره یې کړې ده. دا چې ښاغلی وزیر به د خپل صلاحیت، مسولیت او امکاناتو په چوکاټ کې څه وخت څه وکړي، دا په ده پورې او د اطلاعاتو او کلتور په وزارت پورې اړه لري، خو زما خپله عقیده دا ده چې د جهاني صاحب زدکړو،پوهې، تجربو، وطن او خلکو سره مینې ته په کتو سره زه ډاډه یم په دې برخه کې څه چې د ده له لاسه وشي، وبه یې نه سپموي.
د ټولو دې پام وي چې دا وروستۍ خبره نه ده، د غاړې خلاصول او د کارونو پای نه دی.«دمیني لار اوږده ده په ورورو به سره ځو ...» ماشومان، کوچنیان او نوی نسل له موږ نه ډېر څه غواړي او حق یې هم دی. له شخص نه نیولې تر کورنۍ پورې، له وړکتون نه نیولې، بیا تر

ښوونځي او پوهنځي او ټولني پورې، له شخصي فرهنګي آدرسونو نه نيولي تر رسمي او دولتي موسسو پورې، دا حق څوک، چيرې، څه ډول ادا کوي، دا د دوی کار دی، خو دا دې ټول په ياد ولري چې:
مور د ماشومانو، کوچنيانو او نوي نسل ډير پور وړي يو بايد ادا يې کړو.
زه داسي فکر کوم: دا مهمه نه ده چې ډيوه د چا په لاس کې ده، مهمه دا ده چې لار روښانه شي. دا مهمه نه ده چې دا خبره چا وکړه، زما له نظره مهمه دا ده چې دا خبره وشوه، مطرح شوه او هغه هم د يوه لوړ دولتي مسول مقام په آدرس.
شپون صاحب يو وار اشرف غني ته د خبرو د نه رسيدو په اړوند د «ولسمشر اشرف غني او د غوښو ديوال» تر سر ليک لاندې ليکلي وو چې له رييس جمهور نه را تاو خلک د غوښو د ديوال حثيت لري، نه څوک ور پريږدي او نه د چا خبره ور رسوي او...

و به ليدل شي چې له جهاني نه هم د غوښو کوم ديوال را تاو دی او که خبرې او ليکونه ورسيږي.
و به ګورو چې وزير صاحب ته دا ليک د لوستلو له پاره ور رسيدلی دی که نه؟ او وزير صاحب د خپلې پوهې، تجربې او د موضوع د مهم والي په رڼا کې د خپلو امکاناتو او صلاحيت په دايره کې څومره او څنګه قاطع پريکړه ا و کار کوي . او د دې په څنګ کې قلموال او په تيره د کوچنيانو د ادبياتو په برخه کې متخصصين او عملاً فعاله قلموال څه کوي او ښاغلي وزير ته څومره وړانديزونه او ليکلي او تخليق کړي آثار د چاپ له پاره وړاندې کولای شي؟
د وزير صاحب دې، دې ته هم پام وي چې د خپل وزارت له واک او امکاناتو نه په استفادې سره څومره کسان د کوچنيانو د ادبياتو د زدکړې له پاره بهرنيو هيوادو ته ليږلی شي او څومره کسان په لنډو سفرونو کې د کوچنيانو د روزلو او له هغو سره د برخورد او هغو ته د يو څه تخليق او ژباړې له پاره په لنډو بورسونو کې د لنډو زدکړو له پاره بهر ته استولی شي، څو هغو ی د يوې تشې د ډکولو له پاره په بيړه يو څه زده کړي او د وطن له هغو کوچنيانو او د هغوی له ميندو پلرونو سره يې شريک کړي چې وړکتون، ښوونځي، کتاب، مطالعې ، راديو او تلويزيون او د ميډيا نورو ډولونو ته لاسرسی لري.
سره له دې چې د تورمان صاحب ليک او خبرې يوازې د اطلاعاتو او کلتور د وزير ښاغلي باري جهاني په آدرس ليکل شوي دي، خو زه يې داسي انګيرم چې د تورمان صاحب ليک ټول هغه قلموال هم په نظر کې ولري چې د ماشوم او کوچني د پاللو، روزلو او زدکړې په ارزښت پوهيږي، په تيره هغو قلموالو ته چې د کوچنيانو له پاره يې هستونې کړي او کوي يې او يا ژوندي روزنيز پروګرامونه چلوي.
ما د کوچنيانو له پاره نه شعر ليکلی دی، نه مې کومه کيسه ليکلې ده او نه مې تر اوسه څه ژباړلي دي، خو له څه د پاسه ديرش کاله را په دې خوا د موضوع د مهم والي په درکولو سره مې د کوچنيانو د ادبياتو په تيورکي او تحقيقي برخه کې د خپلو زدکړو، پوهې او تجربې په رڼا کې کار کړی دی او اوس هم په همدې کار لګيا يم.
تور مان صاحب په خپل ليک کې په کابل کې، په اوس مهال کې د کوچنيانو خپرونو ته اشارې کړې دي او د نشراتو خوار او زار حالت يې د مثال په توګه ښاغلي وزير ته مخ کې اېښی دی او ... د دې موضوع مهم والي ته په پام سره، د ځينو خيرنو په لړ کې د کوچنيانو ادبياتو ته د شوو کارونو د څيړنې په برخه کې کله چې په کابل کې يا په افغانستان کې د شوو کارونو او روانو کارونو د څيړلو برخې ته ورسيدم، نو ما سره په اروپا کې د قحط الکتاب او قحط المواد په دې چاپيريال کې، هغه مالومات چې ما غوښتل، نه وو راسره. د موضوع د روښانتيا له پاره مې ځان سره و ويل چې له کابل ميشتو يارانو نه مرسته وغواړه چې که چاپ شوي مواد نه شي را پوست کولای، لا اقل دومره مالومات خو را ته پيدا کړي چې کومه خپرونه يا خپرونې د کوچنيانو له پاره همدا اوس چاپيږي ؟ آيا د افغانستان د ليکوالو ټولنې په تشکيل کې چې پخوا د کوچنيانو د ادب څانګه وه اوس هم شته که نه؟ او څو نورې پوښتنې.

ما په اول ګام کې له دغو ښاغلو نه په دې ډول د دې مالوماتو غوښتنه وکړه:

ـ د ۲۰۱۴ کال د دسمبر په شپږمه نېټه مې ښاغلي ضیا بومیا ته داسې ولیکل:
سلامونه او درناوی!
یوه څېړنیزه مقاله باندې کار کوم، دهغې مقالې په ترڅ کې د دغو پوښتنو ځواب ته اړتیا لرم:
په کابل کې د افغانستان د لیکوالو ټولنه فعاله ده که نه؟
که فعاله وي، آیا د هغې ټولنې په تشکیل کې د کوچنیانو د ادبیاتو څانګه شته که نه، که وي کوم فعالیتونه یې کړي دي؟
په کابل کې د کوچنیانو له پاره کومې نشرېې خپرونې کوي؟
آیا په مجلو او اخبارونو کې د کوچنیانو د ادبیاتو له پاره لکه پخوا کوم ځانګړی ستون یا پاڼه شته که نه، که وي لیکوالان یې څوک دي؟
له همکاریو نه مو مخکې له مخکې مننه کوم.
البته هر څه به لنډ راته لیکې چې ډېر په زحمت نه شې.
خو تر نن پورې یې ځواب ته لارې څارم.

ـ د ۲۰۱۴ کال د دسمبر په یولسمه نیټه مې ښاغلي عبد الواحد تابع ته داسې ولیکل:
زما له کابل نه یو څه مالومات په کار دی، که وکولای شې چې په لنډ ډول یې را ته پیدا کړې.
توکل په خدای تاسوخویې وواياست چې له وسی می کیږی؟ یانی کولای یی شم که نه؟
په پخواني رژیم کې د دولت په تشکیل کې د لیکوالو ټولنه وه اوس هم شته که نه؟ که وي آیا د کوچنیانو د ادبیاتو څانګه په کې فعاله ده که نه؟
آیا د کو چنیانو له پاره کومې مستقلې دولتي یا غیر دولتي خپرونې شته که نه؟
په ټول کې په افغانستان کې د کوچنیانو ادبیاتو ته څومره پاملرنه کیږي او څّه حال لري؟
که مو وکولای شول دا پوښتنې به ډېرې لنډې راته ځواب کړې. له مرستې به دې مننډوی اوسم.
او په بریښنا لیک کې راولیږه.
انشاالله
بس زه سترګې پر لاره یم.
نور دې په خدای سپارم
تربیا
خو ورځې یې پته و نه لګیده، بیا مې د ۲۰۱۴ کال د دسمبر په نولسمه داسې ور ته ولیکل:
تابع صاحب سلامونه! آ زما غوښتی مالومات دې لکه چې یا هیر دی او یا دې نه دی پیدا کړی، که څنګه؟
له لږ څه سوا ځواب نه  وروسته یوه شوم چې نه کیږي، نو بیا مې څه ور ته ونه لیکل.

ـ ښاغلي غفور لیوال نه مې د ۲۰۱۵ کال د فبروری په یولسمه نیټه، داسې غوښتنه وکړه:
لیوال صاحب سلامونه او درناوی!
که مو دغه مهرباني وکړه، نو زما له پاره به یوه لویه ډالۍ وي او دغه راز که مو وخت پیدا کړ دا پته به را ته ولګوئ:
د کوچنیانو له پاره په کومو خپرونو کې ځانګړې مخونه شته او په څه ډول؟
آیا د افغانستان د لیکوالو په ټولنه کې د کوچنیانو د ادبیاتو څانګه شته که نه، که وي کوم فعالیتونه یې کړی دی؟
په راډیو او تلویزیون کې د کوچنیانو له پاره څه شته که نه؟
او نور مو داسې څه که د کوچنیانو ادبیاتو په برخه کې له نظره تیر شول ، نو که زحمت نه کیږي د ایمیل له لارې مې ورباندې خبر کړه.

يو خو زما هغه کتاب(د کوچنيانو ادبيات) و چي په ۱۳۶۶ کال کي خپور شوى و، دا اوسنى ځيرنه مي کاملاً نوي ده او ستاسو مرستي ته اړ يم.
خو ده په اول کي ما ته يوازي دا جمله وليکله:
استاده مننه ، زه به خپله تولله هڅه وکړم
او کله چي د ۲۰۱۵ کال په اپريل کي زه کابل ته تګونکى شوم او له ده نه مي د ده د تيليفون شميره وغوښته، ليوال صاحب د تيليفون د شميرې د راليږلو سره يو ځاى د غوښتي مالوماتو په برخه کي داسي را ته وليکل:
سلامونه قدرمن بهاند صاحب
زما لپاره به دا وياړ وي، چي له تاسو سره خبري وکړم ...
بله خبره دا ده ، چي د (( مطيع الله ويسا )) په نامه يو ځوان دى، چي غواړي دکليوالو ماشومانو لپاره يوه مجله خپره کړي، ماستاسو دهلو ځلو يادونه هم ورته کړې وه نو که څه ليکني مو ورکولي دلته به ډيري ګټوري وي
جوړ او خوشاله اوسئ
کابل کي د شته ستونزو او د هر چا رسمي اوشخصي کارونو ته په پام سره زه له يادو ښاغلو ګيله نه کوم، خو که څه په لاس راغلي واى، ما به لا هماغه وخت يادونه کړې واى.
اوس به وګورو چي د ښاغلي اجمل تورمان په ليک د ماشونو او کوچنيانو د ادبياتو د انځور شوي خوا ر او زار حالت ته ځوک پام کوي که نه؟

د کوچنيانو ادبياتو د مقالو په ځينو برخو کي مي پر دې بحث کړى و چي د ماشومانو او کوچنيانو له پاره، د کوچنيانو د ادبياتو په نامه را ټول شوي، تخليق شوي، چاپ او خپاره شوي مواد چيرې، څه ډول چاپ او خپاره شوي دي او په کومو آدرسونو آنلاين شوي دي. په دې باب ځومره مواد چي ما ته په لاس راغلي يا مي له نظره تير شوي دي، ما يو په يو د همدى سلسلي(د کوچنيانو ادبيات، تاريخي پس منظر، اوسنى حالت)
په ځينو برخو کي معرفي کړي دي چي انترنيتي پتي يي په لاندي ډول دي:

http://www.afghan-german.net/upload/Tahlilha_PDF/bahand_a_kochnian9.pdf

http://www.afghan-german.net/upload/Tahlilha_PDF/bahand_a_kocnian10.pdf

http://www.afghan-german.net/upload/Tahlilha_PDF/bahand_a_kochnian11.pdf

http://www.afghan-german.net/upload/Tahlilha_PDF/bahand_a_kochnian12.pdf

اوس نو پاتي دا شوه چي څنګه دا ليکلي کتابونه او مواد تر کوچنيانو او تر کورنيو پورې ورسيږي. انترنيتي پتي ور وښودل شي، د لوستلو زمينه يي ورته برابره کړاى شي، کوچني ته د لوستلو او ور باندې د پوهيدلو چل و ښودل شي.
زما له انده اوس دا د هر مور پلار، د هرې کورنى د مشرانو او زلمو کار دى چي دا ليکلي مواد او کتابونه د ماشومانو تر ورو او نازکو لاسونو پورې ورسوي. لارښوونه دې ورته وکړې، ټکي په ټکي دې ورسره و وايي او د هر توري تشريح ته دې د خپلي حوصلي ځادر وغوړوي او که نه، نو...

د کوچنیانو او د کوچنیانو ادبیاتو په برخه کې چې پاس ما ځومره لیکوال، کتابونه او نشریې معرفي کړي دي او ور باندې غږیدلی یم، په ډاډ سره ویلای شم چې دا کار بشپړ نه دی، د بشپړتیا تر نیمایي هم را ټیټ دی. د همدې خبرې په رڼا کې ویلای شم چې:

دا د دې مانا نه لري چې ګواکې زما څېړنه هر اړخیزه او بشپړه ده او ما به دا توره کړې وي چې تر نن پورې ټول هغه مواد او کتابونه چې په پښتو ژبه باندې د کو چنیانو د ادب په نامه لیکل شوي او تخلیق شوي دي، ما به لیدلي او څېړلي وي. نه داسې نه ده او دا کار یو څه نا شونی هم دی. ما ته د خپلو امکاناتو په چوکاټ کې چې ځومره مواد په مخه راغلي دي او ځومره لیکوال او شاعران مې پیژندلي دي، خبرې مې ور باندې کړي دي او معرفي کړي مې دي. ښایي ډیر کتابونه او لیکوال له ما نه پاتې وي او په دې برخه کې ځینې خپاره شوي آثارو نه به زه نا خبره یم. یو مثال یې د کتابونو هغه سلسله ده چې د یوه کتاب په یوازې پیژندنه کې زه ورسره مخ شوم.
یوه ورځ د مخکتاب په بڼ کې ګرځیدم چې د کوچنیانو له پاره د یو نوي کتاب له نامه سره آشنا شوم. دا کتاب «ماشومانو ته د نبوي سیرت کیسې او درسونه» نومیږي. یاد کتاب مصري لیکوال عبدالحکیم عبدالفتاح محمد عبوس لیکلی دی او ښاغلي زاهد جلالي پښتو ته ژباړلی دی. په فیسبوک کې یوازې د کتاب د لومړۍ او وروستۍ پښتۍ عکس اپښودل شوی و چې د کتاب نوم، مولف او ژباړن ورنه پیژندل کیدای شو. د کتاب فهرست او محتویات په کې نه و معرفي شوي، خو د کتاب په عکس کې له عنوان نه پاس لیکلي وو:

«د ماشومانو له پاره کتابي سلسله (۹)»

له دې جملې نه داسې ښکاري چې له دې کتاب نه مخکې اته نور کتابونه هم د کوچنیانو له پاره لیکل شوي او چاپ شوي دي، او زه به یې د دې قحط الکتاب په چاپیریال کې څنګه تر لاسه کړم چې په محتویاتو باندې یې څه ولیکم او ښکاره کړم چې دا کتابونه د ماشومانو او کوچنیانو فکرونه په سمه لار سیخوي او که له سمې لارې نه یې په بله اړوي. څه شی ماشومانو او کوچنیانو ته ورکوي او که څه ور نه اخلي؟
دا یې یوه هغه بیلګه وه چې د تصادف له مخې ما ولیدله، کیدای شي نور ډیر داسې مواد له ما نه پاتې وي چې په رښتیا د کوچنیانو د ادبیاتو په دایره کې راځي، څېړل او پیژندل یې اړین دي، خو ...
د کوچنیانو د ادبیاتو په نامه، یا د ماشومانو او کو چنیانو د روزنې له پاره څه لیکل او حتی په تعلیمي نصاب کې چې د ماشومانو او کوچنیانو له پاره کوم موضوعات انتخابیږي او بیا لیکل کیږي یا ژباړل کیږي؛ د هغو د انتخاب په باب فکر کول ډیر اړین او ضروري دي چې لیکوال او شاعر د لیکلو او ژباړلو له پاره کومه موضوع انتخابوي او بیا یې د تخلیق، تالیف او یا ترجمې په نامه د کو چنیانو د ادبیاتو تر سر لیک لاندې، د هغوی په لاس کې ور کوي .
اصل مقصد دا دی چې باید فکر وشي: زموږ لیکل شوي، ژباړل شوی او یا تخلق شوی آثار یا مواد ماشوم او کوچني ته څه ورکوي د تیارې پر لوري یې بیا یې او که د رڼا پرر خوا، د ژوند او تمدن پر لارې یې سیخوي، که د هغې پر ضد؟
دغه لنډکی مقاله (د کوچنیانو ادبیات، تاریخي پس منظر، اوسنی حالت، پنځه لسمه برخه) چې کیدای شي د یوې نتیجه ګیرۍ په بڼه و انګیرل شي، د دې مانا نه لري چې د کوچنیانو د ادبیاتو د پیژندنې او څېړنې په برخه کې زه خپل کار بشپړ یا تمام ګڼم او نور لاس تر زنې کینم؛ نه داسې نه ده. د کوچنیانو د ادبیاتو په برخه به زما کار روان وي او تل به زما هڅه دا وي چې د نویو موادو په تر لاسه کولو سره به زه هغه څېړم. د نویو ستونزو او نویو پوښتنو په را پیدا کیدو سره به د نورو قلموالو په مرسته د هرې پوښتنې له پاره یو ځواب او د هرې ستونزې له پاره یوه د حل لار پیدا کوو.

# «د ماشوم د ادبیاتو کور»

د کوچنیانو د ادبیاتو د مقالو(د کوچنیانو ادبیات، تاریخي پس منظر، اوسنی حالت) په دې برخه کې، «د ماشوم د ادبیاتو کور» ته رسیدلي یو او لږ به په دې کور کې دمه شو، له کوربنو سره به آشنا شو او وبه ګورو چې د دې کور خاوندانو د ماشومانو او کوچنیانو له پاره څه کړي او نقد څه لري.

د کوچنیانو د ادبیاتو د مقالو د همدې سلسلې په دولسمه برخه کې مې ویلي و:

«په فیسبوک کې ماشومانو او کوچنیانو ته پاملرنه:

مخکې له دې چې زه خپل بحث ته ور ننوزم، د دې خبرې سپینول غواړم چې په مخکتاب کې مې د عامو خلکو له لوري د خپلو ماشومانو د زیږدلو زیري، د بل چا د ماشومانو او کوچنیانو په ښه یا بدو یادول، عکس کیښودل او نازول د بحث وړ موضوع نه ده، بلکې د مخکتاب په پاڼو کې مې اصلي هدف هغه پاڼې دي چې په عام ډول د ماشومانو او کوچنیانو د روزنې، پالنې او د دوی ادبیاتو له پاره کار کوي.

په دې کې شک نه شته چې د دولت د درې ګونو قواوو(مقننه، اجراییه، قضایه) تر څنګ، میډیا په ټوله نړۍ کې د څلورم ځواک په صفت خپل رول ثابت کړی دی. په نویو نظریاتو کې دا هم ویل شوي دي چې د دې څلورم ځواک څو سر کښنه بچي(ټولنیزې رسنۍ) د پنځم ځواک دعوا کړې ده.
یوه ورځ مې د خپلې خوښې وړ او خپل اعتبار وړ رسنۍ سره اړولې چې د ټولنیزو رسنیو په باب دا کرښې په مخه راغلې:

«...اوس د دغه څلورو قواو تر څنګ پنځمه قوه هم خپل سر را ښکاره کړ، هغه ټولنیزې شبکې دي چې د نړۍ له ګوټ ګوټ څخه په میلیونونو اشخاص له مختلفو عقایدو او افکارو سره یو ځای شوي دي او خپل د خوښې وړ څه پکې خپروي او ډیر ژر تقریبا کله کله له رسنیو مخکې د نړۍ له پیښو څخه خبریږي دا ټولنیزې شبکې چې ډیره وتلې او اغیزمنه یې فیسبوک ویب پاڼه ده چې له ډیر ښه تسهیالتو څخه برخمنه ده او مشترکین یې کوالی شي خپل د خوښې وړ څه پکې خپاره کړي. ددې ټولنیزو شبکو فلسفې ته که فکر وشي نو ډیر د نړیوال کیدو پر لور ورنیږدې کیدو ته یو ستر ګام دی او د نړۍ په یوه کلي بدلیدل ورځ تر بلې په دې ډول تحولاتو سره محسوسیږي ...»

http://rohi.af/fullstory.php?id=32292

د میډیا د پاسنیو سرکښو بچیانو په ډله کې یو هم مخکتاب یا فیسبوک نومیږي. د دې ټولنیزې رسنۍ پر مخ ځینو قلموالو د نورو مسایلو تر څنګه کوچنیان هم نه دي هیر کړي، یوه پاڼه یې ورته جوړه کړې ده چې» یو ماشوم یوه نړۍ نومیږي.»

http://www.afghan-german.net/upload/Tahlilha_PDF/bahand_a_kochnian12.pdf

په مخکتاب کې د ماشومانو او کوچنیانو له پاره دا پاڼه(یو ماشوم یوه نړۍ) دومره موثره وه چې په پایله کې یې همدا فیسبوک پاڼه په یوې داسې ویبپاڼې باندې بدله شوه چې د ماشومانو د پالنې، روزنې او د کوچنیانو د ادبیاتو په یوه لوی آدرس باندې بدله شوه چې نوم یې دی:

«پل»(pal.taand.com).

د «پل» د زیږیدو په خوشالی باندې مې په هماغه وخت کې یوه ځانګړې مقاله ولیکله:

http://www.afghan-german.net/upload/Tahlilha_PDF/bahand_a_pal.pdf

ما لا پخوا د ماشوم روزنې د فیسبوک پاڼې له پاره لیکلي وو:« په مخکتاب کې د «یو ماشوم، یوه نړۍ» په نامه پاڼه کې د دې پاڼې د چلوونکو او همکارانو له خوا چې د ماشومانو او دهغوی د میندې پلرونو او نورو مشرانو د لارښوونې له پاره څه ایښودل کیږي، دا یوازې د ښار محدود چاپیریال سره رانغاړي. موږ باید په کلو او باندو کې د افغانستان اکثریت کوچنیان، د هغو ژوند او د هغو له پاره لارښوونې، سواد، ښوونځی او د هغوی ادبیات او راتلونکی ژوند هیر نه کړو.»

خپل هماغه پخوانی خپور کړی نظر اوس بیا د «د ماشوم د ادبیاتو کور» له پاره هم په تکرار او ټینګار سره راوړم چې د ماشوم د ادبیاتو کور کارونه او فعالیتونو ته زه ډیر خوشبینه یم او که په همدې بنه دوام وکړي، بنه راتلونکي به یې په مخ کې وي، خو د مسولینو باید دې ټکي ته پام وي چې د دوی په پاڼه(د ماشوم د ادبیاتو کور) کې خپریدونکي مواد به څومره او څنګه تر هغو ماشومانو او کوچنیانو پورې ورسول شي چې هغوی یا عصري میډیا(تلویزیون، کمپیوتر او انټرنت) یا نه پیژني او یا لاس رسی نه ورته نه لري. زما وړاندیز خو دا دی چې خپل ډیری فعالیتونه او لاس ته راوړنې دې د اوس له پاره په لیکنی او چاپي بنه تر دوی پورې ورسوي.

« د ماشوم د ادبیاتو کور» فرهنګي بنسټ د اوسني دولت د اړوندو ادارو له خوا منظور او په رسمیت پیژندل شوی فرهنګي بنسټ دی، چې د ۱۳۸۹ کال د حمل په یو ویشتمه نیټه یې د تاسیس مکتوب صادر شوی دی.

هغه رسمي اسناد چې ما لیدلي دي، په هغو کې په ۱۳۸۹ کال کې د افغانستان د اطلاعاتو او کلتور وزارت د معین ښاغلي سید عمر سلطاني په امضا لیکل شوي چې دا بنسټ د ۱۳۸۹ کال د حمل له یویشتمې(۲۱) نیټې نه د فعالیت حق لري. دا یې هم د مکتوب متن:

دافغانستان اسلامي جمهوریت | جمهوری اسلامي افغانستا ن
داطلاعاتواو فرهنگ وزارت | وزارت اطلاعات وفرهنگ

Islamic Republic of Afghanistan -
Ministry of Information and Culture

ریاست پلان وارتباط خارجه
سکتورخصوصی ضمیمه (  ) ورق

شماره ۵۸
تاریخ ۱/ حمل/ 1389

به نهاد ادبی وکلتوری ( دماشوم دادبیاتوکور) !

از اثریاد داشت تحریری شما مینگاریم :
وزارت اطلاعات وفرهنگ موضوع ایجاد مرکز ادبی وکلتوری تحت نام (دماشوم دادبیاتو کور) که توسط محترم اجمل تورمان یک تن ازخدمتگذاران فرهنگ وادب درشهرکابل تدویرمیگر وهدف ازفعالیت شان ( ارائیه وتوسعه خدمات ادبی وکلتوری برای اطفال افغانستان ) میباشد تحلیل وارزیابی نموده.
اینوزارت درمورد ایجاد چنین نهادهای که درتربیت ورشد سالم استعدادهای اطفال وطن عزیز ما مثمرواقع شود. انرا استقبال وحمایت مینماید. وازصدور نامه هذا درمورد ایجادنهاد فوق الذکردر مطابق به پالیسی فرهنگی جمهوری اسلامی افغانستان ابرازموافقت میدارد. ضمناً مسئول نهاد متذکره مکلف به رعایت تمام قوانین ومقررات نافذه کشودر فعالیت های خویش میبا شد .

باحترام

زما د معلوماتو له مخې، د ماشوم د ادبیاتو کور بنسټ اینودونکی اجمل تورمان دی. کله چې یې د فیسبوک پاڼې له لارې له ځینو فعالیتونو څخه خبر شوم، نو راته موضوع ځکه جالبه او په زړه پورې شوه چې عملاً همدا اوس د کوچنیانو د ادبیاتو په باب زما څېرنیز کار روان دی او هر چیرې چې په دې باب له مازې یو کتاب، یو شخص چې په دې باب یې څه تخلیقي یا تحقیقي کار کړی وي، کومه خپرونه(اخبار، مجله، راډیو تلویزیون او ...) او یا د ټولنیزې میډیا په نور برخو کې کوم څرک وګورم، نو سمدلاسه یې د کوچنیانو ادبیاتو د غوړیدو، بنې پیژندنې او نوي نسل د روزلو په موخه معرفي کوم، خپل نظر او وړاندیزونه ور سره یو ځای کوم، ستونزې یې په نښه کوم، د حل لارې یې ښیم او بیا یې خپروم.
د همدې دلیل له مخې مې هوډ وکړ چې «د ماشوم د ادبیاتو کور» فرهنګي بنسټ باندې هم یو څه ولیکم، نو مې تر ټولو مخکې، د کره او لومړي لاس موادو د تر لاسه کولو په موخه، د دې کور د بنسټ اینودونکي اجمل تور مان مرسته و غوښته او دا پوښتنې مې ور ته مخکې کېښودې:
سلامونه او درناوی!

زه غواړم «د ماشوم د ادبياتو کور» باندې يوه څېړنيزه مقاله وليکم. که زحمت نه کيږي د دغو لاندې پوښتنو په ځواب کې مرسته را سره وکړه:
ـ «د ماشوم د ادبياتو کور» ټولنه؟ يا نهاد؟ څه وخت، د چا له خوا او د کوم هدف په خاطر جوړ شوی؟
ـ «د ماشوم د ادبياتو کور» فيسبوک پاڼه څه وخت پرانستل شوې؟
او ستا خپله يوه لنډکۍ بيوګرافي مې هم په کار ده.
ښاغلي تور مان هم لطف وکړ او دغه مالومات يې زما په ادرس را ولېږه:
«استاد سلام!
د ماشوم د ادبياتو کور په ۱۳۹۴ لمريز کال کې جوړ شو. د کور مسوول اجمل تورمان دی او د افغانستان د اطلاعاتو او فرهنګ وزارت څخه د فعاليت رسمي اجازه ليک لري.
هدف يې د ماشوم ادبياتو ته کار کول، هم د لويانو له خوا ماشومانو ته او هم له ماشومانو نه ماشومانو ته.
تر اوسه يې د خپلو اونيزو غونډو تر څنګ چې هر چهارشنبه د کابل په عامه کتابتون کې جوړيږي درې لويې غونډې هم جوړې کړې، په کابل کې د ورځنتون د ماشومانو لپاره د رسامۍ او مقاله ليکنې کانکور، د افغانستان د ملي راډيو تلويزيون سره په ګډه ماشومانو ته د کيسه ليکنې کانکور او عامه کتابتون ته د هنر د ورځې په مناسبت د ماشوم د ادبياتو د څو تنو مشهور ليکوالو د تصويرونو ډالۍ.
پخوا د ماشوم د ادبياتو کور په بلاګفا کې د ماشومانو لپاره خپروني درلودې:

http://mashom.blogfa.com

او کابو له يوې مياشتې راهيسې په فيس بوک کې په دې نوم ( خانه ادبيات کودک، د ماشوم د ادبياتو کور) خپروني لري.»
خو اوس په بلاګفا کې څه نه خپروي. کله چې ما ښاغلی تورمان وپوښته چې پلاګفا کې مو اوس خپروني شته که نه؟ ښاغلي تورمان په ځواب کې داسې را ته وليکل:

«استاد سلام !

نه په فيس بوک کې د پاڼې تر جوړولو وروسته په بلاګفا کې نشرات نه لرو. په دې پاڼه(په فيسبوک کې د ماشوم د ادبياتو کور پاڼه) کې مونږ ماشومانو ته کيسې، شعرونه د خپلو اونيزو او ځانګړو غونډو راپورونه او نور مطالب خپروو.»
ښاغلی تورمان له ډېرې مودې نه د کوچنيانو په باب فکر کړی او کوي يې عملاً يې کار ورته کړی او عملا يې تخليق ور ته کړی دی او د «د ماشوم د ادبياتو کور» فرهنګي بنسټ په جوړولو او عملاً په کې کار کولو سره يې د کوچنيانو د ادبياتو ته د پاملرنې، ودې او د نوي نسل د روزلو لوی مسوليت ته اوږه ورکړې ده.

ښاغلي تورمان لا پخوا د افغانستان د اطلاعاتو او کلتور د وزير ښاغلي باري جهاني په آدرس، د کوچنيانو د خپرونو د خوار حالت او د کوچنيانو ادبياتو ته د نه پاملرنې په باب يو سر خلاصی ليک «د اطلاعاتو او فرهنګ وزير عبدالباري جهاني ته سر خلاصی ليک» ليکلی و. په ليک کې تورمان ښاغلي وزيرته د اطلاعاتو او فرهنګ وزارت اړوند موسسو او دفاترو کې او د کوچنيانو له پاره په ځانګړو (چاپي، غږيزو او انځوريزو) خپرونو کې شته ستونزې، په نښه کړې وې. ما هم په هماغه وخت کې د همدې ليک د محتوياتو او مهم والي په باب يوه مقاله وليکله چې د اجمل تورمان د ليک بشپړ متن مې هم په کې خوندي کړی دی:

http://www.afghan-german.net/upload/Tahlilha_PDF/bahand_a_tormanlik.pdf

دا چې په دې لیک او زما پر مقالې او وړاندیزونو څومره چا سر وګراوه که نه، زه نه یم ورباندې خبر، خو اوس یې ګورم چې «د ماشوم د ادبیاتو کور» د بنسټ په پرانستلو سره او د مخکتاب په بڼ کې په همدې نامه د یوې پاڼې جوړول او د کوچنیانو د ادبیاتو د لیکوالو او خوا خوږو د پام ور اړولو سره، اجمل تورمان او د هغه د دې لارې اندیوالان کرار نه دي ناست او په خپلو خبرو کې جدي او په دې برخه کې کارته هوډمن دي. دا چې په دې برخه کې سرکاري مسولین څه کوي او څومره یې کوي، دا به په راتلونکو کې ولیدل شي.
زه چې د ماشومانو، کوچنیانو او په ټول کې د نوي نسل د روزلو له پاره د اجمل تورمان او د هغه د ملګرو او همکارانو جدیت ته ګورم، ډاډه یم چې په نږدې راتلونکو کې به «د ماشوم د ادبیاتو کور» ځانته جلا او خپلواکه چاپي او برېښنايي خپروني هم ولري.
«د ماشوم د ادبیاتو کور» بنسټ ته د اوس له پاره زما یو وړاندیز دا دی چې که امکان ولري دوی میاشتنۍ یا مهالنۍ خپرونه را وباسي او د دوی د بنسټ د فعالینو او نورو قلمي همکاررانو له خوا د ماشومامو او کوچنیانو له پاره لیکلي، ژباړل شوي او تخلیق شوي مواد په چاپي بڼه هم خپلو لوستونکو ته وړاندې کړي، ښه به وي، په تېره بیا که دا چاپي مواد هغو ماشومانو او کوچنیانو ته ورسوي چې تلویزیون او انټرنت یا نه پېژني او یا هم لاس رسی نه ور ته لري؛ نو ډېر په ځای کار به وي.
«د ماشوم د ادبیاتو کور» بنسټ اینښودونکی او تر نورو ډېر فعال کس اجمل تورمان دی. اجمل تورمان لا له زلمیتوبه د کوچنیانو د ادبیاتو او نوي نسل د روزلو په فکر کې و. په تانده ځوانۍ کې یې هم کوچنیانو ته شعرونه لیکل. دا یې یوه بېلګه ده:
«تېر شو منی تېر شو
ورکې دوړې, خاورې شوې
راغی ژمی راغی
سپینې - سپینې واورې شوې
اجمل تورمان
یادونه: دا شعر کابو شل کاله مخکې, هغه مهال چې تنکی ځلمی وم ما لیکلی و.»

https://www.facebook.com/خانه-ادبیات-کودک-د-ماشوم-د-ادبیاتو-کور-1474829949511421/timeline/?ref=nf

وروسته یې بیا د کوچنیانو ادبیاتو په برخه کې د هڅو لمن نورهم پسې وغوړېده او په دې برخه کې یې آثار هم تخلیق او خپاره کړل. د کوچنیانو د ادبیاتو په برخه کې د اجمل تورمان هڅو ته په کتو سره به دلته د ده لنډه بیوګرافي را واخلم:
«د ماشوم د ادبیاتو کور» فیسبوک پاڼه کې د ښاغلي تورمان بیوګرافي د ۲۰۱۵ کال د اکتوبر په دولسمه نېټه خپره شوه. دا یې بشپړ متن دی:
«د ماشوم د ادبیاتو د کور د موسس او ریس اجمل تورمان لنډه پېژندګلوي:
نوم: اجمل
تخلص: تورمان
زوکړه: خوګیاني، ننګرهار
زده کړه: د افغان سید جمال الدین خصوصي پوهنتون (اداره او ډیپلوماسي)، د افغان سید جمال الدین انستیتوت( پښتو ادبیات)، غلام حیدر خان چرخي عالي لیسه.
رسمي دندې:
ـ آزادي راډیو( خبریال او د ایډېټر مرستیال)،

ـ اراکوزيا راډيو(ريس)،
ـ د افغانستان د پوهني وزارت د خپرونو رياست(غړی)،
ـ د شهيدانو او معلولينو وزارت د خپرونو رياست( غړی).
افتخاري دندي:
ـ د افغانستان د قلم ټولني د ځوانانو د جونګړې د پښتو څانګې مسوول،
ـ د مصور خيروندوی بنسټ مرستيال،
ـ د رڼا کلتوري ټولني موسس،
ـ د پل فکري کړی د موسسي شورا غړی،
ـ د خوشحال فرهنګي ټولني غړی،
ـ په کراچۍ کې د افغان سيد جمال الدين د فرهنګي ټولني د مشرتابه شورا غړی،
ـ د ماشومانو د ادبياتو په برخه کې د اکاډميکي مجلې ( مصور) مسوول مدير،
ـ د ماشومانو لپاره د ( اکو،بکو) په نوم د مياشتنۍ خپروني مسوول مدير،
ـ په کراچۍ کې د افغان کډوالو له پاره د ( د لاس نښه ) په نوم د مياشتنۍ فرهنګي خپروني مسوول مديراو د ( سپيدې ) مجلې د ليکوالو د پلاوي غړی.
نوري وياړنې:
په ۱۳۷۴ او ۱۳۷۵ لمريزو کلونو کې په پرله پسې ډول دوه کاله د افغانستان د اطلاعاتو او کلتور وزارت د ادبي جايزې لومړی ګټونکی.
خپاره شوي اثار:
د ګل تر سيوري لاندې، شعري ټولګه
په وياله کې سمندر، شعري ټولګه
خدای پامان، شعري ټولګه
زه د ښار هغه شاعر يم، شعري ټولګه
د ادم خان لالا نکلونه: ماشومانو ته کيسي
ځنګل او د زړې بيزو کيسه، ماشومانو ته ناول ګوټکی
ينځه، ماشومانو ته د شعرونو ټولګه»

https://www.facebook.com/خانه-ادبيات-کودک-د-ماشوم-د-ادبياتو-کور-1474829949511421/timeline/?ref=nf

ډيره لږه موده کيږي چې «د ماشوم د ادبيانو کور» فيسبوک پاڼه پرانستل شوې ده او خپل عملي فعاليت يې پيل کړی دی.

د دې بنسټ په فیسبوک پاڼه کې د راغلو مالوماتو پر اساس دا بنسټ څلور کاله پخوا رامنځ ته شوی دی. د دې بنسټ په فیسبوک پاڼه کې د راغلو مطالبو په یوه برخه کې داسې راغلي دي چې د دې بنسټ موخه څه ده. ایمل مرزا نومي لوستونکي په پاڼه کې د ۲۰۱۵ کال د اکتوبر په دریمه د دې ټولنې یا نهاد د آرم د عکس د خپرولو په برخه کې داسې یوه پوښتنه مطرح کړې وه:

«میشود یک کمی معلومات بدهی از اهداف یا اساسنامه این نهاد خانه ادبیات کودک اگر لطف کنی»

او ښاغلي نګین قمبري داسې ځواب ورکړی دی:

«حتمن چرا نه
خانه ادبیات کودک یک نهاد آزاد است که روی ادبیات کودک در افغانستان کار میکند و 4 سال بدینسو فعالیت داشته اما حالا با یک تشکیلات تازه آغاز به کار کرده است.
هدف ما : خدمت به ادبیات کودک در افغانستان, رشد استعداد های جوان در این بخش, جلب نمودن توجه مقامات و ارگان های مسوول و همچنان کار عملي در این مورد با کودکان افغان.»

https://www.facebook.com/1474829949511421/photos/pb.1474829949511421.-2207520000.1444231551./1487904908203925/?type=3&theater

لکه څنګه چې پاس راوړل شول د دې کور د جوړېدو موخه دا ده« هدف یې د ماشوم ادبیاتو ته کار کول، هم د لویانو له خوا ماشومانو ته او هم له ماشومانو نه ماشومانو ته.»

. د همدې وروستیو فعالیتونو په خاطر یې، په یوه راپور کې یې داسې راغلي دي:

« از کار کرد های چهارتن از نویسنده گان ادبیات کودک ستایش به عمل آمد:
در حالی که فردا شانزده هم میزان مصادف است با روز هنر، نهاد تحت نام خانه ادبیات کودک امروز ازکارکرد های چهار تن از نویسنده گان افغان که نوشته هایشان به ادبیات کودک اختصاص یافته بود ستایش به عمل آورد.

این نهاد به رسم گرامی داشت از کارکرد های سمیع حامد، پروین پژواک، آصف بهاند و حبیب الله رفیع تصاویر آنان را تحفه گونه به کتابخانهٔ عامه اهدا نمود.
نگین قمبری معاون نهاد خانهء ادبیات کودک روز چهارشنبه به رادیو آزادی گفت که در خصوص ادبیات کودک در گذشته کار صورت نگرفته و اکنون این نهاد تلاش دارد تا برنامه های لازم را دراین خصوص راه اندازی کند.
او همچنان افزود که مسوولان باید در خصوص ادبیات کودک در افغانستان برنامه های روی دست گیرند و حکومت باید ازاین برنامه ها حمایت کند.
ازسوی دیگر مسوولان کتابخانهء عامه کابل از این کارکرد خانهء ادبیات کودک استقبال کرده است.
دواخان مینه پال ریس این کتابخانه روز چهارشنبه به رادیو آزادی گفت که با این کار نویسنده گان دیگرکشور نیز تشویق خواهند شد تا در رابطه به کودکان نوشته هایشان را منتشر کنند.
آقای مینه پال از تمامی شاعران و نویسنده گان کشور خواست تا روی ادبیات کودک درافغانستان کار کرده تا بتوانند زمینه خوبی را برای آموزش کودکان فراهم سازند.
با وجود کارکرد ها و تلاشها طی سالهای اخیر، باز هم کار چنداني برای ادبیات کودک افغان صورت نگرفته است.
دست اندر کاران این عرصه میخواهند که ادبیات کودک بخش اساسی نصاب تعلیمی معارف کشور گردد تا باشد که کودکان از آوان کودکی با ادبیات کشور آشنا شوند.
لیزا حیدری، راديو ازادي»

https://www.facebook.com/خانه-ادبیات-کودک-د-ماشوم-د-ادبياتو-کور-1474829949511421/timeline/?ref=nf

د ۲۰۱۵ کال د اکتوبر په لسمه نیټه د «د ماشوم د ادبیاتو کور» په فیسبوک پاڼه کې یو مطلب خپور شو، په هغه کې راغلي چې د ماشوم د ادبیاتو کور مشر اجمل تورمان د حکومت پر لوړ پوړو مقاماتو د کوچنیانو د ادبیاتو د عامیدو او درسي نصاب ته يي د داخليدو او رسمي کيدو په موخه د یوې تلویزیوني خپروني له لارې داسې غږ کړی دی:
«نن سهار د افغانستان له ملي تلویزیون سره په هیواد کې د ماشومانو د ادبیاتو د اوسني وضیعت او د ماشومانو د ادبیاتو د کور د فعالیتونو په اړه د کور د مسوول ښاغلي اجمل تورمان د خبرو مهم ټکي:
«د افغانستان د اطلاعاتو او فرهنګ په وزیر غږ کوم چې لطفاً د ماشومانو ادبیاتو او رسنیزو فعالیتونو ته پاملرنه وکړئ.
د افغانستان د لوړ زده کړو په وزیري غږ کوم چې لطفاً د ټولو پوهنتونونو او لوړو زده کړو د موسسو د ادبیاتو د پوهنځیو په تدریسي نصاب کې د ماشوم ادبیات شامل کړئ.
او د افغانستان د پوهني په وزیر غږ کوم چې لطفاً د لومړنیو ښوونځیو په کتابونو کې د ماشوم ادبیاتو ته توجه وکړي او ماشومانو ته د ښوونځي د کتابونو تر څنګ مرستندویه تعلیمي کتابونه هم چاپ او په دوی یي وویشئ»

https://www.facebook.com/خانه-ادبیات-کودک-د-ماشوم-د-ادبياتو-کور-1474829949511421/timeline/?ref=nf

یوه دولتي موسسه چې پخوا يي د کوچنیانو ادبیاتو ته د کار کولو رسمي مکلفیت درلود، د افغانستان د لیکوالو ټولنه کې د کوچنیانو ادبیات څانګه وه. په همدې اړوند مې له تورمان صاحب نه مالومات وغوښت:
بیا سلامونه، بیا کلامونه او بیا سوالونه:

په شپیتمه لسیزه کې د افغانستان د لیکوالو ټولنې په چوکاټ کې د «کوچنیانو ادبیاتو څانګه» موجوده وه او فعالیت یې کاوه، اوس شته که نه؟
که وي څه یې کړي دي؟
آیا ماشومانو او کوچنیانو ته د پاملرنې، روزنې او د هغوی ادبیاتو ته د پام کولو بله کومه موسسه، بنسټ یا ټولنه شته که نه؟
که دي مرسته وکړه ډېره مننه، که و نه توانیدې، د دې کړښو له لوستلو نه هم مننه.
بیرته ښاغلي ترمان په ځواب کې را ته ولیکل:

«اصلاً د لیکوالو اتحادیه چې رنګه شوې، بیا نه ده جوړه شوې.
مصور خپرندوی بنسټ په دې برخه کې کار کړی او ویل کېږي چې هرات ادبی انجمن هم، خو د هرات ادبي انجمن کارونه ما په خپلو سترګو نه دي لیدلی.»
څنګه چې د زغم او نورو همکارانو «mashomrozana» فیسبوک پاڼه وروسته له ډېر کار او زیار نه د کورنیو، ماشومانو او کوچنیانو د روزنې، پالنې او ادبیاتو له پاره په یوه لوی او معتبر آدرس باندې بدله شوه، دغسې زما هیله ده چې «د ماشوم کور» بنسټ هم د ماشومانو او کوچنیانو ته د پام کولو او د دوی د ادبیاتو د خیرنې، تخلیق او ژباړې له پاره په یوه لوی او داېمن آدرس بدل شي.
که د ګوډ و مات دولت کړنو او پروګرامونو ته په تمه او لاس تر زنې کینو، هیڅ هم نه ور نه جوړیږي. دې ځوانانو چې د نورو قلموالو په څیر د کوچنیانو د روزنې او ادبیاتو د پیژندنې او ودې له پاره متې بډ وهلې دي، زه خپله ډیر ور ته هیله من یم او د مرستې د وعدې تر څنګه داډ ورکوم چې کار یې خامخا نتیجه ورکوي او که موږ ټول د دولت په تمه کینو، نو خامخا لکه دا دومره کلونه له یأس سره مخ کیږو او د یاس او نا امیدی دغه حالت که د یوې لنډۍ قالب ته ور واچول شي، نو داسې به وي:

چې له دولت نه پوره نه شوه
کوچنی ماشومه موږ په خپله دې ساتونه

او دا دی دا ساتنه او پالنه پیل شوې ده او «د ماشوم د ادبیاتو کور» په نوې زمانه کې، د نوې میډیا په دایره کې، زموږ د نوي متعهد نسل نوې تجربې دي چې د زړه په وینو او خپلو مادي امکاناتو یې چلوي او د راتلونکي ژوند د نوې ارابې (ماشومان، کوچنیان) د پیاوړې کولو او پر مخ بیولو له پاره، په اساسي ډول کار کوي.
زما هیله دا ده چې دا هڅې او دا تجربې د تیرو نسلونو او فرهنګیانو د مثبتو تجربو په رڼا کې د نوي تمدن له کاروان سره موازي پر مخ ولاړې شي او نورې هم پسې غني او عملي شي.
زما د دغو ټولو خبرو اساسي موخه دا ده چې: موږ باید له ځان نه وروسته، له اوسني مفهوم سره سم یو باسواده، چیز فهمه، په نویو علومو پوه، له نوي عصر سره پخلا او له نوې تکنالوژۍ سره څنګ په څنګ تلونکی نسل پریږدو، نه داسې نسل چې فکراً په زر کاله پخوا زمانه کې ژوند وکړي او فزیکي ژوند یې په اوسنی زمانه کې وي او د مغزو د فعالیت پر ځای یې د معدې فعالیت ډېر وي.
څنګه چې مخکې هم و ویل شول «د ماشوم د ادبیاتو کور» ډېره لږه موده کیږي چې په مخکتاب کې یې ځانته پاڼه جوړه کړې ده او په همدې لږه موده کې یې هڅې او فعالیتونه د پاملرنې وړ دي.
په یاده پاڼه کې له نیکه مرغه په دواړو ژبو(دري، پښتو) باندې د کوچنیانو له پاره شعرونه، کیسې او مطالب خپریږي. زه په دې مقاله کې یوازې په پښتو ژبه باندې پر خپرو شوو مطالبو باندې غږیږم، ځان ته حق نه ورکوم چې په دري ژبه باندې پر خپرو شو مطالبو څه و وایم او

دا کار پرېږدم د دې برخې داسې یوه څېړونکي ته چې په همدې برخه کې صلاحیت او د کار مخینه ولري.
په فیسبوک کې «د ماشوم د ادبیاتو کور» په پاڼه کې په پښتو ژبه باندې له پیل نه(۱۰/۰۹/۲۰۱۵) تر نن(۳۰/۱۰/۲۰۱۵) پورې د دغو ښاغلو او آغلو مطالب خپاره شوي دي:
اجمل تورمان، عبدالحمید حکیمي، وړانګه ننګیال، عبدالحنان آرمل، رڼا زرمتی، پروانه لطیفي، علینه توتاخیل، نګینه اتمانزی، مینه توتاخیل، ولوله کوچی، روزالدین غورځنګ، پوهیالی محبوب شاه محبوب، اسما سادات، فخریه نړیواله.
او ښه ګڼه چې لیدل کېږي، د دې قلموالو شمېر ورځ تر بلې په ډېریدو دی او زما هیله دا ده چې هر قلموال د خپلې تولنې له پېژندلو او خپلو ماشومو او کوچنیو لوستونکو او مخاطبینو ته په کتو سره، هغوی درک کړي، د هغوی روان او جهان وپېژني او بیا د زمان له غوښتنو او پوښتنو سره سم ورته قلم وچلوي.
د دغو یادو قلموالو مطالب تر هغه ځایه چې ما لوستي او له نظره مې تېر کړي دي، د کوچنیانو د روان او غوښتنو سره سم، په غور او دقت سره لیکل شوي دي. بیا یې هم په تکرار سره وایم چې دغه مطالب یوازې هغو ماشومانو او کوچنیانو ته رسیدلای شي، چې کمپیوتر، انترنت او فیسبوک ته لاسرسی لري، ډېره سلنه کوچنیان چې له یادو شیانو نه محروم دي، هغوی ته باید د دې موادو چاپي بڼه آماده او لاس کې ورکړل شي او دا کار په لږ دقت او زحمت سره ممکن هم دی.
اوس چې د «دماشوم د ادبیاتو کور» د کار پیل دی، په ښه بڼه پیل شوی دی او که همداسې روان وي، زه یې وینم چې د لیکوالو او شاعرانو شمېر هم ورځ تر بلې په زیاتیدو دی او د محتوا له پلوه هم تر یوې اندازې د قناعت وړ دی. «د ماشوم د ادبیاتو کور» په فیسبوک پاڼه کې د خپرو شو مطالبو څو بېلګې دا دي:

## ستوری

اجمل تورمان

بهرام سبق ښه زده کړی و.
ښوونکي ورته په مخ ستوری رسم کړو.
بهرام ډېر خوشاله شو.
کورته چې راغی د کوټې پرده یې کش کړه.
کوټه تیاره شوه، بهرام لاس له مخ لرې کړ او ویې ویل:
مورجاني زما مخ رڼا کوي؟
مور یې وویل:
هو، زما د ښایسته زوی مخ خود رڼا کوي.
بهرام وویل:
نه مور جاني! زما په مخ ښوونکي ستوری رسم کړو دا ستوری رڼا کوي؟
مور یې پرده بېرته کش کړه، په خندا یې بهرام ته وویل:
زوی جانه دا خو په قلم جوړ شوی ستوری دی دا کله رڼا کوي؟
بهرام خپه شو. ویل: نو ښوونکي دا ستوری څله رسم کړ؟
مور یې ورته وویل:
تا سبق ښه زده کړی و.
ستا په پوهه ستاسې ټولګی رڼا دی، ته د خپل ټولګي ستوری یې، او ښوونکي ځکه ستا په مخ دا
ستوری رسم کړ. بهرام خوشحاله شو او له ځان سره لګیا شو: اې، بي، سي، ډي»

https://www.facebook.com/1474829949511421/photos/pb.1474829949511421.-2207520000.1444231551./1475795809414835/?type=3&theater

«د ماشوم د ادبیاتو کور» په فیسبوک پاڼه کې داسې ترانې هم اپنوډل شوې چې له یوې خوا ماشوم ته د ښیرازۍ او پسرلي زیرۍ ورکوي او له بلې خوا د تورو په زدکړه کې مهم رول لوبوي.
څنګه به له څو تورو نه یوه کلمه جوړه شي او بیا له څو کلمو نه یوه جمله. زما په نظر چې دا ترانه په کورونو کې او په وړکتونونو کې د هغو ماشومانو له پاره ډېره اړینه ده چې د لومړي ټولګي له پیل نه مخکې د لومړي ټولګي په مقدماتي برخه کې مینديې پلرونه او یا په وړکتون کې ښوونکي کوچنیان لومړي ټولګي ته د تللو له پاره آماده کوي. دا هم د اجمل تورمان ترانه:«

باران ، د ماشومانو لپاره ترانه

اجمل تورمان

ب ، ب ، ب ، الف ، الف ، الف
ر، ر، ر، الف ، الف ، الف
ن ، باران ، ن ، باران ، ن ، باران ، ن ، باران
ن ، باران ، ن ، باران ، ن ، باران ، ن ، باران
***
باران میده ، میده ، میده
په غرونو اوري ښایسته
باران میده ، میده ، میده
په غرونو اوري ښایسته
ب ، ب ، ب ، الف ، الف ، الف
ر، ر، ر، الف ، الف ، الف
ن ، باران ، ن ، باران ، ن ، باران ، ن ، باران
ن ، باران ، ن ، باران ، ن ، باران ، ن ، باران

*****
ښکلي باران د پسرلي
زړونو ته راوړه خوشحالي
ښکلي باران د پسرلي
زړونو ته راوړه خوشحالي
ب ، ب ، ب ، الف ، الف ، الف
ر، ر، ر، الف ، الف ، الف
ن ، باران ، ن ، باران ، ن ، باران ، ن ، باران
ن ، باران ، ن ، باران ، ن ، باران ، ن ، باران
*****
بارانه سیند درنه ځپه
ورکړه سلام ځپه، ځپه
ب ، ب ، ب ، الف ، الف ، الف

ر، ر، ر، الف ، الف ، الف
ن ، باران ، ن ، باران ، ن ، باران ، ن ، باران
ن ، باران ، ن ، باران ، ن ، باران ، ن ، باران»

https://www.facebook.com/1474829949511421/photos/pb.1474829949511421.-2207520000.1444231551./1481261722201577/?type=3&theater
زما کور

خو د تاسف ځای دا دی چې زموږ د ټولنې جوړښت دومره نا متوازنه دی چې همدا لومړې ټولګي ته تر تګ نه مخکې مقدماتي ټولګی د ټولنې ډېره لږه سلنه خلک پېژني او تطبيقوي يې او د ټولنې اکثريت يې لا پېژني نه او که يې پېژني بيا يې د عملي کولو شرايط د بيلابيلو دلايلو له مخې نه وي آماده، خو يخوا له دې چې ټولنه د جګړې په مرض اخته شي، په دوديزه بڼه موجود و، يا په کور کې د کورنۍ د مشرانو له خوا او يا هم د کلي په جوماتونو کې، خو اوس په ډيرې سيمو کې د جګړې او اقتصادي ستونزو له امله نه مراعاتيږي.
تر هر څه وړاندې بايد و ويل شي چې «د ماشوم د ادبياتو کور» بنسټ په باب ما مخکې له دې هم مقالې ليکلي دي، ځنګه چې د ماشوم د ادبياتو کور بنسټ اينودونکی او د کوچنيانو د ادبياتو په برخه کې عملاً فعال شخصيت اجمل تورمان دی، ما د ده د يو «ليک» په باب چې د کوچنيانو د ادبياتو په سر نوشت پورې اړوند و، هم يو مقاله ليکلې وه او اوس دا دی بيا، په تير يوه کال کې د ماشوم د ادبياتو کور بنسټ د فعاليتونو په باب د هغو تيرو مقالو په دوام بحث کوم.
د ماشوم د ادبياتو کور يو خپلواک فرهنګي بنسټ دی چې د يو شمير فرهنګيانو د شخصي هلو ځلو پر بنا له څه مودې را په دې خوا عملاً فعاليت کوي. کوم اسناد چې ما د ماشوم د ادبياتو کور په برخه کې، د «د کوچنيانو ادبيات، ۱۷ ـ ۱۸ ـ ۱۹ برخې» تر عنوان لاندې وړاندې کړي وو، د هغو په استناد دا بنسټ په ۱۳۸۹ کال کې رسمت پيدا کړی دی، هلته ما ويلي وو:
«د ماشوم د ادبياتو کور» فرهنګي بنسټ د اوسني دولت د اړوندو ادارو له خوا منظور او په رسميت پيژندل شوی فرهنګي بنسټ دی، چې د ۱۳۸۹ کال د حمل په يو ويشتمه نيټه يې د تاسيس مکتوب صادر شوی دی .هغه رسمي اسناد چې ما ليدلي دي، په هغو کې په ۱۳۸۹ کال کې د افغانستان د اطلاعاتو او کلتور وزارت د معين ښاغلي سيد عمر سلطاني په امضا ليکل شوي چې دا بنسټ د ۱۳۸۹ کال د حمل له يويشتمې( ۲۱ ) نيټې نه د فعاليت حق لري...»
د دې بنسټ باني او مشر ښاغلی اجمل تورمان دی او تر نن پورې په برياليتوب سره پرته له کوم مادي امتياز څخه په دې کار او په دې لار کې هلې ځلې کوي. د دې بنسټ اصلي هدف ما د بنسټ په باب د مقالو په لومړی برخه کې د اجمل تورمان له قلم نه داسې ثبت کړی و:
«هدف يې د ماشوم ادبياتو ته کار کول، هم د لويانو له خوا ماشومانو ته او هم له ماشومانو نه ماشومانو ته .تر اوسه يې د خپلو اونيزو غونډو تر څنګ چې هره چهارشنبه د کابل په عامه کتابتون کې جوړيږي. درې لويې غونډې مو هم جوړې کړې، په کابل کې د روزنتون د ماشومانو له پاره د رسامۍ او مقاله ليکنې کانکور، د افغانستان د ملي راډيو تلويزيون سره په ګډه ماشومانو ته د کيسه ليکنې کانکور او عامه کتابتون ته د هنر د ورځې په مناسبت د ماشوم د ادبياتو د څو تنو مشهورو ليکوالو د تصويرونو ډالۍ. يخوا د ماشوم د ادبياتو کور په «بالګفا» کې د ماشومانو له پاره خپروني درلودې http://mashom.blogfa.com/ :او کابو له يوې مياشتې راهيسې په فيس بوک کې د «خانه ادبيات کودک، د ماشوم د ادبياتو کور» په دې نوم، خپروني لري، خو اوس په بالګفا کې څه نه خپروي.»
کله چې ما ښاغلی تورمان وپوښته چې پالګفا کې مو اوس خپروني شته که نه؟ ښاغلي تورمان په ځواب کې داسې را ته وليکل:

استاده سلام ! نه په فیس بوک کې د پاڼې تر جوړولو وروسته په بالګفا کې نشرات نه لرو. په دې پاڼه(په فیسبوک کې د ماشوم د ادبیاتو کور پاڼه) کې موږ ماشومانو ته کیسې، شعرونه د خپلو اونیزو او ځانګړو غونډو راپورونه او نور مطالب خپروو ».ښاغلی تورمان له ډیرې مودې نه د کوچنیانو په باب فکر کړی او کوي یې عملاً یې کار ورته کړی او عملاً یې د نوي نسل د روزلو لوی مسولیت ته اوږه ورکړې ده.

څه باندې یو کال مخکې د ماشوم د ادبیاتو کور په رسمي ډول خپله فیسبوک پاڼه پرانستلې او د هغې په چوکاټ کې یې د خپلو فعالیتونو راپورونه په منظم ډول پیل کړي. له هغې نیټې نه را وروسته دوی په خپله فیسبوک پاڼه کې د ماشومانو او کوچنیانو له پاره د ګڼو شاعرانو شعرونه او د لیکوالو مطالب خپاره کړي دي. دوې غوره بیلګې یې دا دي:

## زه څوک؟

زه وړه نجلۍ یمه

پلار ته ښاپیرۍ یمه

مور ته ناوکۍ یمه

ښکلې، ګلالۍ یمه

لوبې په خپل کور کوم

پام په خپلې خور کوم

کار مې هم د مور کوم

کله، کله شور کوم

ښکلې مې نانځکه ده

ما نه هم نازکه ده

منډو کې چابکه ده

ورکه رانه څکه ده

درس مې زه د شپې وایم

ښکلې الف، بې وایم

شعر ښه په مزې وایم

نوروته کیسې وایم

*****

زه وړه نجلۍ یمه

زه وړه نجلۍ یمه

فرشته صالحي

د کتاب ښکلي خبرې

زه یوه لویه ښکلې پاچاهي یم

زه پرمختګ او سرلوړي یم

زه تاسو سره مرکې کوم

زه ستاسو هینداره یم

زه ونه یم پاڼې ښکلي لرم

خو ناپوهي بې پاڼو وچه ونه ده

زه هغه موخه یم چې په نښه کیږم

زه هغه کوچنی کور یم چې لوییږم

زه هغه لیکنه یم، چې نه خلاصیږم

زه تلپاتې خوشبویي یم

زه تلپاتې ځواني یم

زه تاسو ته لوی نعمت یم

له تیارو سره جګړې کووم

زه د سولې کوتره یم

شمله لیوال

د ماشوم د ادبیاتو کور بنسټ د نورو مطالبو تر څنګ په یاده موده کې د کوچنیانو د استعدادونو د غوړیدو، کوچنیانو او ماشومانو ته د نورو د پام اړول او په ټول کې د کوچنیانو د ادبیاتو د بیا ژوندي کولو او بډایني په برخه کې هم نوښتونه او د قدر وړ کارونه کړي دي.
کله مې چې دا کرښې لیکلې، نو مې د بسټ د مشر په آدرس په یو لنډ ایمیل کې، په دې تیر لږ څه باندې یو کال موده کې د بنسټ د فعالیتونو د مالومولو له پاره، داسې پوښتنه ور ولیږله:
«تورمان صاحب سلامونه او درناوی! د نوي نسل د روزنې په موخه، د کوچنیانو ادبیاتو ته د قلموالو، دولتي مقاماتو او په ټول کې دې مهمې موضوع ته د عامه ذهنیت د را اړولو په منظور، یو ځل بیا غواړم چې «د ماشوم د ادبیاتو کور» پر فعالیتونو باندې یوه لنډه مقاله ولیکم. د دې کار د تر سره کیدو په خاطر په لنډ ډول را ته ولیکئ چې «د ماشوم د ادبیاتو کور» د تاسیس له نیټې نه تر نن پورې، د کوچنیانو د ادبیاتو په برخه کې کوم د پام وړ کارونه کړي دي او په یاده برخه کې مو راتلونکي پلانونه څه دي؟
له مرستې نه مو همدا اوس مننه!»
ده څو ورځې وروسته په دې شرحه مالومات را ته راولیږه:
«استاد سلام، دا هم د هغه کارونو فهرست چې مونږ په تیر کې ترسره کړي دي:
۱ــ د روزنتون د ماشومانو لپاره د مقاله لیکنې او رسامۍ کانکور،
۲ ــ ماشومانو ته د کیسه لیکنې سیالي،
۳ــ عامه کتابتون ته د هنر د ورځې په مناسبت د ماشومانو د ادب د لیکوالو د تصویرونو د پکچ ډالی،
۴ ــ ماشومانو ته مشاعره،
۵ ــ د ماشوم د ادبیاتو د ملاتړ د مالي صندوق پرانیسته،
۶ ــ د ماشومانو د ادب لیکوالو ته د جایزو او ستاین لیکونو ورکړه،
۷ ــ د ماشومانو د ورځې په مناسبت د ماشومانو میله،
۸ ــ مونږ په خپل شعر کې، ماشومانو ته د په پښتو، دري او انګلسي ژبو د شعرونو د کتاب چاپ،
۹ ــ د کره کتنې او سیمینارونو اونیزې غونډې،
۱۰ــ ځانګړې فیس بوک پاڼه»
دا د بنسټ د مسول ښاغلي تورمان له نظره د دوی د کار لنډ ګزارش و، خو هغه څه چې د دوی د کار او فعالیتونو په باب زما له نظره تیر شوي دي، هغه زه بل ډول ارزوم.
د کوچنیانو د ادبیاتو په برخه کې او د نوي نسل د روزلو له پاره، «د ماشوم د ادبیاتو کور» له بنسټ نه هغومره چې تمه کیده، له هغه نه یې هم ډیر کارونه تر سره کړي دي. په دا تیر یوه کال کې یې زما له نظره په ځانګړي ډول دا کارونه موثر او د خاصې یادونې وړ دي:

۱ــ اړوندو تعلیمي موسساتو ته، په درسي نصاب کې د یو مضمون په توګه د کوچنیانو د ادبیاتو پر شاملولو باندې ټینګار،

اجمل تورمان د افغانستان له ملي تلویزیون سره په یوه مرکه کې په ټولو اړوندو موسساتو غږ وکړ چې د کوچنیانو د ادبیاتو مضمون دې په تعلیمي نصاب کې شامل کړای شي:

«د ۲۰۱۵ کال د اکتوبر په لسمه نیټه د «د ماشوم د ادبیاتو کور» په فیسبوک پاڼه کې د ماشوم د ادبیاتو کور مشر اجمل تورمان د حکومت پر لوړ پوړو مقاماتو د کوچنیانو د ادبیاتو د عامیدو او درسي نصاب ته یې د داخلیدو او رسمي کیدو په موخه د یوې تلویزیوني مصاحبې له لارې داسي غږ کړی دی:

«نن سهار د افغانستان له ملي تلویزیون سره په هیواد کې د ماشومانو د ادبیاتو د اوسني وضیعت او د ماشومانو د ادبیاتو د کور د فعالیتونو په اړه د کور د مسوول ښاغلي اجمل تورمان د خبرو مهم ټکي:
« د افغانستان د اطلاعاتو او فرهنګ په وزیر غږ کوم چې لطفاً د ماشومانو ادبیاتو او رسنیزو فعالیتونو ته پاملرنه وکړئ.
د افغانستان د لوړ زده کړو په وزیري غږ کوم چې لطفاً د ټولو پوهنتونونو او لوړو زده کړو د موسسو د ادبیاتو د پوهنځیو په تدریسي نصاب کې د ماشوم ادبیات شامل کړئ.
او د افغانستان د پوهنې په وزیر غږ کوم چې لطفاً د لومړنیو ښوونځیو په کتابونو کې د ماشوم ادبیاتو ته توجه وکړی او ماشومانو ته د ښوونځي د کتابونو تر څنګ مرستندویه تعلیمي کتابونه هم چاپ او په دوی یې وویشئ»

دا چې تر کومې اندازې به دا وړاندیزونه او د تورمان هلې ځلې عملي جامه واغوندي، دا په اړوندو موسساتو پورې اړه لري.

۲ــ په ننګرهار کې د ختیځ ادبي ټولنې په مرسته د کوچنیانو جشن،

د ۲۰۱۵ کال د مارچ په میاشت کې د کوچنیانو ادبیاتو ته د پاملرنې په خاطر، د ختیزې سیمې لیکوالو او ژورنالېستانو د خپلواکې ټولنې او «دماشوم د ادبیاتوکور» د بنسټ له خوا یو سیمینار دوله محفل جوړ شو. له ما (آصف بهاند) نه هم هیله وشوه چې دې محفل ته یوه مقاله ولیکم، ما هم د «په پردې چاپیریال کې مورنۍ ژبه» تر سر لیک لاندې مقاله ور ته ولیکله.
په دې یوه ورځني جشن یا سیمینار کې د کوچنیانو د ادبیاتو په باب د ګڼو خبرو تر څنګ څیړنیزې مقالې هم اورول شوې وې او په پای کې یې یو پریکړه لیک هم صادر کړی و. دا پریکړه لیک په یوه مخ کې «دماشوم د ادبیاتو کور» د ۲۰۱۶ کال د مارچ په ۲۴ مه نیټه خپور کړ. د پریکړه لیک په یوه برخه کې داسې راغلي دي:«

۱ ــ له دې وروسته دې د ماشوم د ادبیاتو جشن هر کال د دولت له خوا د هیواد په کچه جوړ شي.
۲ ــ د پوهنې وزارت دې د ماشوم ادبیاتو ته په تعلیمي نصاب کې ځای ورکړي.
۳ ــ د اطلاعاتو او کلتور وزارت دې د ماشوم ادبیاتو د ودې په موخه ځانګړې ځانګه جوړه کړي او رسنۍ دې د ماشوم ادبیاتو له پاره پر ځانګړو خپرونو او لا ډیرې توجو مجبور کړي.
۴ ــ کلتور وزارت دې هر کال د ماشوم ادبیاتو هیوادني نندارتونونه جوړ کړي.
۵ ــ له ټولو کورنیو غوښتنه کوو چې پر ماشومانو د درنو کارونو پر ځای هغوی ښوونځیو ته ولیږي او د زدکړو زمینه ورته برابره کړي.
۶ ــ په افغانستان کې ماشومان لا هم د ګڼو اقتصادي، علمي، فرهنګي او سیاسي ستونزو سره مخامخ دي، د ماشومانو د حقوقو د ملاتړ نړیوال خیریه بنسټونه دې په یادو برخو کې د شته ستونزو د حل له پاره خپلې هلې ځلې لا ګړندی کړي او خپلې کړنې دې یوازې تر شعاره نه محدودوي. په درنښت، د ماشوم د ادبیاتو جشن ګډونوال»

دا چې څومره او څه وخت به د دې محفل د ګډون کونکو دا هیلې او پریکړې عملي جامه واغوندي، زه څه نه شم ویلای.


د ماشوم ادبیاتو د جشن پرېکړه لیک

نېټه: ۱۳۹۴ د کب ۲۹

د خلیزي سیمې لیکوالو او ژورنالیستانو خپلواکې ټولنې، د خپلو ادبي هڅو په لړ کې دا ځل د ماشوم ادبیاتو جشن، د ننګرهار، جلال اباد، قبایلو چارو ریاست په تالار کې جوړ کړی و. په دې جشن کې د ننګرهار سیمه ایزو چارواکو، د خلیزو ولایتونو د پوهنتون ګڼ شمېر محصیلانو، د ښوونځیو زده کوونکو او د کنړ، لغمان، خوست، پکتیا، کندهار، کابل او کوزې پښتونخوا یو شمېر لیکوالو، شاعرانو، فرهنګیالو، ژورنالستانو او د پوهنتون استادانو ګډون کړی و.

په جشن کې د ماشومانو اړوند یو لړ ننداري او د ماشوم ادبیاتو په اړه ګڼې بېلابېلې مقالې وړاندې شوې، چې پکې د ماشوم ادبیاتو د پرمختګ او ودې لپاره لاندې وړاندیزونه شوي وو.

۱- له دې وروسته دې د ماشوم ادبیاتو جشن، هر کال د دولت له خوا د هېواد په کچه جوړ شي.

۲- د پوهنې وزارت دې، د ماشوم ادبیاتو ته په تعلیمي نصاب کې ځای ورکړي.
۳- د اطلاعاتو او کلتور وزارت دې، د ماشوم ادبیاتو دودې په موخه ځانګړې څانګه جوړه کړي او رسنۍ دې د ماشوم ادبیاتو لپاره پر ځانګړو خپرولو او لا ډېرې توجو مجبورې کړي.

۴- کلتور وزارت دې، هر کال د ماشوم ادبیاتو هېوادنۍ ننداریو ټولنه جوړ کړي.
۵- له ټولو کورنیو غوښتنه کوو چې پر ماشومانو د درنو کارونو پر ځای، هغوی ښوونځیو ته ولېږي او د زده کړو زمینه ورته برابره کړي.

۶- په افغانستان کې ماشومان لا هم د ګڼو اقتصادي، علمي، فرهنګي او سیاسي ستونزو سره مخامخ دي. د ماشومانو د حقوقو د ملاتړ نړیوال خیریه بنسټونه دي، په یادو برخو کې دشته ستونزو د حل لپاره خپلې هڅې لا ګړندۍ کړي او خپلې کړنې دې یوازې تر شعاره نه محدودوي.

په درنښت

د ماشوم ادبیاتو د جشن کمېټه

۳- د اطلاعاتو او فرهنګ وزارت سره په ګډه د کوچنیانو د ادبیاتو د ساحې قلموالو او د هغوی چاپ شو آثارو ته د جوایزو ویش،

د اطلاعاتو او فرهنګ وزارت د ماشوم د ادبیاتو له کور سره په ګډه، د کوچنیانو د ادبیاتو په برخه کې د فعالو قلموالو د آثارو د ارزونې او تشویق په خاطر یو محفل جوړ کړی و، غوره لیکوالو او ژباړونکو ته جوایز او ستاینلیکونه ور کړل شول. نور حال یې په دې مطبوعاتي اعلامیې کې ولولئ:«

مطبوعاتي اعلامیه

۲۲-ثور-۱۳۹۵

اطلاعاتو او فرهنګ وزارت، د ماشومانو د ادبیاتو د کور، سره په ګډه په افغانستان کې د ماشومانو ادبیاتو ته کتنه وکړه. په دې مناسب مراسم، د اطلاعاتو او فرهنګ وزارت د نړیوالو رسنیو په تالار کې د ماشومانو د ادبیاتو د کور مشر ښاغلي اجمل تورمان پیل کړل.

د اطلاعاتو او فرهنګ وزیر ښاغلي عبدالباري جهاني، د ماشومانو ادبیات د ټولني د جوړوني او ټولیزو ادبیاتو د مهمي برخي په توګه د پام وړ وګڼل، د وزارت له لوري د کمکیانو انیس پنځلس ورځنی خپروني، کتابونو د چاپولو او په دي برخه کي د مرستندی مالي صندوق له پاره د زمیني برابرولو او مالي مرستي ترڅنګ یې د وزارت د همکاری ژمنه تازه کړه.
ښاغلي جهاني د نن ورځي د پروګرام موخه د ماشومانو د ادبیاتو د ځرنګوالي او اهمیت څېړلو ترڅنګ، په دغه برخه کي د لیکوالو هڅونه یاده کړه او ژمنه یې وکړه چي په روان کال کي به د نورو بېلابېلو هڅو تر څنګ د ماشومانو له پاره لس غوره کتابونه چاپوي.

د اطلاعاتو او فرهنګ وزیر له رسنیو وغوښتل چي د ماشومانو د ذهني روزني او رواني امنیت د خوندیتوب په موخه سالمي او ګټوري خپروني وکړي.

دغه راز د غونډي د علمي کمېسیون له لوري د تېر ۱۳۹۴ لمریز کال په اوږدو کي د ماشومانو له پاره د چاپ سوو کتابونو تر ارزولو وروسته دری غوره ګڼل سوي کتابونه اعلان سول. « راشئ چي هوا وکړو» « زمین و آسمان » « د وارو ملکه » په ترتیب سره د ښاغلي آرش ننګیال تخلیقي، د مېرمن پروین پژواک معلوماتي او د ښاغلي محمود مرهون د ژباړي آثارو ته د ستاینلیکونو ترڅنګ شل زریزي نقدي ډالی ورکول سوې.

د ماشومانو د ادبیاتو په پنځونو، لیکنو، ژباړه او کلتوري هڅو کي ښکېلو اوولسو تنو نورو شخصیتونو ته د اطلاعاتو او فرهنګ وزارت له لوري ستاینلیکونه ورکړل سول.

د غونډي ویناوالو، د هیواد د ماشومانو د ادبیاتو د وضعیت د ارزولو ترڅنګ په دغه برخه کي، د اړوندو بنسټونو او لیکوالو پر پاملرنه او هڅو ټینګار وکړ.»

په نورو ویبپاڼو کي هم د دي محفل د جوړیدو خبر خپور شو. په تاند کي یي لنډ ګزارش داسي خپور شو:
«د ماشومانو د ادبیاتو لیکوالو ته جایزې ورکړل شوې:
د افغانستان د اطلاعاتو او فرهنګ وزارت او د ماشومانو د ادبیاتو کور د ماشومانو د ادبیاتو په برخه کي هغو کتابونو ته چي په ۱۳۹۴ کال کي چاپ شوي او غوره پېژندل شوي ول، جایزې ورکړې. په دې اړه له دغه وزارت څخه په خپره شوې اعلامیه کي راغلي چي په یاد مناسبت غونده د چهارشنبې په ورځ د اطلاعاتو او فرهنګ وزارت په تالار کي جوړه شوې وه چي د نوموړي وزارت وزیر عبدالباري جهاني ګډونوالو ته د خپلو خبرو په ترڅ کي په هیواد کي د ماشومانو د ادبیاتو د ودي او پراختیا په برخه کي د هر ډول ملاتړ او پراخي همکارۍ ژمنه وکړه. په اعلامیه کي راغلي چي د دغه جایزه د ارش ننګیال کتاب (راشئ، چي هوا وکوو!)، په معلوماتي برخه کي د پروین پژواک اثر( زمین و آسمان) او د ژباړې په برخه کي د محمود مرهون اثر (د واورو ملکه) ته ورکړل شوه. دغه جایزې هر کس ته شل زره افغانۍ وې او تر څنګ یي پر ۱۷ تنو هغو لیکوالو چي په یاده برخه کي یي لیکني او کوششونه کړي ول ستاین لیکونه هم و ویشل شول. هېره دې نه وي چي دا لومړی ځل دی چي په افغانستان کي د ماشومانو د ادبیاتو د لیکوالو له پاره د جایزو او ستاینلیکونو د ویش ځانګړی پروګرام جوړېږي. د افغانستان د ماشومانو د ادبیاتو د کور مسوول اجمل تورمان رسنیو ته ویلي چي راتلونکي کلونه به هم دغی لړی جاري ساتي.»
دا او دې ته ور ته محفلونه که له یوې خوا د کوچنیانو د ادبیاتو د بن په برخه کي فعال قلموال نور هم دې اړین انساني کار ته هڅوي، نو له بلي خوا په ټول کي خلکو او میډیا ته ور په یاد کوي چي د وطن د نوي نسل د روزني په برخه کي د کوچنیانو ادبیات څومره مهم رول لري او څومره اړین دي.

۴ــ د ماشوم د ادبياتو کور په نوښت د افغانستان د ملي راديو تلويزيو په مرسته د لومړي ځل له پاره د ۲۰۱۵ کال د نومبر په شلمه نېټه د مشاعرې جوړېدل،

دا هم «د ماشوم د ادبياتو کور» نوښت و چې د لومړي ځل له پاره په افغانستان کې د ماشومانو او کوچنيانو مشاعره جوړېږي. دا نوښت د ماشوم د ادبياتو کور بسټ و، خو د افغانستان د ملي راديو تلويزيون او آشياني موسسې په ګډې همکارۍ سره دا مشاعره جوړه شوې وه. په ميډيا کې د دې مشاعرې ګزارش داسې وړاندې شوی دی:
«په افغانستان کې د لومړي ځل له پاره د ماشومانو مشاعره:
په افغانستان کې د لومړي ځل له پاره د ماشومانو مشاعره تېره ورځ په کابل کې د افغانستان د ماشوم د ادبياتو د کور په نوښت او د افغانستان د ملي راډيو تلويزيون او اشياني موسسې په همکارۍ جوړه شوه.
په دغه مشاعره کې چې په سلګونو ماشومانو ګډون کړه و، ډېر ژر به د ملي تلويزيون له لارې خپره شي.
د ماشوم د ادبياتو د کور مسوول اجمل تورمان په خپلو پرانيستونکو خبرو کې و ويل چې په دغه مشاعره کې ډېرى هغه شعرونه د ماشومانو له خوا لوستل کېږي چې د ماشوم د ادبياتو د کور د ځوانو غړو له خوا ليکل شوي دي.
ښاغلي تورمان و ويل چې په راتلونکي کې به د ماشوم د ادب هغې برخې ته هم پاملرنه وشي چې د ماشوم له خوا ماشوم ته ليکل دي.
تورمان د افغان فرهنګي شخصيت الحاج محمد ګلاب منګل له مرستې او همکارۍ هم يادونه وکړه کوم چې د دغه مشاعرې د جوړولو په برخه کې يې له کور سره کړې وه.
ورسته د آشياني په لسګونه ماشومان ستيج ته راغلل او خپل انتخابي شعرونه يې ولوستل.
دغه شان د ماشومانو د لا خوشحالۍ لپاره تراني او د ځوان سندرغاړي مبين وصال کنسرت هم په پام کې نيول شوی و چې ماشومانو په خپلو تنکيو لاسونو ورته ګرمې چکې و وهلې.
په پای کې د افغانستان د ماشوم د ادبياتو د کور له خوا همکارو ادارو ته ستاينليکونه او يو شمېر ګډنوالو ته د ګلو ګېډۍ ورکړل شوې.
دغه شان د افغانستان ملي راډيو تلويزيون هم ماشومانو ته خپلې ډالۍ د ښوونځی بکسې پر ماشومانو و ويشلې.
د يادونې ده چې دا په افغانستان کې د لومړي ځل لپاره په دومره پراخه کچه د ماشومانو لپاره د يو شعري پروګرام جوړول ول.
د ماشوم د ادبياتو د کور مشر اجمل تورمان وايي چې دی او د کور غړي د ماشوم د ادب په برخه کې نورو پراخو کارونو ته هم ژمن دي.
تورمان و ويل: موږ غواړو په راتلونکي کې ماشومانو ته د کيسو ويلو يو پروګرام، او په پوهنتونونو او د لوړو زده کړو د موسسو د ادبياتو په پوهنځيو کې د ماشومان د ادبياتو د تدريس د اهميت په اړه يو سيمينار او دغه شان د هغو ليکوالو لپاره چې د ماشومانو لپاره يې کتابونه سږ کال چاپ شوي د جايزو د ويش يو پروګرام هم جوړ کړو.
د ماشوم د ادبياتو کور له څو کلونو راهيسې د ماشوم د ادب په برخه کې کار کوي چې تر اوسه يې د دغه پروګرام تر څنګ، د روزنتون د ماشومانو لپاره د نقاشي او مقاله ليکنې کانکور، د ماشومانو تر منځ د کيسه ليکلو سيالي او ګڼ نور لوی او واړه پروګرامونه هم جوړ کړي دي.»

داسې محفلونه که وغځول شي او د افغانستان په ټولو ښارونو کې عام کړای شي، ډېره به ښه وي. زه داسې فکر کوم چې د داسې محفلونو په جريان کې چې ماشومانو او کوچنيانو ته وخت ورکړل شي چې ستيژ ته راشي او د خپلو همځولو او مشرانو په مخ کې خپلې خبرې وکړي، خپل شعرونه واوروي او خپلې ليکلې کيسې ولولي، نو که له يوې خوا په هر اړخيزه توګه

تشویقیږي، جرآت پیدا کوي ، نو له بلې خوا کله چې د ټولني د یو غړي په توګه ارزښت ورکړل شي، د شخصیت احساس کوي.
په داسې یوه ټولنه کې چې له مور پلار نه نیولې، تر ټولې کورنۍ پورې او له کوڅې، کلي او ښوونځې نه نیولې بیا تر ټولنې پورې هر کله ماشومان او کوچنیان ښکنځل شوي، چیچل شوي او وهل شوي، شاقه کارونو ته اړ ایستل شوي او حتی جنسي تیري ورباندې شوي؛ نو په داسې یوې ټولنې کې له هر آدرس نه چې وي، چې ماشومانو او کوچنیانو ته د دې مشاعرې په څیر نور داسې محافل جوړیږي چې د هغوی استعدادونه غوړیږي او د شخصیت د جوړیدو او غوړیدو له پاره یې لاره آواریږي، ډیر ښه کار دی او باید لا پسې وغځول شي.

۵ــ د کوچنیانو د ادبیاتو د جدي رامنځ ته کولو، ساتنې، ودې او لا شتمنیدو په خاطر د مرستو صندق پرانېستل:

د ماشومانو او کوچنیانو ادبیاتو ته د پام له پاره او د دوی په ژبه د دوی له پاره د آثارو د چاپ په خاطراو د ماشوم د ادبیاتو د بنسټ د مالي بنیې د پیاوړي کیدو په خاطر، د دې بنسټ په نوښت د مرستو مالي صنوق پرانستل هم د دوي په کارونو کې یو د یادولو او قدر وړ ګام دی.
د دې صندوق د پرانستل کیدو په یو ګزارش کې چې ښاغلي خان محمد سیند د آزادی راډیو په ویبپاڼه کې خپور کړی و، داسې راغلي دي:
«د ماشوم د ادبیاتو د ودې او پراختیا له پاره د مالي مرستو د جلبولو صندق پرانېستل شو.
په دې مناسبت په جوړې شوې غونډه کې د ماشوم د ادبیاتو د کور مشر اجمل تورمان وویل، هڅې یې پیل کړي چې د هېواد د ماشومانو د ذهني سالمې ودې لپاره، د دوی د ذوق او استعداد سره سم، فرهنګي کارونه وکړي.
په غونډه کې د ځینو دولتي او غیردولتي موسسو استازو دغه هڅه وستایله او ژمنې یې وکړې چې په دې برخه کې به مرستې وکړي.
په افغانستان کې د ماشوم د ادبیاتو لپاره لږ کار شوی، خو د ماشوم د ادبیاتو د کور مسوولین وایي، هڅې کوي چې په د هېواد کې د فرهنګ دغه وروسته پاتې برخه پیاوړې کړي.
د ماشوم د ادبیاتو د کور مشر اجمل تورمان د شنبې په ورځ په کابل کې د ماشوم د ادبیاتو د کور د مالي مرستې د صندق د پرانیستلو پر مهال وویل، د ماشوم د ذهني او جسمي سالمې ودې لپاره، د ماشوم د ادبیاتو دودول ضروري دي او هڅې کوي چې په دې برخه کې، مثبت بدلونونه رامنځته شي.
ښاغلي تورمان زیاته کړه:
"موږبه په نږدې راتلونکي کې د هغو لیکوالو او رسنیو له پاره چې په ۱۳۹۴ کې د ماشوم ادبیاتو ته کار کړی، دوی ته د ستاینلیکونو او جایزو پروګرام جوړ کړو. هڅه کوو د یو سمینارله لارې لوړو زده کړو او پوهنې وزارتونو څخه وغواړو چې د زده کړو او تحصیل په نصاب کې د ماشوم ادبیات ځای کړي. موږ ستاسې د ماشومانو لپاره د ادبیاتو په برخه کې نه ستړي کیدونکي هڅې کوو."
ښاغلي تورمان و ویل، په دې برخه کې یې له خو کلونو راهیسې هڅې جاري ساتلي خو اوس مهال چې د ماشوم د ادبیاتو کور، په رسمي توګه په کار پیل کړی، د دولتي او غیر دولتي موسسو مالي او تخنیکي مرستې به یې، پر فعالیتونو مثبت اثر وکړي.
د اطلاعاتو او فرهنګ وزیرعبدالباري جهاني و ویل، د ماشومانو د سالمې فکري روزنې له پاره، د ماشوم د ادبیاتو دودول ضروري دي.
ده ژمنه وکړه چې د ماشوم د ادبیاتو له کور سره به، مالي او مشورتي مرستې وکړي:
"ادب د ټولنې د کلتوري سطحې د لوړولو تر ټولو ښه تعارف کوي،په افغانستان کې د کوچنیانو، ځوانانو او د ښځو د ادبیاتو لپاره لږ کار شوی، ماشومان خاصو ادبیاتو ته ضرورت لري، موږ دا هڅه ستایو او د وزارت د وسې پورې به ورسره مالي او مشورتي مرستې وکړو."

د افغانستان د جمهور رييس اشرف غني فرهنګي سلا کار اسداله غضنفر و ويل، د ټولنې د پرمختګ او ترقی لومړني بنسټونه د ماشوم له سالمې روزنه او له علم او ادب سره د دوی له بلدولو سره تړلي دي، همدارنګه تاکيد يې وکړ چې دې برخې ته زياته پاملرنه وشي.
په ورته وخت کې د پوهنې وزارت استازي و ويل، هڅې به وکړي چې د زده کړو په نصاب کې، دغې برخې ته ځای ورکړل شي.
که څه هم په افغانستان کې د معلوماتي تکنالوژۍ او د تلويزيونو رامنځته کيدو د ماشومانو پام وراړولي خو کورنی وايي چې د ماشوم ادبيات، که کيسې وي که شعرونه، که روزنيز رسمونه وي او که دې ته ورته نور څه وي، د ماشوم پر تهذيب او راتلونکو کړو وړو او روحي وضعيت ډير اثر کولای شي.»

۶ـ د ماشوم د ادبیاتو کور فیسبوک پاڼې کې د بنسټ له لوري د کوچنیانو له پاره خپاره شوي مواد:

په دې پاڼه کې د کوچنیانو او ماشومانو له پاره د ګڼو شاعرانو او لیکوالانو شعرونه، لیکنې اونثرونه او د بنسټ ګزارشونه او نظریات خپاره شوي دي. د کور مسول اجمل تورمان په جرأت سره لیکلي دي چې دوی په دا یوه کال کې «د ماشوم د ادبیاتو کور» فیسبوک پاڼې څومره کار کړی دی ، ده د ۲۰۱۶ کال د می په اولسمه نیټه «د ماشوم د ادبیاتو کور» په فیسبوک پاڼه کې داسې ولیکل:
«درنو لوستونکو او د ماشومانو د ادبیاتو د کور محترمو غړو!
خوشحاله یم چې د ماشومانو د ادبیاتو کور د مسوول په توګه په لنډه موده کې چې لا یې په رسمي ډول د خپلې يو کلنۍ کیک نه دی پرې کړی هم ستاسې په وړاندې پر نه يم او د ماشومانو لپاره مو دومره څه کړي چې يوې مسوولې دولتي اداري به هم نه وي کړي. کور له تېرو څلورو کلونو را په دېخوا د ماشومانو د ادبياتو په برخه کې فعاليت لري خو لکه څنګه مې چې وويل له رسمي فعاليت څخه يې لا يو کال نه اوړي.

مونږ په تشو لاسونو هغه څه کړي چې دېريو ښايي په ډکو جيبونو نه وي کړي.

په دې اړه تفصيل به بيا د ماشومانو د ادبياتو د کور د کليزې په مناسبت له تاسې سره شريک کړم.

خو مشت نمونه خروار د کور رسمي فيس بوک پاڼه يې ښه ثبوت دی چې هيله من يم ګرانو ماشومانو خوښه کړې وي.

غواړم په دې توګه له خپلو درنو همکارانو هم مننه وکړم چې په هر حال کې يې کار ته نه نه دي ويلي او په يو ډول د لا نورو کارنو لپاره هم وهڅول شي.

له ټولو هغو رسمي او غير رسمي ادارو او اشخاصو هم مننه چې د ماشومانو د ادبياتو د ودې او پراختيا په هدف چې زمونږ يواځنی موخه ده مرسته راسره کوي.

اوس همدومره
يار زنده صحبت باقي
د ماشومانو د ادبياتو د کور مسوول
اجمل تورمان
۲/۲۸ /۱۳۹۵ کابل»

او دا یې حق هم دی چې داسې په جرآت سره وغږیږي ځکه چې په تش لاس سره یې ډیر څه کړي دي.
مخکې هم و ویل شول چې د ماشوم د ادبیاتو کور په فیسبوک پاڼه کې د ماشومانو له پاره شعرونه، د کوچنسانو له پاره کیسې او د ماشوم د ادبیاتو د کارونو ګزارشونه او وړاندیزونه خپاره شوي دي چې هره برخه یې ځانته جلا بحث غواړي، خو دلته به یې زه د ځینو کارونو یادونه وکړم:
د ماشوم د نړیوالي ورځې په مناسبت له میدیوتیک سنتر سره په ګډه د ماشومانو میله جوړول.
د بنسټ په پاڼه کې دا لاندې متن او څو عکسونه اپلوډ شوي چې باید مفصل ګزارش یې خپور کړی وای:
«نن په کابل کی د ماشومانو د ادبیاتو کور او مدیتوتیک افغانستان له خو د ماشومانو د نړیوالي ورځې په مناسبت د ماشومانو میله؛»




«د ماشوم د ادبیاتو کور» د خپل فعالیت له پیل نه، شخصي او رسمي مراجعو ته د ماشو د ادبیاتو د ښه کیدو، ودې او د نوي نسل د ښې روزنې په موخه، یو شمیر وړاندیزونه په شفاهي او تحریري بڼه وړاندې کړي دي، درانه لوستونکي کولای شي چې دا وړاندیزونه د دوی په فیسبوک پاڼه کې له نظره تیر کړي.زه یې دلته په تدریسي برخه کې دوې نمونې وړاندې کوم:
د وړاندیزونو او نظریاتو په برخه کې تر ټولو مهم وړاندیز د ښاغلي اجمل تورمان یو وړاندیز د بیلګې په توګه دلته یادوم چې زما له نظره ډیر مهم او د ارزښت وړ دی. دا وړاندیز یې د ښوونځیو د ریاضي کتابونو د لیکوالو له پاره کړی دی.
تورمان د کوچنیانو د واړه ذهن او روان په نظر کې نیولو سره ښاغلو ښوونکو ته داسې وړاندیز کوي چې په یوه عادي متن کې ماشوم یا کوچني ته داسې څه ولیکي چې هم د هغه له پاره د

درک، پوهيدني او منلو وړ وي او هم په هغه کې د حساب د زدکړې (يو، دوه، درې...) توري يا اعداد(۱، ۲، ۳...) ځای پر ځای شوي وي. وروسته د متن له وړاندې کولو نه دا بيا د ښونکي په مهارت پورې اړه لري چې څنګه په ورکړي متن کې بيا زدکوونکو ته عدودنه ور وښيي.
دا د اجمل تورمان د وړانديز بشپړ متن دی:«

رياضي او د ماشوم ادب
اجمل تورمان

د ښوونځيو د منځنيو ټولګيو د رياضي د کتابونو د ليکونکو د پام وړ!

تاسې کولای شئ په رياضي کې عبارتي پوښتنې لږ اوږدې کړئ، دا شان چې هم خرما شي هم ثواب، هم کيسه وي او هم د رياضي د زده کړې په برخه کې مرسته وکړي.

او ماشومانو ته په زړه پورې هم وي.

په يو، دوه لومړيو کرښو کې خپل هدف مه لټوئ، په ټوله کې يې د ګټې په اړه فکر وکړئ!
مثلاً:
جانان او زمری هره ورځ کرکټ کوي.

جانان توپ اچوي او زمری توپ وهنه کوي.

زمری تر جانان دوه کاله مشر دی، جانان اته کلن دی.

څوک وايي زمری څو کلن دی؟ (خالي خانه چې بيا يې ماشومان ډکه کړي)
نن دوی دواړو يو اوږ لوبه وکړه.

يو اوږ څو توپه وي؟ (خالي خانه چې بيا يې ماشومان ډکه کړي)
زمری په لومړي توپ کې دوه منډې جوړې کړې.

په دويم توپ کې څلور.

په دريم توپ کې بيا څلور.

په څلورم توپ کې دوه.

اوه په پنځم او شپږمو توپونو کې دوه شپږېزې.

اوس له جانان نه حساب ورک دی چې زمري ټولې څو منډې جوړې کړې؟

څوک يې مرسته کوي، زمري په شپږو توپونو څو منډې جوړې کړې دي؟ (خالي خانه چې بيا يې ماشومان ډکه کړي)

د تېر درس د تکرار په ډول د ښوونکي پوښتنې:

زمري او جانان کومه لوبه کوله؟

زمری څو کلن او جانان څو کلن و؟

زمری تر جانان څو کاله مشر و؟

زمري او جانان څو اوره لوبه وکړه؟

يو اور څو باله وي؟

زمري په اول توپ څو منډې جوړې کړې؟
زمري څو څلوريزې و وهلې؟

په دوو ورستيو توپونو کې زمري څو، څو منډې جوړې کړې؟

زمري په يو اور کې ټولې څو منډې جوړې کړې؟

که زمري په هر توپ شپږ منډې جوړې کړې وي، نو ټولې څو منډې کېدې؟

او دې ته ورته نورې بېلګې ...»

دغه راز د ښاغلي اجمل تورمان دا خپور کړی مطلب هم زه په وړاندېزونو کې شميرم چې ځنګه ماشوم ته د غږونو زدکړه پيل شي. تورمان په مهارت سره په آهنګينه، مالګينه او شاعرانه ژبه د غږونو نه تورې يا کلمات جوړوي او بيا د کوچنيانو د ذهن له پاره د درک او پوهيدو وړ جملات ور نه جوړوي.
ښه بېلګه يې د اجمل تورمان د ماشومانو له پاره «باران» نومې ترانه ده چې ما د ماشوم د ادبياتو کور له پاره په دريمه مقاله کې را اخيستې ده او دلته يې بيا په تکرار سره را اخلم:«

باران ، د ماشومانو لپاره ترانه

ب ، ب ، ب ، الف ، الف ، الف
ر، ر، ر ، الف ، الف ، الف
ن ، باران ، ن ، باران ، ن ، باران ، ن ، باران
ن ، باران ، ن ، باران ، ن ، باران ، ن ، باران

*****
باران ميده ، ميده ، ميده
په غرونو اوري ښايسته
باران ميده ، ميده ، ميده
په غرونو اوري ښايسته
ب ، ب ، ب ، الف ، الف ، الف
ر، ر، ر ، الف ، الف ، الف

ن ، باران ، ن ، باران ، ن ، باران ، ن ، باران
ن ، باران ، ن ، باران ، ن ، باران ، ن ، باران

*****

ښکلي باران د پسرلي
زړونو ته راوړه خوشحالي
ښکلي باران د پسرلي
زړونو ته راوړه خوشحالي
ب ، ب ، ب ، الف ، الف ، الف
ر، ر، ر، الف ، الف ، الف
ن ، باران ، ن ، باران ، ن ، باران ، ن ، باران
ن ، باران ، ن ، باران ، ن ، باران ، ن ، باران

*****

بارانه سيند درنه خپه
ورکړه سلام څپه، څپه
ب ، ب ، ب ، الف ، الف ، الف
ر، ر، ر، الف ، الف ، الف
ن ، باران ، ن ، باران ، ن ، باران ، ن ، باران
ن ، باران ، ن ، باران ، ن ، باران ، ن ، باران»

د ښاغلي عبدالحميد حکيمي دا لاندې ترانه، د اجمل تورمان پاسنۍ ترانې ته ورته په عين بڼه د غړونو، کلماتو او جملو په جوړولو کې په آهنګينه بڼه چې د کوچنيانو له ذهن او روان سره برابره مساله ده، مرسته کوي، وګورئ:«

الف،ب، ت
زما خوږې ادې
پکار مې دي پيسې
ځانته اخلمه قلم او کتابچې
پکې ليکم کليمې
ترې به جوړې کړم جملې
په قلم باندې ليکل کوم
په پنسل به رسمول کوم
بيا به جوړ ځانته کتاب کړم
زه همزولو ته خطاب کړم»

«د ماشوم د ادبياتو کور» په فيسبوک پاڼه کې د هغو قلموالو د ليکنو او شعرونو تر څنګه چې د ماشومانو او کوچنيانو له پاره څه ليکي او خپروي يې، په خپله د کوچنيانو ليکنې او شعرونه يې هم خپاره کړي دي. يوه ښه بېلګه يې د ۲۰۱۶ کال د اپريل په ۲۴ مه د لس کلنې تلوسې آشنا ليکنه ده چې په انګريزي يې ليکلې ده او مور يې پښتو ته اړولې ده.
«د ماشوم د ادبياتو کور» په فيسبوک پاڼه کې يې د خبر او مطلب بشپړ راپور داسې راغلی دی:

«دا د لس کلنې تلوسې آشنا ليکنه ده چې مور جانې يې نوشابې آشنا له انګريزي ژبې نه پښتو ته اړولې ده:

افغانستان، زمونږ د ټولي کورنۍ کور
مونږ ټول پکي يو وخت راټول وو
د نوي کال په ورځ آرامه او خوشحاله وو
او د ورځې چې ترۍ وتلي يوو،
ډېره موده کيږي سره يو ځاي شوي نه يو
هغه ښايسته خاوره اود ونو غوړي پاڼي
آه، زما په ياد دي هغه ښکلي يادونه...
د نارنج ونې او د انګورو تاکونه...
تودي ډوډۍ
لطفآ؛
کولي شم يوځل بيا خپل کورته لاړه شم؟
زه ترې ډېره لرې بل ملک ته راغلي يم
آه، چې څومره مې خپله خاوره ياديږي
نه پوهيږم دلته پاتې شم، که بيرته لاړه شم؟!
هيڅ نه پوهيږم، کاشکي لږ پوهيدلي؟
لطفآ،
کولي شم بيرته خپل کلي ته لاړه شم؟
زه د افغانستان د ونو پسي ډېره خپه يم...
زه په يوه نوې دنُيا کي يم چې دا هر څه رانه ډير لري دي...
خو... هيله او دُوعا کوم چې نور جګړې و نه شي...
زه داسې يو لمر ته ولاړه يم چې په ويلي کيدو دی...
له ياده نه شم ايستلي چې
د افغانستان په زړه به همدا اوس څه تيريږی او څه به احساسوي؟!
تلوسه اشنا»

په دا تير يوه کال زماني واټن کي داسي هم شوي دي چي «د ماشوم د ادبياتو کور» په خپله فيسبوک پاڼه کي په ورين تندي د نورو هغو فرهنګيانو او قلموالو خبرې اعلاميي او خبرتياوي هم خپرې کړې دي چي د کوچنيانو او ماشومانو له پاره يي کار کړی او همدا اوس خپروني لري.
ښه بيلګه يي د ښاغلي احمد ولي اځکزي هغه ليک يا خبرتيا ده چي د کوچنيانو د ادبياتو له پاره يي خپل فعاليتونه او د هغوی د خپريدو پته او څرنګوالی په کي ښودلی دی.
دا د احمد ولي اځکزي د ليک يوه برخه ده چي د ۲۰۱۶ کال د مې په پنځمه نيټه «د ماشوم د ادبياتو کور» په فيسبوک پاڼه کي خپور شوی دی:

«قدرمنو اغلو او ښاغلو!

سلام عليکم،

هيله ده چي جوړ او روغ به ياست.

په لومړي سر کي ستاسو له خدمتونو او هڅو څخه يوه نړۍ مننه کوم چي تاسو د ماشومانو له پاره پيل کړي دي.

ما د کوچني ټکی کام www.kochnai.com په نوم يوه انټرنټ پاڼه جوړه کړې ده چې پکښې د ماشومانو له پاره مواد خپروم. که تاسو په خپله تذکره کې د دغې پاڼې يادونه وکړئ، نو ښايي لا زيات کسان پې خبر شي او ورڅخه ګټه واخلي...»

«د ماشوم د ادبياتو کور» د خپلو نورو فعاليتونو په لړ کې د کوچنيانو د ادبياتو د هر اړخيزې څېړنې له پاره ، د نظر له خاوندانو سره د کوچنيانو د روان د پېژندنې په نظر کې نيولو سره له ځينو ښاغلو سره د پوښتنو او ځوابونو په بڼه مسايل مطرح کړي دي چې زه دا کار ډېر اغېزناک ګڼم، خو له بده مرغه چې دا پروسه يا پځه شوې، يا دريدلې او يا به زه ورباندې خبر نه يم.

«د ماشوم د ادبياتو کور» د ۲۰۱۵ کال د اکتوبر په اوه ويشتمه(۲۷) نېټه د پوښتنو ځوابونو هغه متن خپور کړ چې له استاد شرف الدين سره يې د ماشومانو له پاره د کيسو ا و کيسو په ځانګړنو تر سره کړې وې. د هغو پوښتنو ځوابونو يوه برخه دا ده:

«د ماشوم د ادبياتو کور له استاد شرف الدين عظيمی سره د ماشوم ادبياتو اغېزه د ماشوم په روان باندې لړی هم پيل کړه. د دې لړی لومړی موضوع مو کيسه وټاکله. هغه څه چې ورو، ورو يې دود په ختمېدو دی، خو ارواپي ګټې يې خورا ډېرې دي. دا چې کيسه د ماشوم په وده څه اغېز لري.

کور: استاد کيسه څه ده؟

استاد عظيمی: د کېسې په اړه کيدای شي د ادبياتو د برخې کارپوهان او د فرهنګي چارو مينه وال بېلابېل نظرونه او تعريفونه ولري، خو د هغو يادول به د دې مقالې له حوصلې بهر وي.
کيسه په پښتو ژبه کې له لغوي اړخه قصه، نکل، مواسه، ناول او داستان مانا کيږي، په دري ژبه کې سرګذشت، حکايت او له تېر څخه يو ذهني انځور اخيستلو ته وايي. ارواپوهان، ټولنپوهان، او د ښووني او روزنې د برخې کارپوهان وايي: "کيسه د ماشوم د ښوونې او روزنې لپاره يوه تر ټولو جالبه او ښه وسيله ده، کيسه يوه تېره شوې تجربه او پېښه ده چې ماشوم يې اورېدلوته ډېره ليوالتيا لري، کيسه هغه نامستقيمه ښوونه ده چې ماشوم نوښت، تخيل او فکر کولو ته اړباسي."
همدا راز کارپوهان وايي چې د نامستقيمي ښووني اغېزه نظر مستقيمي ښووني ته ډېره او تل پاتې وي.»

زما ټينګار هم همدا دی چې که د ماشوم د ادبياتو کور داسې پروګرامونه پراخ کړي، ډېره به ښه وي. دا به د ماشومانو د کورنيو له پاره او هم د هغو قلموالو له پاره ډېر په زړه پورې لارښود وي چې د کوچنيانو او ماشومانو متخصصين او کارپوهان د کوچنيانو پر روان او د هغوی د ادبياتو په روان خبرې وکړي او د کوچني او د هغوی د ادبياتو ارزښت نور هم روښانه کړای شي.
زما په نظر که د کوچنيانو له پاره د کار په برخه کې ټول فعال قلموال سره يوه خوله شي او خپلو هڅو ته هم آهنګي ورکړي او خومره چې کولای شي يو بل ته د مرستې لاس سره ورکړي، په دې برخه کې به د کارونو اغيز لا زيات وي.

# محمود مرهون

# او د کوچنیانو ادبیات



محمود مرهون په دې کم عمر کې د پاملرنې وړ فرهنګي کارونه تر سره کړي دي. له هغې ډلې نه يې څه چې د کوچنیانو د ادبیاتو په برخه کې کړي دي، د ځانګړې پاملرنې وړ دي. د همدې له پاره ما د کوچنیانو ادبیاتو د مقالو په سلسله کې دا مقاله(شپاړسمه برخه) یوازې دې ته ځانګړې کړې ده چې د کوچنیانو د ادب په برخه کې د مرهون کړو کارونو ته یو ځغلند نظر وکړم.
ما محمود مرهون له نږدې نه و لیدلی، یوازې مې د میډیا له لارې پیژانده. کله، کله به یې مقالې په «لر اوبر» ویبپاڼه کې راتلې. کله مې چې د ۲۰۱۵ کال په اپریل کې کابل ته سفر وکړ، نومې د کابل پوهنتون د ادبیاتو پوهنځي په پښتو څانګه کې ولید. سره ومو پیژندل، ښه روغبړ مو

وکړې. ده اجمل ښکلي او د علمي کدر څو تنو نورو نوو او ځوانو غړو چې ما نه پېژندل په دقت سره غوږ نیولی و چې زه به څه وایم.
کله چې لږ د استادانو او زده کوونکو ګڼه ګونه کمه شوه، مرهون مې ورو خوا ته راغی او را ته و یې ویل:

«استاده ما هم د کوچنیانو له پاره یو څه کار کړی دی، اوس هم لګیا یم کار کوم او ...»
څو مجله ډوله غیر ستندرد کتابونه یې په لاس کې را ته ونیول او وې ویل:
« دا مې د کار بیلګې دي، دا وړې کیسې مې د کوچنیانو له پاره ژباړلې دي او ...»
ما کتابونه په مینه ور نه واخستل، عنوانونه مې له نظره تیر کړل. په رښتیا ډېر خوشاله شوم چې په یوه وار د کوچنیانو له پاره دومره کتابونه، هغه هم د لسو ټوکو په شمیر. نو سمدلاسه مې ورته و ویل:

مبارک دې شه، په ځوانی دې برکت شه چې تا دومره کار کړی دی، هغه هم دکوچنیانو له پاره چې د ډیرو هیر، خو ستا په یاد دي. د اوږدې مرکې په پای کې یې بیا را ته و ویل:
« دې ته ورته نور کتابونه مې هم تر کار لاندې دي، که ژوند باقي و، نو بشپړ به یې کړم.»
کله چې د ده خبرې خلاصې شوې، ما ورته و ویل چې زه به د کوچنیانو له پاره ستا پر کارونو او په ځانګړي ډول پر دې کتابونو یوڅه لیکم.

کله چې ما د کوچنیانو ادبیاتو د مقالو ینځلسمه برخه خپره کړه، نو مرهون راته د فیسبوک له لارې ولیکل:

«استاده سلام!
هغه زما د کتابو په اړه به دې سه نه وي لیکلي؟»

ما بیرته داسې ور ته ولیکل:

مرهون صاحب درناوی مې د ځان او ټولو همکارانو له پاره و منه!
ستا سو کتابونه مې له دروند والي سره سره تر ډنمارکه پورې را رسولي دي، یو څه یاد داشتونه مې ستا او ځینو هغو کتابونو په باب لیکلي هم دي چې سر سرې مې لوستلي دي، خو له بده مرغه چې ټول لیکلي شیان مې په یوه آر ډسک کې پراته و او اوس هغه آر ډسک ما ته د نا مالوم دلیل له مخې ترل شوی دی. همدا پرون مې یو چا ته وسپاره چې خلاص یې کړي. که مواد په لاس راغلل هم ستاسو د کتابونو په باب یو څه لیکم او که آر ډسک خلاص نه شو هم یې لیکم، خو زما ژوند او نورو فرهنګي کارونو ته په کتو سره یو څه وخت ته اړتیا لري.
څنګه چې بحث د مرهون پر هغو کارنو باندې دی چې ده د کوچنیانو له پاره کړي دي، نو د دې له پاره چې زه خپله او درانه لوستونکي یو څه له مرهون سره آشنا او بیا یې پر کړو ادبي کارونو څه وایو، نو ما د فیسبوک د چت خونې له لارې له ده نه د ده د بیوګرافی غوښتنه وکړه.
مرهون صاحب که دې یوه لنډه بیوګرافي را ولیږې، خوشاله به شم!

ده هم د غفور لیوال هغه لیکنه په لاس راکړه چې لیوال صاحب په شاعرانه انداز او هنرمندانه ډول د ده په باب د ۲۰۰۹ کال د جون د میاشتې په اته ویشتمه نیټه په «ټول افغان» ویبپانه کې خپره کړې وه. د هغې لیکنې په یوه برخه کې د مرهون په باب داسې راغلي دي:

« هغه ورځې، چې له شماله جنوب ته راپاخیدلي بادونه د ونو وروستی پاڼې توږي، او انار په خپلو رینبو کې د نویو ګلونو د غوړولو لپاره اوبه پټوي، نو چې د بابا صاحب زیارت ته وخیژې

ښکلي ارغنداو يو بل رنګ لري، شل کاله پخوا ( ۱۹۸۹ميلادي) د همداسي يوه دسمبر په ۱۳مه يوه ښکلي ماشوم د ښاغلي آغا محمد محرابي کور روښانه کړ، د بارکزو د شيرزيو (خړزيو) په محرابخيلو کي يو بل بارکزی ورزيات شو. دنيکه ملاولي احمد محرابي او غور نيکه محمد امين محرابي د کاله نغری پر يوه تنکي محمود تود شو، چي کلونه وروسته د خپلو ادبي او فرهنګي هڅو له برکته په محمود مرهون مشهور شو. »

اوس محمود مرهون د کابل پوهنتون د ادبياتو پوهنځي د پښتو څانګي په علمي کدر کي تر ټولو ځوان غړی دی.

مرهون يو فعاله ځوان علمي کدر دی چي ادبياتو پوهنځي کي يي د زدکړي او تدريس تر څنګه ډيري نوري فرهنګي پروژې او کارونه را پيل کړي دي. د ژورناليزم په برخه کي فعاليت لري او د «سراج الملت» په نامه جريده خپروي چي تر اوسه پوري يي دوې ګڼي زما له نظره تيري شوي دي، په آنلاين ډول يي د پښتو ژبي تدريس (راځئ چي پښتو زده کړو، بياید پښتو بياموزيم) ته متي را نغښتلي دي چي په آنلاين ډول تر لاسه کيدای شي:
د کتابونو ليکل او ژباړل يي په يوه عادت بدل شوي دي. له ټاټوبي اونيزی سره يي د خپلو چاپ شوو آثارو په باب داسي ويلي وو:
« تر دی دمه مي ۳۱ عنوانه بيلابيل کتابونه په هيواد کي دننه او له هيواده بهر چاپ سوي دي او انشاالله په نږدي راتلونکي کي به دغه شمېر ۳۵ ته ورسيږي »

زه د اوس له پاره د ده پر نورو فرهنګي کارونو باندي څه نه وايم، يوازي يي هغه کارونه دلته معرفي کوم چي د کوچنيانو ادبياتو په برخه کي د کو چنيانو او ماشومانو له پاره کړي دي.

هغه کتابونه چي مرهون ما ته په کابل کي را وسپارل، عنوانونه يي دا دي:

ـ مهربانه سپی او د چرګي ژړ چيچان،
ـ دري نانۍ پيشو ګياني،
ـ وحشي خرس او هوښيار هلک،
ـ د ځنګل د مانۍ راز،
ـ د سرو زرو هګۍ او جادويي بيزوګی،
ـ لويشتکی،
ـ د علاالدين څراغ،
ـ هوښياران خور او ورور،
ـ بامي،
ـ بيرندونکی شوپرک.

د کتابونو نومونه څنګه چي د کتاب پر پشتی باندي چاپ شوي دي، ما هغسي ثبت کړل. دا کتابونه د ډيرو ښيګنو تر څنګ يو څو «خو» ګاني هم لري، په دي ډول:

ـ د کتاب ليکوالان نه دي ښودل شوي،
ـ په ژباړل شوي متن کي د کتاب منبع نه ده راوړل شوې،
ـ د چاپ کال او ځای نه ده ښودل شوی،

ـ د ځینو کتابونو پر وروستۍ پښتي باندي لیکلي دي: انتشارات مستقبل او پر ځینو یې بیا لیکلي دي: کتاب فروشي علمي، خو د ناشر او خپرونکي توري ورسره نه شته او سړی نه شي کولای پوه شي چې ناشر څوک دی او له کوم آدرس نه خپاره شوي دي.
ـ د ژباړي ژبه یو څه ځیره ښکاریږي چې د پښتو د یوې لهجې رنګ په کې غالب دی.
د دغو پاسنیو نیمګړتیاوې په باب مې له مرهون سره د چټ په خونه کې سوال ځواب کړی دی چې د ځینو پوښتنو او نیمګړتیاوو ځوابونه په کې موندل کیدای شي:

آصف بهاند:
په ښه وخت په لاس راغلې!
دا لس کتابونه دې چې ما ته راکړي، دا ټول ژباړل شوي آثار دي، د دې منبع او ژبه نه ده ښودل شوې چې له کومې منبع او کومې ژبې نه را ژباړل شوي دي؟
به یوه کتاب(مهربانه سپی او د چرګې ژړ چیچان) کې د کتاب پر مخ ژباړن محمود مرهون ښودل شوی دی او په دریم مخ کې یې ژباړن ساحل مرهون ښودل شوی دی. آیا ساحل مرهون او محمود مرهون یو شخص دی که جلا جلا اشخاص دي؟

محمود مرهون:
سلامونه!
هغه یو اشتباه ده دواړه یو کس دي.
دواړه محمود مرهون دی.
او بل دا د انګلیسي متن څخه ترجمه سوي دي مګر رسامی یې...

آصف بهاند:
نور ۴۰ ټوکه دې چې چاپ ته لیږل، زما مصلحت دا دی چې ټاکلې منبع(مآخذ) یې ور سره ولیکه چې ستا مسولیت هم تر سره شي او په راتلونکو کې څیړونکي هم له ستونزو خلاص وي. په هر څه کې مآخذ، سر چینه، ریفرینس، لینک، آدرس ښودل ډیره اړینه موضوع ده، بیا تا غوندې یو شخص ته چې استاد او څیړونکی یې.
محمود مرهون:
پر دواړو سترګو،
استاده دې ټکي ته مې فکر دی.
زما هیله دا ده چې چې مرهون صاحب په خپلو راتلونکو کارونو کې دې نیمګړتیاوو ته په پام سره دا کمبود شیان ور اضافه کړي.
د اوس له پاره یې پرتلنه ځکه نه شي کیدلای چې اصل متن په لاس کې نه شته او په هر اړخیزه توګه یې نقد ته هم زړه نه شم ښه کولای. د اوس له پاره د کوچنیانو د ادب په برخه کې همدومره کار که نیمګړتیا هم ولري، غنیمت یې ګڼم چې یو مور او پلار یوه ماشوم ته د دې کتابونو یوه کیسه په مینې سره واوروي او یا کوم کوچني ته له دې کتابونو څخه یو د لوستلو له پاره په لاس کې ورکړل شي او که هیڅ شی نه وای نو...
د کتابونو موضوعات د کوچنیانو د ژوند او عمر په سطحه برابر دي او که تر ماشومانو او کوچنیانو پوري ورسیږي، ډیر ګټور دي او کوچنیان به ډیر څه ور نه زده کړي.
د لسو عنوانه کتابونو له ډلې نه مرهون د ځینو کتابونو په پیل کې د کوچنیانو په ژبه له هغوی سره د زړه خواله کوي چې دا د زړه خواله ماشومان او کوچنیان نور هم مطالعې ته هڅوي او له دې کتابونو سره یې مینه زیاتوي. څو بیلګې یې دا دي:

«خوږو او ګلالیو کوچنیانو! دا دی تاسي ته مې نن یوه ډیره پخوانۍ او ډیره عجبه کیسه راوړې ده. دا کیسه یوه خورا مشهوره کیسه ده چې ډیر کلونه پخوا پیښه شوې ده. تاسو به دا کیسه لولئ،

خپلو نورو شریکانو ته به یې وایاست او بیا به یې په خپلو کتابچو کې لیکئ. که چیرې مو کوم ځای سر نه خلاصیدئ، بیا به نو خپل ګران پلار جان اویا مور جانې ته و وایاست چې در ته مانا یې کړي ...»(مرهون،محمود(ژباړن)، وحشي خرس او هوښیار هلک، لومړی مخ)
«ګرانو کوچنیانو سلامونه!
دا دی نن د یوې نوې کیسې سره راغلی یم. دا کیسه د چین په اړه ده. تاسو دا کیسه له سره تر پایه و وایاست، په یاد یې کړئ او بیا یې په خپلو کتابچو کې ولیکئ...»( مرهون،محمود(ژباړن)، د سرو زرو هګۍ او جادویي بیزوګۍ، لومړی مخ)
کتابونه ټول له رنګه انځورونوسره چاپ شوي دي چې دا نور هم کتابونه او د هغو موضوعات د کوچنیانو له پاره په زړه پورې کوي او په لوستلو کې مرسته ورسره کوي.
خو اصلي خبره دا ده چې دا کتابونه به اوس تر ماشومو اوکوچنیو لو ستونکو پورې څوک څه ډول ور رسوي. ما د د کوچنیانو ادبیاتو په پنځه لسمه برخه کې همدې ستونزې ته اشاره کړې وه چې دومره مواد، کتابونه، مجلې چې ما په څو برخو کې معرفي کړل، څنګه به تر کوچنیو لوستونکو پورې ورسیږي.

د مرهون صاحب د دې کتابونو مسآله هم همدې ستونزې سره مخ ده چې دا ښایسته او د ماشومانو او کوچنیانو له پاره په زړه پورې کتابونه به څنګه او څوک تر خپل ځای، یانې د کوچنیانوتر نازکو لاسونو پورې ورسوي؟
کله چې ما په کابل پوهنتون کې له مرهون سره ولیدل د نورو خبرو تر څنګه مې همدا موضوع ورته یاده کړه چې دا کتابونه به څنګه تر کوچنیانو پورې ورسیږي؟ او وړاندیز مې ور ته وکړ چې ښه لاره یې دا ده چې په کومه ویبپاڼه کې آنلاین شي، څو هغه کورنۍ چې انټرنټ ته لاس رسی لري په وړیا او آسانه استفاده ځینې وکړي. ده را ته و ویل چې سمه ده. او اوس یې یوازې د فیسبوک پر یوه ځانګړې پاڼه باندې یو څو کتابونه آنلاین کړي دي چې ښایي ټول خلک به ور ته لاس رسی و نه لري.

که ښاغلی مرهون که له ځینو داسې ویبپاڼو سره چې دا کتابونه انلاین کولای شي، په تماس کې شي، ډیره به موثره وي. هغه څو پاڼې دا دي:

ـ کتابونه دات کام ( ketabton.com )

ـ کتابونه دات کام (kitabtoon.com)

ـ پل دات، تاند دات کام (pal.taand.com)

دوه لومړنې یې جلا جلا ویبپاڼې دي چې دواړه په خپل کتابتون کې د کوچنیانو د ادب او ماشومانو او کوچنیانو کتابونو له پاره جلا برخې او ځایونه لري. او دریمه ویبپاڼه (پل) د ماشومانو، کوچنیانو او د هغوی د کورنیو له پاره ځانګړې ویبپاڼه ده، که دا او دې ته ورته کتابونه په خپله لمن کې ولري، ډیر په ځای او مناسب کار به وي.

محمود مرهون د ۲۰۱۵ کال د اکتوبر په پنځلسمه نیټه په خپله فیسبوک پاڼه کې ولیکل چې د ماشومانو او کوچنیانو له پاره یې څلوېښت نوي آثار له چاپه راوتلي دي. د ځینو چاپ شوو کتابونو د لومړي مخ عکسونه یې په خپله پاڼه کې ایښې وو. دغه یې درې بیلګې دي:










د ماشومانو او کوچنیانو له پاره د محمود مرهون د لومړنیو لسو چاپ شوو کتابونو په باب مي چي کومه مقاله لیکلي وه، هلته مي دا یادونه کړې ده چي دا چاپ شوي مواد به اوس تر وړو لوستونکو پوري څوک او څنگه رسوي؟

د ماشومانو او کوچنیانو له پاره د ښاغلي محمود مرهون د نوو چاپ شوو آثارو په برخه کي بیا په تکرار سره وایم چي: دا چاپ شوي مواد به اوس تر وړو لوستونکو پورې څوک او څنگه رسوي؟

زما په نظر تر ماشومانو او کوچنیانو پورې رسیدل یې د میندو او پلرونو د پوهې د کچي د ټیټوالي، بې تفاوتی او د کورنیو د بد اقتصادي حالت په دلیل، کله گران او کله نا شونی وي.

خیر چي هرڅول وي، وي دي. زما له پاره دا د خوشالی خبره ده چي زموږ د ټولني د یو هیر شوي قشر له پاره یو څه نه، بلکي ډیر څه له چاپه را و وتل.

اوس پوښتنه دا ده چي دا کتابونه چا ته چاپ شوي دي:

ـ هغه چا ته چي د راتلونکي ټولني یوه اصلي ستنه ده،
ـ هغه چا ته چي راتلونکي ټولنه باید وچلوي،
ـ هغه چا ته چي راتلوکي یا ښه کوي، یا یې بربادوي،

که مو ښه وروزه، ښه به شي او که بد مو وروزه نو پایله یې همدا اوس مالومه ده، یعني بربادي.

زه د دې کتابونو چاپ او خپریدل، د نوي نسل په روزلو کي له اساسي گامونو نه یو گام گڼم.

محمود مرهون په خپل فیسبوک کي د نویو کتابونو د چاپ له پاره داسي لیکلي دي:

«خپلو نانیو شریکانو ته زیری!

دا واري مي تاسي ته (٤٠) داني کتابونه در جوړ کړي دي، پلرو ته مو و وایاست چي خامخا یې در پیدا کي څلوېښت داني د خوږو کیسو کتابونه ټول رنگه»

https://www.facebook.com/mahmood.marhon?ref=ts&fref=ts

په ځينو ځايونو کې داسې هم تر سترګو شوي دي چې د نويو چاپ شوو کتابونو شمير څلوېښت نه، بلکې پنځه څلوېښت عنوانه دي. د دې کتابونو په باب تر ټولو کره او وروستی مالومات، مرهون له ښاغلي احمد شاه اعظمي سره په يوې مرکې کې وړاندې کړ چې د مشال او آزادۍ راديو له لارې په غږيزه بڼه خپور شو. د آزادۍ راديو په يوه ياد داشت کې داسې راغلي دي:
« د کابل پوهنتون د ادبياتو پوهنځي ځوان ښوونکي محمود مرهون د ماشومانو لپاره ۴۵ کتابونه ليکلي او ژباړلي دي.

نومورې وايي، د هر کتاب هره پاڼه يې د متن تر څنګ په ښکلو انځورونو پسوللي تر څو ماشومان په اسانه زدکړه ورڅخه وکړي او په کيسه ځان پوه کړي. د ده په خبره، ماشوم ته بايد وښودل شي چې رنګينه نړۍ د کاغذ پرمخ هم شته. نومورې زياتوي، پلان لري، په نږدې وختونو کې د ماشومانو لپاره شپږ جلده دايرت المعارف هم وليکي.
له محمود مرهون سره زموږ همکار احمد شاه اعظمي مرکه کړې او په لومړي سر کې يې ورڅخه پوښتلي چې د ماشومانو لپاره يې د کتابونو ليکلو او ژباړلو ته څنګه پام ور اوښتی؟»

http://pa.azadiradio.com/content/transcript/27421018.html
http://www.mashaalradio.org/content/article/27420950.html

کومې څرګندونې چې ښاغلي مرهون آزادۍ او مشآل راديو ته کړي دي، هلته يې ويلي دي چې په دې پنځه څلوېښت کتابونو کې اوه(۷) ټوکه ټولونه او ليکنه ده او نور ټول ژباړل شوي دي.
دا کتابونه د کاينات نشراتي مرکز په مالي مرسته چاپ شوي دي.
ټول پنځه څلوېښت کتابونه زما له نظره نه دي تير شوي چې زه يې خپل تقصير ګنم، خو يو څلوېښت عنوانه يې ما ليدلي دي، چې دلته يې درنو لوستونکو ته ور پيژنم:

۱ـ شرمښ او سره بزه، محمود مرهون،
۲ـ جګ بابا، ليکوال: جين وبستر، مترجم: محمود مرهون،
۳ـ د آسمانو شاپيرۍ، ليکوال: شاګاهيراتا، مترجم: محمود مرهون،
۴ـ د واورو ملکه، ليکوال: شاګاهيراتا، مترجم: محمود مرهون،
۵ ـ د أز د ښار جادو ګر، ليکوال: شاګاهيراتا، مترجم: محمود مرهون،
۶ ـ سورکۍ، ليکوال: شاګاهيراتا، مترجم: محمود مرهون،
۷ ـ ملاله په عجبه دنيا کې، ليکوال: لوييس کارول، مترجم: محمود مرهون،
۸ ـ اورلګيت خرڅونکې نجلۍ، ليکوال: هانس کريستين اندرسن، مترجم: محمود مرهون،
۹ ـ د ماشيني انسانانو سره جنګ، ليکوال: فرانک با أوم، مترجم: محمود مرهون،
۱۰ ـ د باچا نوې کالي، محمود مرهون،
۱۱ـ قهرمان هلک او جادوګر، ليکوال: شاګاهيراتا، مترجم: محمود مرهون،
۱۲ـ د ځنګله د مانۍ راز، ليکوال: شاګاهيراتا، مترجم: محمود مرهون،
۱۳ـ شين طوطي، ليکوال: شاګاهيراتا، مترجم: محمود مرهون،
۱۴ـ سارا سرور، ليکوال: شاګاهيراتا، مترجم: محمود مرهون،
۱۵ـ شپږ ورونه او يو سوی، ليکوال: شاګاهيراتا، مترجم: محمود مرهون،
۱۶ـ نيک بخته شاهزاده، ليکوال: شاګاهيراتا، مترجم: محمود مرهون،
۱۷ـ مغروره باز(او يوه بله کيسه)، ليکوال: شاګاهيراتا، مترجم: محمود مرهون،
۱۸ـ چالاکه پيشي، ليکوال: شاګاهيراتا، مترجم: محمود مرهون،

۱۹ـ د ريدي وفاداره سپی، ليکوال: شاګاهيراتا، مترجم: محمود مرهون،
۲۰ـ سرتيری او وحشي ديب، ليکوال: شاګاهيراتا، مترجم: محمود مرهون،
۲۱ـ د ګيدړې شيطان چيچی، ليکوال: شاګاهيراتا، مترجم: محمود مرهون،
۲۲ـ اروا وړی سپی(ځو نوري کيسي)،
۲۳ـ د کلي عجيبه سپی، ليکوال: شاګاهيراتا، مترجم: محمود مرهون،
۲۴ـ انګوړ و منګوړ او چيچي مچونګړ، محمود مرهون،
۲۵ـ ښکار او ښکاري(او يوه بله کيسه)، ليکوال: شاګاهيراتا، مترجم: محمود مرهون،
۲۶ـ مچمچکه، ليکوال: بن زلس، مترجم: محمود مرهون،
۲۷ـ هوايي هيلی، ليکوال: هانس کريستن اندرسن، مترجم: محمود مرهون،
۲۸ـ د کوچنيو انسانانو دنيا، ليکوال: شاګاهيراتا، مترجم: محمود مرهون،
۲۹ـ آسماني نجلی، ليکوال: شاګاهيراتا، مترجم: محمود مرهون،
۳۰ـ لنډيان او خفاف(بوټ ګنډونکی)، ليکوال: شاګاهيراتا، مترجم: محمود مرهون،
۳۱ـ نازو او جادوګر، ليکوال: شاګاهيراتا، مترجم: محمود مرهون،
۳۲ـ مهربانه نجلی، ليکوال: شاګاهيراتا، مترجم: محمود مرهون،
۳۳ـ شين سترګي ارزو، ليکوال: لوسی م مونتګمري، مترجم: محمود مرهون،
۳۴ـ ماريا او زمری شاهزاده، ليکوال: شاګاهيراتا، مترجم: محمود مرهون،
۳۵ـ نازو او جادوګر باچا، ليکوال: فرانک با اُوم، مترجم: محمود مرهون،
۳۶ـ علي بابا او څلويښت غله، ليکوال: شاګاهيراتا، مترجم: محمود مرهون،
۳۷ـ هوښيار سوی او بد رنګه راکون، ليکوال: شاګاهيراتا، مترجم: محمود مرهون،
۳۸ـ درې سترګی ديب او کوچنی بوټېه، ليکوال: شاګاهيراتا، مترجم: محمود مرهون،
۳۹ـ د زمريالي وفا داره سپی، ليکوال: شاګاهيراتا، مترجم: محمود مرهون،
۴۰ـ د هيلۍ بد رنګه چيچی، ليکوال: شاګاهيراتا، مترجم: محمود مرهون،
۴۱ـ وحشي خرس او هوښيار هلک، ليکوال: شاګاهيراتا، مترجم: محمود مرهون،

زما د مالوماتو له مخي تر اوسه پوري د ماشومانو او کوچنيانو له پاره په افغانستان کي، هغه هم په پښتو ژبه، هيڅ چا دومره کتابونه نه ليکلي، نه يې ژباړلی او نه يې هم چاپ کړي دي، خو ښاغلي محمود مرهون د ليکولو، ژباړلو، او چاپولو چاري او نور ټول مسايل په يوازې توګه تر سره کړي دي. زه فکر کوم دا به په دې برخه کي د افغانستان په کچه يو ريکارد وي.
کله چي د کوچنيانو له پاره د محمود مرهون د نويو کتابونو د چاپ خبر ميډيا ته راووت، ورسره د محمود مرهون ځينو دوستانو او د کوچنيانو د ادبياتو او نوي نسل د روزلو په ارزښت باندي آګاه خلکو خپل عکس العملونه او نظرونه څرګند کړل چي زه يې دلته د بيلګې په توګه څو نموني را اخلم:

ښاغلي مطيع الله روهيال د دوه زره پنځه لسم کال د دسمبر په څلورمه نيټه داسي وليکل:
«زما ګران مرهونه دوا دې سه!
د پښتني ټولني ډېري ميندي او پلرونه د کابل پوهنتون د ځوان استاد ښاغلي محمود مرهون د کار او زيار پوروړي دي. زما دغه ګران ځوان او پرکاره ليکوال په ځوانه ځواني د هغوی لونو او زامنو ته تر پنځوسو زيات کتابونه ترجمه کړي او ليکلي دي. د دغه ځوان د هڅو قدر وکړئ او په درنه سترګه ورته وګورئ، زه باوري يم، چي د پښتني کهول د کوچنيانو له پاره د کتابونو لويه تشه به د دغه ځوان د قلم او ګوتو په زور ډکه سي!
زما ګرانه!
پر قلم، هڅو او زيار دې برکت، خدای او خندا دې ملګري اوسه!»

https://www.facebook.com/matiullah.rohyal?ref=ts&fref=ts

ښاغلي خالد هادي د ۲۰۱۵ کال د دسمبر په ۶مه نیټه د مرهون د همدې فعالیتونو په باب داسي ولیکل:
« ښائي دا به په پښتو کي لومړنۍ هڅه وي:
چي یوځوان راولاړیږي او دافغان ماشوم راتلونکي په اړه دونه ستر فکر او خدمت ته ملاتړي
.
زموږ د تنکي نسلونو لویه ستونزه داده چي ماشوم مو په مورنۍ ژبه د فکري تکامل لپاره د بنسټیزو مواد بی برخي پاته وي . ترڅو چي دماشومانو ادبیات ته کار ونسي ترهغو به د یو سالم او با احساسه نوي نسل د رامنځه کیدو تولي هڅي بی معنا وي.
زه په خپل وار د کابل پوهنتون د استاد پوهنیار محمود مرهون دغه چاره ستایم چي په مورنۍ ژبه ئي په لومړي ځل د ماشوم د ادبیاتو ۴۵ بیلابیل کتابونه لیکلي او راټول کړي دي چي زیات شمیر ئي چاپ سوي هم دي.
اوس نو دا په پلرونو او میندو پوري تړلي ده چي ماشوم له کتاب سره اشنا ساتل غواړي او که له پلاستکي توپک او توپنچو سره ؟
په دې هیله چي تر شعرونو او کیسو مو لیکوال د ماشوم د ادبیاتو دغه لویي تشي ته متوجه وواوسي او خپله انرژي په دې لاره کي وکاروي.
مرهون دي خدای ژوندی لري چي داسي نور سترخدمتونه تولني ته وړاندي کړي.»

https://www.facebook.com/anzorgar?fref=nf

یو چیرې مې د مرهون د دې بیسارو هڅو په باب په یوار په دریو ژبو یو نظر ولوست، تاسو یې سره یې هم شریکوم:

«کتاب ! نه تفنگ!
برای اولین بار پس از ۲۳ سال در افغانستان کتاب قصه برای کودکان توسط يك استاد پوهنتون کابل به نام محمود مرهون به چاپ رسید.
این کتاب ها که ترجمه افسانه های مشهور دنیا برای کودکان به زبان پشتو است به زودترین فرصت به تمام ولایات افغانستان توزیع خواهد شد.
شخص خودم ادمین ۲ به چنین افراد افتخار میکنمsmile-humørikon
په افغانستان کې د لومړي ځل له پاره یوه ځوان پر یوه ځای د کوچنیانو له پاره پنځه څلویښت کتابونه چاپ کړي دي، دا ځوان محمود مرهون نومیږي د کابل پوهنتون استاد دی، دی وایي چي دا ټول پنځه څلویښت زره جلده کتابونه به د افغانستان په ټولو ولایتونو کي وویشي.

For the first time in Afghanistan, a young professor has published 45,000 children's books (45 different stories) in Pashto language. Professor Mahmood Marhoon, who is teaching at the Faculty of Languages and Literature of Kabul University, says the books will »be distributed allover Afghanistan very soon.
«WH ادمین ۲»

https://www.facebook.com/Ariyana.Afghanistan/

محمود مرهون له ځوان وجود سره ځوان او تاند فکر هم لري، د زدکړو، پوهي او عملي کار ډیرو برخو ته لاس اچولی دی؛ او زه یې چې جدیت، هوډ او کار ته ګورم، هیله لرم چي بریالی

ور نه راووزي، خو له ځینو عکس العملونو نه يې داسې ښکاري چې کارونه يې دومره نه په عذابوي، بلکې د ده د ځینو قلموالو دوستانو نه همکاري يې ستړی کوي. د همدې تر بحث لاندې کتابونو لیکل، ژباړل، برابرول، چاپول او ... هر څه ته ده یوازې اوږه ورکړې ده، خو د تصحیح له پاره د یو ځل لوستلو اوږه چا نه ده ور کړې، نو دی هم حق لري چې یو ځل شکایت ډوله داسې ولیکي:

«زموږ خلکو ته یوازې انتقاد ور رسېدلی دی!
له سهاره مې یولسو کسو ته ویلي دي چې د کوچنیانو د کتابونو په تصحیح کې مرسته را سره و کړئ ټولو يې په یوه او بله بهانه ځان کښلئ دئ او دوئ ټوله هغه کسان دي چې زما د کتابونو له چاپ وروسته تر ټولو ډېر انتقاد دوئ رابانديې کړئ دي چې ولي دي په کتابونو کې املايي تېروتني موجودي وي. د کتاب چاپوني یو اصل دا دی چې خپل کتاب به خپله نه تصحیح کوي ځکه ستا لیکلی متن ستا په مغز کې لیکل سوی دی تې د املايي تیروتني تصور ځکه نه سي کولای چې تې له خپله مغزه وايې نه له کاغذه، خو عصاب مې ځکه خراب دي چې خبري مو ډیري دي عمل مو لږ خاص مخاطب ډېر لرم.»

https://www.facebook.com/mahmood.marhon?ref=ts&fref=ts

تر هغه ځایه چې زه مرهون پېژنم دی ډېر مصروف سړی دی. که يې د کارونو لست ته ځوک په ځیر سره وګوري، نو حیران پاتې کیږي چې دی څنګه دومره پېل کړو کارونو او پروژو ته رسیدګي کولای شي.

ـ په ادبیاتو پوهنځي کې تدریس کوي،
ـ په ادبیاتو پوهنځي کې د ماسترۍ پروګرام تعقیبوي،
ـ د یوه ژورنالست په توګه عملاً کارکوي (د «سراج الملت» په نامه اخبار مسول چلونکی دی)،
ـ مولف دی، کتابونه تالیفوي،
ـ مترجم دی، ژباړل شوي کتابونه يې چاپ شوي دي،
ـ په پراخي حوصلې سره د «راځئ چې پښتو زده کړو، بیاید پښتو بیاموزیم» د تدریس کار په ژوندی ویډیويي بڼه په خپل مخکتاب کې پر مخ بیايي،
ـ د کاینات د نشراتي مرکز مشري کوي،
او ...

دا هم د یادولو وړ ده چې ښاغلي مرهون آزادی او مشال راډیو سره د مرکې په ترڅ کې ویلي دي چې د دې کتابونو له خپریدو وروسته په نظر کې لري چې د کوچنیانو له پاره شپږ ټوکه دایرت المعارف هم ولیکي او خپاره يې کړي چې اوس يې کار روان دی.
زه د ۲۰۱۵ کال په اپریل ـ مې کې کابل ته تلل وم، ورسره مې مخامخ ولیدل، یو بل سره معرفي شوو او وغږیدو. ما ته يې د کوچنیانو له پاره خپل لس چاپ کړي کتابونه را وسپارل چې ما (مرهون او د کوچنیانو ادب، ۱) تر عنوان لاندې مقاله ور ته ولیکله او د ۲۰۱۵ کال د جولای په یو ویشتمه نیټه مې خپره کړه:

http://www.afghan-german.net/upload/Tahlilha_PDF/bahand_a_kochonian16.pdf
http://www.nahimi.dk/web/index.php/ps/2012-08-11-17-36-49/13259-2015-07-21-16-14-07
http://tolafghan.com/posts/31388
http://www.taand.com/pal/archives/1951

د همدي ليدني په ترڅ کي يي چي کتابونه راکول، زما او د ده تر منځ ډيري خبري تبادله شوي چي کوچنيانو ته يي د چاپ شوو او نا چاپ کتابونو په برخه څرګندوني ډيري د پام وړ وي.
کله يي چي کتابونه راکړل، ما ور ته و ويل:
مبارک دي شه، په ځواني دي برکت شه چي تا دومره کار کړی دی، هغه هم د کوچنيانو له پاره چي د ډيرو هير، خو ستا په ياد دي.
د اوږدي مرکي په پای کي يي بيا را ته و ويل:
« دي ته ورته نور کتابونه مي هم تر کار لاندي دي، که ژوند باقي و، نو بشپړ به يي کړم.»

http://www.taand.com/pal/archives/1951

او دا دی اوس يي هغه وعده پوره کړه، کتابونه يي چاپ او خپاره کړل، او د دي وعدي په پوره کولو سره يي دا ثابته کړه چي دی د هغي ډلي خلکو پر لار نه دی روان چي «پر يخ يي ليکي او لمر ته يي ږدي»، محمود مرهون پر ډېره وليکل او په خپل کار او زيار سره يي د عمل جامي ور واغوستي.
ما د کوچنيانو له پاره د ده د لومړيو کتابونو تجربي ته په کتو سره، د تر کار کتابونو د چاپ له پاره داسي مشوره ورکړي وه:
«نور ۴۰ ټوکه دي چي چاپ ته ليږل، زما مصلحت دا دی چي ټاکلي منبع(مآخذ) يي ور سره وليکه چي ستا مسوليت هم تر سره شي او په راتلونکو کي څيړونکي هم له ستونزو خلاص وي.
په هر څه کي مآخذ، سر چينه، ريفرينس، لينک او آدرس ښودل ډيره اړينه موضوع ده، بيا تا غوندي يو شخص ته چي استاد او څيړونکی يې.»

http://tolafghan.com/posts/31388

کله مي چي د ده پر لسو لومړنيو کتابونو مقاله وليکله، هلته مي ورته داسي وړانديز کړی و چي که دا کتابونه په خپلو آدرسونو کي انلاين شي، ښه به وي:
« که ښاغلی مرهون له ځينو داسي ويبپانو سره چي دا کتابونه انلاين کوالی شي، په تماس کي شي، ډيره به موثره وي. هغه څو پاڼي دا دي:

ــ کتابتون دات کام (ketabton.com)،
ــ کتابتون دات کام (kitabtoon.com)،
ــ پل دات، تاند دات کام (pal.taand.com).

دوه لومړني يي جلا جلا ويبپاڼي دي چي دواړه په خپل کتابتون کي د کوچنيانو د ادب او ماشومانو او کوچنيانو کتابونو له پاره جلا برخي او ځايونه لري. او دريمه ويبپاڼه (پل) د ماشومانو، کوچنيانو او د هغوی د کورنيو له پاره ځانګړي ويبپاڼه ده، که دا او دي ته ورته کتابونه په خپله لمن کي ولري، ډير په ځای او مناسب کار به وي.»

http://www.afghan-german.net/upload/Tahlilha_PDF/bahand_a_kochonian16.pdf

خو تر نن پوري ياد کتابونه، يا نه دي انلاين شوي او يا به زما تقصير وي چي ما به نه وي ليدلي او د دي ځلوېښتو کتابونو په برخه کي يي بيا په تکرار سره وايم چي که غواړئ چي دا کتابونه تر خپلو لوستونکو پوري ورسيږي، يا يي په همدغو پتو يا نورو آدرسونو چي تاسي ته مالومي وي، انلاين کړئ او يا يي د ويش له پاره نور زحمت هم پر ځان وګالئ.

د کوچنیانو او ماشومانو له پاره د محمود مرهون د دغو نوو چاپ شوو او خپاره شوو کتابونو د چاپ او خپریدو په خاطر، زه له خپله آدرسه او د نوي نسل د روزلو د پلویانو له آدرسه، لومړی ده ته مبارکي وایم، بیا مننه ور نه کوم چې ده زموږ د ټولنې د یوه هیر شوي قشر له پاره خپل مادي او معنوي امکانات وقف کړي دي. هیله مې دا ده چې خپل ټول مثبت کارونونه پسې وغځوي په تیره د کوچنیانو او ماشومانو د کتابونو د تألیف، ترجمې او ویشلو لړۍ خو دې بیخي نه هیروي.

# احمد ولي اڅکزی او د کوچنيانو ادب



د ماشومانو او کوچنيانو د پالني او روزني له پاره او د هغوی د ادبياتو له پاره، هغسي چي ښايي کار نه دی شوی؛ خو اوس اوس چي کوم کارونه او هڅي د ځينو اشخاصو او غير دولتي آدرسونو له لوري رواني دي، زموږ د ټولني ستونزو، د پرمختګ څرنګوالي او شرايطو ته په کتو سره يي زه داسي ارزوم چي په ښه او مثبت لوري رواني دي او له تمي نه لا زيات کارونه د تر سره کيدو په حال کي دي. ښې بيلګي يي د کوچنيانو د ادبياتو په څيرنيزه او تخليقي برخه کي ليدل کيږي، په بيلابيلو ويبپاڼو کي چاپيږي، خو تر ټولو ښې پتې يي دا دي:

ـ «پل» ویبپاڼه،( http://pal.taand.com )

ـ د ماشوم د ادبیاتو کور فیسبوک پاڼه،
https://www.facebook.com/خانه-ادبیات-کودک-د-ماشوم-د-ادبیاتو-کور-/?fref=ts1474829949511421

په دې ورستیو کې د «د ختیزې سیمې د لیکوالو او ژورنالستانو ټولنه» ټولنې له خوا د ګڼ شمیر لیکوالو او فرهنګیانو په ګډون «د ماشوم د ادبیاتو جشن» تر سر لیک لاندې د یو سیمینار جوړیدل ې بله ښه بیلګه کیدای شي.
ـ دغه راز په ځینو ویبپاڼو کې د نورو خبرې او فرهنګي مطالبو تر څنګ، د ماشومانو او کوچنیانو کړکی هم پرانستل شوي چې هلته د کوچنیانو له پاره کتابونه، د کوچنیانو د ادبیاتو او کارونو په باب څېړنیزې مقالې او د کوچنیانو له خوا یا د کوچنیاو له پاره لیکل شوي شعرونه او کیسې انلاین کیږي، لکه د لر او بر ویبپاڼې د «د ماشوم نړۍ» برخه:

http://larawbar.net/category/c_25

د کوچنیانو د ادبیاتو تخلیقی برخې ته که پام وشي، لیدل کیږي چې په دې برخه کې په ډیر لنډ وخت کې ګڼ شمیر نوي قلموال را پیدا شوي دي چې د کوچنیانو له پاره یې شعرونه، داستانونه تخلیق کړي دي او یا یې له نورو ژبو د ماشومانو او کوچنیانو له پاره یو څه را ژباړلي دي.
د هغو لیکوالو او قلموالو په ډله کې چې له څه مودې نه را په دې خوا یې کوچنیانو او د هغو ادبیاتو ته پام ور اړولی دی، یو هم پیاوړی او نه ستړی کیدونکی فرهنګي احمد ولي اڅکزی دی. د احمد ولي اڅکزي نوم، د ده د تر سره کړو فرهنګي کارونو په وجه، هر افغان باید اوریدلی وي او لږ قلموال به وي چې د ده له فرهنګي کارونو څخه یې استفاده نه وي کړې. د قاموسونه دات کام (qamosoona.com) په اوریدو سره د هر افغان په ذهن کې د احمد ولي اڅکزي نوم او تر سره کړي فرهنګي کارونه تداعي کیږي، د هر پښتو لغات پوښتنه که څوک کوي او مانا یې غواړي، نو وایي:
قاموسونه دات کام ته دې سر ور ښکاره کړی که نه او قاموسونه دات کام د احمد ولي اڅکزي د نه ستړو کیدونکو هلو ځلو له برکته نن ورځ د ټولو لوستونکو په خدمت کې دی.

زه دلته نه غواړم چې د احمد ولي اڅکزي پر ټولو تر سره شوو فرهنګي کارونو باندې خبرې او بحث وکړم او یا د ده قاموسونو آنلاین پروژې باندې نقد او څیړنه وکړم، دا ځانته اوږد بحث او څیړنه غواړي. زه په اوسني بحث کې یوازې د احمد ولي اڅکزي پر هغو فعالیتونو رڼا اچوم چې ده د کوچنیانو د ادبیاتو په برخه کې کړي دي، د همدې له پاره مخکې له هر څه، د ده د پیژندنې په باب:
کله مې چې د دې مقالې عمومي جوړښت په باب فکر وکړ، د احمد ولي اڅکزي د بیوګرافی او ځینو نورو اړینو مالوماتو په فکر کې شوم. ما سوچ وکړ که لومړی لاس مواد پیدا کړای شم ښه به وي، نو مې د ۲۰۱۶ کال د اپریل په پنځمه نیټه د احمد ولي اڅکزي په پته دا لیک ور ولیږه:

ښاغلی احمد ولي اڅکزی سلامونه او درناوی مې ومنه!
ستاسو فرهنګي کارونه نن سبا لکه لمر داسې روښانه دي او د ډیرو افغانانو د لارې د ډیوې په توګه کار ور نه اخیستل کیږي، په تیره ستاسو د قاموسونو له غنیمت او ګټورې پروژې نه.
څو ځلې مې له استاد هوتک سره د خبرو په لړ کې یاد کړې او اوس ځان نیکمرغه ګڼم چې مخامخ یو څه تاسو بزرګوار ته لیکم.

تاسو خبر یاست چې د کوچنیانو ادبیاتو له پاره ما پخوا هم کار کړی دی او اوس هم په دې برخه کې پر تازه چاپېدونکو موادو او لیکوالو باندې کار او څېړه کوم، ستاسو فرهنګي کارونه هر یو په خپل وار سره زما له پاره د قدر وړ دي، خو سمدستي زه غواړم ستاسو د هغو کارونو په باب څه ولیکم چې له نیکه مرغه تاسو د کوچنیانو د ادبیاتو په برخه کې کړي دي. که مهرباني وکړئ را ته و وایاست چې:

ـ د کوچنیانو له پاره مو څومره تخلیق او ژباړې کړې دي، انګیزه یې څه وه او له کوم وخته مو د کوچنیانو له پاره تخلیق او ژباړه پیل کړې ده؟

ـ د کوچنیانو له پاره ستاسو لیکلي او ژباړلي مواد په کوم آدرس کې چاپ یا آنلاین شوي دي؟
ـ زما د مقالو د غِنا په خاطر که خپله یوه لنډه بیوګرافي هم را ولیږئ، زما لیکنه او یاد داشتونه به د لوستونکو له پاره لا جالب او غنیمت وي.
ستاسو د لا بریالیتوب په هیله
پوهندوی آصف بهاند

ښاغلي احمد ولي اڅکزي په هماغې ورځې زما د لیک په ځواب کې داسې را ته ولیکل:

«محترم او قدرمن ښاغلي بهاند صاحبه! وعلیکم سلام،تاسو او ستاسو درنې کورنۍ او دوستانو ته سلامونه او نیکي هیلي وړاندې کوم. ستاسو له مهربانیو او پېرزوینو ډک پیغام څخه یوه نړۍ مننه. صرف دا به و وایم چې الله دې ما په رښتیا هغسې جوړ کړي، لکه څنګه چې تاسو زما په هکله فکر کوئ.
زه په آلمان کې ژوند کوم او الله په درو ماشومانو نازولی یم چې عمرونه یې شپږ، څلور او یونیم کالونه دي. دا چې په مجموع کې د ماشومانو سره زښته زیاته مینه لرم، نو مې هیله دا ده چې د ماشومانو له پاره په پښتو کې لیکل سوي ادبیات پر انټرنټ وړاندې کړل سي. داسې چې هر مور او پلار یې په آسانۍ سره په خپل موبایل تلیفون او انټرنټ لرونکو نورو آلو کې خپلو ماشومانو ته و ویلای سي، چې دغه ماشومان له کوچنیوالي څخه لا د پښتو سره اړیکه او تماس پیدا کړي. زما په فکر د یوې ژبې د ژوندي پاته کېدو له پاره دا ډېره مهمه ده چې یوه ژبه و خپلو ویونکو ته ګټوره وي. تر دې بله لویه ګټه به څه وي چې یوه ژبه نانې زړګیان د ښکلو اشعارو او کیسو په مرسته وروزي، هم یې ساعت ورتېر کړي او هم ورته ښوونه وکړي .
د مسافرۍ ستړی ژوند دی، چې ځوک د خپل اولاد له پاره هومره وخت نه سي موندلای، لکه چې اړتیا یې وي، خو زه بیا هم کوښښ کوم چې هره شپه خپلو ماشومانو ته یو نکل وکړم. ما کوښښ وکړ چې د ماشومانو له پاره په پښتو انځورین کتابونه پیدا کړم، خو له بده مرغه چې بریالی نه سوم. حتی ساده متنونه مي هم پیدا نه کړلای سوای. حال دا چې په کتابخانه کې په آلماني ژبه په زرهاوو، یو تر بل ښکلي او ګټور کتابونه موندل کیدلای سي.
همدا ؤ چې اِراده مي وکړه چې زه یوه انټرنټ پاڼه جوړه کړم چې هم په رِنګ کې او هم په انځور او متن کې، پکښي د ښېل عمر لرونکو ماشومانو له پاره په پښتو ژبه مواد پراته وي. د دې کار پیل مي تقریباً یو دوې درې میاشتي تر مخه وکړ او د کوچنۍ تکۍ کام په نوم مي انټرنټ پاڼه جوړه کړه:

(www.kochnai.com)

خو دا چې زه ورته یوازې یم او یو شمېر نورې وظیفې هم په غاړه لرم، نو لا تر اوسه نه یم توانېدلی چې د پاڼې جوړښت د ماشومانو د عمر پر کاټیګوریانو تنظیم او پکښي ډېر زړه راښکونکي او انځورین مواد زیات کړم.

زه ... د پښتو ادبياتو په ساحه کې ډېر بې تجربې يم، خو د پاني په جوړولو سره مې هيله دا ده چې دغه به د نورو ليکوالانو له پاره يو ډول پليټ فارم وګرځي.

زه په آلمان کې رالوی سوی يم او يو صنف پښتو مې هم نه ده لوستې، او په خپله مې تر يوې اندازې د پښتو ليک او لوست زده کړی دی. له بده مرغه چې زه له افغانستان سره هم زياتې اړيکې نه لرم او له همدې کبله ستاسو او نورو ټولو درنو مشرانو څخه هيله او خواست کوم، چې د ماشومانو له پاره د موادو په راټولولو، د آنلاين کولو له پاره د ليکوالانو د اجازه تر لاسه کولو او ورته موارد کې راسره کومک وکړئ او راته مشورې راکړئ.

ما او زما يو بل ملګری چې محمد نسيم صابر نوميږي، يو څه وخت تر مخه د ګريم ورونو په ژباړه پيل وکړ، خو له بده مرغه چې کار مو ډېر ځنډنی دی او پکښې تر اوسه مو زيات پرمختګ نه دی کړی. ما په خپله يو څو نکلونه ليکلي چې بعضې يې آنلاين سوي، خو بعضې يې لا د آنلاين کېدو به انتظار دي. د ماشومانو له پاره دغه نکلونه او يو څو نظمونه تر اوسه چاپ سوي نه دي.

وبخښئ چې پيغام زښت راڅخه اوږد سو او ښه به وي چې نور يې دلته رالنډ کړم. ستاسو له مهربان پيغام څخه بيا يوه نړۍ مننه کوم او هيله ده چې د کوچني تکی کام په غني کولو کې راته خپلې مشورې او نکلونه راوليږئ.
ستاسو کشر ورور
احمدولي»

ما يې بيرته په ځوا کې داسې ور ته وليکل:

دا چې دومره په بيړه مو زما د ليک ځواب وليکه، ډېره مننه کوم.
زه فکر کوم چې موږ په يوه کښتی کې سپاره يو، کولای شو يو بل ښه درک کړو او يو بل سره ښه مرسته وکړو. د دې له پاره چې زموږ وطنوال ستاسو د فرهنګي هڅو پر دې مهم اړخ هم خبر شي او کوچنيانو ته د لا ښې پاملرنې په موخه به زه سمدلاسه ستاسو پر هغو موادو يوه معلوماتي مقاله وليکم چې تاسو تر اوسه خپاره کړي دي او ما له بيلابيلو آدرسونو تر لاسه کړي دي.
او راغلو ستاسو نوې جوړې کړې ويبپاڼې کوچنی ټکی کام (kochnai.com) ته، له نوې ويبپاڼې سره مو نه يوازې دا چې موافق يم او تايدوم يې، بلکې کولای شم تاسو سره خپلې تجربې او مشورې شريکې کړم.د اوس له پاره همدومره، تر بيا.

د همدې مقالې په لومړۍ برخه کې مې د ښاغلي احمد ولي اڅکزي د قاموسونه دات کام انګليسي ليکښه له ويکيپيډيا نه په نا سمه توګه را اخيستې وه، په ښتني سره سمه ښه يې داسې ده:
(qamosona.com)
ما د خپل ليک په يوه برخه کې له ده څخه د ده د بيوګرافی غوښتنه کړې وه، هغه په ځواب کې را ته وليکل:
«تاسو راڅخه د ژوند ليک پوښتنه کړې وه. نو د هغه له پاره به د ويکيپېډيا هغه لينک درولېږم چې زما يو ملګري پکښې زما په تړاو لږ معلومات ليکلي دي.»
په ويکي پيډيا کې د احمد ولي اڅکزي بيوګرافي اينودل شوې ده، خو د ويکيپيډيا په سبک، کوم ټکي يې چې زه مهم ګڼم، هغه را اخلم:«

ـ **احمدولي اڅکزی** (۱۰ د اکتوبر، ۱۹۸۱ - ) *(په انګرېزي: Ahmad Wali Achakzai)* د قاموسونه ټکی کام يا (qamosona.com) د پروژې بنسټګر، د يو شمېر سيندونو ليکونکی، د راډيو يو اماتور ژورنالسټ او څېړونکی هم دی.
ـ احمدولي اڅکزی په توبه اڅکزی کې زېږېدلی دی. دی پښتون دی او د اڅکزو د ترهټ زو د معدادزيو په کورنۍ پورې تړاو لري چې د ډيورنډ کرښې پر دواړو اړخونو ودان دي. احمدولي اڅکزی د حاجي شاولي خان اڅکزي زوی د پښتو او پارسي ژبو د شاعر مرزا محمد ايوب خان لمسی او دغازي مېداد خان اڅکزي کړوسی دی.
ـ احمدولي اڅکزي تر لسو کالو څخه زيات وخت ديني زده کړې کړي دي او د دې تر څنګ يې د لسم ټولګي پورې د سويلي پښتونخوا په ښار کوټه کې ښوونځی لوستی دی. د ده پلار، دی د لوړو زدکړو لپاره المان ته ولېږه، چېرې چې ده د باکلوريا د برې ليک تر لاسه کولو وروسته د انجينرۍ په پوهنځي کې لوړې زده کړې پيل کړې. اڅکزی د ۲۰۰۲ م کال راهيسې د المان غږ دويچه وېله راډيو په پښتو څانګه کې د ژورنالسټ په توګه کار کوي. د دې تر څنګ نوموړي د دويچه وېله راډيو د آلماني او د سويلي آسيا د انګريزي او اوردو ژبو د څانګړو څانګو او د آلمانی راډيو(WDR) سره هم همکاري کړېده. اڅکزی د خپلې مورنۍ ژبې پښتو تر څنګ په انګريزي، آلماني، اردو، روسي او پارسي هم خبري کولی شي. دی تر يوې کچې په هسپانياوي، سانسکرېټ او پنجابي ژبو هم پوهيږي.
ـ احمدولي اڅکزی چې د ۲۰۰۱ م زېږدي کال راهيسې د پښتو ژبې د پانګې په راټولولو بوخت دی او ورباندې څېړنه کوي، په ۲۰۰۳ م زېږدي کال يې د قاموسونه ټکی کام انټرنتي پروژې بنسټ کېښود. په دغه انټرنټ پاڼه کې تر اوسه پورې څه ورباندې پنځوس پښتو قاموسونه ځای پر ځای شوي دي چې پکې د پښتو مشهوره قاموسونه لکه پښتو تشريحي قاموس، درياب او افغان قاموس هم شامله دي. ده په قاموسونه ټکی کام کې څه ورباندې يو لک او اتيا زره مصرعې، پښتو شعرونه هم راټول کړي دي چې لا ورباندې کار روان دی. پداسي حال کې چې قاموسونه ټکی کام د پښتو ويونو او سيندونو يوه بېساري پانګه ده، نو دغې پاڼې او د پاڼې بنسټګر په ګڼ شمېر پښتنو ځوانانو کې ډېر مينه وال پيدا کړي دي. اڅکزي سره په څنګ کې يو شمېر نورو افغان ځوانان چې په اروپا او د نړی په نورور لويو وچو کی مېشت دي هم خپلې هلې ځلې کړي دي او د قاموسونه پروژې په بډاينه کې د هغوی رول د يادولو وړ دی. د وېبپاڼې په تخنيکي اړخ کې د مصطفی سادات چې د ريښتوني افغان وېب پاڼه چلوونکی پاتې شوی په نيوزيلېنډ کې اوسيږي هم د يادولو وړ دی. اڅکزي په ۲۰۱۰ م زېږدي کال د آزادۍ راډيو سره په يوه مرکه کې وويل چې ده د پښتو ژبې په لسګونو زره داسي ويونه راټول کړي دي چې تر اوسه پورې په هيڅ پښتو قاموس کې نه وو، خو پښتانه يې په خپلو ليکونو او خبرو کې کاروي ...»
د احمد ولي اڅکزي د ژوند ليک او فرهنګي کارونو په باب زما له دې ليکنې نه مخکې هم ليکنې شوې دي، يوه يې همدا د ويکيپيډيا مالومات و چې ما يې مهم ټکي را نقل کړل او بل د ښاغلي نظرمحمد سلطانزی ځدراڼ ليکنه ده چې د احمد ولي اڅکزي په باب يې کړې ده. ځدراڼ صاحب خپلې ليکنې ته داسي سر ليک ټاکلی دی:
«د قاموسونو بنسټګر احمد ولي اڅکزي په وياړ».
د ښاغلي نظرمحمدسلطانزی ځدراڼ د ځينې ټکي دا دي:
«... د دې کتاب ليکوال مې څه موده د مخه، د عبدالباري جهاني په ملاقات کې وپيژاند. دلته خوځبرې د احمد ولي اڅکزي په هکله رواني دي. د ملاقات په ترڅ کې راته ثبوت شوه چې دغه تنکی ځوان ډيرصادق، مينه ناک، منونکی، متواضع، ادبناک او خواريکښ کرکټرلري. الله تعالی داسي نېک صفتونه ور په برخه کړي دي چې د مشرانو احترام کوي، حتی ځان ورځخه قربان کوي او په کشرانو باندې مهرباني کوي. برسيره پردې هغه د پښتو ژبې يو بې سارې خدمتګار او تکړه فرهنګي شخصيت دی. دا ځکه چې په خپله احمد ولي اڅکزی نه يوازې دا چې د ساينس په څانګه کې يې لوړې تحصيلات بشپړکړيدي، بلکې هغه د قاموسونه ټکی کام يا

(www.qamosona.com) د پروژې بنسټګر، نوښتګر، د يو شمېر سيندونو ليکونکی، د راډيو يو اماتور ژورنالسټ او څېړونکی هم دی. همدا اوس يې د قاموسونو ټکی کام انټرنټي پاڼي پنځوس پښتو قاموسونه آنلاين کړي دي.
زما په اند احمد ولي اڅکزي د پښتو ژبې د علمي کولو او پرمختګ په لاره کې د هيواد يو بې سارې ځلانده ستوری دی.
هغه د خپلې مورنۍ ژبې پښتو تر څنګ، په انګريزي، آلماني، اردو، روسي او پارسي هم خبرې کولی شي. دی تر يوې کچې په هسپانوي، سانسکرېټ او پنجابي ژبو هم پوهيږي ...»

احمد ولي اڅکزي د کوچنيانو ادبياتو په برخه کې دغه کارونه تر سره کړي دي:

۱ــ خپل تخليقات يې:

الف: کيسې(نثر)،

ب : شعرونه،

۲ــ ژباړې،

۳ــ د ماشومانو له پاره ويبسايت (kochnai.com)
د کوچنيانو له پاره د احمد ولي اڅکزي ليکنې مې د لومړي ځل له پاره د لر او بر په ويبپاڼه کې تر سترګو شوې. څو منظومې او منثورې ليکنې مې يې چې له نظره تيرې کړې، نو و مې پټيله چې د کوچنيانو د ادبياتو په برخه کې د يو مطرح ليکوال او شاعر په توګه څه ور باندې وليکم، نو مې د ده ليکنې او شعرونه او د ده په باب د مالوماتو په را ټولولو پيل وکړ.
احمد ولي اڅکزي لکه څنګه چې د قاموسونو په برخه کې په شعوري ډول د يوې عيني اړتيا له مخې د قاموسونو پروژه پيل کړې ده، دغسې يې په شعوري ډول د کوچنيانو د ادبياتو په برخه کې دې نيمګړتيا ته پام شوی او د دې نيمګړتيا د پوره کولو په غرض يې لومړی د کوچنيانو له پاره د شعر او نثر په ژبه تخليقات کړي دي. دا يې د نظم او نثر يوه يوه بېلګه ده:

سهار سو
(د ماشومانو شعر)

ستړګي کړه خلاصي شپه سوه تېره
د لمر وړانګې سوې چار چاپېره
د تیارې لیرې سوې ښادرې
عندلیب نه وایي سندرې
واوره ګوګو کوي کوترې
د سايرې واوره بدلې
پاڅه او حمد و ثنا وایه
وايه چې شکر دی ای خدايه
چې هم بالښت هم بستره وه
شپه ښه آرامه آسوده وه
اوس يوه بله ورځ پيلېږي
ټول ماشومان نور راويښيږي
مخونه پرېولې ښه تازه سي

بیا د مکتب پر لور پیاده سي
هلته دوستان دي همصنفیان دي
ټوله د علم پتنګان دي
څوک چي وختي پاځي سهار کي
وي بریالی په خپل هر کار کي
چګي کړه خلاصي شپه سوه تېره
د لمر رڼا سوه چار چاپېره

د ۲۰۱۶ کال د جنوری ۴مه نېټه، بون

## وی وی وی نانی نجلی

## (د ماشومانو نکل)

چي وه يوه نانی انجلی وه. دغه نانی انجلی پر خپل مور او پلار بيخي ډېره ګرانه وه. پلار به يي هميشه ورته ويل: « آ زما خوږکی لوري، راسه خپل بابا ته راسه.» مور به يي ورته ويل: « آ زما پستکی لوري، راسه خپلي مور ته راسه.» پر نانی انجلی هم خپل مور او پلار بيخي ډېر ګران ول. هغي به هميشه واوا چمونه کول او مور او پلار به هميشه ورڅخه خوشحاله ول.
خو د دغي نانی انجلی خواږه شيان ډېر خوښ ول. مور به يي ويل: « آ زما خوږکی لوري، ډېر خواږه شيان مه خوره، غاښونه به دي خراب سي.» خو نانی انجلی به هميشه د پلار څخه خواږه شيان غوښتل او هغه به يي بالاخره مجبوره کړ چي خواږه شيان ور رانيسي.
يوه ورځ دغه نانی انجلی ناجوړه سوه. د هغي زړه نه غوښتی چي لوبي (بازی) وکړي. د هغي زړه نه غوښتی چي د کلکين څخه دباندي د آسمان ښايستو وريځو ته وګوري. د هغي زړه نه غوښتی چي چاکلېټ وخوري. د نانی انجلی پر غاښ درد ؤ.
پلار يي نانی انجلی ډاکټر ته بوتله. ډاکټر د نانی انجلی څخه پوښتنه وکړه: « اې نانی انجلی، نن دي څه شي خوړلي دي؟» نانی انجلی ورته وويل: « چاکلېټ» ډاکټر ورته وويل: «نن دي بل څه شي خوړلي دي؟» نانی انجلی ورته ويل: « پلمېټ» ډاکټر حيران سو، وويل: « پرون دي څه شي خوړلي ول؟» نانی انجلی ورته وويل: « چاکلېټ او پلمېټ»
بيا ډاکټر ويل: « اې نانی انجلی، خوله دي خلاصه کړه چي زه يي وګورم.» نانی انجلی خوله خلاصه کړه. ډاکټر چي د نانی انجلی خولي او غاښو ته د څراغ رڼا برابره کړه، نو يي وويل: «وی وی وی!» اوس د ډاکټر خوله هم خلاصه سوه او سترګي يي پورته او کښته کش سوې.
ډاکټر د نانی انجلی پلار ته مخ واړاوه، ويل: «وی وی وی»!
ډاکټر وويل: « اې نانی انجلی، تا ډېر چاکلېټ او خواږه شيان خوړلي دي. ستا غاښونو چينجيان کړي دي. تک تور سوي دي. تا خپله خوله او غاښونه نه دي پاک کړي. تا سابه او مېوی نه دي خوړلي. تا تر اندازې زيات خواږه شيان خوړلي دي. ته بايد هميشه سهار او ماښام خوله په اوبو پاکه پرېولي. ته بايد په غاښو کلک شيان مات نه کړې.» بيا ډاکټر ولاړ سو او د الماری څخه يي د غاښو يو نانی او ډېر ښايسته برس او د نانيانو لپاره د غاښو کريم او يو نانی پوست مسواک راواخيستل. ډاکټر نانی انجلی ته وويل: « د غاښو دغه برس، کريم او مسواک واخله او هر سهار او ماښام خوله په مينځه. انشالله بيا به ژر نه ناجوړه کيږې».
بيا ډاکټر ولاړ سو او يوه لويه پيچکاری يي راواخيسته. د انجلی پلار ويل: « اې سپينه چينه لرونکي ډاکټره، ايا غواړې چي زما پستکی لور ته داسي غټه پيچکاری ور ولګوې.» ډاکټر ويل: « اې د نانی انجلې پلاره، نانی انجلی ته تا ډير چاکلېټ ورکړي دي او بايد چي اوس تاته دغه غټه پيچکاری در ولګول سي.» د نانی انجلی پلار وويل: «وی وی وی!»
د ليکني په پای کی د دغه نکل اوډيو هم اورېدلای سئ!

احمد ولي اڅکزي د نثر او شعر په قالب کې د کوچنیانو له پاره ډېر څه لیکلي او پر لیکه کړي دي چې د ځینو سر لیکونه یې دا دي:

ــ ننداره ده ننداره (شعر)

ــ اې سپیني واورې (شعر)
ــ د ملالۍ نانۍ خور ( شعر)

ــ سهار سو ( شعر)

ــ ترپ و تروپ دی ( شعر)

ــ میاؤ میاؤ پستکی (د ماشومانو نکل)

ــ وی وی وی نانی انجلۍ (د ماشومانو نکل)، لیک او غږ،

ــ پېنتو نکل، د باچا لور او چونګښه (د ماشومانو نکل) لیک او غږ، ژباړه او زیاتوني،

ــ د ملالۍ نانۍ خور(د ماشومانو شعر)،

ــ وی وی وی نانی انجلۍ (د ماشومانو نکل)

ــ د پاچا لور او چونګښه(نکل) لیک او غږ،

ځینې کیسې او شعرونه یې د لیک سره په غږیزه بڼه هم آنلاین کړي دي لکه: د پاچا لور او چونګښه،
چې دا خپله یو بل زحمت ته اړتیا لري او د کوچنیانو له پاره کیسه او شعر نور هم آسانه او جالبه کوي.
دا امانت داري یې هم ساتلې ده چې د ځینو شعرونو الهام یې چې له یوې منبع نه اخیستی دی، نو هغه یې د شعر په پای کې په امانت ډول لیکلي دي لکه د «اې سپینې واورې نومې شعر په پای کې. دا د ده خپله یادونه ده:

«یادونه: د دغه شعر الهام مې د آلماني ژبې د ماشومانو له شعر Schneeflöckchen weißröckchenڅخه اخیستی دی.»

پاسنی یاد شعر به د نمونې په ډول را واخلم:

آې سپینې واورې

اې سپیني واورې سپین لمنې
ولې نه اورې زموږ پر کلي
منم چې لاره دې اوږده ده
پر هسکه وریځه دې دېره ده

خو راسه راسه واوريږه
په خپلو ستورو وځليږه
پرېوزه پر بوټو ښه يې اوبه کړه
تر سپين غلاف لاندې يې ښېده کړه
ماشومان ټول په انتظار دي
ناني چيګان يې ستا پر لار دي
چې يخه پخه واوره راسي
پر مځکه، غر خوره ښکلا سي
راسه زمونږ پر کلي راسه
بيا هر څه سپين کړه راسه راسه
اې سپيني واوري سپين لمنې
ولې نه اورې زمونږ پر کلي

دغه راز هغه کيسې يې چې ژباړلې دي، د هغو يادونه يې هم کړې ده، څه يې ور باندې ور اضافه کړې دي. د « د باچا لور او چونګښه » د کيسې په پيل او پای کې يې داسې ليکلي دي:

«د ګريم ورونو د «چونګښه باچا» د نکل پښتو ژباړه، زياتونې او ږغ: احمدولي اځکزی ...

ليکونکي: ګريم ورونه

د نکل نوم: باچا چونګښه

د نکل اصلي ژبه: آلماني»

دا هم د يادې کيسې « د باچا لور او چونګښه » يوه برخه:

«... يو وخت يو باچا ؤ. دغه باچا ډېرې لوڼې درلودې چې ټولې ښايستې وې. خو تر ټولو کشره لور يې تر نورو ټولو لوڼو زياته ښايسته وه. حتی لمر چې ډېر زيات شيان يې ليدلي ول، د دغې شهزادګۍ په ډول ښايسته انجلۍ يې بل هيڅ چيرې نه وه ليدلې. د باچا دغه لور دومره ښايسته وه چې لمر به يې ښايست ته حيران پاته سو، کله چې به يې وړانګې د دغې شهزادګۍ پر مخ وځلېدې. د باچا و ماڼۍ ته نژدې يو ګڼ ځنګل ؤ. پدغه ځنګل کې د يوې زړې ونې لاندې د اوبو يو څاه ؤ. کله چې به په دوبي کې موسم ډېر ګرم سو، نو د باچا کشره لور به و دغه يخ څاه ته ورغله او پر غاړه به يې کښېنستله. دغې شهزادګۍ به د ساعت تېرې لپاره خپل طلايي غونډاری پورته وغورځاوه او بيا به يې بېرته ونيوی. د هغې دغه لوبه تر نورو ټولو لوبو زياته خوښه وه.
يوه ورځ شهزادګۍ د څاه پر څنده ناسته وه او په خپل طلايي غونډاري (ګېند) يې لوبې کولې. هغې يو ځل غونډاری داسې پورته وغورځاوه، چې بېرته يې ونه نيولای سوای. همدا ؤ چې غونډاری د څاه د څنډې سره ولګېدی او د څاه اوبو ته ولوېدی. د باچا لور وليدل چې غونډاری د څاه به اوبو کې ډوب سو. شهزادګۍ هم جرأت نه سوای کولای چې په غونډاري پسې د څاه په اوبو کې لټون وکړي ولې چې څاه دومره ژور ؤ چې حتی پای يې نه معلومېدی. همدا ؤ چې د باچا لور ډېره غمګينه سوه او په زوره په زوره يې ژړا شروع کړه. هغې چې هر څومره هم په لوړ ږغ وژړل خو زړه يې سپک نه سو. پدغه وخت کې هغې يو ږغ واورېدی چې ويل يې:

«کشرې د باچا لورې

ډېره په ارمان ژاړي
تا ته څه در پېښه ده؟
ولې په خفګان ژاړې؟»

شهزادګۍ شاوخوا وکتل چې ځان ته معلومه کړي چې دا ږغ د چا دی. هغې وليدل چې يوې چنګښې د ځا د اوبو څخه خپل بدشکله او پنډ سر را ايستلی دی او خبرې کوي. شهزادګۍ و چنګښې ته وويل:
« ښه! دا ته يې چې ګفتار کړې؟

په اوبو کې شرپهار کړې
زه چې ژاړم په سګلو کې
ګيند مې ډوب سو په اوبو کې»
چونګښې ورته په جواب کې وويل:
« کشرۍ د باچا لورې
مه ژاړه آرامه سه
لږ خو مهربانه سه
ما ته که څه راکړې
ګيند به دې پيدا کړې.»
شهزادګۍ ورته په جواب کې وويل:
« زه به يې درته درکړم
ته چې هر څه غواړې
طلا به درته درکړم
غمي که يې هم غواړې
غونډارۍ مې پيدا کړه
وعدې که زما غواړې»

خو چونګښې ورته وويل: « ستا طلايي تاج، ستا ملغلرې او ستا غمي زما ندي پکار. خو که ته ما خپله ملګرې وګرځوې او زما سره لوبې وکړې، ما پر سترخوان تر خپل څنګ کښېنوې، راته په خپل طلايي غاب کې خواړه راکړې، راته په خپل جام کې اوبه راکړې او په خپل بستر کې مې بيده کړې، نو زه به همدا اوس ځاه ته ورکښېته سم او ستا غونډارۍ به راوباسم.» شهزادګۍ ورته وويل: « سمه ده، هر شی چې غواړې هغه به درته درکړم. خو اوس راته غونډارۍ راوباسه.» شهزادګۍ په زړه کې د ځان سره وويل: « دغه ساده چونګښه څنګه بېځايه خبرې کوي؟ دا به څنګه د يوه انسان سره ملګرتيا او دوستي وکړلای سي، حال دا چې د کواک کواک ږغونه کوي او په اوبو کې د خپل ځان په ډول نورو چونګښو سره اوسيږي.»
کله چې چونګښې واورېدل چې شهزادګۍ ورسره هر شرط ومنی، نو د ځاه و اوبو ته ور وغورځېده او پکښې غوټه سوه ...»

کوچنی ټکی کام(kochnai.com)،
د کوچنيانو ادبياتو له پاره يوه بله پته:




احمد ولي اخکزي د کوچنیانو د ادبیاو په برخه کې درې د یادونې وړ کارونه کړي دي:

۱ ــ د کوچنیانو له پاره یې کیسې او شعرونه لیکلي دي،

۲ ــ د کوچنیانو د ادبیاتو له پاره یې ځانګړې ویبپاڼه جوړه کړې او پر لیکه کړې ده،

۳ــ په نوې پر لیکه کړې ویبپاڼه کې یې د کوچنیانو له پاره د نورو لیکوالو لیکنې او شعرونه هم را ټول کړي دي.

احمد ولي اخکزی د کوچنیانو له پاره د خپلو لومړنیو منظومو او منثور تخلیقاتو او ژباړو په لړ کې دې ته متوجه شو چې دا موضوع د ده له عادي تخلیقاتو نه نوره هم لا مهمه ده، نو یې دې ته ملا وتړله چې د کوچنیانو له پاره یو پاڼه پر لیکه کړي. دا کار یې د خپل علم او تجربې پر مټ وکړ، هلته یې د کوچنیانو له پاره خپل تخلیقات پر لیکه کړل او تر وسې پورې یې د کوچنیانو له پاره د نورو لیکوالو او شاعرانو آثار هم را ټول او پر لیکه کړل، نو د دې له پاره ویلای شم چې کوچنی ټکی کام د کوچنیانو ادبیاتو له پاره یوه بله نوې غني پته ده.
کله یې چې د کوچنی ټکی کام«kochnai.com» پروژه پیل کوله، نو داسې یې ور ته ولیکل:

«کوچنی ټکی کام پروژه پیل شوه:

د خپرېدني نېټه: JANUARY 2016 09
*هیله: لطفا دغه اعلان په ټولنیزو رسنیو لکه فیسبوک او نورو رسنیو کې شریک یا share کړئ چې لا زیات د ماشومانو مور او پلار په خبر سي.*

ماشومان د هرې ټولنې او ملت راتلونکی او مستقبل وي. هر ملت او قوم چې د ماشومانو په روزنه کې ځان سترې کوي، هغه د خپل ځان او خپلو راتلونکو نسلونو له پاره د هوسایي بنیاد ایږدي. د ماشومانو په روزنه او تربیه کې د هغوی مورنی ژبه ډېر اهمیت لري او د پیداګوژی کارپوهان پر دې خبره سره هم نظره دي چې و ماشومانو ته د هغوی د مورنی ژبې ورښودنه

په هغوی کې د نوو ژبو د زدکړو قابليت او ورتيا لا زياتوي او پراخوي يې. د همدغه مقصد له پاره د کوچنی ټکی کام آنلاين پروژه **په امتحاني توګه** پيلوم او هيله ده چي د پښتو ژبو ماشومانو او مېندو او پلرونو سره يوه مرسته او کومک ثابته سي. په دغه پاڼه کي اوس بنايي بعضي تخنيکي او نوري ستونزي وجود ولري، خو انشالله د وخت په تېرېدو سره به يې ستاسو سره په ګډه ليري کړم.
د ټولو دوستانو څخه هيله کوم چي راسره خپل رغنده نظرونه شريک کړي چي دغه پروژه ګټوره او کاميابه سي. د رغنده نظر څخه مي مقصد دا هم دی چي دوستان د امکان تر حد پوري راته داسي وړانديزونه وکړي چي د دغو وړانديزونو په عملي کولو کي پخپله هم برخه اخيستلو ته تيار وي. ستاسو ټولو څخه هيله کوم چي که تاسو پخپله د ماشومانو له پاره ادبي توکي ليکلي وي او يا مو په کوم کتاب کي لوستلي يا له چا اورېدلي وي، نو هيله ده چي زما سره يې شريک کړئ چي پر دغه پاڼه يې آنلاين کړو. دغه پروژه يوازي په هغه صورت کي بريالی کېدلای سي چي پکښي تر يو کس څخه د زياتو کسانو زيار، افکار او نظرونه دخيل وي.
په پام کي لرم چي پر دغه پاڼه داسي مواد خپاره کړم چي د ماشومانو د عمر سره تړلي وي. يعني دا چي تر څلورو کالو پوري عمر لرونکي ماشومان جلا مواد ولري او د ۴ او ۶ کالو تر منځ ماشومان نور... خو پر دغه موضوع بايد د کارپوهانو او ليکوالانو سره مشورې وسي چي کوم تقسيم به زيات منطقي وي.
د دغي پاڼي مقصد يوازي د ماشومانو مصروفول نه دي بلکه په دغه پاڼه کي بايد داسي مواد خپاره سي چي دساعت تېري تر څنګ پکښي د زدکړي او ښووني عنصرونه هم شامله وي. که نکل او کيسه وي او که منظومه مواد وي بايد چي يو روزنيز او ښوونيز مقصد ولري. په دې ترڅ کي د سيمي کلتوري او ديني مواد چي د ماشومانو له پاره د پوهاوي وړ وي، چمتو کول به يې د ټګلاري برخه وي.

دغه پروژه په پام کي نه لري چي له حکومتي يا غير حکومتي منابعو او يا هم اشخاصو څخه مالي مرستي تر لاسه کړي. د دغي پروژې مقصد صرف د افغان ماشومانو په روزنه کي يو کومک وړاندي کول دي. په دې ترڅ کي د ليکوالانو، شاعرانو، د پيداګوژی د پوهانو او استادانو عملي مرستي ته په هيله يم.

د دغي پروژې د پيلولو يو دليل دا هم ؤ چي د افغانستان څخه دباندي مېشت زيات افغان ماشومان په خپلو مورنيو ژبو اړينو ادبي توکو ته لاس رسی نه لري. دغه کمښت او يا حتی نشته والی د دې سبب ګرځېدلای سي چي د دغو کوچنيانو اړيکي له خپلي ژبي، کلتور او هيواد سره وشليږي. هيله ده چي د دغي پروژې په ترڅ کي دغه ماشومان له وړوکوالي څخه لا د خپلي ژبي، کلتور او پلرني ټاټوبي سره اړيکي او مينه پيدا کړي.

ستاسو د وړانديزونو، نکلونو، اشعارو او د ماشومانو له پاره د نورو ادبي توکو د رالېږلو په انتظار.

ستاسو ورور احمدولي اڅکزی

د ۲۰۱۶م کال د جنوری ۹مه نېټه

*هيله: لطفا دغه اعلان شريک يا share کړئ چي لا زيات د ماشومانو مور او پلار او يا هم د دغي پاڼي احتمالي راتلونکي همکاران او ليکوالان په خبر سي.»*
په کوچنی دات کام کي د ۲۰۱۶ کال د اپريل تر اتمي نيټي پوري ټول يوسلو دوه مطلبه(منثور او منظوم) پر ليکه شوي دي او د ټولو مطالبو له لوستلو وروسته انسان قضاوت کولای شي چي

په رښتيا احمد ولي اڅکزي په يوازې صورت دومره مطالب ليکلي، ژباړلي او يا يې نورې ويبپاڼې ورپسې کتلې دي او د کوچنيانو له پاره يې دومره په زړه پورې کيسې را ټولې کړې او په دې آدرس يې د کوچنيانو او د هغو کورنيو ته په تياره ايښي دي چې هغوی يې يا په کو چنيانو ولولي او يا يې ور ته واوروي.

په کوچنی ټکی کام(kochnai.com) يې کې د خپلو مطالبو تر څنګ د نورو قلموالو آثار او ژباړې هم را اخيستي دي چې د مثال په ډول د دغو ښاغلو او آغلو نومونه د يادولو دي:

اتل ترين، بريښنا صابر، محمد سرور وکيلي، سميع الله خالد سهاک، محمد قاهر دردمند، سليم پيمان عابد، عطا محمد مياخيل، اجمل تورمان او ...

د کوچنی دا ت کام په پاڼه کې تر ټولو ډير او په زړه پورې مطالب د ښاغلي اتل ترين دي چې ډيره سلنه يې له نورو ژبو را ژباړلي دي چې د ځينو سر ليکونه يې دا دي:

آس او زمری، بزه او پړانګ، آس او هوسی، بزه، شرموښ او ګيدړه، پيشي او موږک، پړانګ، هوسی او مار، پړانګ او د ګيدړې بچی، چغال او اوښ او ...

د کوچنی ټکی کام په پاڼه کې د نورو ليکوالو د آثارو په برخه کې بايد و وايم چې مطالب يې ډير په زړه پورې او جالب دي او که کوچنيانو ته ولوستل شي او يا يې خپله ولولي، ډير ګټور هم دي.

په دې پاڼه کې د ځينو ژباړل شوو مطالبو په پای کې کوم مآخذونه چې ښودل شوي دي، هغه يو څه ستونزې لري. د ساري په توګه ډيری ځايو کې ليکل شوي دي چې:

له فرانسوي منابعو څخه، له افريقايي منابعو څخه، له ايتالوي منابعو څخه، له يوناني سر چينې څخه، له جورجيا هيواد څخه، د چين هيواد څخه او ...

له بده مرغه چې د را ژباړل شوي کيسې ټاکلې منبع نه ده ښودل شوې او دا هم نه ده مالومه چې دا کيسه له کومې ژبې نه پښتو ته را ژباړل شوې ده. د منابعو په برخه کې چې يوازې د هيوادونو نومونه ياد شوي دي، ښايي له يادو هيوادونو نه يې موخه دا وي چې را ژباړل شوې کيسه د يادو هيوادونو د خلکو نکلونه دي او د هغوی د فولکلور يوه برخه وي، چې د دې مالومول ځان ته جلا بحث او څيړنه غواړي.

دغه راز يې له نورو ويبپاڼو نه هم په منتخب ډول د کوچنيانو له پاره خپاره شوي مطالب غوره کړي دي او ښيګڼه خو يې لا دا ده چې له هر ځای نه يې چې مطلب ر ا اخيستی دی په پای کې يې مرجع يا منبع ښودلې ده او لينک يې ور ته ايښی دی لکه:

ـ لر اوبر دات کام (Larawbar.com)،

ـ خيبر دات اورګ (khyber.org)،

ـ سمسور دات کام (samsoor.com)،

ـ سپوږمی دات کام (sporghay.com).

د ماشومانو او کوچنيانو له پاره د احمد ولي اڅکزي تخليقات او ژباړې که له ژبني پلوه او د محتوا له مخې وڅيړل شي، ليدل کيږي چې ده د ماشومانو د ادبياتو د اصولو په پيروی په ډيره ښکلې او ساده ژبه ليکلي کړي دي چې د کوچنيانو له پاره د پوهيدو وړ دی او د محتوا له پلوه يې هم د کوچنيانو روان په نظر کې نيولی دی او داسې موضوعات يې ورته انتخاب کړي دي چې کوچنيانو ته هم مالومات ورکوي او هم ورته د درک او پوهيدو وړ دي. د مثال له پاره دا شعر وګورئ چې ډير په ساده او د کوچنينو له پاره د درک وړ ژبه باندې د څلورو فصلونو مالومات وړاندې کوي:

## ځلور دي کال کې موسمونه

(د ماشومانو شعر)

ځلور دي کال کې موسمونه
هر يو جلا لري خوندونه
لنډي سي شپې ورځې اوږدې سي
په دوبي ټول خولې خولې سي
له اوبو ډک چې يخ منګې وي
په دوبي يخ د چا زړګې وي
چې دوبی ولاړ سي، راسي منی
په وچو پاڼو ډک سي کلی
زنګوي وني تېز بادونه
ور رژوي يې وچ بلګونه
بيا ژمی راسي شپې اوږدې سي
ورځې سي لنډي او سړې سي
واوره اوريږي يا يخيان وي
پر صندلي راټول کوچنيان وي
بيا پسرلی سي وني شني سي
په شنو وښو مځکې ښايستې سي
چيچيان راوزي له هګيو
چو چو کوي له ځالګيو
ځلور دي کال کې موسمونه
هر يو جلا لري خوندونه

ښاغلي احمد ولي اڅکزي ته زما وړانديز دا دی چې د ماشومانو او کوچنيانو له پاره دې خپل ليکلي شعرونه، کيسې او ژباړل شوي مواد په کتابي بڼه برابر کړي او که د چاپ مالي توان يې لري، نو دی چاپ کړي او د نوي نسل د پلويانو پخ مرسته دې په ټول افغانستان کې و ويشي، څو له دې لارې نه د کوچنيانو دغه مواد تر دوی پورې ورسيږي او که يې د چاپ توان نه لري، نو دی د يوې ټولګې په ډول برابر او په څو ويبپاڼو کې په برېښنايي بڼه د لوستونکو له پاره وړاندې کړي. دا د دې له پاره چې د ماشومانو او کوچنيانو له پاره ليکلي ټول مواد بايد تر دوی پورې ورسول شي.
د کوچنيانو له پاره د احمد ولي اڅکزي په کيسو او شعرونو کې يوه بله ډېر ښه ځانګړنه دا ده چې په شعوري ډول داسې موضوعاتو ته پام شوی دی چې ماشوم او کوچنی د تحرک، کار او زدکړو خوا ته هڅول کيږي، په شعرونو او کيسو کې داسې څه پر ځای شوی چې د ماشوم او کوچني په ذهن کې د کار او توليد مسأله ور په ياد کوي. دغه  شعر ته پام وکړئ:

## سهار سو

(د ماشومانو شعر)

سترګي کړه خلاصې شپه سوه تېره
د لمر وړانګي سوې چار چاپېره

د تیارې لیرې سوې ښادرې
عندلیب نه وایي سندرې
واوره ګوګو کوي کوترې
د سایرې واوره بدلې
پاخه او حمد و ثنا وایه
وایه چي شکر دی ای خدایه
چي هم بالښت هم بستره وه
شپه ښه آرامه آسوده وه
اوس یوه بله ورځ پیلیږي
ټول ماشومان نور راویښیږي
مخونه پرېولي ښه تازه سي
بیا د مکتب پر لور پیاده سي
هلته دوستان دي همصنفیان دي
ټوله د علم پتنګان دي
ځوک چي وختي پاڅي سهار کي
وي بریالی په خپل هر کار کي
چټکي کړه خلاصي شپه سوه تېره
د لمر رڼا سوه چار چاپېره

په افغانستان کي ښوا له دې چي د جګړې بلا پر ټولنه او خلکو مسلطه شي، د هغه وخت په معارف او درسي کتابونو کي هم همداسي موضوعاتو ته چي ماشوم او کوچنی کار ته و هڅوی، پام شوی و، خو له بده مرغه چي هر څه د جګړې بلا او اور وخواړه او ایرې یې کړل. د هغه وخت په درسي کتابونو کي د راغلي شعر یوه برخه داسي ده:

«زویکه لمر ختلی
جهان یې ټول نیولی ...»

دلته لیدل کیږي چي مور زوی هڅوی چي جګ شي د یو څه کولو ته ځان چمتو کړي. که په هره زمانه کي د کوچنیانو ادبیاتو قلم وال داسي څه د کوچنیانو مخ کي کیږدي چي هغوی کار او ژوند ته وهڅوي، نو د ټولني اړ غړي به په کار عادت شي او په ټول کي به د یوې تولیدي ټولني د رامنځ ته کیدو فکر لا له کوچنیوالي څخه ماشوم ته ولیږدول شي او که په راتلونکي کي زموږ نوی نسل هم لکه موږ د استهلاکي ټولني غړي اوسي، نو:

«... ور په غاړه به وي پرې لکه موږه.»
د بحث د دې برخي په پای کي د ماشومانو او کوچنیانو له پاره د احمد ولي اڅکزي د شعر یوه بیلګه:

## د ملالی نانی خور

### (د ماشومانو شعر)

ملالی وایي خپلي مور ته
چي له مکتبه راسم کور ته

زما همصنفیاني مي یادیږي
کور کي مي زړه ډېر په تنګیږي
کاشکي مي مشره خور لرلای
زه به یې ډېره نازولای
درسونه ما به پر ویلای
امرونه ما به پر کولای
اخیستای ما به یې ګوډیاني
ښکلي ښکلي ښکلي ګوډیاني
ښوک مېلمني ښوک یې ناویاني
لوبي به موږ سره کولای
وخت به مي ښکلی تېرېدلای
خو اوس مي خور ډېره نانی ده
زه یم پر مشره دا کوچنۍ ده
بس ټوله ورځ دا او ژړا وي
یا وي بیده یا یې ګاګا وي
نه د مجلس ده نه د لوبو
لا تللای نه سي پر خاپوڅو
کاشکي مي مشره خور لرلای
موږ به بازۍ سره کولای
مور ویل ګراني زما لوري
زما خوږې زما شکري
اوس که نانۍ ده هم ستا خور ده
خوږه پیشو زموږ د کور ده
ګاګا چي وایي دا مجلس دی
ژړا چي کړي تنګ یې نفس دی
خور که دي نن ډېره نانۍ ده
د لوبو نه ده لا کوچنۍ ده
خدای به یې لو کړي ستا خورکه
درڅخه غواړي به نانڅکه
ته به ور وښیې درسونه
ښایسته اخلاق او ښه چمونه
ملګرې ستا به وي ستا خور
هم په مکتب کي هم پر کور
وایاست به ګډ سره درسونه
د زړه ارمان د زړه حالونه
وګوره څنګه درته ګوري
ټالي وهي دا ستا پر لوري
وای راته وکړه مجلسونه
راته تکرار کړه خپل درسونه
زه به ګاګا ګاګا کومه
ځان به پر تا زه ګرانومه
ته زما خور زما زړګی یې
لویه نانڅکه پستکۍ یې
شکر چي مشره خور لرمه
لوبي به زه درسره کړمه

# د احمد ولي اڅکزي کوچنی ټکی کام

# او د کوچنيانو له پاره دوه سوه نکلونه

احمد ولي اڅکزی زموږ د د اوسني نسل په استازيتوب د پښتو ژبې او ادب له پاره داسي خدمت کړی دی چي له اټکل او تصور نه وتلی دی، په تيره بيا د پښتو ژبې د خونديتوب او بډاينې په برخه کي يي د قاموسونو را ټول او آنلاين کول او د نوي نسل د روزلو په برخه کي يي د «kochnai.com» د پاڼي تاسيس او په دې پاڼه کي يي د کوچنيانو له پاره د دوی په ژبه او له ذهن او دنيا ګی سره برابر د موادو را ټولونه او په تيره بيا د شعر او کيسو په برخه کي د ده خپل تخليقات او په بيلابيلو آدرسونو کي يي د کوچنيانو له پاره آنلاين کول.

د کوچنيانو د ادبياتو په برخه کي ما لا هغه وخت پر ده باندې څيړنه پيل کړه، چي د کوچنيانو له پاره مي د ده تخليقاتو ته پام شو. د ماشومانو او کوچنيانو له پاره مي د احمد ولي اڅکزي د کارونو څيړني ته جلا باب پرانست او سر ليک مي ور ته «احمد ولي اڅکزی او د کوچنيانو ادب» وټاکه، ښايسته اوږده څيړنه مي پرې وکړه او په پنځو برخو کي مي خپره کړه. په هغې څيړنه کي مي د احمد ولي اڅکزي په باب داسي ليکلي وو:

«د هغو ليکوالو او قلموالو په ډله کي چي له څه موده نه را په دې خوا يې کوچنيانو او د هغو ادبياتو ته پام ور اړولی دی، يو هم پياوړی او نه ستړی کيدونکی فرهنګي، احمد ولي اڅکزی دی. د احمد ولي اڅکزي نوم، د ده د تر سره کړو فرهنګي کارونو په وجه، هر افغان بايد اوريدلی وي او لږ قلموال به وي چي د ده له فرهنګي کارونو څخه يې استفاده نه وي کړې. د قاموسونه دات کام (com.qamosoona) په اوريدو سره د هر افغان په ذهن کي د احمد ولي اڅکزي نوم او تر سره کړي فرهنګي کارونه تداعي کيږي، د هر پښتو لغات پوښتنه که څوک کوي او مانا يي غواړي، نو وايي: قاموسونه دات کام ته دي سر ور ښکاره کړی که نه؟ او قاموسونه دات کام د احمد ولي اڅکزي د نه ستړو کيدونکو هلو ځلو له برکته نن ورځ د ټولو لوستونکو په خدمت کي دی.»

احمد ولي اڅکزی په رښتيا په خپل کړی هوډ ودريد او د قاموسونو پروژه او کوچنی ټکی کام يي داسي وچلول او غني يي کړل چي اوس دی لا څه کوي چي د نوي نسل د روزني ډيری پلويان ور باندې وياړي. هغه مقالې چي پخوا ما د ده په باب ليکلي وې، هلته مي د کوچنيانو له پاره د ده کارونه داسي سره شميرلي وو:
«احمد ولي اڅکزي د کوچنيانو ادبياتو په برخه کي دغه کارونه تر سره کړي دي:

۱ــ خپل تخليقات يي:
الف: نثر (کيسې)،
ب: شعرونه
۲ــ ژباړې،

۳ــ د ماشومانو له پاره ویبسایت( com.qamosoona )

د کوچنیانو له پاره د احمد ولي اڅکزي لیکنې مې د لومړي ځل له پاره د لر او بر په ویبپاڼه کې تر سترګو شوې. ځو منظومې او منثورې لیکنې مې یې چې له نظره تیرې کړې، نو و مې پټیله چې د کوچنیانو د ادبیاتو په برخه کې د یو مطرح لیکوال او شاعر په توګه څه ور باندې ولیکم، نو مې د ده لیکنې او شعرونه او د ده په باب د مالوماتو په را ټولولو پیل وکړ.»

د احمد ولي اڅکزي په باب چې کومه څیړنه ما پخوا کړې وه، وروستۍ مقاله مې د ۲۰۱۶ کال د مارچ په سپاړسمه نیټه خپره کړه؛ له هغې نیټې بیا تر نن پورې احمد ولي اڅکزي په kochnai.com. کې خپلو هلو ځلو ته نور هم په ډیرې حوصلې سره دوام ورکړ او پایله یې دا شوه چې ده په یاده پاڼه کې د خپرو شو کیسو او شعرونو شمیر تر دوو سو (۲۰۰) واوښت.

احمد ولي اڅکزي په «kochnai.com » کې د خپرو شو کیسو او شعرونو بشپړ لست خپور. البته دا لست له لاندې خوا څخه ترتیب شوی دی چې په ترتیب سره لومړی، دویم او بیا تر دوه سوه دریم (۲۰۳) پورې یې شمیره ځګه شوې ده چې د مقالې په دې برخه کې به یې د پنځوس مطلبونو سرلیکونه او لینکونه کیښودل شي او نور به د مقالو په نورو برخو کې راوړل شي:

203 - د هوښیارۍ ګټه [ http://bit.ly/2ohMnx8 ]

202 - د غرور تاوان [ http://bit.ly/2p9CaXJ ]

201 - بې غرضه نېکي [ http://bit.ly/2ohMkkW ]

200 - له کاره ویره [ http://bit.ly/2ohMj0m ]

199 - د اتفاق زور [ http://bit.ly/2p9ozjc ]

198 - زړۀ او ژبه [ http://bit.ly/2pt65a2 ]

197 - خلورکلن بوډا
[ http://bit.ly/2p9JcvJ ]
196 - وړۍ شتمن [ http://bit.ly/2pt9y8D ]

195 - هوښیار سړی [ http://bit.ly/2nUoW0N ]

194 - ناپوه هلک
[ http://bit.ly/2oFto22 ]
193 - مغرور مېږی [ http://bit.ly/2pIgwpL ]

192 - غلاجنه بیزو [ http://bit.ly/2nUkxuz ]

191 - دوه ورونه [ http://bit.ly/2omhyql ]

190 - د وزير لور [ http://bit.ly/2omoS5e ]

189 - د هنر دولت [ http://bit.ly/2pIbBoT ]

188 - د سرلوړۍ تاج [ http://bit.ly/2oFBsA9 ]

187 - د خيالونو مانۍ [ http://bit.ly/2ppFIVw ]

186 - د توتي نصيحت [ http://bit.ly/2ohPq8E ]

185 - خاوره او اوسپنه [ http://bit.ly/2oOMuTZ ]

184 - باد او لمر [ http://bit.ly/2pIhsua ]

183 - اووهٔ سرِي خورې [ http://bit.ly/2ohPl4Q ]

182 - آزاد [ http://bit.ly/2omjOOc ]

181 - د انسان او شيطان فرق - منظوم نکل [ http://bit.ly/2ppmlfi ]

180 - درې نانۍ پيشوګياني - فليپ کتاب [ http://bit.ly/2lXbgkI ]

179 - لړم او کشپ - منظوم نکل [ http://bit.ly/2p9vnxh ]

178 - نافرمان که با همت؟ - منظوم نکل [ http://bit.ly/2p9xocD ]

177 - الف تر يې نظم [ http://bit.ly/2p9yCod ]

176 - الف بې - سندره [ http://bit.ly/2oDbgEm ]

175 - ببرندونکې انجلۍ - منظوم نکل [ http://bit.ly/2oD4Uoy ]

174 - ناروغ لېوه - نظم [ http://bit.ly/2pppY4C ]

173 - لېوه او سپی - منظوم نکل [ http://bit.ly/2omqrQB ]

172 - آس او خر [ http://bit.ly/2oP1TUb ]

171 - ګيدړې او سوی [ http://bit.ly/2ohEMyr ]

170 - د سپې وفا [ http://bit.ly/2oDg5h7 ]

169 - ګيدړه او چرګه [ http://bit.ly/2nUgbnj ]

168 - برابر وېش [ http://bit.ly/2ptdNRF ]

167 - وزرماتې مرغۍ [ http://bit.ly/2pI9hhy ]

166 - د ګيدړې کواله [ http://bit.ly/2oOUsMJ ]

165 - نوکر او آس [ http://bit.ly/2p9sNXW ]

164 - زوړ سپی [ http://bit.ly/2oP1AbZ ]

163 - ګيدړه او بزه [ http://bit.ly/2oP2h57 ]

162 - لېوه او پسه [ http://bit.ly/2ohQ7yw ]

161 - د درواغو دعوه [ http://bit.ly/2nUm6ZO ]

160 - سپی او کوتی [ http://bit.ly/2oOKjjl ]

159 - مېږه او لېوه [ http://bit.ly/2oOLxej ]

158 - لېوه او سپی [ http://bit.ly/2oDbVpi ]

157 - غله او چرګ [ http://bit.ly/2pIaAgk ]

156 - بلبل او باز [ http://bit.ly/2pt3vB6 ]

155 - ګيدړه او لېوه [ http://bit.ly/2omcPVK ]

154 - توره مچۍ او چرچرکه [ http://bit.ly/2oFpUMY ]

153 - دا وېش دې له چا نه زده کړ [ http://bit.ly/2pt6iKr ]

152 - لېوه او زانی [ http://bit.ly/2p9w0qr ]

151 - د چرګ هوښياري [ http://bit.ly/2ohURUU ]

150 - زمری او غويی [ http://bit.ly/2oCR0TC ]

احمد ولي اخکزي د kochnai.com د خپرو شو مطالبو لست د ۲۰۱۷ کال د اپريل په اوه لسمه نيټه په خپل فيسبوک کې خپور کړ. دا د ده د مطالبو د خپريدو زيری دی:

«زېرى! زېرى !(لطفا شريک يا share يې کړئ!)

که غواړئ چي ماشومان مو په وړکتوب لا د پښتو ژبي سره مينه پيدا کړي، نو ورته په پښتو ژبه نکلونه ولولئ. درته زېرى درکول کيږي چي د کوچنى ټکى کام www.kochnai.com پر وېبپاڼه د ماشومانو د نکلونو شمېر تر ۲۰۰۰ هم واوښت او تاسو کولاى سئ له دغي وېبپاڼي ښخه خپلو ماشومانو ته پښتو منثور او منظوم نکلونه ولولئ. پر دغه پاڼه بعضي ړغيز نکلونه هم موندلاى سئ. که تاسو د ماشومانو له پاره ښکلي منثور يا منظوم نکلونه خپله ليکلي يا چيري لوستلي وي، نو هيله ده چي پر دغه تماس باکس http://bit.ly/2ppCyRJ يې راسره شريک کړئ. لطفا د فيسبوک دغه پوست د امکان تر حده زيات شريک يا sharee کړئ تر څو لا زيات مور او پلار له دغي پروژې خبر او په دې توګه بچيان يې مستفيد سي.

ستاسو له کومک څخه يوه نړى مننه
د کوچنى ټکى کام چلوونکى
احمدولي اڅکزى»

دا يې هم په پاڼه کي د راغلو کيسو او مطالبو د بلي برخي سرليکونه او لينکونه:

149 - حريص محروم دئ [ http://bit.ly/2ohlzxa ]
148 - خرس او زمرى [ http://bit.ly/2ohNpcn ]
147 - د وني شاهدي [ http://bit.ly/2pt9WEk ]
146 - موږکان او پيشي [ http://bit.ly/2nUlqDz ]
145 - د زمري قانون [ http://bit.ly/2oP03mf ]
144 - لېوه د پسه په جامه کښي [ http://bit.ly/2oFvlM2 ]
143 - توتي [ http://bit.ly/2omdzdg ]
142 - خر او سپى [ http://bit.ly/2p9lxvk ]
141 - مغرور اير (پښتو نارويژي) [ http://bit.ly/2ppjiU5 ]
140 - زيارکښ هلک - منظوم نکل [ http://bit.ly/2oFGjB3 ]
139 - درواغجن هلک او لېوه - منظوم نکل [ http://bit.ly/2pIl1kb ]
138 - د نخود پر سر شهزادګۍ [ http://bit.ly/2oONJ5z ]
137 - ول ول جانه او دري ايران [ http://bit.ly/2oFqP0b ]
136 - ورور که پنير - منظوم نکل [ http://bit.ly/2oFyVFU ]
135 - د کټ خېزونه - منظوم نکل [ http://bit.ly/2psXuUK ]
134 - موږک او زمرى [ http://bit.ly/2p9mjbE ]
133 - پر نس مي درد دى الوى - منظوم نکل [ http://bit.ly/2p9FZwb ]
132 - مچمچي او زمرى - منظوم نکل [ http://bit.ly/2pIn3AH ]
131 - خواږه شيان - منظوم نکل [ http://bit.ly/2ohkKEA ]
130 - د لمونځ فرضونه - نظم [ http://bit.ly/2oDbN9e ]
129 - د ښامار هګۍ - منظوم نکل [ http://bit.ly/2oDcf7H ]
128 - د اسلام پنځه بناوي - نظم [ http://bit.ly/2pth1EX ]
127 - د سپي او بيزو پاچهي - منظوم نکل [ http://bit.ly/2omoW4M ]
126 - موږک پهلوان - منظوم نکل [ http://bit.ly/2oD7xqj ]
125 - اوه بزګري او شرمښ - منظوم نکل [ http://bit.ly/2ohJOel ]
124 - پيرى - منظوم نکل [ http://bit.ly/2ohMcSn ]

123 - ایکاروس ـ منظوم نکل [ http://bit.ly/2ppmhMr ]
122 - پردۍ بنګي ـ منظوم نکل [ http://bit.ly/2p9tale ]
121 - کارغه او ګیدړه ـ منظوم نکل [ http://bit.ly/2pl8CwB ]
120 - دم دم آدم دم دم پیشو [ http://bit.ly/2pppbkg ]
119 - غاښ مې بنوري ـ نظم [ http://bit.ly/2ohBR8X ]
118 - آس غواړم! [ http://bit.ly/2omozqU ]
117 - پشتکۍ پستکۍ پنډکۍ [ http://bit.ly/2oDcnEc ]
116 - منظوم نکل ـ سوی او کیشپ [ http://bit.ly/2ohv2Vf ]
115 - منظوم نکل ـ دېب په بوتل کې [ http://bit.ly/1seKoLK ]
114 - منظوم نکل ـ کنه چونګښه [ http://bit.ly/1WWnrYJ ]
113 - یوازې نانۍ ـ منظوم نکل [ http://bit.ly/2plrUlc ]
112 - پاولینه او د هغې پشکې [ http://bit.ly/2ohyejA ]
111 - نانځکه مې ـ شعر [ http://bit.ly/2pIiaHT ]
110 - سپرلی ـ شعر [ http://bit.ly/2ohIs3t ]
109 - پنځه حسه ـ شعر [ http://bit.ly/24cVi21 ]
108 - د مرغاوۍ بد رنګه چوړګوړی [ http://bit.ly/2ohURnM ]
107 - د امپراتور نوې جامې [ http://bit.ly/2oD95AL ]
106 - آللو، للو زویه [ http://bit.ly/2ptlmrp ]
105 - یو دوه [ http://bit.ly/2p9xgtN ]
104 - دوه سادګان [ http://bit.ly/2plfRnZ ]
103 - لس موږکان [ http://bit.ly/1Syx6Pc ]
102 - میاؤ میاؤ پستکۍ [ http://bit.ly/2oFniyU ]
101 - منظوم نکل ـ ننداره ده ننداره [ http://bit.ly/2pljLgN ]
100 - منظوم نکل ـ پاچا، وزیر، غلام او ړوند سړی [ http://bit.ly/2ppylx9 ]
99 - منظوم نکل ـ زمرۍ او نانۍ موږک [ http://bit.ly/2oFl4zk ]
98 - شعر ـ څلور دې کال کې موسمونه [ http://bit.ly/2ppryU4 ]
097 - شعر ـ د ملالۍ نانۍ خور [ http://bit.ly/2pllB16 ]
096 - شعر ـ سهار سو [ http://bit.ly/2pt5ENe ]
095 - شعر ـ ترپ و تروپ دی [ http://bit.ly/2oOOYlo ]
094 - شعر ـ اې سپینې واورې [ http://bit.ly/2ohMB7i ]
093 - د پاچا لور او چونګښه [ http://bit.ly/2oFn0bm ]
092 - وی وی وی نانۍ انجلۍ [ http://bit.ly/2nUeG8P ]
091 - طوطي او سوداګر [ http://bit.ly/2omchz6 ]
090 - د نرګس نانزکه [ http://bit.ly/2ohSMs9 ]
089 - منظوم نکل - د وزې او د لیوه کیسه [ http://bit.ly/2omtOXJ ]
088 - بزه او پړانګ [ http://bit.ly/2p9jR4W ]
087 - آس او زمرۍ [ http://bit.ly/2plle6Y ]
086 - بُزه، شرموښ او ګیدړه [ http://bit.ly/2oDfxrC ]
085 - بُزه او د سپینو زرو زنګوله [ http://bit.ly/2p9jwPD ]
084 - آس او هوسۍ [ http://bit.ly/2oD6AOT ]
083 - بومان او کاغۍ [ http://bit.ly/2nUqR5B ]
082 - پړانګ او د ګیدړې بچی [ http://bit.ly/2ppht9R ]
081 - پړانګ، هوسۍ او مار [ http://bit.ly/2omjPlp ]

د افغانستان د فرهنګ خزان وهلي بڼ د خدمت په غرض، د احمد ولي اڅکزي ګڼو فعالیتونو ته چې ولیدل شي او ور سره د ده نه ستړي کېدونکې هڅې او له فرهنګي کار سره د ده مینه دا ښيي چې دی څومره د نوي نسل د روزنې په فکر کې دی.
د ماشومانو، کوچنیانو او په ټول کې د نوي نسل د پالنې او روزنې په برخه کې د احمد ولي اڅکزي او ور سره د ځینو نورو فرهنګیانو هڅې دا هیلې په زړونو کې را پیدا کوي چې دا خلک او دا ټولنه له دومره جنګونو، طوفانونو، انقلابونو، جفا ګانو او ناخوالو سره، سره د ژوند او تکامل په فکر کې دي، غواړي نوی نسل وروزي او په دې ډول د تمدن له نړیوال کاروان سره ځان مل کړي، که داسې نه وای شوی او یا دا کار همداسې په جدیت سره پرمخ ولاړ نه شي، نو موږ به له سیالانو نه وروسته او د تمدن له کاروان نه به پاتې یو.
د ماشومانو او کوچنیانو د سالمې او علمي روزنې په برخه کې، او په تېره د کوچنیانو ادبیاتو ته د کمیت او کیفیت له پلوه د احمد ولي اڅکزي دومره ډېره، ښه او علمي پاملرنه، په رښتیا سره د ستایلو وړ ده او زه د نوي نسل د روزلو د نهضت د یو لاروي په توګه او د کوچنیانو ادبیاتو د یو څېړونکي په توګه، د کوچنیانو د ادبیاتو په غني کولو، عامولو او ټولو ته د رسولو په پار له احمد ولي اڅکزي نه د زړه له تل نه مننه کوم.
دا هم د کوچنیانو له پاره د ده د دوه سوه نکلونه د پاتې برخې سر لیکونه او لینکونه:

080 - پیشي او موږک [ http://bit.ly/2omn2Bo ]
079 - پړانګ، چنګښې او هوسی [ http://bit.ly/2nUq9Ft ]
078 - چرګ او باچا [ http://bit.ly/2oOEz9m ]
077 - توتکی ښځه باز خطاایستی؟ [ http://bit.ly/2oFdODw ]
076 - پیشي، پړانګ او انسان [ http://bit.ly/2oFoCll ]
075 - چغال او اوښ [ http://bit.ly/2omij2A ]
074 - چرګ، ښامار او زنزه [ http://bit.ly/2ppiDlI ]
073 - چغال او زمری [ http://bit.ly/2pploDD ]
072 - ګېدړې ښځه حیوانان څرځای ته بېول؟ [ http://bit.ly/2p9vqJ8 ]
071 - چغال، شکوڼ او څاه [ http://bit.ly/2omqHPw ]
070 - چنګاښ او بیزو [ http://bit.ly/2oFiVUg ]
069 - درواغ او زخم [ http://bit.ly/2nUkbEu ]
068 - چغال، پړانګ، زمری او زړور وزګړی [ http://bit.ly/2ppfFh5 ]
067 - درې وریان او شرمښ [ http://bit.ly/2nU3xVo ]
066 - درې کبان [ http://bit.ly/2omk67Y ]
065 - دوې چنګښې او د پیروي پیاله [ http://bit.ly/2oOFWVc ]
064 - زمری او د هغه شورا [ http://bit.ly/2pp5adS ]
063 - سوی، فیل او د اوبو آس [ http://bit.ly/2pIeDt5 ]
062 - ګیدړه او آس [ http://bit.ly/2oD0HBe ]
061 - ګیدړه او انګور [ http://bit.ly/2psYo3J ]
060 - سوی او غوا [ http://bit.ly/2nUfxGB ]
059 - سوی او مار [ http://bit.ly/2oFidq4 ]
058 - سوی او هندوانې [ http://bit.ly/2p9vc57 ]
057 - سوی او کشپ [ http://bit.ly/2nU3jh6 ]
056 - ګیدړه او زمری [ http://bit.ly/2omlnf7 ]
055 - ګیدړه او باز [ http://bit.ly/2oFiN7j ]
054 - ګیدړه او کوتان [ http://bit.ly/2psUMyA ]
053 - زمری، شرمښ او ګیدړه [ http://bit.ly/2oFhW6w ]

052 - بزه، شرمښ او اووه مرغومي [ http://bit.ly/2p9tFfd ]
051 - زمری او نجار [ http://bit.ly/2nU2Tr2 ]
050 - زمری او درې غوايي [ http://bit.ly/2ohvdj8 ]
049 - زمری، غوماشه او غنه [ http://bit.ly/2oFlkyd ]
048 - سويان او چنګښې [ http://bit.ly/2ppgFlz ]
047 - شرمښ او د سپي طوق [ http://bit.ly/2omiWt8 ]
046 - شرمښ، ګیدړه او موشخرما [ http://bit.ly/2nU7gCf ]
045 - شرمښ او سوی [ http://bit.ly/2oOEMsO ]
044 - شرمښ او د هغه چلم [ http://bit.ly/2oFcvVo ]
043 - شرمښ او کوتان [ http://bit.ly/2nUaKEM ]
042 - شرمښ او وری [ http://bit.ly/2oFz1gF ]
041 - شرمښ او زوړ سپی [ http://bit.ly/2pIb0Dn ]
040 - غومابنه او خزدکه [ http://bit.ly/2pHYbJr ]
039 - شرمښ، سوی او مشخرما [ http://bit.ly/2ppfYst ]
038 - شکونې او زمری [ http://bit.ly/2nUbBFH ]
037 - ولې غنه په کونج کې کښېني او مچان نیسي؟ [ http://bit.ly/2oFsHWz ]
036 - غنې او کبلې [ http://bit.ly/2omniQZ ]
035 - چالاکه پیشي، پُسه او شرموښان [ http://bit.ly/2oFGVXx ]
034 - خرنګه سوی او ګیدړې ماهیان ونیول [ http://bit.ly/2omo6VJ ]
033 - څنګه پیشي د مورک سره اتڼ وکړ [ http://bit.ly/2oCYSEk ]
032 - بې عقل ملخ او هوښیار مېږی [ http://bit.ly/2p9oCeR ]
031 - په څه ډول نکلونه پیدا سول [ http://bit.ly/2om8TUU ]
030 - خرنګه زیرګی پیدا سو [ http://bit.ly/2nUm1Ft ]
029 - خرنګه وحشي چرګ کورنی چرګ سو [ http://bit.ly/2pHYWIl ]
028 - خرنګه سوی د فیل سره جنګ وکړ [ http://bit.ly/2pHUpQ6 ]
027 - خر، سپی مورک او شیطانه بزه [ http://bit.ly/2oOCrOH ]
026 - خرس او ملخ [ http://bit.ly/2ohPLbe ]
025 - د جاپان دوې چونګښې [ http://bit.ly/2p9iJy6 ]
024 - د برېمن موسیقي پوهان [ http://bit.ly/2ohB5c9 ]
023 - د پاچا نوې کالي [ http://bit.ly/2oCLr7B ]
022 - طلايي کاسه [ http://bit.ly/2oD0VIu ]
021 - د سرو زرو خزانه [ http://bit.ly/2pHPrmr ]
020 - کوتره او د ګلاب ګُل [ http://bit.ly/2oOG4UU ]
019 - د ځنګل پاچا څوک دی؟ [ http://bit.ly/2omnBuS ]
018 - شعر ماشومان [ http://bit.ly/2oFeQzs ]
017 - ګیدړه او بڼ [ http://bit.ly/2oD0yO6 ]
016 - توتي [ http://bit.ly/2p9fGpy ]
015 - پیشو غواړي کبان ونیسي [ http://bit.ly/2nUcuxS ]
014 - لړ حوصلي مورک [ http://bit.ly/2oOGF8Y ]
013 - کوچنۍ سمندري ښاپېرۍ [ http://bit.ly/2psXxA0 ]
012 - کوچنی کلاوس او لوی کلاوس [ http://bit.ly/2pHSUS9 ]
011 - اورلګیت [ http://bit.ly/2pt0yAh ]
010 - هوښیار وزیر او د خلکو قضاوت [ http://bit.ly/2oFe5X8 ]
009 - سور ګیدړ [ http://bit.ly/2ohtmea ]

008 - بُلبُل [ http://bit.ly/2oCNkkD ]
007 - پتنګ او د وربېښمو غوزه [ http://bit.ly/2oD1MsZ ]
006 - ښکاري او مرغۍ [ http://bit.ly/2oCUjKg ]
005 - دیوه لیوه او زاڼې لنډه کیسه [ http://bit.ly/2pHNzKH ]
004 - د بزګر لور [ http://bit.ly/2p9z99Z ]
003 - توتکۍ [ http://bit.ly/2oD0bmR ]
002 - د سرو ستورو کلی [ http://bit.ly/2nU7hWZ ]
001 - دوې وزې [ http://bit.ly/2ohEg3v ]

# له ماشومانو او کوچنيانو سره

# د تاوتريخوالی ستونزه

زموږ د ګلاليو ماشومانو او کوچنيانو سترګي او خيری
موږ ته وايي: موږ د ژوند په هغه پړاو کی يو چي
نه غواړو د خبرو اوريدو په ځای مو پر مخ
څپيړي ولګيږي، موږ نه غواړو چي
د مثبتو لوستونو او موزيک
د اوريدو پر ځای د
ټوپک او بمونو
درزا واورو.

د دي بحث په پيل کي بايد و ويل شي چي دا مطلب په ټوله نړۍ کي يو منل شوی حقيقت دی چي د ماشوم او کوچني د حقونو د کنوانسيون له مخي تر اتلسو کلونو لاندي افراد ټول ماشومان او کوچنيان شميرل کيږي.
د ماشومانو او کوچنيانو خوا خوږي ډيری قلموال تل په دي فکر کي وي چي څنګه به د دوی له پاره يو ګټور نثر، شعر، داستان، تابلو، رسم، انځور، کارتوني فلم، مقاله، رساله، کتاب او يا... برابر کړي، چاپ يي کړي او د لوستلو او استفادي له پاره يي په لاس کي ورکړي، څو ماشومان او کوچنيان وکولای شي يو څه ور نه زده کړي او د راتلونکي ژوند د مقدماتو په ډول يو څه لاس او مغزو کي ولري؛ خو ډير لږ په دي باب فکر شوی دی چي زموږ اوسنی ټولنه د بيلابيلو ستونزو د يو ستر ګودام حيثيت لري، د ستونزو په دي ګودام او د ستونزو په دي باد او توفان کي زموږ ماشومان او کوچنيان، څومره او په څه ډول او له کوم ډول تاوتريخوالي سره مخ دي او ولي؟
زه فکر کوم چي د ماشومانو او کوچنيانو د روزلو په پروسه کي د دوی د ادبياتو له رامنځ ته کولو او غني کولو نه مخکي بايد د هغه تاو تريخوالي مخه ونيول شي چي زموږ د ټولني ماشومان او کوچنيان ور سره مخ دي. د کور له چاپيرياله نه نيولي تر کوڅي، له کوڅي نيولي تر وړکتون(که وي) او له وړکتون نيولي تر ښوونځي او له ښوونځي نيولي بيا تر ټولني پوري.

زموږ په ټولنه کې د ماشومانو او کوچنیانو پر ضد تاوتریخوالی د یوې داسې نه لیدونکې سونامي حیثیت لري چې زموږ د ټولنې په یوې محسوسې اوعیني ستونزې بدله شوې ده او دا سونامي هر نسل، هره لسیزه، هر کال، هره میاشت هره اونۍ، هره ورځ، هر ساعت، هره دقیقه او هره شیبه د سل ګونو او زرګونو ماشومانو او کوچنیانو اوسنۍ او راتلونکی ژوند ځپي او د تباهۍ کندې ته یې سر له اوسه ور پورې وهي.
زموږ په ټولنه کې یوه ډېره نا سمه پالیسي «چې ډب نه وي، ادب نه وي» عامه بڼه لري چې د هغې تر سیورې لاندې ضارب خپله ګناه پټوي او خپل عمل توجه کوي. په پرمختللو ټولنو کې د «چې ډب نه وي، ادب نه وي» پر خلاف عمل روان دی، ډب نه شته، خو ادب شته. دلته، په کومه ټولنه کې چې زه ژوند کوم (ډنمارک) وهل یا تاو تریخوالی، حتی که لفظي هم وي، جُرم شمیرل کیږي او په قوانینو کې د وهلو ټکولو له پاره له شپږو نه تر اتلس میاشتو بند په نظر کې نیول شوی دی.
زموږ د ټولنې عیني ستونزو او تجاربو ته په کتو سره، د ماشومانو او کوچنیانو پر ضد تاوتریخوالی په لومړي ګام کې په دریو برخو باید و ویشل شي:

۱ ـ رواني تاوتریخوالی:
(ژبنی تاو تریخوالی، ډارول، ښکنځلي کول، بد رد ویل، تهدیدول او ډول، ډول نور رواني فشارونه)،

۲ ـ جسمي تاوتریخوالی:
(وهل ټکول، شاقه کارونه،جګړو ته اړایستل)،

۳ ـ جنسي تاوتریخوال.



موږ به څو نسلونه د دې کوچني پور وړي یو.

د عیني محسوسو تجاربو له مخې چې زموږ ټولنه مطالعه شي، دا ثابتیږي چې هر هغه مشر چې له کوم کشر سره تاوتریخوالی کوي، خامخا له هغه مشر سره د ماشومتوب او کوچنیوالي په دوران کې دې ته ورته تاوتریخوالی شوی دی، چې دی یې اوس په شعوري یا غیر شعوري توګه، په عقدوي ډول له خپلو کشرانو سره کوي.
موږ مشران باید دغې ترخې تکراریدونکې تجربې ته او دې ترخه حقیقت ته په کتو سره دې تاوتریخوالي ته د پای ټکی کېږدو، هغه داسې چې دا قرباني ورکړو چې له موږ سره په شوي تاوتریخوالي سترګې پټې کړو، ور نه تیر شو، خو دا عقده او دا ترخه تجربه چې له نسلونو، نسلونو تر موږ پورې را رسیدلې ده، بل نسل ته و نه لیږدول شي او که یې لکه د تیرو نسلونو په شان چې موږ ته یې را سپارلې ده او موږ یې راتلونکي نسل ته وسپارو، نو له راتلونکي نسلونو سره به مو له دې نه هم ستره جفا کړې وي، لکه تیرو نسلونو چې له موږ سره کړې ده.
کله چې موږ له ماشومانو او کوچنیانو سره د تاوتریخوالي له لارې عقدوي چلند کوو، نو په حقیقت کې موږ د هغوی د ذهن په کرونده کې د عقدو او ستونزو تخم کرو چې په زلمیتوب او له هغه نه وړاندې په ژوند کې د هغوی هر څه په زهرو لړي. ډاکټر صاحب محب زغم «د حقارت غوټه» نومی کتاب له فارسي ژبې نه په روانه پښتو اړولی دی او دا موضوع په کې ډیره هر اړخیزه او علمي څیړل شوې ده، درانه لوستونکي کولای شي په لاندې لینک کلیک وکړي، کتاب تر لاسه کړي او وې لولي.
که موږ غلي کینو، چوپتیا او ځان غلی نیول خپله له نوي نسل سره جفا ده، دا په خپله یو ډول تاوتریخوالی دی چې په رنو ور ته ګورو، نوی نسل مو د همدې تاوتریخوالي په پایله کې د بربادۍ کندې ته ور لویږي، که د مخنیوي له پاره یې څه ونه کړو، دا په خپله له هغو سره د تاوتریخوالي یوه ښکاره بیلګه ده.
له کوچنیانو او ماشومانو سره دغه یاد تاوتریخوالی څوک کوي؟ البته چې مشران یې کوي او مشران یې هغه وخت کوي چې په هغوی کې د بې سوادۍ او نا پوهۍ مرض شایع وي. که د عادي لیک لوست په کچه سواد ولري، هغوی بیا مطالعه نه کوي او د سواد لوړې کچې ته یعنې علمي سواد ته چې هغه د ماشومانو او کوچنیانو او تنکیو ځوانانو روزنه ده، ځان، کورنۍ او ټولنه نه شي ور لوړولی. نو په دې صورت کې نه ماشوم، نه کوچنی، نه نوی نسل او نه هم د هغوی حقوق پیژني. په دغسې یو حالت او په دغسې یوه ټولنه او چاپیریال کې چې د بیسوادۍ او ناپوهۍ بلا ور باندې حاکمه وي، بیا نو د مینې او محبت ځای تاو تریخوالی نیسي او کله چې له ماشوم او کوچني سره تاو تریخوالی وشو، پایله به یې دغسې وي لکه زموږ ټولنه او زموږ دا اوسني نسلونه چې د هرې ستونزې د حل لاره په وهلو ټکولو یا ژبنې تاو تریخوالي کې لټوي.
د مطالعې او زدکړو په باب مې په یوه علمي ګزارش کې ولوستل چې په ۲۰۰۶ کال کې د تایلند په پلازمینه بنکاک کې د ملګرو ملتونو د یونسکو اداري د سواد په باب یو کنفرانس جوړ کړی و. په ګزارش کې سواد، علمي زدکړو او د نوي نسل روزلو ته داسې داسې شوي وه:
«په کنفرانس کې د باسواده لپاره یو نوی تعریف وړاندې شو، چې فکر کوم، په نني عصر کې د باسواده لپاره تر ټولو ښه تعریف دی. هورې د برخوالو پوهانو او د پوهنې د متخصیصینو په نظر سواد، د یو شي لیکلو او لوستلو ته نه وایي او نه هم د سواد اموزي یا لیک لوست زده کړې هدف د انجنیرانو او ډاکټرانو روزل دي ، بلکې اصلي هدف یې د علمي سواد کچې ته د ټولنې رسول دي او علمي سواد د ماشومانو او نویو ځوانانو روزنه ده.»
دې ګزارش او دې ته ورته نورو علمي کارونو او پیښو ته په کتو سره او بیا د خپلې ټولنې او په تیره بیا زموږ په ټولنه کې د ماشومانو او کوچنیانو اوسنۍ بده وضعه او له هغوی سره تاوتریخوالی هر آګاه انسان دې ته متوجه کوي چې موږ او زموږ ټولنه تر اوسه د نړۍ په پرتله د ژوند کولو په ډیره ټیټه سطحه کې خپل ژوند پر مخ بیایو. دغسې د همدې لیکنې بحث ته که پام وکړو، لیدل کیږي چې موږ تر اوسه نه یو توانیدلي چې پر ماشوم او کوچني باندې د تاوتریخوالي تنده سیلۍ او توفان و دروو، له هغه وروسته یې بیا د سواد د زدکړې، ښونځي

پوهنځي او په لوړه کچه د مطالعې، لوړو زدکړو او د ماشومانو، کوچنیانو، ځوانانو او نوي نسل د علمي سواد غم وکړو.
نو دلته ده چې اصلي کار باید له مشرانو نه را پیل کړو، که مشرانو ته و ویل شي چې له ماشوم او کوچني سره تاو تریخوال څه پایلې لري، او په علمي دلایلو قناعت ورکړل شي، هغوی به له خپلو ماشومانو او کوچنیانو سره تاوتریخوالی ودروي، که مو د ښونکي تعلیمي سویه ټیټه وي، لومړی هغه باید لوړه کړای شي یعنې چې موږ با سواده او پوه ښونکي نه لرو، ځکه مو په ښونځیو کې سویه ډېره او بیا هم ډېره ټیټه ده، ډېره برخه ښوونکي مو په څه نه پوهېږي او له ماشوم او کوچني سره د چلند په سیستم نه پوهېږي، ځکه مو په ښونځیو کې د تشدد کچه لوړه ده.



څومره چې د دې ماشوم کوناټې او پښې په لښتو وهل کیږي، له هغه نه یې څو ځلې ډېر شعور او تحت شعور د حقارت په متروکه وهل کیږي.

په دې برخه کې د ورځپاڼه لیکونکي همیم جلالزي په قلم د یوه لیکل شوي مستند راپور یوې برخې ته پام وکړئ:

«په افغانستان کې د ښوونځي دښمنان کم نه دي. همدا اوس هم سلګونه ښوونځي تړل شوي دي چې لامل یې نا امني بلله کیږي. هغه چې پرانستي بلل کیږي، تر لس میلیونه زیات زده کوونکي ورځي. دا د افغانستان لپاره یو ښه خبر دی چې د اووه ویشت نیم میلیونه نفوس له ډلې یې لس میلیونه یوازې په ښوونځیو کې په زده کړو بوخت وي.
خو دلته بدمرغي دا ده چې ټول حساب په ظاهري بڼه او غلوونکو ارقامو باندې کیږي. ما تر اوسه پورې د پوهنې وزارت له چارواکو دا و نه وریدل چې د لس میلیونه ماشومانو د زده کړې سطحه څومره ده؟

ښاغلی وردګ وايي د سناتورانو او وکیلانو په سپارښتنه یې ځینې داسې کسان د دیني عالمانو په نوم مقرر کړي چې اسناد نه لري.
ایا دوی کولای شي چې له ۱۲ ټولګي څخه تر فارغېدو وروسته پر یوه موضوع باندې یوازې یو پاراګراف ولیکي؟ دغه راز د ښوونکو پر وړتیا باندې هم یوازې په رسمیاتو کې خبرې کېږي.
د تېرې سې شنبې پر ورځ د پوهنې وزیر فاروق وردګ مشرانو جرګې ته ور غوښتل شوی و. ښاغلي وردګ جالبې خبرې وکړې. یوه یې ماته دا وه، چې ویل یې ۶۵ زره داسې کسان یې مقرر کړي دي چې هېڅ اسناد نه لري، مانا نالوستي دي.
د ده خپل ټکي دا و چې دغه کسان څوک وايي په پاکستان او څوک وايي په ایران کې یې مدرسه ویلې ده او د ده په وینا د سناتورانو او وکیلانو په سپارښتنه یې د دیني عالمانو په نوم مقرر کړي دي.
دا که د افغانستان شاوخوا دوه لکه ښوونکو درېیمه برخه وګڼو نو مانا یې دا ده چې په پرانستو ښوونځیو کې مو هم درېیمه برخه ښوونځي هغه معیار نه لري چې په افغانستان کې د ښوونځي لپاره ټاکل شوی دی.
نېتجه دا کېږي چې موږ یوازې په دې بسنه کړې ده چې په رسنیو کې ارقام ډېر وښودل شي.
دلته پر دې بحث نه کوم چې دا کار له ښوونځي سره دښمني ده که نه ده، خو دومره ارو مرو ویل کېدای شي چې پوهنې ته لا هم موږ هغه اهمیت نه ورکوو چې نړۍ یې ورکوي.»

له ماشوم او کوچني سره تاوتریخوالی او د هغوی زورونې ته که په ځیر سره وکتل شي، کیدای شي پایلې یې داسې وي:

ـ له ماشوم او کوچني سره د تاوتریخوالي آثار او پایلې د هغوی پر ذهن او روان باندې د تل له پاره پاتې کیدای شي،

ـ زموږ په هیواد کې د کورنۍ، ښونځیو او ټولنې په چاپیریال کې، پر ټولنه باندې د ناوړه قوانینو د حاکمیت په وجه د تاوتریخوالي له پاره شرایط چمتو دي او عملي کیږي هم،

ـ جسمي او رواني تنبیه د ماشومانو او کوچنیانو په راتلونکي ژوند باندې ډیره نا وړه اغیز لرلای شي،

ـ له ماشومانو او کوچنیانو سره د تاوتریخوالي په پایله کې هغوی چغې وهي، خو مشران یا د تاوتریخوالي عاملین یې نه اوري، که یې اوري، پام نه ور ته کوي او ځان حق په جانبه ګڼي،

ـ ټولنه او مشران باید په دې پوه کړای شي چې له ماشومانو او کوچنیانو سره تاوتریخوالی پټ جنایت دی،
او په پای کې دا دوې مهمې پوښتنې چې ټول اړوند مسوولین او قلموال باید پام ور ته وکړي:

۱ـ له ماشومانو او کوچنیانو سره تاوتریخوال څه شی دی؟

۲ـ له ماشومانو او کوچنیانو سره د تاوتریخوالي عوامل کوم دي؟






د ي یوې ډلې کوچنیانو ته چا د څه په نامه وسله په لاس ورکړې او دا بل ماشوم چا په وسلو او مرمیو محاصره کړی؟
طبعاً مشرانو او هغه مشر نه پوهیږي چې دا حالت پر دې ماشومانو او کوچنیانو باندې په راتلونکې څه راولي؟
زما نوی نسل چې په دې بڼه روزل کیږي، سبا به د څه تمه ترې ولرو؟
مور لا په اورني کې ماشوم ته د جګړې انځور او د نفرت تابلو په مخ کې ږدو،
آیا دا تاو تریخوالی دی که نه؟

له ماشومانو او کوچنیانو سره د تشدد او تاوتریخوالي په باب زموږ قلموال غلي نه دي ناست او کله نا کله یې دغو ستونزو ته په پام سره مقالې لیکلي یا ژباړلي دي چې زه به یې د مثال له پاره د ځینو سر لیکونه را واخلم:

ـ په تعلیمي ادارو کې تشدد،
لیکوال: ډاکټر مبارک علي،
ژباړن: بارکوال میاخېل،
دا مقاله په تاند ویبپاڼه کې په څو برخو کې خپره شوې ده.

ـ د ماشومانو وهل ځیرکتیا ته څومره تاوان رسولی شي؟
لیکوال: ډاکټر سباوون،

ـ ولې جوماتونو کې زده کوونکي ماشومان وهل کېږي؟
لیکوال: محمد قاضي زاده،

ـ لونګ: وهل کړي و یوې ښځې په تیره زمانه کې،
همیم جلالزی
افغان ورځپاڼه لیکوونکی،

ـ کورنی شخړې او ماشوم،
ژباړه: نعیمه غني،

ـ د ښونکی ورځ، تعلیم په وهلو نه په مینه زده کول کېږي
لیکونکی. نوربادشاه یوسفزی،

دغه راز په پل ویبپاڼه کې ـ چې د ماشومانو او کوچنیانو د روزنې او د ماشومانو او کوچنیانو د ادبیاتو ځانګړې ویبپاڼه ده ـ له ماشومانو او کوچنیانو سره د تاوتریخوالي په باب ګڼې مقالې او لارښوونې آنلاین شوي دي او وخت په وخت آنلاین کېږي.
پاسنیو یادو قلموالو او ځینو نورو لیکوالو زموږ د ټولنې ستونزو ته په کتو سره، له ماشومانو او کوچنیانو سره د تشدد موضوع ته په پام، دا موضوع او دا ستونزه تر خپلې وسې په مستند ډول څېړلې ده، د خپلو تجاربو او پوهې نه یې په استفادې سره حلالارې ور ته ښوولې دي، خو زه یې داسې انګیرم چې تر څو د ټولنې فکري تګلوری بدل نه کړای شي، نه شي کیدای چې له کوچنیانو او ماشومانو سره د روان تشدد مخه ونیول شي، لومړی باید په عام ډول پر ټولنه باندې په حاکم فکري سیستم کې بدلون راوستل شي، بیا نو کولای شو د روان تاوتریخوالي مخه ونیول شي او دا کار د تعلیم د عامیدو له لارې ډېر ښه تر سره کیدای شي.
زموږ په ټولنه او هیواد کې دغسې چې له ډېرو نورو جدي مسایلو سره، سر سري او عادي چلند کېږي، له ماشومانو او کوچنیانو سره د تاوتریخوالی ستونزې ته هم دومره چې ښایي پاملرنه، نه شوې او نه هم پاملرنه کېږي، خو په نورو هیوادونو کې دا مسأله دومره جدي نیول کېږي چې په دې برخه کې نوي قوانین طرحه او پارلمان ته وړاني کېږي او د پارلمان له تایید نه وروسته یې اړوند ارګانونه په جدي ډول تطبیقوي. په همدې نږدې ورځو کې د اندونیزیا پارلمان دا موضوع تصویب کړه چې له کوچنیانو سره د جنسي تاوتریخوالي مجرمینو ته د عقیمیدو او خسي کیدو سزا ورکړل شي.

دا موضوع د اندونیزیا په پارلمان کې هغه وخت را پورته شوه چې له دې نه څو ورځې وړاندې پر یوې څوارلس کلنې نجلۍ باندې ډله ایز جنسي تیرې وشو او هغې جلۍ خپل ژوند له لاسه ورکړ.
خو زموږ په هیواد او زموږ پر ټولنې باندې داسې وحشت حاکم کړای شوی دی چې دې ته ور ته پیښې هره میاشت، هره اونۍ او ښایي هره ورځ وشي، خو د څه ویلو څوک نه شته او عاملین یې هسکه غاړه ګرځي.
له ماشومانو او کوچنیانو سره د تاوتریخوالي پر موضوع باندې، تر ټولو په نوې مقاله کې چې په تاند ویبپاڼه کې مې له نظره تیره شوه، یو لیکوال د ښونکي د ورځې په پلمه دا موضوع مطرح کړې ده چې په ښونځیو
کې تر ټولو نه مخکې خپله ښونکي له زده کونکو سره هم لفظي تاوتریخوال کوي او هم فزیکي تاوتریخوالی. د ده د لیکنې سر لیک دا دی:
«د ښونکی ورځ، تعلیم په وهلو نه په مینه زده کول کیږي »
د دې ښاغلي د لیکنې څو کرښې به ولولو:
« یوه ورځ مې فکر وکړو که زه په ټولګې کې تر ټولو کمزوری او د پوښتنې کولو جرات نلرم خو لاعمل یې د ماشومتوب د سکول د ښوونکیو سلوک دی، تشدد سپکاوی او توهین دی خو چې د افغانستان او پاکستان دا نور زده کوونکي ولې د پوښتنې جرات نلري، کله چې مې د دواړه هیوادونو د هلکانو څخه وپوښتل نو هغوی راته هم دغه لامل وښودلو چې د سکول تشدد او توهین ترې زړه وباسلی چې وس پرې کړیږي.
مهمه نه ده چې تاسو دې زما د دې خبرې سره موافقه یئ چې ګني په وهلو او تشدد د یو زده کونکي په لویې والي کې بې جراته او بې همته کوي، که څوک په دې فکر وکړي کیدای شي په کومه نتیجه ورسیږي.
تعلیم په وهلو نه په مینه زده کیږي، که د ماشوم سره د ترخې پرځای خوږه و ویل شي هغه کار بیا ماشوم په مینه کوي، د ښونځۍ ښونکی که هر رقم وي ډېر د عزت او احترام وړ وي، که ښونکي نه وې نن به ما دا لیکنه نه وه کړې، نه به تاسو دا لیکنه لوستلې وه، ښونکي پېشه په ټوله کې د هرې پېشې ستره ده ولې چې د دې پېشې روسته بیا نورې پېشې پېل کیږي، ښوونکی د ټولنې د سر ګل دی...»



په افغانستان کې د یوې مرجع یا ویبپاڼې او فیسبوک پاڼې په یوه هدایت یا لاربنود کې داسې راغلي دي چې که په لارو کوڅو کې ماشومان او کوچنیان د ډار احساس کوي باید څه وکړي؟ که یې څوک یا کوم موټر تعقیبوي دوی باید څه وکړي او...
له دې نه ښکاري چې په ټول کې د افغانستان غوندې یوه ټولنه او چاپیریال کې ماشومان او کوچنیان خوندیتوب نه لري او د تشدد او تاوتریخوالي له ډاره دوی او د دوی میندو پلرونو ته لازم هدایتونه ورکول کیږي.
په میډیا کې د دغسې مطالبو او لاربښوونو را ښکاره کیدل، په نیغه د دې ګواهي ورکوي چې په دغسې ټولنه کې لکه افغانستان ماشومان او کوچنیان امن نه دي او له ښکاره تاوتریخوالي سره لاس ګریوان دي.





له ماشومانو او کوچنيانو سره د تاوتريخوالي بل ډول، جنسي تو‌پير دی. له بده مرغه چې زموږ په ټولنه کې په تيره پښتنو کې د جنسي توپير کچه ډيره لوړه ده او په کورنيو کې له نجونو نه، د هلکانو په زيږيدو خوشاله کيږي، بيا په کورنيو کې نسبت هلکانو ته نجونې ډير کارونه تر سره کوي. په کور کې پخلی، کور پاکول، کالي مينځل او... او له کور نه د باندې د څارويو پوول، خس را ټولول، له ګودر نه اوبه راوړل او... چې له يوې خوا له نجونو نه د ماشومتوب او کوچنيوالي خوند او دنيا اخستل کيږي او له بلې خوا له کور نه د باندې د توهين او جنسي تيري خطر هم ور ته ډيريږي.
د ملګرو ملتونو د يونيسف اداري په يوه تازه رپوټ کې په دې باب داسې راغلي دي:«
"نجونې د زده کړو، ودي او له ماشومتوبه د خوند اخيستو ډېر فرصتونه قرباني کوي. د ماشومانو تر منځ د کار دغه نا انډوله وېش جنسي تبعيض هم تل پاتې کوي او په ډېرو نسلونو کې د ښځو پر اوږو د کار بار ډېروي".
دغه رپوټ د اکتوبر ۱۱ ورځې نژدې کېدو پر مهال خپور شوی، چې د ماشومو نجونو نړيواله ورځ ده او په کې د جنسي زور زياتي، ماشومانو ودونو، نجونو سنتولو شمېرې هم يادې شوې دي.»
زه يې داسې انګيرم چې په افغانستان کې له ماشومانو او کوچنيانو سره د تاوتريخوالي اصلي سرچينه کورنی چاپريال دی. نو د همدې له پاره د تاو تريخوالي ريښې بايد په کورنی کې ولټول شي. انسان له کورنی نه ټولنې ته راوزي، که په کورني چاپيرياڵ کې تاوتريخوالي وي، نو طبعي خبره ده چې له کورنی نه ټولنې را وتونکی شحص، له تاوتريخوالي سره راوزي او همدا کورنی تاوتريخوالی په ټولنه کې نور هم پالل کيږي، وده کوي او بيا وروسته د ټولنې د غړو په منځ کې په ټکرونو بدليږي او ستری بد مرغی را منځ ته کوي.
څنګه چې ښکاره ده زموږ ټولنه يوه نارينه واکې ټولنه ده او په داسې ټولنه او چاپيرياڵ کې، نارينه، د کورنۍ ټول غړي(ښځې او ماشومان ـ کوچنيان) خپل ملکيت ګڼي او ځان د ټولو خاوند او سالار ګڼي، که د حاکم نارينه دې ملکيت او دې مشرتوب ته کوم خطر پيښ شي، نو ياد مشر تاوتريخوالي ته مخه کوي.
د همدې عيني حاکمو شواهدو له مخې ويلای شو چې تاوتريخوالی له کورنی نه ټولنې ته را وزي او په ټولنه کې په منفي لوري نوره وده کوي. ستونزې يوازې په تاوتريخوالي سره نه حل کيږي، د ستونزو د حل او له منځه وړلو له پاره نورې لارې چارې هم شته. موږ بايد د نورو خلکو او نمونه ټولنو تجربو نه په استفادې سره په کورني ژوند او تعليمي پروګرامونو کې داسې مسايل ځای کړو چې د تاوتريخوالي په مخنيوي کې مرسته وکړای شي. دلته به يې د يوې بيلګې يادونه وکړم:
د بي بي سي په يوه نوي ځيرنيز راپور کې داسې راغلي چې په استراليا کې، په کوچنيانو کې د نا انډولتوب د له منځه وړلو په خاطر او له دوی سره د تاوتريخوالي د مخنيوي په پار، څه نوي پروګرامونه په نظر کې نيول شوي دي.
په اوسني او نوي نسل کې د نا انډولی او تاوتريخوالي د مخنيوي په خاطر داسې پروګرام طرح شوی دی چې د پخوانيو نظرياتو پر خلاف د داسې څه تبليغ کيږي چې پخوا به يوه جنس ته هغه يا منع و او يا به پيغور شميرل کيده، لکه د نجونو فوتبال کول او يا ځواکمنيدل او يا د خپګان او ژوبليدو په وخت کې د هلکانو ژړل، د نر او ښځو په تنخوا کې نا انډولتوب، په کور کې کار کول، پر غوسه باندې د کنترول څرنګوالی، او..
د دې ګزارش په يوه برخه کې داسې راغلي دي:

«د استراليا په يوه ايالت کې داسې ښوونيز پروګرام پيل شوی چې موخه يې د جنسيتي کليشو او د کورني تاوتريخوالي د ريښو له منځه وړل دي.
راتلونکی کال به د استراليا د وکتوريا ايالت په ټولو ښوونځيو کې د "درناوي اړيکو" په نوم دا نصابي پروګرام اجباری وي.

دا پروګرام به له زدکوونکو سره مرسته وکړي چې پر ټولنيزې نانډولۍ، د جنسيت له مخې پرکېدونکي تاوتريخوالي او نارينه وو ته ورکړل شوو امتيازي حقونو يا برترۍ باندې پوه شي...
...د لومړي ښوونځي زدکوونکو ته به د داسې هلکانو او نجونو تصور ور کول وي چې په کور کې کار کوي، لوبو کې برخه اخلي، د اور وژونکو او هرکلي ويونکو په څېر دندې لري.
په دې ښوونيز نصاب کې دا مواد هم شته چې "نجونې فوټبال کولی شي، ډاکترانې کېدلی او ځواکمنېدلی شي" او "هلکان د ژوبلېدلو يا خپه کېدلو په مهال ژړلی شي، نرمېدلی شي، روغتيا پال يا نرس کېدلی او ماشومان پاللی يا ساتلی شي." ...»

د افغانستان د څېړنې او ارزيابۍ ډله يو خپلواک څېړنيز سازمان دی چې د افغانستان د ټولنې په بيلابيلو برخو کې د څېړنې له لارې غواړي چې د افغانانو د ژوند او پوهې کچه لوړه کړي. دا سازمان افغانستان ته د مرستندويې ټولنې له خوا په ۲۰۰۲ ام کال کې تاسيس او د يو غير دولتي سازمان په توګه يې فعاليت کړې دی. مالي مرستې يې د مهاجرينو په چارو کې د ملګرو ملتونو د عالي کميشنرۍ، اروپايي کميسيون، نړيوال بانک او د ناروې، ډنمارك، سويس، سويډن او بريتانيا هيوادونو له لوري ورکول کيږي.
دغه سازمان په افغانستان کې د نورو څېړنو تر څنګ له ماشومانو او کوچنيانو سره د تاو تريخوالي پورې اړوند موضوع په باب هم څېړنه کړې ده.
له ماشومانو او کوچنيانو سره د تاوتريخوالي موضوع پورې اړوند يوه په زړه پورې علمي څېړنه شوې ده او پايله يې ديبرا. ج. سميت نومي ليکوال د کتاب په بڼه ليکلې ده او د «په افغانو کورنيو کې د ماشومانو پر وړاندې ورځنی تاوتريخوالی» تر سر ليک لاندې يې د ۱۳۸۶ کال کې يې خپور کړی دی.
په دې څېړنه کې په ډېر لوړ مصرف د افغانستان په څلورو ولايتونو(باميان، هرات، کابل او ننګرهار) کې دا څېړل شوې ده چې له کوچنيانو او ماشومانو سره څه ډول او ولې تاوتريخوالی کيږي؟
دا ډېره پر مصرفه، خو جالبه او علمي څېړنه ده چې دلته يې د موضوع په ارتباط ځينې مهم ټکي يادوم:
ــ په تاتريخوالي پورې اړوند ماشومان کوچنيان او کورنۍ يې څه وايي او غوښتنې يې څه دي؟
ــ د ميندو پلرونو او ماشومانو مسوليت څه شی دی؟
ــ د تاوتريخوالي په نتيجه کې څه منفي پايلې ماشومانو، کوچنيانو، کورنيو او په پای کې ټولنې ته ور په برخه کيدای شي؟
ــ د تاوتريخوالی هيڅ ډول بايد و نه منل شي.
ــ څه ډول کولای شو چې د ماشومانو او کوچنيانو د بدني تنبه پر ځای له بل ډول چلند څخه استفاده وکړو؟
ــ څه ډول کولای شو چې د وخت په تيريدو سره د نويو نسلونو د روزنې په برخه کې په خپلو چلندونو کې بدلون راولو؟
او...
په پاسني ياد کتاب کې، له ماشومانو او کوچنيانو سره د تاوتريخوالي په باب دا او دې ته ورته نورې څېړنې شوې دي، خو په چا يې لولي او څوک به يې په هغې ټولنې کې تطبيق کړي؟



که څوک هیله لري چې دا ښېنې ته اړایستل شوې جلې
به په دې ډول کار کې سبا هم صحت ولري
او هم سواد، نه دا اشتباه ده!

زموږ په ټولنه او زموږ په هیواد کې له یوې سطحې او سر سري څېړنې څخه جوتیږي چې دا ځلوېښت کاله زموږ ماشومانو او کوچنیانو ته او زموږ بچو ته له ټولو نه مخکې دوه شیان په غوږونو کې ور پو شوي دي
:
و وژنه، یا وژل کیږي.
دا نه دي ور ته ویل شوي چې:
چې ولوله، زده کړه او ژوند وکړه.
که چیرې مشران خپل نظریات پرماشومانو ور تپي او په زوره یې ور باندې مني، دا خپله د تاتریخوالي یوه بڼه ده، ماشومان باید فکر کولو ته و هڅول شي، دې ته اړ ایستل نه شي چې د خپلو مشرانو باورونه دې حتماً ومني. له تاو تریخوالي نه لرې کیدل او په ژوند باندې باور او له ژوند سره مینه.
زموږ په ټولنه کې، زموږ په ښونځي کې، زموږ په کلي او کوڅه کې او په پای کې زموږ په کورنیو کې له ماشوم او کوچني سره د تاوتریخوالي تریخ حقیقت شته دی، اوس نو باید پر دې فکر وکړو چې لومړی د دې روان تاوتریخوالي مخه څه ډول ونیول شي او په دویم پړاو کې ځنګه کولای شو چې ماشوم او کوچني ته داسې چاپېریال برابر کړو چې په هغوی کې د تاوتریخوالی زړی هیڅ و نه کرل شي.

زه فکر کوم چې د دې پیل به د ماشوم او کوچني له کورني چاپېریال نه کیږي چې په مېندو پلرونو او یا د کورنۍ په نورو مشرانو پورې اړه لري او دا نیغ په نیغه د کورنیو د مشرانو د زدکړو، سواد او پوهې په کچه پورې اړه لري؛ نو دلته دی چې د سواد، مطالعې، زدکړې او پوهې مهم والی ثابتیږي او هر کله باید په لومړیتوبونو کې وشمیرل شي.
که په یوه کورنۍ کې مور پلار یا نور مشران، ماشومانو او کوچنیانو ته داسې چاپېریال برابر کړي چې په هغه کې د تاوتریخوالي نښې هم نه وي، ډېره به ښه وي. د ساري په توګه:
مشران خپله باید د کشرانو په مخ کې له لفظي او فزیکي تاوتریخوالي نه ډډه وکړي، په تلویزیون کې دې د هغو پروګرامونو او فلمونو د لیدلو دایره تنګه یا بیخي بنده کړي چې په هغو کې وهل ټکول او تاوتریخوالی زیات وي او حتی د هغو صحنو لیدل دې په تلویزیون کې یا بند یا محدود کړي چې په هغو کې وهل ټکول او تاوتریخوالی او غچ اخستل په براﻻ ډول ښودل کیږي، د هغو کتابونو او مضامینو لوستل دې هم تر ډېرې اندازې یا بند یا محدود کړي چې د تاوترخوالي ښکاره او یا پټې نښې په کې موجودې وي، که ماشومان او کوچنیان د دغسې فلمونو یا پروګرامونو ځینې صحنې په تصادفي ډول وګوري، باید کشرانو ته، مېندې پلرونه او یا د کورنۍ نور مشران د هغو په باب ﻻزمي څرګندونې وکړي او دا ورته و وایې چې د ستونزو د حل ﻻر تاوتریخوالی نه، بلکې خبرې دي.
زموږ په ټولنه کې داسې نه لیدونکی تاوتریخوالی هم شته چې د همدې مشرانو له خوا رامنځ ته شوی دی او تر ټولو زیات او په لومړي ګام کې یې ناوړه اغیز پر ماشوانو او کوچنیانو باندې پریوزي چې ښه بیلګه یې د چاپېریال د ککړتیا مسأله ده. د چاپېریال ککړتیا یوازې د خوسا شیانو ډېر والی، د هوا ککړتیا نه راځي، بلکې ځینې کارپوهان د چاپېریال ککړ تیا په درېو برخو ویشي:

ــ د هوا ککړتیا،

ــ نوري ککړتیا،

ــ غریزه ککړتیا.

زموږ په ټولنه کې یې نوري او غریزي ککړتیا ته د چا پام هم نه دی اوس حتی د چاپېریال ککړتیا ته، چې بیلابیل عوامل او ډولونه لري، هم چنداني څوک پاملرنه نه کوي.
د ملګرو ملتونو د ماشومانو د صندوق(یونیسف) په یوه نوي راپور کې ویل شوي دي چې په ټوله نړۍ کې د درې سوه میلیونه په شاو خوا کې ماشومان د ککړې هوا د تنفس له جدي ستونزې سره مخ دي او کیدای شي چې له ډېرو سترو ستونزو سره مخ شي او د دوی مخ پر ودې مغزو ته صدمه ورسوي.
او زه ډاډه یم چې زموږ په ټولنه کې د دې ماشومانو ــ چې د ککړې هوا د تنفس له جدي ستونزې سره مخ دي ــ د شته والي سلنه د نورو ټولنو او هیوادونو په پرتله څو، څو ځلې ډېره ده.
ټول افغانستان، په تیره ماشومان او کوچنیان د تاوتریخوالي له سونامي سره مخ وو او اوس هم ور سره ﻻس ګریوان دي، په همدې دلیل زموږ ټولنه، په تیره ماشومان او کوچنیان ډېرې څارنې او پاملرنې ته اړتیا لري. که د اوسني نسل مشران ماشومانو او کوچنیانو ته د تاوتریخوالي په پایله کې د رسیدلو ټپونو او دردونو درملنه په علمي او رواني ډول نه شي کولای، دومره خو باید وشي چې اوسنی روان تاوتریخوالی ودروو او که هیڅ نه شو کولای، د همدې روان تاوتریخوالي پرضد خپل غږ پورته کړو او که آرام او غلي ﻻس تر زنې کینو، نو...

زموږ ټولنه، زموږ خلک او زموږ د څو نسلونو زړه او ماغزه د جګړې په لوګیو او کرکې لړل شوي دي، هغه نا دودې چې له دوی سره شوي دي، د هغو په وجه دوی له عقدو او کرکې سره

یو ځای زیږېدلي، د همدې ستونزو په لومو او دایره کې را لوی شوي دي، له همدې رواني ستونزو سره یې ژوند کړی دی او اوس هم ور سره لاس گریوان دي. دا د ټولو لوستو او په تیره سیاسیونو او قلموالو ستره دنده ده چې د دې ستونزو په حلولو او له منځه وړلو کې، له خپلو ټولو امکاناتو نه په استفادې سره، په ډېر زړه سوي خپلې وروستۍ هلې ځلې تر سره کړي او په دې باب عملي یو څه تر سره کړي.
موږ باید په دې باب جدي فکر وکړو چې د بېلابېلو ښونیزو او روزنیزو پروگرامو له لارې، په تیره د ادبیاتو له هنر نه په استفادې سره، یا د ادبیاتو د هنر په وسیله، چې له عاطفي پلوه ښه غني دی، د خلکو له زړونو او ذهنونو څخه د بې باورۍ، کینې، جگړې او کرکې لوگی، زړې او زیښې را وباسو او په ځای یې د مینې، عاطفې او باور گلان وکرو.
موږ باید جدي هوډ او اقدام وکړو چې ښکلې کولای شو د ادبیاتو د هنر په وسیله له ماشومانو او کوچنیانو سره د روان تاو تریخوالي مخه ونیسو او په ځای یې علمي او محبت آمیزه چلند غوره کړو، دا علمي چلند په یوه ټولمنلي قانون باندې بدل کړو او په دې ډول د خپلې راتلونکې د بربادۍ او سوځېدو مخه ونیسو.



له نن څخه شاو خوا پنځه میاشتې وړاندې ما د دې لړۍ په لومړۍ برخه (له ماشومانو او کوچنیانو سره
د تاوتریخوالي ستونزه، لومړۍ برخه) کې، د ماشومانو او کوچنیانو د روزنې او زدکړو په برخه کې، د کوچنیانو ادبیاتو ته د پاملرنې نه مخکې، یوې بلې موضوع ته داسې اشاره کړې وه:

«زه فکر کوم چې د ماشومانو او کوچنیانو د روزلو په پروسه کې د دوی د ادبیاتو له رامنځ ته کولو او غني کولو نه مخکې باید د هغه تاو تریخوالي مخه ونیول شي چې زموږ د ټولنې

ماشومان او کوچنیان ور سره مخ دي. د کور له چاپېریال نه نیولې تر کوڅې، له کوڅې نیولې تر وړکتون (که وي)، له وړکتون نیولې تر ښوونځي او له ښوونځي نیولې بیا تر ټولنې پورې. زموږ په ټولنه کې د ماشومانو او کوچنیانو پر ضد تاوتریخوالی د یوې داسې نه لیدونکې سونامي حیثیت لري چې زموږ د ټولنې په یوې محسوسې اوعینې ستونزې بدله شوې ده او دا سونامي هر نسل، هره لسیزه، هر کال، هره میاشت هره اونۍ، هره ورځ، هر ساعت، هره دقیقه او هره شیبه د سل ګونو او زرګونو ماشومانو او کوچنیانو اوسنی او راتلونکی ژوند ځپي او د تباهۍ کندې ته یې سر له اوسه ور پورې وهي.»

ښکه چې ما د دې مقالو په تیرو برخو کې هم له ماشومانو او کوچنیانو سره د تاوتریخوالي پر ډولونو خبرې کړې وې، په هغو ډولونو کې یې یو ډول چې زموږ په ټولنه کې یا د چا ور ته پام نه دی او که د یو نیم ور ته پام هم وي، دومره په جدي سترګه نه ور ته ګوري، د ټولنې ډېره سلنه خلک یوازې له ماشومانو او کوچنیانو سره د جنسي تاو تریخوالي په باب فکر کوي، او د ماشومانو او کوچنیانو روحي زوروني ته یا د چا پام نه دی او که وي هم دومره یې مهمه نه ګڼي.

په افغانستان کې که هر ولایت، هر ښار، هر کلی او یا هر کور په نظر کې ونیول شي او تر څیړنې لاندې ونیول شي، هلته به له ماشوم سره د تاوتریخوالي یوه نه، بلکې ډېرې بیلګې ولیدل شي. د ماشومانو او کوچنیانو روحي زورونه سره له دې چې د تاوتریخوالي د نورو ډولونو په پرتله لوړه سلنه لري، خو د چا ور ته پام نه دی. نه اړوندې ادارې سر پسې ګرځوي او نه هم د کورنیو ور ته پام دی، په داسې حال کې ښایي د روحي زوروني او تاوتریخوالي پایلې، د تاوتریخوالي له نورو ډولونو نه خطرناکې وي او په نتیجه کې ماشومان او کوچنیان هم له رواني پلوه او هم له صحي او فزیکي پلوه د تباهۍ کندې ته ور پورې وهي.

د امریکا د کلفورنیا په پوهنتون کې د اروا پوهنې یوه څیړونکې په دې برخه کې داسې وایي: «د ماشوم زروزنې ډېره برخه، ماشومانو ته د عاطفي نه پاملرنې زیږنده ده، چې په بیلابیلو ډولونو تر سره کیږي. لکه:

ـ روغتیایي لارښوونو ته نه پاملرنه،

ـ لوږه یا خوراکي توکو ته د ماشومانو او کوچنیانو نه لاسرسی،

ـ د ماشوم او کوچني جسمي او روحي ودې ته نه پاملرنه،

ـ ماشوم او کوچني ته داسې نه پاملرنه چې هغه له مخدره توکو سره د روږدي کیدو پولې ته ورسیږي،

ـ د ماشوم او کوچني زدکړو ته نه پاملرنه...»

ښکه چې ما مخکې هم یادونه کړې وه، اوس بیا هم ټینګار کوم چې که په ماشومانو او کوچنیانو کې د تاوتریخوالي ریښې لټول کیږي، لومړی باید له کورنۍ څخه راپیل شي، ځکه چې له ماشومانو او کوچنیانو سره د تاوتریخوالي د ډیرو برخو سر چینه کورنۍ ده، په تیره د رواني او فزیکي تاوتریخوالي ریښې. مثلاً په کورنیو کې ماشومانو او کوچنیانو ته د میندو او پلرونو عاطفي نه پاملرنه، له ورو سره رواني تاوتریخوالی دی چې په راتلونکي ژوند کې هغوی له رنګارنګ ستونزو مخکې کولای شي.

له هغو ماشومانو او کوچنیانو سره چې میندو پلرونو عاطفي بې توجهي کړې وي، هغوی تل ګوشه نشینه وي او له خپلو همځلو او ټولنې نه ځان لرې ساتي، کله چې دا ډول ماشومان له ټولنې او همځولو نه لرې وي، د هغوی پر بدني او عصبي ودې باندې منفي اثرات پرېښودای شي او په پای کې یو معیوب انسان ور نه جوړېدای شي.
زه یې بیا په تکرار سره وایم چې: ټول افغانستان، په تیره ماشومان او کوچنیان د تاوتریخوالي له سونامي سره مخ وو او اوس هم ور سره لاس ګرېوان دي، په همدې دلیل زموږ ټولنه، په تیره ماشومان او کوچنیان ډېرې څارنې او پاملرنې ته اړتیا لري. که د اوسنې نسل مشران، ماشومانو او کوچنیانو ته د تاوتریخوالي په پایله کې د رسیدلو ټپونو او دردونو درملنه په علمي او رواني ډول نه شي کوالی، دومره خو باید وشي چې اوسنی روان تاوتریخوالی ودروي او که هیڅ نه شو کوالی، د همدې روان تاوتریخوالي پرضد خپل غږ پورته کړو او که آرام او غلي لاس تر زنې کینو، نو...

زموږ ټولنه، زموږ خلک او زموږ د څو نسلونو زړه او ماغزه د جګړې په لوګیو او د کرکې په زهرو لړل شوي دي، هغه نا دودې چې له دوی سره شوي دي، د هغو په وجه دوی له عقدو او کرکې سره یو ځای زیږېدلي، د همدې ستونزو په لومو او دایره کې را لوی شوي دي، له همدې رواني ستونزو سره یې ژوند کړی دی او اوس هم ور سره لاس ګرېوان دي.
دا د ټولو لوستو او په تیره سیاسیونو او قلموالو ستره دنده ده چې د دې ستونزو په حلولو او له منځه وړلو کې، له خپلو ټولو امکاناتو نه په استفادې سره، په ډېر زړه سوي خپلې وروستۍ هلې ځلې تر سره کړي او په دې باب عملي یو څه تر سره کړي.



د ماشوم د حقونو په رڼا کې،
که د افغانستان ټولنه، په ټول کې
و ارزول شي، داسې باید و ویل شي
چې زموږ ټولنه د ماشومانو او کوچنیانو له
پاره د مخکې پر مخ د یوه ریښتیني دوزخ حیثیت لري.

تاوتریخوالی، په تیره له ماشومانو او کوچنیانو سره تاوتریخوالی په ټوله نړۍ کې یوه منفي پدیده ده، په بدو یادیږي، خو بیا هم دا عمل په نړیواله کچه شته او په تیره زموږ په ټولنه کې داسې برید ته رسیدلی دی چې یوازې د یوې ستړې غمیزې نوم ښه صدق ور باندې کولای شي.

له ماشومانو او کوچنیانو سره تاوتریخوالی اوس څه په نړیواله سطحه او څه زموږ د وطن او ټولنې په کچه کومه نا آشنا پدیده نه، بلکې ډیری یې پیژني او په دې هم یا لږ یا ډیر پوهیږي چې له ماشومانو او کوچنیانو سره د تاوتریخوالي عمل یو منفي عمل دی، خو بیا هم په بیلابیلو ډولولونو تر سره کیږي، د منفي پایلو په باب یې لږ کسان پوهیږي چې څومره ورانونکي څپې لري. همدا اوس که په ټولنه کې د ډیری نا خوالو رواني ریښې را وسپړل شي، مالومه به شي چې ریښې یې په هغه تاوتریخوالي کې نغښتې دي، چې په کوچنیوالي کې له ماشومانو او کوچنیانو سره شوي دي.

له ماشومانو او کوچنیانو سره د تاوتریخوالي ډیره سلنه د لویانو په هغو نه پاملرنو کې ریښې لرلای شي چې له وړو سره په بیلابیلو بڼو تر سره شوي دي. ماشومانو او کوچنیانو ته نه پاملرنه په هره برخه کې، په هره بڼه چې وي، او په هر حالت کې چې وي، نا سم، غیر عاطفي او منفي کار دی، خو په دغو لاندو برخو کې نه پاملرنه د ماشوم او کوچني په راتلونکي ژوند کې ژورې منفي اغیزې درلودلای شي:

ـ د ماشوم او کوچني صحي مسایلو ته نه پاملرنه،
ـ له خوراکي توکو نه د ماشومانو او کوچنیانو بې برخې کیدل یا بې برخې کول،

ـ د ماشوم او کوچني جسمي او روحي ودې ته نه پاملرنه،

ـ ماشوم او کوچنی په داسې حالت کې پریښودل او هغه ته نه پاملرنه چې هغه دې مخدره توکو ته لاسرسی پیدا کړي او د هغو د مضراتو د خطر په دایره کې راګیر شي،

ـ دغه راز له ټولو نه مهمه دا چې ماشوم او کوچني ته دومره نه پاملرنه او په داسې چاپیریال کې یې ساتنه او لویونه چې هغه دې له زدکړو محروم او لرې پاتې شي.

هغه ماشومان او کوچنیان چې په کورنۍ کې دننه او یا له کورنۍ نه د باندې، له جسمي او روحي پلوه د لویانو د نه پاملرنې په دایره کې را ایساریږي، هغوی په خپل راتلونکي ژوند کې له بیلابیلو روحي او جسمي نا خوالو سره مخ وي، په کورنۍ او ټولنه کې ډیر منزوي، وي او له خپلو همځولو او د کورنۍ له غړو سره یې اړیکې ډیرې لږې او کمزورې وي او دغه حالت د دغسې ماشومانو او کوچنیانو پر رواني روغتیا او د اعصابو پر ښه والي ډیره نا وړه اغیزه کولای شي.

دغه راز که ماشوم او کوچنی په کوچنيوالي کې د نورو محروميتونو د منفي اغيز ترڅنګ د جنسي تاوتريخوالي مزه هم څکلي وي، نو د هغه راتلونکی شخصيت له رواني او عاطفي پلوه دومره تاواني کيږي، چې رغول يې ستونزمن نه، بلکې ناشوني وي. حتی که په کورنۍ کې د ننه د يادو ناخوالو ځخه کومه يوه موجوده وي او په څوځلي د ماشوم او کوچني په مخ کې تکرار شي، د ماشوم په شخصيت باندې دومره نا وړه اغيز کوي، تر دې بريده چې د هغه رواني او عاطفي نړۍ به د هغه په راتلونکي ژوند کې له رواني ټپونو ځخه ډکه وي.

زموږ په ټولنه کې رواني عملي او عيني ستونزو دا ثابته کړې ده چې په کوچنيانو کې سترس، عاطفي او رواني ستونزې، په نيغه د ماشوم زورني، وهلو ټکولو سره ژورې ريښې لري. په کورنۍ کې دننه د لويانو په منځ کې هر ډول ستونزې چې رامنځ ته کيږي، بايد هڅه وشي چې ماشومان او کوچنيان له هغو ځخه لرې وساتل شي. په دې چې له لويانو نه ډير ژر ماشومان او کوچنيان هغه منفي کړه وړه اغيزمن کولای شي. د ساري په ډول په يوې کورنۍ د کوم مشر نا روغه کيدل، مړينه، د ښځې او ميړه په منځ کې د ګډ ژوند ستونزې او...

که د مشرانو له لوري د داسې ستونزو د رامنځ ته کيدو په وخت کې که په علمي ډول د ماشومانو او کوچنيانو جسمي او رواني مسايلو ته پاملره و نه شي او هغوی د دې ستونزو د منفي څپو په دايره کې واقع کړای شي، دا ماشومانو او کوچنيانو ته د نه پاملرنې لوی ډولونه دي او پايلې به يې ژر يا وروسته نه يوازې د کورنۍ ماشوم او کوچني ته منفي او ورانونکې وي، بلکې د کورنۍ د ټولو غړو له پاره به منفي نتايج ولري.

زموږ په ټولنه کې تجربو په وار، وار ښوولې ده چې هغه کورنۍ او مينديې پلرونه چې له فقر سره لاس ګريوان وي، ډير سترس لري او تل پريشانه او خوا بدې وي؛ دوی تل خپلو بچو ته پوره پاملرنه، نه شي کولای، نو هماغه ده چې ماشوم او کوچنی له ډيرو عاطفي او جسمي ښيګڼو محروم او د رواني او جسمي کړاوونو زمينه ور ته برابريږي چې دا خپله له ماشومانو او کوچنيانو سره د تاوتريخوالي يو ډول شميرل کيږي. هغه کوچنيان چې په کم سن کې له داسې حالاتو سره مخ وي، په لويوالي کې په رواني او جسمي ستونزو د اخته کيدو ښه زمينه ور ته برابريدی شي.

له هغه چا سره چې په کوچنيوالي کې ډير تاوتريخوالی شوی وي او د همدې تاوتريخوالي سره يو ځای لوی شوی وي، په لويوالي کې هغوی خپله د رنګارنګ تاوترخوالي مسببين کيدای شي، ځکه چې د تاوتريخوالي رنګارنګ بيلګې دوی له ماشومولي نه د خپل ذهن په تاخانو کې ساتلې وي، پر دوی دغه منفي تجربې عملي شوې وي، ځکه يې په لويوالي کې بيرته پر بل نسل يا نورو ماشومانو باندې تطبيقوي.

زموږ په ټولنه کې په سلهاوو لا زرهاوو ځلې د کم سن د ودونو بيلګې ليدل شوې دي او همدا اوس هم دا غميزه روانه ده. تجربو ثابته کړې ده چې د لږ سن درلودونکي مينديې پلرونه، په تيره کم سنه ميندې، چې زموږ په ټولنه کې يې بيلګې ډيرې دي، د تاکلي تجربې د نه درلودلو او د ټاکلو شيانو د نه پوهيدنې په صورت کې خپلو بچيانو ته پوره څه چې، لږه پاملرنه هم نه شي کولای، نو هماغه ده چې پر ماشوم او کوچني باندې رنګارنګ ستونزې غالبيږي او همدا نه پاملرنه هغوی له ډيرو ستونزو سره مخامخ کولای شي، نو ځکه ماشوم او کوچني ته د کم سنه ميندو پلرونه نه پاملرنه په خپله د تاو تريخوالي يو ورانونکی ډول دی چې د ماشوم او کوچني جسمي او رواني روغتيا ته ژور ټپونه ورکولای شي.

دغه راز زموږ په ټولنه کې تجربو دا هم ښوولې ده چې د ماشومانو او کوچنیانو د پاملرنې او نه پاملرنې په برخه کې، د بې سواده میندو پلرونو او باسواده میندو پلرونو د چلن په منځ کې لوی توپیر لیدل کیږي. دغه راز د لږ تحصیل درلودونکي میندې پلرونو او د ډیرو زدکړو خاوند میندې او پلرونو د چلندونو په منځ کې لوی توپیر موجود وي. تجربو ښولې ده چې د باسواده او لوړو زدکړو درلودونکې میندې پلرونو توجه ماشومانو او کوچنیانو ته ډیره وي او له هغو سره د چلن په ځرنګوالي باندې هم ښه پوهیږي او په نسبي ډول له بې سوادو میندو پلرونو نه ډیره پوهه لري چې باید ماشومانو او کوچنیانو ته څه ډول پاملرنه وشي.

دغه راز هغه ډله کوچنیان چې په نا امنه ټولنه کې زیږي، رالویږي او هره ورځ نا امني ګوري او پر خپل بدن او روان باندې یې تجربه کوي، هغوی په راتلونکي ژوند کې ډیر بې اعتباره او د نا امنی احساس کوي او د ډیر سترس درلودونکي وي. چې دا هم د ټولنیز تاوتریخوالي په تر ټولو خطرناکو ډولونو کې راتلای شي.

که همدا اوس د تاوتریخوالي په ترویج کې د ټولنې او رسنیو پر رول خبرې وکړو، ویلای شم چې له میندو پلرونو او له کورنیو نه د میډیا بیلابیل ډولونه د تاوتریخوالي په ترویج کې زښت ډیر رول لري. هره ورځ د جګړې خبر، د وژلو خبر، د چاودنو خبر د غلاوو او شکونو خبر او...

د ساري ډول چیرې چاودنه کیږي، مثلاً یو تلویزیون د خپل کانال او خپرونو د مهموالي او شهرت له پاره غواړي د همدې چاودنې خبر لومړی او ښه غوږ او څورب خپور کړي. په چاودنه کې پنځه مړه پنځه ځلوېښت ټپیان شوي وي، دوی نه وایي چې ۵ مړه او ۴۵ ټپیان دي، دوی وایي چې په چاودنه کې پنځوس تنو ته مرګ ژوبله واوښته. خلک نه پوهیږي چې څو مړه دي او څو ټپیان دي. چې دا په خپله په ټولنه کې د تاوتریخوالي د رواجولو سبب کیدای شي.
دغه راز تجربو ښوولې ده چې زموږ ډیری تلویزیوني کانالونه جنګي فلمونه خپروي، چې دا په خپله پر ماشومانو او کوچنیانو کې د تاوتریخوالی زړی کري. دلته ډیر مسولیت میندو پلرونو ته ور له غاړې دی چې ماشوم او کوچني ته د څه ډول پروګرامونو د لیدلو اجازه ورکړي او له کومو یې منع کړي.

په دې ډول لیدل کیږي چې زموږ په ټولنه کې ماشومان او کوچنیان له څلورو خواوو نه د تاوتریخوالي د سوځونکو لمبو په دایره کې را ګیر وي. په کورنی کې تاتریخوالی، په ښونځي کې وهل ټکول، په کوڅه کې زورول او تښتول، په ټولنه کې هر ډول تاوتریخوالی او په پای کې د میډیا له لوري د عاطفي او معلوماتي مسایلو پر ځای، جنګي فلمونه او جنګي خبرونه او ډیر ځلې په خپلو سترګو د چاوددنو او وژنو لیدل؛ دا هر څه تا تریخوالی دی.

په دغسې شرایطو کې باید لومړني مثبت ګامونه له فرد نه، له مور نه، له پلار نه، له میندو پلرونو نه را پیل شي او په مثبت ډول له کورنی نه د کار او ښوونځي او بیا په ټولنه کې رواج کړای شي او میډیا کې دی هم د مسلکي کسانو په ګمارلو سره د منفي شیانو د مخنیوي په خاطر هلي ځلي پیل شي.

ځنګه کولای شو چې له ماشومانو او کوچنیانو سره د جنسي تاوتریخوالي مخه ونیسو؟

له هر څه مخکې د دې خبرې یادول اړین ګڼم چې د نورو ټولنو او نورو خلکو په پرتله زموږ ټولنه او خلک په لږ نه، بلکې ډیر توپیر کې سره واقع دي. افغانان د ژوند په هره برخه کې له نورو سره په توپیر کې دي، حتی له خپلو ګاونډیانو سره؛ د همدې له پاره که پر تاوتریخوالي

خبرې کېږي هم د افغاني ټولنې د ځانګړنو په نظر کې نيولو سره بايد خبرې پرې وشي او که له ماشومانو او کوچنيانو سره د تاوتريخوالي پر لارو چارو هم څوک بحث کوي، بايد د افغاني ټولنې د ځانګړو رواجونو او نرخونو ته په کتو سره دا کار تر سره شي.

ټولې ميندې او ټول پلرونه په کورني چاپېريال کې دننه، بايد پرته له ستونزو نه هغه څه تر سره کړي چې له ماشومانو سره د جنسي تاوتريخوالي په مخنيوي کې ډېر اساسي رول لري.

هيڅ کله اړينه نه ده چې ميندې پلرونه دې فکر وکړي چې له لويو ستونزو سره مخ دي، دوی کولای شي په ډېرو ساده الفاظو سره ماشومان پوه کړي چې په ورځنی ژوند کې بايد څه وکړي او له خپلو مشرانو سره څه ډول چلن وکړي، خو د دې زمينه مساعده نه شي چې د ماشومانو او مشرانو اړيکې دې د خړپړتيا تر بريده ورسيږي، البته هغه ميندې پلرونه چې سواد لري او د لوړو زدکړو خاوندان دي او د معلوماتو کچه يې لوړه ده، په دې کار کې به ډېر بريالي وي. دوی کولای شي له خپلو لوستل شوو او لاس لرلو معلوماتو نه په استفادې سره، هر کله ماشوم ته تاکلې او ځانګړې لارښوني وکړي.

دا ډېره اړينه ده چې ماشوم پوه کړای شي چې دوی خوندي دي او په امن چاپېريال کې ژوند لري، او د دې مفهوم ليږدول او ماشوم ته يې ويل په يوه وار نه کېږي، بايد د ورځني ژوند په لړ کې څو ځلې ورته و ويل شي او پوه کړای شي.

دا په ياد ولرئ چې که ماشوم د دې خبرو د اوريدو يا پوهيدو له پاره چمتو نه وي، ډېر ټينګار کول هم ښه نه دي، حتی ميندې پلرونه کولای شي چې له خبرو نه سوا د ځينو لوبو په ترڅ کې هم دا موضوعات ورته بيا، بيا و وايي او له دې وړاندې په هر ډول چې ماشوم او کوچنی ځان آرامه احساسوي، په هغه ډول او هغه حالت کې دې ور ته و ويل شي.
د دې له پاره چې له جنسي پلوه ماشوم د امنيت او خونديتوب احساس وکړي، بايد ميندې پلرونه يې پوه کړي چې د لمبلو په وخت کې مور يا پلار او د صحي معايناتو په وخت کې ډاکټر حق لري چې د ماشومانو په بدن لاس و وهي، خو شرط به يې دا وي چې مخکې له مخکې ماشوم په دې کار خبر کړي او اجازه ور نه وغوښتل شي، د ماشوم له اجازې پرته هيڅ څوک حق نه لري چې د ماشوم بدن لمس کړي، په داسې مواردو کې ماشوم د «نه» ويلو حق هم لري.

د ميندو پلرونو دنده ده چې ماشوم ته د «نه» ويل ور زده کړي، «نه» ويل د ماشوم حق دی، څو چې د يوه کار کولو ته ماشوم ذهناً چمتو نه وي، په جبر او زور ورباندې د څه منل سم او علمي کار نه دی. زموږ په ټولنه کې ښايي داسې و انګيرل شي چې: هر هغه ماشوم چې «نه» وايي بې تربيه او بد ماشوم دی، په داسې حال کې چې د متمدنو او پرمختللو ټولنو مثبتو تجربو دا ثابته کړې ده چې ميندې او پلرونه بايد ماشوم ته په ځينو مواردو کې د «نه» ويل ورزده کړي. «نه» ويل د ماشوم حق دی. که څوک په ماشوم د جنسي تيرې تکل وکړي او ماشوم «نه» ورته و وايي، دا څه بدې لري؟ په دې ډول ماشوم دا زده کوي چې د خپل بدن او د خپلو احساساتو اختيار په خپله لري.

ميندې او پلرونه دا بايد ماشوم ته ور زده کړي چې راز بايد راز پاتې نه شي، هر هغه څه چې دی رنځوي او د راز په ډول يې ذهناً په عذابوي، بايد خپلو ميندو او خپلو پلرونو ته يې و وايي. ميندې او پلرونه بايد په دې پوه شي چې د ماشوم زوروني تر ټولو اصلي عامل د رازونو پټول دي. ماشوم بايد په دې پوه کړای شي: هر هغه څه چې د ده په خوښه نه وي او د ده د آزار سبب کېږي، بايد پټ پاتې نه شي.

ماشوم باید پوه کړای شي چې که ډار، پریشاني او منفي احساسات د ده ګناه نه ده او د هغو ویل به دوی ته کومه ستونزه نه جوړوي. ماشوم باید پوه کړای شي چې داسې رازونه او ستونزې له میندو پلرونه نه علاوه، دوی کولای شي له خپلو خویندو ورونو، نږدې کورنیو دوستانو، ښوونکو، روان پېژندونکو او ډاکترانو سره هم شریک کړي.
له مور پلار او ډاکتر نه پرته، هر چا چې د ماشوم د بدن د لمسولو تکل وکړ، ماشوم حق لري چې شکایت وکړي او د اعتماد وړ شخص ته راپور ورکړي او خپل شکایت ور ورسوي.

د ماشوم د بدن د لمسولو په برخه کې باید و ویل شي چې د ماشوم ډارول او تهدیدول هم جُرم ګڼل کیږي، خو له بده مرغه چې زموږ په ټولنه کې د یوه قوي حکومت او په دې برخه کې د یوه ټاکلي قانون د نشتوالي او د ماشوم د حقونو د نه مراعاتولو له کبله، ډېر ځلې د ډارولو او تهدید نه په استفادې سره د ماشومانو حقونه تر پښو لاندې شوي دي او حتی د همدې ډارولو او تهدید نه په اسفادې سره پر ماشومانو جنسي تیري هم شوي دي چې د ځینو شکایتونه او غږونه تر میډیا پورې هم رسیدلي دي.

لکه مخکې چې یادونه وشوه هغه حقونه چې ماشومان او کوچنیان په پرمختللو ټولنو کې لري، په افغانستان کې یې نه لري او که چیرې د کاغذ پر مخ لیکل شوي هم وي، ځوک یې نه مراعاتوي او نه ور پسې ګرځي. **د ماشوم د حقونو اړوند، که د افغانستان ټولنه، په ټول کې و ارزول شي، داسې باید و ویل شي چې زموږ ټولنه د ماشومانو او کوچنیانو له پاره د مځکې پر مخ د یوه ریښتیني دوزخ حیثیت لري.**

د تاوتریخوالي له ډولونو څخه هر ډول چې تاسو را واخلئ او دا ماشومان په کې و ارزوئ، لیدل کیږي چې د زیږیدو له ورځې چې د دوی حقونه تر پښو لاندې کیږي بیا تر پایه چې دوی د ماشومتوب له نړۍ نه د لویانو د ژوند دایرې ښنه ور ږدي، حقونه یې نه مراعاتیږي.

له بده شامته زموږ د ټولنې جوړښت او روابط له هره اړخه چې وڅیړل شي د اوس له پاره داسې راغلي یا داسې عیار شوي دي چې : پرته له دې چې د ټولنې وکړي پوه شي، د ماشوم زوروني شرایط په کې برابر کړای شوي دي. د ملګرو ملتونونو د روغتیایی سازمان **(WHO)** د تعریف له مخې: «ماشوم زوروونه هر هغه عمل یا نظر ته ویل کیږي چې د ماشوم وجود ته، د ماشوم روغتیا ته، د ماشوم روان ته او د ماشوم نیکمرغۍ ته د تهدید یا ضرر رسولو بنه ولري چې لومړني او اصلي عاملین یې میندې پلرونه او مسؤل کسان ګڼل کیږي.»

پرته له شکه چې که په افغانستان کې د هرې برخې د وراني دلایل او ریښې ولټول شي، پره یې پر جګړې او د جګړې پر دوام باندې ور اچول کیږي، له هغو نه یو هم د ماشومانو د حقونو تر پښو لاندې کیدل او له ماشومانو سره تاتریخوال؛ خو له پیل نه بیا تر نن پورې هیڅ چا و نه ویل چې:

**ـ دا جګړه چا پیل کړه؟**

**ـ دا جګړه یې ولې پیل کړه؟**

**ـ دا جګړه ولې نه بندیږي؟**

**ـ دڅوک او کوم دلایل د جګړې د دوام سبب دي او ولې؟**

ټول هغه کسان، ګوندونه، تنظیمونه او ډلې ټپلې چې یو بل ته د پره ګوته نیسي، په خپله د جګړې عاملین او د نورو نا روا کارونو تر څنګ د ماشومانو د حقونو تر پښو لاندې کونکي دي. د جنګي ډلو ټپلو په رسمي او غیر رسمي قوانینو کې د ماشوم حقونه هیڅ ډول تعریف او رسمیت نه لري.

هغه عوامل چې زموږ په ټولنه کې د ماشوم زوروني اصلي لاملونه دي، هغه هم له جګړې او جګړه ایزو شرایطو پورې تړل کیږي. د روان پیژندني کارپوه ښاغلی جعفر احمدی وایي: په افغانستان کې ماشوم زوروونه دوه سببونه یا عوامل لري: ټولنیزې ستونزې او د میندو پلرونو د وضعیت خرنګوال.

په عام ډول د هرې ستونزې لکۍ په جګړو پورې نښلول کیږي. همدا اوس په افغانستان کې ګڼ شمیر ماشومان او کوچنیانو د جګړې په پایله کې خپل میندې او پلرونه له لاسه ورکړي دي، دا خپله له ماشومانو او کوچنیانو سره د ناوتریخوالي هغه ډول دی چې له ناورین نه هم اوښتي ده چې د همدې ماشومانو او کوچنیانو ټول ژوند یې ور برباد کړی دی.د افغغانسان رسمي منابع د هغو ماشومانو شمیر چې د جګړې له کبله بې پلاره شوي دي درې سوه زره ښيي. په دې برخه کې دا د وروستي ګزارش لنډیز دی:

«د افغانستان د کار او ټولنیزو چارو وزارت وایي په دغه هېواد کې نژدې ۳۰۰ زره ماشومان بې سرپرسته دي. په دوی کې یوازې څلور سلنو ته دولتي او خصوصي پالنځایونه یا روزنځایونه شته.
اوس چارواکي وایي غواړي د افغانستان په څلورو زونونو کې نوي پالنځایونه جوړوي.»

خو زه فکر کوم چې دا دحل لار نه ده، د حل د لارې لومړی ګام د جګړې درول او د ماشوم د حقونو ته په درنه سترګه کتل او مراعاتول دي.

ښاغلی احمدي د ټولنیزو ستونزو په ډله کې اقتصادي فقر او فرهنګي ستونزو ته، په علمي او مستندو دلایلو سره اشاره کوي او دا شیي چې له اقتصادي فقر نه را پیدا شوې ستونزې څنګه یو ماشوم ته په ورځني ژوند کې د دې زمینه باربروي چې د ده حقونه دې تر پښو لاندې شي، پر ده دې د جنسي تیري زمینه برابره شي او...

اوس ټول څیړونکي او د ماشوم د حقونو مدافعین او پلویان په دې پوهیږي او عیني شواهدو هم دا ښوولې ده چې زموږ په ټولنه کې د ټوپکي واکدارۍ په حاکمیدو سره ځینو داسې نا منلي او نا وړه دودونه تقریباً د یوه قانون بڼه غوره کړې ده، چې د نړۍ په هیڅ ځای او هیڅ واکدارۍ کې یې سارۍ نه شته، لکه «بچه بازي».

د روان پیژندني کارپوه ښاغلی جعفر احمدی د خپل جالب بحث په لړ کې زموږ په ټولنه کې د «بچه بازي» نا وړه دود ته داسې اشاره کړې ده:

«د افغانستان په ځینو سیمو کې بچه بازي په یوه دود باندې بدله شوې ده چې اصلي عاملین یې سیمه ایز زورواکان دي»

هغه څه چې د «بچه بازي» په ترڅ کې له ماشوم سره کیږي، که له علمي او رواني پلوه په ژوره توګه وڅیړل شي، په حقیقت کې په ژوندیني د تل له پاره د ماشوم د روان وژل دي، د دې

کارونو په پایله کې ماشوم ته دومره رواني صدمه رسیږي، چې د راتلونکي ژوند ټولې نا خوالې یې له همدې ستونزې نه سر چینه اخیستلای شي.
په افغانستان کې د ماشوم زوروني له پاره بل چاپیریال له کورنی نه د باندې د ښوونځي چاپیریال دی.

په افغانستان کې د ښونځي چاپیریال د پرمختللي نړۍ د ښونځیو له چاپیریال سره دومره توپیر لري چې هیڅ د مقایسې وړ نه دی. د افغنستان د ښونځیو په چاپیریال کې د نورو ګڼو ستونزو تر څنګ اصلي ستونزه د مسلکي او په خپلو رشتو باندې د پوهو او مسلکي ښونکو نه شتون دی، کله چې خپله ښونکي په څه پوه نه شي او ګڼط ستونزې ولري، څنګه کولای شي چې زده کونکي ته څه ور زده کړي. زده کونکي ماشومان د ژوند ډیره وخت د ښوونځي په چاپیریال کې تیروي او د ښونځي په چاپیریال کې له بده مرغه چې تر ښیګڼو بد ګڼې او منفي شیان ډیر دي لکه:

**ـ له ګڼو ستونزو ن**
**ـ له زده کونکو سره په بیلابیلو نومونو تبعیض،**
**ـ تحقیر او توهین،**
**ـ او له ټولو نه مهمه او خطر ناکه مسأله د ماشوم بدني تنبه ده.**

د افغانستان د ښونځیو په چاپیریال کې دا او دې ته ورته نورې ګڼې ستونزې د دې سبب کیږي چې د ماشومانو د جسمي او رواني زوروني له پاره زمینه برابره کړي چې په پایله کې یې له ماشومانو او کوچنیانو سره د تاوتریخوالي زمینه برابریږي چې د ټولو مسببین مشران دي.



زموږ په ټولنه کې اقتصادي فقر او فرهنګي فقر لاس سره یو کړی او له ماشومانو او کوچنیانو سره د تاوتریخوالي په برخه کې یې داسې غمیزه رامنځ ته کړې ده چې مخنیوی او اصلاح یې لویه حوصله او ډیر وخت ته اړتیا لري.

له ماشومانو او کوچنيانو سره د تاوتريخوالي په پايله کې د ماشوم او کوچني چغې او نارې لکه د اور لوګی پاس خيژي ، خو زموږ په ټولنه کې دغه نارې سورې مشران نه اوري، د تاوتريخوالی عاملين خو يې بيخي نه اوري، هيڅ څوک يې نه اوري، دا څکه چې زموږ په ټولنه کې، له ماشوم سره تاوتريخوالی تقريباً په يوه قانون بدل شوی دی او دا حالت اوس د يوې ستړې غميزې تر بريده پورې رسيدلی دی.

زموږ په هيواد افغانستان کې او په تيره بيا زموږ پر ټولنه باندې د ناوړه سنتي دودونو او رواجونو په سيورې کې، د ماشومانو او کوچنيانو د حقونو د تر پښو کولو زمينه ډيره ښه مساعده ده او د اشخاصو او کورنيو د آبرو د ساتلو په غرض، هغه څه چې په ماشومانو او کوچنيانو باندې، په تيره نجونو باندې کيږي؛ اصلا د هيڅ ډول تورو او جملاتو په چوکاټ کې نه شي تشريح کيدلای. د ننګ، غيرت، آب آبرو او... د ساتلو په غرض د ماشومانو او کوچنيانو ټول ژوند د بربادی سوځيدونکي اور ته اچول کيږي.

دا هغه خاموش تاوتريخوالی دی چې له کلونو او پيړيو پخوا زموږ پر ټولنه حاکم دی او دا اوسني نسلونه او چيز فهمه خلک که د دې دودونو د له منځه وړلو له پاره څه وکړي ښه تر ښه، که نه په کلونو او پيړيو به راتلونکي نسلونه هم په دې اور کې وسوځي.

د جګړې د قانون د حاکميت له کبله، په نجونو باندې د زورواکو د نه تيرې په خاطر؛ ډيرې کورنۍ حاضريږي چې خپلې نا بالغه لونې په ډير کم سن کې په ميړونو کړي او په اصطلاح؟ خپله آبرو په ځای کړي، دا چې هغه ماشومه يا نا بالغه نجلۍ ټول عمر ژوند په خپله نه، بلکې لکه مريی د نورو په خوښه تيروي، خير دی، مقصد دا چې د هغې د کورنۍ آبرو پر ځای وي. مانا دا چې له ماشومانو او کوچنيانو سره د تاوتريخوالي ډيره سلنه، پر ټولنه باندې د ناسمو او ناوړه دودونو د حاکميت له کبله او د همدې دودنو د سيورې په دايره کې تر سره کيږي.

زموږ په هيواد کې د يوه سالم او قوي حکومت د نشتوالي له کبله د هر ډول قانون مراعات او طرح ناشوني بريښي، څکه چې د ټوپکي واکدارۍ په رامنځ ته کيدو سره، په لومړي ګام کې د هر ډول قانون د ناکامی وجه همدا ټوپکيان دي او بيا هغه کسان دي چې د ميډيا په مخ کې د قانون او قانوني ژوند او کار چغې وهي، خو په عمل کې همدا د قانون رامنځ ته کونکي دي چې خپل وضعه کړي قوانين تر پښو لاندې کوي.

له ماشومانو او کوچنيانو سره د تاوتريخوالي د مخنيوي کار هغه وخت شونی دی چې په لومړي ګام کې په ټولنه کې د رايجو ناوړه دودونو او رواجونو ټولنيز بستر کې د دې دودونو ريښې وچې کړای شي. که دا نا وړه دودنونه بدل نه کړای شي، ډير نور نسلونه به هم د همدې بلاوو خوراک شي.

زموږ د ټولنې د هر قشر کور او ژوند ته چې ور نږدې شي، د ماشوم زوروونې او له ماشومانو او کوچنيانو سره د تاوتريخوالي يوه نه، خو ـ څو بيلګې هره ورځ لا هر ساعت ليدلای شئ. له نورو رواني مسايلو نه که ور تير شئ، د ماشوم او کوچني د بدني او جنسي زوروونې بيلګې مو په هر کور او هره کوڅه کې تر سترګو کيدای شي. حتی ماشوم او کوچني ته نه پاملرنه او له هغو سره يوه عادي بې تفاوتي د هغوی ټول ژوند ګډ وډ کولای شي. د ساري په ډول که پر يوې باکره نجلۍ جنسي تيری کيږي، تيری کونکی به خپله وحشيانه جنسي غريزه په ډيرو لنډو شيبو کې ارضا کړي، خو «غم دی د لالي پر سر»، اصلي صدمه هغې نجلۍ ته رسيږي او ټول عمر يې زوروي چې تيری ور باندې شوی وي. هغه نجلۍ بيا نه څوک په کورنۍ کې مني او نه يې له کورنۍ نه د باندې څوک قبولوي، که يې مني يا يې قبولوي، ښايی يوازې د جنسي استفادې له پاره يې وکاروي او بس او هغه څه چې له متضررې سره شوي وي، هغه يې د عمر تر پايه زوروي او لکه ديوال چې ښوره خوري او په پای کې ړنګوي، د همدې جنسي زورزونې او تاوتريخوالي خاطرات هغه متضرر انسان لکه ښوره خوري، روح او روان يې په عذابوي او په پای کې په فزيکي ډول هم له منځه وړي.

ځیني کورنۍ او یا ځیني میندې پلرونه د ماشومانو او کوچنیانو سره خپل کړی یا کیدونکی تاوتریخوالی د «تنبه» تر نامه لاندې توجي کوي، چي دا هم سم کار نه دی. تنبیه، وهل ټکول نه دي، تنبه جسمي زوروونه نه ده، تنبیه پرته له جسمي زوروني او وهلو ټکولو هم کیدای شي، مثلاً دا یو ډول تنبیه ده چي ماشوم ته و ویل شي چي: که دې داسي وکړل یاد ې داسي و نه کړل، نو بیا زه هغه وعده کړی کتاب یا پټلون نه در ته اخلم او یا په ورځ یا اونی کې چي تا ته یوه یا دوه یا لس روپۍ مور درکوې، هغه به در نه کړل شي.
په ځینو کورنیو کې د وهلو ټکولو په اثر له ماشوم او کوچني نه شین بانجان جوړ کړي، چي بیا و پوښتل شي چي ولې دې ماشوم یا کوچني په ډې ډول و واهه؟ بیا په هسکه غاړه وایي چي: تنبیه هم کله، کله ښه وي.
دلته دی چي له ماشومانو او کوچنیانو سره په چلن او یا تاوتریخوالي په کولو او نه کولو کې د میندو پلرونو او کورنیو د زدکړو کچه، مطالعه او د ماشوم روزني په باب د دوی مالومات څومره موثره واقع کیږي؟
زموږ د ټولني د زکړو او پوهې کچه تر دې اندازې ټيټه ده چي همدا اوس هم تر اتيا سلني ډيرې کورنۍ او مشران د ماشومانو او کوچنیانو د اصلاح له پاره د وهلو ټکولو او بدني تنبیه د نسخې پلویان دي او دوی په خپله دا نسخه پرخپلو ماشومانو او کوچنیانو باندی تطبیقوي.
څنګه چي زموږ په هیواد کې په دې برخه کې کوم قانون نه شته، که وي هم څوک یې نه تطبیقوي، د همدې ستونزو له کبله ټول هغه کسان چي له ماشومانو او کوچنیانو سره عملاً تاوتریخوال کوي، د معافیت د یوه غیر مریي قانون په دایره کې ځان امن احساسوي.
د همدې له پاره د دې برخي کار پوهان په دې نظر دي چي مخکي له دې چي څوک د اولاد خاوند شي باید له ماشومانو او کوچنیانو سره د اړیکو ساتلو او د هغوی د پالني او روزني په برخه کې ځیني کورسونه او درسونه تعقیب کړي، خو زموږ په ټولنه کې یې په چا؟ چیرې؟ او څنګه او په کومه بودجه باندې دا کار تر سره کوي؟
دلته «آبی تو له بی» ده، دلته میندي پلرونه ځان او ماشوم ته ډوډۍ نه شي پیدا کولای، کورسونه او دا نورې کیسې خو لا په ځای پریږده.
له ماشومانو او کوچنیانو سره د تاوتریخوالي د غمیزې دایره او لمن دومره پراخه ده چي هر څومره مزل په کې کوي، نه خلاصیدونکې ده او په تیره زموږ په ټولنه کې چي د دې غمیزې په سیمه کې سفر پیل کړل شي، په هر پل کې یې نوې غمیزې او نوې ننداري سره مخ کیدای شي.

جګړه او د تاوتریخوالي نور ډولونه به په ځانګړو ټولنو پورې اړه ولري، خو له ماشومانو او کوچنیانو سره تاوتریخوالی په ټوله نړۍ کې یوه عامه ستونزه ده، یوازې په دې توپیر چي د تاوتریخوالي درجه او ځرنګوالی به فرق کوي.
دا خبره سمه ده چي ماشوم زوروونه کومه نوې پدیده نه ده او په ځانګړو ټولنو پورې محدودیږي هم نه، خو د ټولني د جوړښت او په هغو کې د قوانینو موجودیت یا نشتوالی او بیا که قانون وي هغه څومره او څه ډول تطبیقیږي، هم د تاوتریخوالي په کچې او څرنوالي باندې تاثیر لرلای شي.

ډیر ځلي داسي هم شوي او کیږي چي میندي پلرونه د اولاد راوړلو پروګرام نه لري، خو ماشومداره کیږي او یا یې عمر او تجربه د دې مرسته نه ور سره کوي چي د نوي دنیا ته راغلي ماشوم پالنه او روزنه دې په سمه توګه وکړای شي، کله چي داسي میندي پلرونه نه شي کولای چي خپل ماشوم او کوچني ته په سمه توګه و رسیږي، دا په خپله له ماشوم او کوچني سره د تاو تریخوالي یو ډول دی.

په پرمختللو ټولنو کې دا یوه منل شوې او عامه خبره ده چې ماشوم دنیا ته راوړل یا ماشوم زیږول یوازې دا نه دي چې وې زیږوه او نور یې په دې ناسمه عقیده پریږده چې: «روزي یې خدای ور رسوي او وزن یې مځکه جګوي»

مخکې له دې چې ماشوم دنیا ته راوړل شي باید کورنۍ (میندې پلرونه) د نوي زیږیدلي ماشوم د جسمي او فکري ودې او روزنې له پاره ټاکلي امکانات او شرایط په نظر کې ونیسي.

ما د دې بحث په تیرو برخو کې له ماشومانو سره د تاوتریخوالي ځینو مهمو برخو ته اشاره وکړه او دا هم و ویل شول چې د تاوتریخوالي یو ډیر ظالمانه ډول چې د ماشومانو او کوچنیانو پر ټول عمر منفي اثر ایښودلای شي، هغه د کم سن ودونه دي او دا کار زموږ په ټولنه کې ښه په درز روان دی. سره له دې چې ټاکلي اړوند ارګانونه کله، کله د دې ستونزې په برخه کې خپل غږ جګوي او د ځینو تصویب شوو او نا تصویب شوو قوانینو یادونه هم کوي، خو دا قوانین څوک په چا تطبیق کړي؟

د ۲۰۱۶ کال په جولای کې د افغانستان د بشري حقونو خپلواک کمیسیون، په افغانستان کې د کم سنه ماشومانو د ودونو د ډیر والي په برخه کې خپل غږ اوچت کړ. په کابل کې د بي بي سي خبریال خوشحال تایب په هغه وخت کې دا موضوع د یوه رپوټ په ترڅ کې داسې څیړلې وه:

«د افغانستان د بشري حقونو خپلواک کمیسیون په وروستیو کلونو کې په دغه هېواد کې د ماشومانو ودونو د زیاتوالي په اړه خبرداری ورکړی دی.

د بشري حقونو خپلواک کمیسیون چارواکي په تیټ عمر کې د ودونو لامل جنګ جګړې، نا امني، د قانون نه پلي کېدل، بېوزلي او ناوړه دودونه په ګوته کوي.

ویل شوي د قربانیانو ډېرى يې نجونې دي.

د افغانستان د بشري حقونو کمیسیون وايي سیمه ییزو ادارو ته د رسېدلو شکایتونو پر بنسټ له تېرو څلورو کلونو راهیسې په تیټ عمر کې د نجونو او هلکانو ودونو د ښځینه قربانیانو شمېر شاوخوا ۷۰۰ ته رسېږي.

د چارواکو په وینا د دغه راز پېښو د قربانیانو شمېر تر دې ډېر زیات دی او په تېرو پنځلسو میاشتو کې ټولې ثبت شوې پېښې د کوچنیو نجونو په زور د ودولو په تړاو وې.

د افغانستان د بشري حقونو د خپلواک کمیسیون مشرې سیما سمر نن په کابل کې یوې خبري غونډې ته وویل د جنوبي آسیا د نورو هېوادونو په پرتله په افغانستان کې د ماشومانو جبري ودونو شمېر لوړ دی.

نوموړې وايي "په خواشینۍ سره ځینې وخت د ماشومانو حقونه د هغوی د نژدې کسانو لکه مور او پلار له خوا تر پښو لاندې کېږي. چې له هغې ډلې په زور د ماشومانو ودونه دي"

د اغلې سمر په وینا "دا د افغانستان په ګډون په جنوبي آسیا کې د بشري حقونو یوه ستونزمنه موضوع ده. خو په افغانستان کې د جنګ جګړو او تاوتریخوالي دود له امله دا قضیه تر بل هر ځایه ډېره ده". د ماشومانو حقونو د نړیوالو تړونونو له مخې په تیټ عمر کې د ماشومانو ودول د ماشومانو له حقونو څرګنده سرغړونه ده.

د افغانستان د مدني قانون له مخې په افغانستان کې د هلکانو لپاره د واده قانوني عمر ۱۸ کاله او د نجونو لپاره ۱۶ کاله ټاکل شوی دی. چې د افغانستان د بشري حقونو کمیسیون د مشرې په وینا د نجونو لپاره دا عمر ټاکل خپله "جنسي تبعیض" دی. او د دغه قانون د سمون غوښتنه یې وکړه.

د افغانستان د بشري حقونو کمیسیون وايي په ځینو برخو کې خپله د قانون جوړونکي قانون ماتوي.

دوی وايي په افغانستان کې د ورته پېښو ډېروالی د قانون منګولو ته د عاملینو نه سپارل دي.

دوی د افغانستان د پوهنې، لوړو زده کړو، ښځو چارو، اطلاعاتو او کلتور وزارتونو او عدلي او قضایي ادارو وغوښتل په دې برخه کې د خلکو د پوهاوي لپاره مرستې وکړي.»

په پاسني رپوټ کې ډیرو مهمو مسایلو ته اشاره شوې او مسولین یا مسولې ادارې هم په نښه شوې دي، خو وروسته له هغه وخته بیا تر نن پورې نه یوازې هیڅ چا یا هیڅ ادارې، هیڅ ډول

څه نه دي کړي، بلکې لیدل شوي دي او لیدل کیږي چې د ماشومانو او کوچنیانو سره د تاوتریخوالي په کچه او ډولونو کې نه یوازې کمی نه دی راغلی، بلکې ډیر شوي هم دي، خو د ځواب ویلو څوک نه شته.
زما یوه شاعر دوست، دعاطفي کلماتو په چوکاټ کې، له یوه کوچني سره شوی تاوتریخوالی انځور کړی دی او په پای کې یې ویلي دي چې له دې او دې ته ورته په زرګونو نورو کوچنیانو سره، د شوي تاوتریخوالي د ځواب څوک شته؟ البته چې نه.
د شاعر دوست توري په لاندې ډول دی:
«د هېلمند په ابمرجینسي روغتون کې مې د تیپانو پوښتنه کوله، ناڅاپه یې د دې ګلالي کټ ته ودرولم، ورلنډ سوم، ما ویل :

بچی څنګه یې؟

ماشوم خپلې رنځورې سترګې په سترګو کې راخښې کړې، شونډې یې مرې مرې شوې، هېڅ یې ونه ویل،
یوازې یې په ځیر، ځیر راته کتل .

د خولې پرشا وخوا یې د درد له لاسه پولې ولاړې وې، په ډېره خوارۍ لږ وځګروېده، خو سترګو یې هماغسې زما په سترګو کې ځوابونه لټول. په سترګو کې یې یوه پوښتنه دا وه :

کاکا زه یې ولې داسې کړم؟

دا پوښتنه به څوک ځواب کړي؟

د نړۍ کوم سیاستوال؟ د سیمې کوم استخبارات او د ماینونو جوړولو او خښولو کوم واستاکار؟
د هغې ورځې په سهار مې کڼ بې لاسو او بې پښو افغانان ولیدل، چې د بېرحمه دوښمن خښو کړیو ماینونو خوړلي وو، خو د دې ماشوم دردمنې سترګې بل ډول وې، دا سترګې حیرانې وې، یوه یوه کمزورې اوښکه په کې ډنډ وه، چې د راوتلو وس یې نه درلوده. د ماشوم شونډې رپېدې، خو هېڅ یې نه ویل، سترګو یې ماته کتل او همدا یوه پوښتنه یې کوله :

د څه لپاره یې داسې کړم؟

ولې؟

ما خو چاته هیڅ نه و ویلي؟

له ما سره د دې پوښتنو ځواب نه و، آیا له تاسو سره شته؟»

**زه یې بیا په تکرار سره وایم چې که پر ټولنه باندې د حاکمو ناوړه قوانینو مخنیوی و نه شي، دا قوانین ونه درول شي یا بدل کړای نه شي، نو به د نورو نا خوالو تر څنګ، له ماشومانو او کوچنیانو سره اوسنی تاوتریخوالی همداسې پسې روان وي او څو نسلونه به بیا، بیا د همدې ناوړه دودونو قرباني وي.**

# د ماشوم عاطفي وده او د کوچنیانو ادبیات

د قلموالو دنده ده چې د کوچنیانو ادبیانو له لارې په ماشوم او کوچني
کې د عاطفي د رامنځ ته کولو او روزلو مسألې ته جدي پاملرنه وکړي.

په یوه ټولنه کې چې یو نه، بلکې څو نسلونه یې د جګړې په دایره کې زیږیدلي وي، له جګړې سره لوي شوي وي او له جګړې ور پاتې ستونزو سره ټول عمر لاس و ګریوان وي، په داسې ټولنه او داسې خلکو کې ادبیات، او بیا د کوچنیانو ادبیات ډیر دروند او لوی مسولیت لري.
په جنګې سیمو کې د ماشومانو زیږیدل، لویدل او ژوند کول، او د جګړې نه د را زیږیدلي سترس په دایره کې ژوند کول، د هغوی عاطفي ودې ته تاوان رسوي، داسې ستونزې ور ته پیښوي چې یا به ډیرې اوږدې درملنې ته اړ وي او یا به له کنترولـه په وتلي بڼه د هغوی بیرته رغیدل نا ممکنه وي. له بده مرغه زموږ څو نسلونه په پر له پسې ډول د همدې جګړه ایز چاپیر یال په دایره کې زیږیدلي، لوی شوي او د همدې سترس سره یې یو ځای ژوند کړی دي، همدا دلیل دی چې د دوی ژوند له بیلابیلو داسې ستونزو ډک دی چې له مخې یې لرې کول یا ډیر ګران دي او یا بیخي نا ممکن دي، نودلته دی چې د ادبیاتو رول او وظیفه، په تیره د کوچنیانو د ادبیاتو رول له پیل نه تر پایه پورې ډیره درنه او له مسولیت نه ډکه وي.
له ماشومتوب نه باید د ماشوم ادبیات داسې د هغوی له پاره ولیکل شي چې عاطفه په کې وزیږوي، عاطفي ته وده ورکړي او له عاطفي ودې سره یې مرسته وکړي، څو ماشوم له عاطفي سره یو ځای لوی شي. کله چې ماشوم پرته له مینې او عاطفي لویږي، خامخا به یې راتلونکی ژوند له تاو تریخوالي سره یو ځای وي او کله چې د ټولنې اکثریت ماشومان پرته له عاطفې، له تاوتریخوالي سره لویږي، خامخا ټولنه ورنه متاثره کیږي، داسې متاثره چې نن سبا زموږ ټولنه متاثره شوې ده او «آبی، تولهٔ بی» ور نه جوړه ده.
د اوږدو جګړو په پایله کې زموږ د خلکو ذهنونه د جګړې له غږ، د جګړې له نوم، دجګړې او بارو تو او سلاح له بوی نه داسې مالامال شوي دي چې د بل څه په باب د فکر کولو مجال یې ور نه اخیستی دی. عاطفه یا په کې ډیره ضعیفه ده او یا بیخي وژل شوې ده، د همدې له پاره ماشوم په خوب کې او آن په ږرني کې وژني. قاتل سره، ټولني او په ټولنه کې منفي حاکمو قوانینو او دودونو ظلم او نا روا کړې ده چې له ده نه یې قاتل او منفي شخصیت جوړ کړی دی، دغه قاتل د همدې ناروا جګړې په دایره کې زیږیدلی، د جګړې له غږ او وحشت سره لوی شوی او ذهن و ضمیر یې له وحشت نه داسې ډک دی چې د عاطفي په نامه هیڅ شی نه پیژني او سل زر نورې رواني هغه ستونزې ور سره ملګرې دي چې د جګړې د سونامي زیږنده دي.
په ټول کې د ادبیاتو او په ځانګړي ډول د کوچنیانو د ادبیاتو دنده ده چې له پیل نه په ماشوم کې د خبرو، رنګونو او تورو له لارې، د عاطفي برخورد له لارې، عاطفه وزیږوي، په کې وې روزي او پرنږدي چې د ماشوم عاطفي وده له خنډ سره مخ شي.
په جنګې سیمو کې خامخا د ماشوم عاطفي وده تر منفي اغیز لاندې وي او زموږ د وطن ماشومان او کوچنیان دا ځلوبیښت کاله کیږي چې په جنګي چاپیریال کې زیږي، لویږي او د همداسې ستونزو باران وربانديې اوري او هیڅوک هم نه شته چې دا باران ودروي.
د قلموالو دنده ده چې د کوچنیانو ادبیانو له لارې په ماشوم او کوچني کې د عاطفي د رامنځ ته کولو او روزلو مسألې ته جدي پاملرنه وکړي.
د ملګرو ملتو د ماشوم د ملاتړ اداري یونیسف نوې احصاییې له مخې سږ کال په جنګي سیمو کې شپاړس میلیونه ماشومان زیږیدلي دي او زه ډاډه یم چې ډیره سلنه به یې د افغانستان په نامه یوه هیواد کې وي. په افغانستان کې د پلازمېنې په ګډون، هیڅ سیمه خوندي او پرته له جګړې نه شته. د یونیسف په دې ګزارش کې ټولې هغه نا خوالې چې یادې شوې دي، په افغان ماشومانو

عملاً تطبيقيږي او له هغه نه هم لا زيات. زيات په دې چې په ټولنه کې پرته له جګړې، نوري محلي او دوديزې ستونزې هم شته چې له دې ستونزو سره په ملګرتيا کې، د افغان ماشوم د هر اړخيزې بر بادۍ له پاره زمينه برابرولای شي. لکه بيوزلي، ښووني روزنې ته نه لاسرسی، دماشومانو او کوچنيانو څخه هر اړخيزه سواستفاده (جنسي تيری، جسمي کارونه ، جګړو او ځانمرګي ته تشويقول) حتی د ماشومتوب له ډيرو ابتدايي حقوقو نه محروميت او ... دا ټولې ستونزې د دې سبب شوي او کيږي چې له يو ماشوم له زدکړو لرې او له هغه نه يو منفي شخصيت جوړ کړي.
زه فکر کوم چې په لومړي سر کې د ميندو پلرونو او بيا د ښوونکو(که وي) او بيا د هغو قلموالو او فرهنګيانو چې د ماشومانو او کوچنيانو له پاره څه ليکي او څه تخليقوي، وظيفه ډيره درنه او د پام وړ ده چې په خپلو برخورد، ليکنو او تخليقاتو کې د ماشوم او کوچني هر اړخيزې روزنې ته پام وساتي.
دا ډيره مهمه ده چې د ماشومانو ميندې او پلرونه د سواد او پوهې خاوندان وي. که يو ماشوم له با سواده او تحصيل کړې مور نه پيدا کيږي، د هغه پالنې او ښوونې روزنې ته ښه پاملرنه کيږي، د مړينې او ضايع کيدو کچه په کې لږه وي.
دا خبره داسې مانا لري چې د ميندو د زدکړو کچه په نيغه د ماشوم د ضايع کيدو يا پاتې کيدو، ښه يا خراب صحت، زدکړو او ښه يا بد راتلونکې سره مستقيمه اړيکه لري. که زموږ په ټولنه کې د يوه تير نسل زدکړو ته جدي پاملرنه شوې وای، اوس به دا روانه غميزه يا هيڅ نه وای او يا به په ډيره لږه اندازه موجوده وای. د دې خبرو اصلي موخه دا ده چې که موږ د اوسني نسل صحت، سواد او د زدکړو څومره والي او څرنګوالي ته پام وکړو، را روان نسل به مو له ډيرو بد مرغيو خلاص کړی وي او که يې د دې دوديز نا سم فورمول (روزي خدای ور رسوي، وزن يې مځکه اخلي) په چوکاټ کې په اټکلي ډول پريږدو، نو هره کورنۍ به ټولنې ته ځوبيسواده، نا پوه، بيکار، غير توليدي او د اوږو بار غړي وړاندې کړې وي چې پايلې سره يې همدا اوس زموږ ټولنه لاس ګريوان ده.
د ماشومانو په باب د ملګرو ماتونو په ډير تازه راپور کې داسې راغلي دي:
«له ماشومانو د ملګرو ملتو د ملاتړ اداره يونيسف وايي سږ کال په جنګي سيمو کې له ۱۶ ميليون زيات ماشومان زيږيدلي دي.
دغه اداره وايي د تير کال په پرتله په دغو سيمو کې ۱۲۵ زره ډير ماشومان نړۍ ته راغلي دي.
يونيسف خبرداری ورکړی چې ينځه کلنۍ ته له رسيدو وړاندې د دغو ماشومانو د مړينې خطر زيات دی.
د ملګرو ملتو دا اداره وايي هغه ماشومان چې ژوندي پاتې کيږي په جنګي سيمو کې به ځورونکې او له کړاوونو ډک ژوند ولري.
يونيسف زياتوي دغه ماشومان به په ژوند کې د رواني فشار له امله د ډير وخت لپاره د فکري ودې له ستونزې سره مخامخ وي.
له ماشومانو د ملاتړ دغې ادارې له نړيوالې ټولنې غوښتي چې د ماشومانو د ساتنې لپاره دې ډير کار وکړي او د دوی پالنه دې خپل لومړيتوب وبولي.
... يونيسف وايي دغه ډول وضعيت کولای شي ماشومان له ژونده نهيلي کړي»

http://www.bbc.com/pashto/world/2015/12/151217_as_unicef_children_war_zone

په افغانستان کې د ماشومانو، کوچنيانو او نوي نسل د روزلو مسالې ته، هغسې چې ښايي پاملرنه نه ده شوې، نه د کورنيو له خوا، نه د دولت له لوري او نه هم د نړيوالې ټولنې له خوا،

خو په میډیا کې کله نا کله د موضوع په ارزښت پوه خلکو له لوري د نوي نسل دروزلو په باب نظريات وړاندې شوي دي ستونزې په نښه شوې او د حل له پاره یې وړانديزونه هم شوي دي.
د ساري په توګه به یې د یوې بیلګې یادونه وکړم:
يو ځلې مې د ګران دوست ښاغلي غفور لیوال په یاد داشتونو کې یو لنډ څه تر سترګو شول د نوي نسل د روزلو مهم والي ته په کې پام شوی و:
«دختیزې اروپا یو ښار مې کوت، چې د دوهمې نړیوالې جګړې پرمهال اتیا په سلو کې وران شوی و، زما کولتوري لاربنود راته وویل:
چې ښار مو بیا رغاوه، نو له ښوونځیو مو پیل وکړ، ژوندي پاتې شوي خلک پر دې ګروهه وو، چې ددوی لپاره ژوند پای ته رسېدلی دی، خو ددوی هېواد، نوم، هویت، راتلونکی او معنویت به د دوی ماشومان ساتي او ژغوري.
همداسې وشول، اوس دا هېواد پوره ودان او پرمختللی و، ګنو داسې متخصصینو یې په سرکار کې کار کاوه، چې تر نړیوالې جګړې وروسته په لومړنيو رغول شویو ښوونځیو کې یې زده کړې کړې وې.
موږ تر نړیوالې جګړې سختې او اوږدې جګړې ځپلی یو، هره ورځ وینې، ولږه او د جګړې دوام، ځکه هر ځل مو چې د ساه کارلو شیبه موندلې؛ ښوونځي، پوهنځي، ښوونکي او زده کوونکي ته مو پام نه دی کړی، زموږ کړکېچ ځکه پای نه لري.
ولږه، وزګاري، جګړه او ناخوالې وزغمئ، خو خپل ماشومان وپوهوئ، ویې روزئ، چې بیا دوی ستاسو هېواد، نوم، هویت او معنویت در وژغوري، جګړې پای ته ورسوي او لمسي مو له ژور جهالته یو پر بل وسله ونه چلوي.»

https://www.facebook.com/abdulghafoor.liwal?fref=nf

دغه نا مقدسه جګړه چې دا څو لسيزې په بيلابيلو نومونو زموږ په وطن او خلکو تپل شوې ده او د بدمرغۍ پور به يې دا نسل او څو نور نسلونه هم ادا نه شي کړای، د همدغې جګړې په اړو دوړ کې داسې وختونه هم راغلي او تير شوي چې نه یوازې د نوي نسل روزلو، ښونکي، ښوونځي او زده کونکي ته پام نه دی شوی، بلکې د ښوونځي ورانول سوځول، په بمونو باندې د زده کونکو الوزول او د ښوونکو حلالول په یوه منل شوي دود باندې بدل شوي وو او د ثواب د ګټولو یو لار ګڼل کیده.
ماشوم او نوي نسل ته نه پاملرنه او له هغوی سره هر اړخیزه جفا داسې منفي پایلې لري، چې اوس یې زموږ ټولنه، هیواد او خلک په اور کې سوځي. ماشوم ته د نه پام نتیجه ده چې په نړۍ کې هر منفي لست چې خپریږي، افغانستان په کې یا لومړی ځای لري او یا دویم:

ـ د نړۍ تر ټولو په اداري فساد ککړ هیواد،

ـ د نړۍ تر ټولو بده حکومتولي،

ـ د مخدراتو په تولید او قاچاق کې لومړی او قهرمان،

ـ افغانستان د آسیا تر ټولو وروسته پاتې هیواد،

ـ او ...

دا داسې نه ده چې څوک یا کوم هیواد عمداً دا کار کوي او د افغانستان نوم په بدو لستونو کې لومړی یا دویم لیکي، د دې اصلي دلیل په افغانستان کې د ماشومانو، کوچنیانو او نوي نسل

روزلو ته نه پام، د ټولنې د منفي دوديزو قوانينو په سيوري کې ژوند کول او له ځان نه د خيالي شيانو قهرمان جوړول، هغه شيان چې بود او نبود يې موږ ته، زموږ ټولنې ته، زموږ خلکو ته او زموږ وړو نس ته هيڅ هم په لاس نه ورکوي. لکه: پنځه زره کلن تاريخ، افغانستان د امپراتوريو هديره ده، موږ شوروي تجزيه کړ، موږ د برلين ديوال ونړاوه او ...
له بده مرغه تر نن پورې هم زموږ د ټولنې ډيره سلنه خلک د همدې مفتو خبرو په خامو تارونو سره تړل شوي، د خپلو بچو او نوي نسل روزلو او زدکړو ته پام نه کوي چې د هيواد نوم مو د هر خراب، بد او منفي لست په سر کې ليکلی وي.
سره له دې چې په دې ورستيو کلونو کې د ماشومانو، کوچنيانو او نوي نسل د روزلو له پاره نظري او يو څه هم عملي کارونه پيل شوي دي، خو زه فکر کوم چې د موضوع د مهم والي په پرتله دا هم په نشت حساب دي. دولت د خير پر غوندۍ له ستونزو نه د راشنې شوې ونې سيوري ته ناست دی، دا يو څه سلنه هڅې چې کيږي دا هم د اشخاصو او افرادو په شخصي مصرف او هڅو تر سره کيږي.
څه د پاسه دوه کاله مخکې مې د «نوی نسل، مطالعه ستونزې او نوې هيلې»

http://www.afghan-german.net/upload/Tahlilha_PDF/bahand_a_nawy_nasel_motala.pdf

تر سر ليک لاندې د يوې مقالې په ترڅ کې د نوي نسل د روزلو په موخه د نورو خبرو تر څنګ ليکلي وو چې د نوي نسل روزلو ته د پام مسأله نه زړيږي او نه بايد له پامه و غورځول شي. څو توري يې داد دي:
دغه بحث نه زوړدی اونه هم زړيږي.د ژوند د هرې پاڼې له بدليدو سره بدليږي او نوی کيږي؛ځکه زه نه وايم چې د دغوخبرو په پای کې، بلکې وايم چې داوسني بحث او د اوسنيوخبرو د بنه پای له پاره به د لا هڅونې په خاطر د کنفوسيوس دا نه زړيدونکې خبره را واخلم:

«که يو کلن ثمرغواړې غنم وکرې،
که د لس کلن ثمرهيله لرې، ونه کينوې،
که مو سل کلن ثمر په کار وي، خلک وروزې.»

# د لیکوال بیوګرافي

پوهندوی محمد آصف بهاند د محمد عمر زوی، د ۱۹۵۷م کال د دسمبر په ۲۳مه نیټه د کابل د چهاردهي په شکرالله خان نومي کلي کې زیږیدلی دی. لومړنی زده کړې یې د کابل د علاوالدین په تجربوي ښوونځي کې کړي دي، بیا یې د کابل په محمود طرزي لیسه کې خپلو زده کړو ته دوام ورکړ، خو دولسم ټولګی یې د میدان د نرخ په لیسه کې پای ته ورساوه.

د ۱۳۵۵ کال د حمل په میاشت کې یې د کابل پوهنتون د ژبو او ادبیاتو په پوهنځي کې لوړې زده کړې پیل کړې او په ۱۳۵۸ کال یې د لیسانس سند تر لاسه کړ. له فراغت نه وروسته د کابل د روښان په دارالمعلمین کې د ښوونکي په توګه ومنل شو.

په ۱۳۶۰ کال په ژمي کې د کابل پوهنتون د ادبیاتو پوهنځي په علمي کدر کې ومنل شو. په ۱۳۶۶ کال کې یې د استاد صدیق روهي په لارښوونې د ماسترۍ د تیزس دفاع وکړه.
آصف بهاند له ۱۳۵۶ کال راهیسې شعر وایي، نوی شعر ډیر لیکي، کله، کله یوه نیمه غزله او قصیده هم لیکي. په لسګونو علمي تحقیقي مقالې او شعرونه یې په هیواد کې دننه او له هیواد څخه د باندې په معتبرو علمي مجلو او بریښنایي خپرونو کې نشر شوي دي.
د هجري شمسي نیټې په شپیتمه لسیزه کې د څو کلونو له پاره د کابل پوهنتون د علمي مجلې (اجتماعي علوم) د مرستیالی دنده ورله غاړې وه.
دغه راز د هجري شمسي نیټې په شپیتمه لسیزه کې د اوږدې مودې له پاره د رادیو افغانستان د روزنې ادارې د علمي پروګرام «موږ او اوریدونکي» لیکوال پاتې شوی دی.
آصف بهاند د افغانستان د لیکوالو ټولنې د مرکزي شورا غړی و.
په لسګونو علمي او فرهنګي سمینارونو کې یې ګډون کړی، مقالې یې ورته لیکلې دي او په یادو سیمینارونو کې یې لوستې دي.
په ماسکو کې د اوږدې مودې له پاره د افغانستان د فرهنګ ټولنې د منشیتوب او د یادې ټولنې د ادبیاتو د څانګې مسولیتونه ور له غاړې وو.
د سویډن په بیلابیلو ښارونو کې، د سویډن هیواد او په سویډن کې د میشتو افغانانو د فرهنګي ټولنو له خوا د مورنی ژبې سیمینارونو ته بلل شوی او د یو لکچرست په صفت یې کارنده او فعاله برخه په کې اخیستې، مقالې یې ورته لیکلې دي او له سکندنویایي هیوادونو څخه د مورنی ژبې له راغلو ښوونکو سره یې د مورنی ژبې پر ستونزو او په پردي چاپیریال کې د مورنی ژبې د زده کړې او ساتلو پر ستونزو او د حل پر لارو چارو غږیدلی، مشورې یې ور سره کړې او د سویډن په ستاکهولم، یوتیبورې او مالمو ښارونو کې یې ګڼ لکچرونه وړاندې کړې دي.

آصف بهاند د خپل ادبي فعالیت په اوږدوکې دغه علمي کارونه تر سره کړي دي:

۱ ـ پښتو ادب له ۱۲۵۰ څخه تر ۱۲۹۷ پورې (د لیسانس دورې مونوګراف)،

۲ ـ شعر د پښتو کلاسیکو شاعرانو له نظره (د پوهنیارۍ علمي رتبې ته د لوړیدو له پاره علمي اثر)،

۳ ـ د معاصر پښتو شعر شکل او مضمون (د پوهنملی علمي رتبې ته د لوړیدو له پاره علمي اثر)،

۴ ـ په پښتو شعر کې د انځور او تخییل مسأ له (د پوهندويۍ علمي رتبې ته د لوړیدو له پاره علمي اثر)،

۵ ـ د پښتو ژبې ګرامر او ادب، لومړی کتاب، د کابل پوهنتون د نا پښتو ځانګو له پاره درسي کتاب(ګستتنر چاپ)،

۶ ـ د پښتو ژبې ګرامر او ادب، دويم کتاب،دکابل پوهنتون نا پښتو ځانګو له پاره درسي کتاب (ګستتنرچاپ)،

۷ ـ د پښتو ژبې ګرامر او ادب، دريم کتاب، د کابل پوهنتون د نا پښتو ځانګو درسي کتاب (ګستتنرچاپ)،

۸ ـ د پښتو ادبیاتو د لرغوني دورې منظوم متون، د پښتو ځانګې درسي کتاب (ګستتنرچاپ)،

۹ ـ د پښتو ادبیاتو د اوسنی دورې منظوم متون، د پښتوځانګې درسي کتاب (ګستتنرچاپ)،

۱۰ ـ د خوشال د دستارنامې منتخبات، د پښتو ځانګې درسي کتاب (کستتنرچاپ)،

۱۱ ـ د کوچنیانو ادبیات، د چاپ او خپرونو د دولتي کومیټې له خوا په ۱۳۶۶ کال کې خپورشوی دی او دويمه درجه مطبوعاتي جايزه يې ګټلې ده،

۱۲ ـ مرورە مځکه، د شعرونو ټولګه، په ۲۰۰۹ کال په کابل کې خپورشوی دی،

۱۳ ـ لارورکي لارويان، په ۱۳۹۱ کال کې چاپ شوی دی،

۱۴ ــ د سمندر وړه ښاپيرۍ، لیکوال: هانس کريستين اندرسن، ژباړن: آصف بهاند، چاپ ته لیږل شوې،

۱۵ــ د امپراتور نوې جامې، لیکوال: هانس کريستين اندرسن، ژباړن: آصف بهاند، چاپ ته لیږل شوې.

۱۶ــ د کوچنیانو ادبیات (د کوچنیانو ادبیات، تاريخي پس منظر، اوسنی حالت)، دویم ټوک، د خپریدو ځای: افغان جرمن آنلاین پورټال، ۲۰۱۷ م کال،

دوې شعري ټولګې او درې څیړنیز کتابونه يې چاپ ته چمتو دي،

پوهندوی آصف بهاند اوسمهال د ډنمارک په هیواد کې ژوند کوي او لکه پخوا په فرهنګي کارونو کې فعال دی، خپلو څیړنیزو او تخلیقي کارونو ته دوام ور کوي.